فتاوى رحيميه

پښتو

افادات

حضرت مولانا قاری مفتی سید عبدالرحیم لاجپوری

خطیب بڑی مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه

مولانا محمد خلیل

حضرت مولانا غلام ربی

مکتبه فاروقیه

محله جنگی پشاور

فتـــاوی رحـیـمـیه

(دريم جلد)

كتاب العلم والعلماء ، كتاب التفسير والحديث، كتاب الانبياء
والاولياء، حقوق او معاشرت

افادات

حضرت مولانا قاري مفتى سيد عبدالرحيم لاجپوري رحمة الله عليه
خطيب بڑی جامع مســـجد راندير ضلع سورت

پښتو ترجمه :

حضرت مــــــولانا غلام ربي

مکتبہ فاروقیہ محله جنګی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob:0300-9007550

د کتـــاب پېژندنه :

د کتاب نوم : فتاوی رحیمیه

جـلد لومړی

ترجمه مولانا غلام ربي

کمپوزر بشارت الله

ناشر مکتبه فاروقیه

دچاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

فهرست

د قرآن او د تفسير په اړه

د احد او صمد معنى او مطلب :

(۱ سوال) په سورت اخلاص كې د " احد " او " صمد " د لفظونو څه مطلب دى ؟

ځواب : د " احد " مطلب دا دى چې الله تعالى په ذات او صفاتو كې بالكل يواځى او ځانله دى (نه يې څوک شريک شته او نه يې مثل) پدى كې هغه چا باندى رد دى چې د يو نه زيات معبودان او د عبادت لائق ګڼي[1] او د " صمد مطلب دا دى چې الله تعالى بې نيازه او له ټولو نه بې پروا او هيچاته محتاج ندى او ټول ده ته محتاج دي .

د نصوحا توبى نه څه مراد دي ؟

(۲ سوال) په قرآنكريم كې " توبة نصوحاً " راغلى لدينه څه مراد دى ؟

ځواب : " توبة نصوحاً " يعنى د زړه له كومى خالص او رښتينى توبه يعنى د دى پخه اراده كول چې نور به دغه ګناه نه كوم ، عمر فاروق ، ابى ابن كعب او معاذ رضى الله عنهم فرمايي : چې د " توبه نصوحاً " مطلب دا دى چې هغه دا فيصله وکړي چې دوباره ګناه كول داسى محال دي لكه څنګه چې په تيونو كى دوباره پى ننوتل او واپس كيدل محال دي (خالص ، حقيقي او رښتينى)[2] .

---

[1] ـ لكه د فارس او ايران پخواني خلكو چې دوه خدايان منل يو د خير پيداكونكى كوم ته چې به يې يزدان ويل او دويم د شر پيداكونكى چې ديته به يې اهريمن ويل (الملل والنحل وغيره) .

[2] ـ د توبى څلور شرطونه دي نه يوه هم پكى نه وي هغه خالص توبه نده په مجالس الابرار كى راغلي : فلا بد للمؤمن من التوبة لكن لها اربعة شروط ان اختل شرط منها لا يتحقق التوبة الاول الندم بالقلب على ما فعل من الذنوب فى الماضى ومعنى الندم تحزن وتوجع على ما فعل وتمنى كونه لم يفعل ، والثانى ترك المعصية فى الحال ، والثالث العزم على ان لا يعود الى مثلها فى الاستقبال ، والرابع ان يكون ذلك خوفاً من الله تعالى لا لامر آخر .

ترجمه : مؤمن لپاره ضرور توبه كول پكار دي ليكن د توبى څلور شرطونه دي كه لدينه يوه هم كمه شي نو توبه نه صحيح كيږي اول د تير وخت په كړي ګناهونو باندى د زړه له كومى پښيمانه كيدل او د پښيمانه كيدو مطلب دا دى چې په تير شوي ګناهونو باندى خفه او پريشانه او په زړه كى درد نا آرامي او شرميدلى وي چې كاش دغه ګناه مې نه واى كړى او دويم شرط سمدستي د ګناه پريښودل دي او دريم شرط د دى پخه اراده كول دي چې بيا به چيرى دغسى كار نه كوم او څلورم شرط دا دى چې دا هرڅه د الله تعالى له ويرى وي او كومه بله وجه نه وي (مجالس الابرار ج ٦٦ ص ٣٨٣) .

په زړه كى د ګناه اراده او په ژبه توبه توبه دا توبه نده بلكى الله تعالى سره يو قسم ټوقى دي .

د قرآن پاک د ترتیب په خلاف ماشومانو ته سورتونه زده کول :

(۳ سوال) پدی مسئله کی د دین علماء او مفتیان صاحبان څه فرمائي چې د مکتب ماشومانو ته د عم پاره دترتیب خلاف ورښودلی شي ایا دغه طریقه مکروه نده ؟ ددی وضاحت وکړئ الله تعالی به درته اجر درکړي .

ځواب : په یو وخت کی د مکمل سپاری تلاوت نشي کیدی او مقصد هم دتلاوت نه وي بلکی مقصد ورښودل او یادول وي او پدی طریقه ښودلو کی ماشومانو ته آساني وي پدی وجه مشرانو دغه طریقه غوره کړی نو پدی کی کوم کراهت او بدي نشته : "لان ترتیب السورة فی القرائة من واجبات التلاوة وانما جوزوا للصغار تسهیلا لضرورة التعلیم" (طحطاوی علی الدر المختار ج ۱ ص ۳۷۱) (شامی ج ۱ ص ۵۱۰ فصل فی القرأة مطلب استماع للقرآن فرض کفایة) "وقال العلماء الاختیار ان یقرء علی الترتیب فی المصحف واما تعلیم الصبیان فی آخر المصحف الی اوله فلیس من هذا الباب فان قرائة متفاصلة فی ایام متعددة مع ما فیه من تسهیل الحفظ" (مجمع بحار الانوار ج ۲ ص ۲۸۷) فقط والله اعلم بالصواب .

عربي عبارت ټوټې ټوټې کولو سره لوستل :

(۴ سوال) په یوه اردو رساله کی لیکلي چې په بعضی مدرسو کی اوریدل او لیدل شوي چې د لا اله الا الله کلمه ماشومانو ته ټوټی ټوټی کولو سره ورښودل کیږي یعنی یو ماشوم ته لا اله ووائي او چپ شي او بیا نور ماشومان ټول په یو آواز سره همدا وائي بیا هغه ماشوم الا الله وائي او نور ماشومان هم ورپسی وائي دغسی لوستل کفر دی ؟ پدی باره کی ځواب راکړئ مهرباني به مو وي .

ځواب : پدغه طریقه ماشومانو ته درس ورکول کفر ندی ، د ضرورت په وجه جائز دی ، دا تلاوت ندی بلکی زده کول او ښودل مقصد دي ، استاذ ماشومانو ته د درس په وخت کی " قل اعوذ " ووائي او بیا چپ کیږي او بیا " برب الناس " وائي او

سجه درکف توبه برلب دل پر از ذوق گناه
معصیت را خنده می آید بر استغفار ما

یعنی په لاس کی تسبیح او په ژبه توبه او زړه د ګناهونو له خیالونو ډک پداسی توبه باندی ګناه هم خندا کوي ، والله اعلم.

همدارنګه "وما محمد" ووائي او چپ شي او بیا " الا رسول " ووائي نو دا د ضرورت په وجه جائز دي او منع ندي ، فقهاء کرام لیکي چې یوه استاذه د حیض په حالت کې یوه یوه کلمه په بیل بیل ساګانو سره ماشومانو ته درس کولی شي ، نو که چیرته ټوټې ټوټې کولو سره ورښودل کفر وای نو فقهاؤ به چیری هم د دی اجازت نه وٙ ورکړی ، "فتاوی عالمګیري" کی وائي : "واذا حاضت المعلمة فینبغی لها ان تعلم الصبیان کلمة کلمة وتقطع بین الکلمتین" یعنی که چیرته استاذی ته حیض راشي نو هغی ته پکار دي چې ماشومانو ته یوه یوه کلمه وښائي (یعنی ټوټې ټوټې کولو سره درس ورکړي) او د دوه کلمو په منځ کی به ودریږي یعنی ساه به اخلي (ج ۱ ص ۱۳۸ الفصل الرابع فی احکام الحیض والنفاس والاستحاض) "جوز للحایض المعلمة تعلیمه کلمة کلمة کما قدمنا" (شامی ج ۱ ص ۲۷۰ باب الحیض) مګر کله چې ماشوم لا اله الا الله پوره لوستلو باندی قدرت پیدا کړي نو پدی وخت کی ټوټې ټوټې کولو سره نه ښائي بلکی پوره او مکمل دی ورته ووائي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د قرآن کریم دزړو پاڼو څه حکم دی ؟ که څوک یې وسوځوي نو څه حکم لري ؟

(۵ سوال) د قرآن مجید پخوانی ، زاړه ، شلیدلي پاڼو سره څه وکړی شي که څوک دغه وسوځوي نو د داسی سړي متعلق څه حکم دی ؟ وضاحت وکړئ الله دی خیر درکړي؟
ځواب : د قرآن کریم پاڼې چې زاړه شوي او یا وینو او چینجو وهلی وي او د لوستلو قابل نه وي په یوه پاکه کپړه کی تاو کړی شي او په داسی یو محفوظ ځای کی چې هلته دخلکو تګ راتګ نه وي او یا کم وي دفن کړی شي لکه یو مسلمان مړی چې دفن کولی شي[1]، "وفی الذخیرة المصحف اذا صار خلقا وتعذرت القرأة منه لا یحرق

[1] ـ یعنی زړو پاڼو لپاره دی لحد وکنستلی شي څو په قرآن مجید خاوری ونه غورځیږي که شق یعنی صندوق پشان جوړ کړی شي نو بیا به قرآن پاک باندی خاوری پریوځي او پدیکی د قرآن کریم یو قسم سپکاوی دی هوکه چیرته پدی باندی د تختو چت جوړ کړی شي او بیا پری خاوری واچولی شي نو بیا څه پروا نه کوي لکه فتاوی عالمګیري کی دي : "المصحف اذا صار خلقا لایقرأ منه ویخاف ان یضیع یجعل فی خرقة طاهرة ویدفن ودفنه اولی من وضعه موضعا یخاف ان یقع علیه النجاسة او نحو ذلك ویلحد له لانه لوشق ودفن یحتاج الی اهالة التراب علیه وفی ذلك نوع تحقیر الا اذا جعل فوقة سقف بحیث لایصل التراب الیه فهو حسن ایضاً کذا فی الغرائب ج ۵ ص

بالنار الیه اشار محمد وبه نأخذ ولایکره دفنه ان یلف بخرقة طاهرة ویلحد له لانه لوشق ودفن یحتاج الی اهالة التراب علیه وفی ذلك نوع تحقیر الا اذا جعل فوقه سقف وان شاء غسله بالماء او وضعه فی موضع طاهر لاتصل الیه ید محدث ولا غبار ولا قذر تعظیماً لکلام الله عزوجل" (شامی ج ۵ ص ۳۷۳ کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع) .

که چیرته قرآن پاک قلمي وی نو بنه دا ده چی اول یی په اوبو سره ووینځـي او بیا دی کاغذونه دفن کړي او په کومو اوبو سره چی وینځلی شوی هغه اوبه دي وڅکي پدیکی د هر مرض او د زړه بیماری لپاره شفاء ده په مرقاة شرح مشکوٰة کی وایي : "بل ینبغی ان یشرب ماءه فانه دواء من کل داء وشفا لما فی الصدور" (ج ۲ ص ۶۳۱) .

او دویمه طریقه دا ده چی د زاړه قرآن مجیدونو سره کوم دروند شی وتړل شي او پدی طریقه سره د روانو اوبو او یا د کوهي بیخ ته په احترام سره ورسولی شي ، "ولابأس بان تلقی فی ماء جار" (شامی ج ۱ ص ۱۶۴ یطلق الدعاء علی ما یشتمل الثنآء)

نو په کوم ځای کی چی دغه ذکر شوی طریقو باندی عمل کیدلی شو او دغه طریقې د داډ وړهم وي نو بیا د سوځولو اجازت نشته خاصکر چی کله سوځول بی‌حرمتي ګڼلی شي نو بیا بالکل د سوځولو اجازت نشته ، په فتاوی عالمګیري کی راغلي : "المصحف اذا صار خلقا وتعذرت القرأة عنه لایحرق بالنار اشار الشیبانی الی هذا فی السیرالکبیر وبه نأخذ کذا فی الذخیرة" (ج ۵ ص ۳۲۳ کتاب الکره الباب

۳۲۳ اذالمصحف اذا صار بحال لا یقرأ فیه یدفن کالسلم (درمختار) (قوله یدفن) ای یجعل فی خرقة طاهرة ویدفن فی محل غیر ممتهن ولایوطا وفی الذخیرة وینبغی ان یلحد له ولایشق له لانه یحتاج ا لی اهالة التراب علیه وفی ذلك نوع تحقیر الا اذا جعل فرقة سقفا بحیث لایصل التراب الیه فهو حسن ایضاً اه واما غیره من الکتب فسیأتی فی الحظر والاباحة انه یمحی عنها اسم الله تعالی وملئکته ورسله ویحرق الباقی ولاباس بان تلقی فی ماء جار کما هی او تدفن وهو احسن اه (قوله لا لمسلم) فانه مکرم واذا مات وعدم نفعه یدفن وکذلك للصحف فلیس فی دفنه اهانة له بل ذلك اکرام خوفاً من الامتهان" (ردمختار شامی ج ۱ ص ۱۶۴)

الخامس فی آداب المسجد والقبلة والمصحف وما کتب فیما شئ من القرآن ...... الخ الاتقان ج ۲ ص ۳۰۳) . یعنی که چیرته قرآن پاک زوړ شوی وي او تلاوت پکی نشي کیدلی نو هغه به په اور نشي سوځولی او دغه حکم ته امام محمد رحمه الله په سیر کبیر کی اشاره کړی او مونږ هم پدی باندی عمل کوو.
خو که چیرته کوم ځای کی ذکر شوی دواړه طریقی مشکلی وي او یا د داړ وړ نه وي او مقصد نه حاصلیږي یعنی د دفنولو او اوبو کی د ډوبولو نه وروسته هم د بی حرمتی احتمال وي او د سوځولو نه بغیر بله چاره نه وي نو بیا دی وسوځوي او هغه ایری دی دفن کړي او یا دی په روانو اوبو کی واچوي لکه څنګه چی امیر المؤمنین حضرت عثمان رضی الله عنه چی د اختلاف د ختمولو او د عوامو د انتشار دفع کولو په غرض غیر قریشي ژبه کی لیکلی شوی قرآن مجیدونو د سوځولو حکم کړی ؤ، تفصیل یی دا دی چی قرآن مجید خالص په قریشي فصیح او بلیغ لغت کی نازل شوی له قریشو نه علاوه په عربي قبیلو کی بعضی داسی وو چی د هغوی ژبه عربي کیدو باوجود داسی صفا نه وه لکه څنګه چی قریشي ژبه صفا ده د هغوی په محاوره او لغت کی داسی فرق ؤ لکه څنګه چی په لږه لږه فاصله کی دهر ملک په ژبه کی له یو کیدو باوجود وي او دا یو فطري شی دی لکه څنګه چی د راندیر او د کلي باندو په ژبه کی چی فرق دی همدارنګه د سورت ضلع او د بهرونج وغیره ضلع د ژبو په بعضی الفاظو کی فرق دی حال دا چی ټول یوه ګجراتي ژبه ده همدغسی د عربي قبیلو په ژبه کی فرق ؤ لکه د "قاف" پرځای "ګاف" او د "ش" په ځای "ت" او د "حتی" په ځای "عتی" د "ان" په ځای "عن" او د "ماء غیر آسن" په ځای "ماء غیر یسن" د تعریف "الف لام" په ځای "الف میم" او داسی نور فرق ؤ (پدی موجوده زمانه کی هم بعضی عرب "قاف" په ځای "ګاف" وائي) نو دغه قبیلې چی څنګه به په اسلام کی داخل شول د قرآن کریم تلاوت به یی ضروري ګڼلو او د لمونځ کولو کوشش به یی کولو مګر بی تعلیمه او د ډیر عمر سړو او ښځو لپاره قریشي فصیح او بلیغ الفاظ ویل ناممکن ؤ نو د دی مجبوریت په وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم د رباني الهام په بناء اجازت ورکړی ؤ چی دغه مجبوره خلک دی پخپل فطري ژبه کی د قرآن کریم الفاظ ادا کړي لدینه وروسته داسی وشو چی بعضی خلکو دغه عارضي اجازت مستقل اجازت وګڼلو او په همدی باندی د قرآن پاک ګمان کولو سره اصرار او ټینګار کولو حتی چی خبره بحث او جګړی ته ورسیده،

حضرت حذيفه بن يمان رضى الله عنه د آرمينيه او بائذر جان جنگونو په موقع شام او عراق ته لاړل او د هغه ځاى خلكو په قراءت كى اختلاف او يو پر بل بانـدى د فوقيت او ځان اوچت ګنلو واقعات او جګړې يې وليدى نو زيات پريشانه شو نو د حضرت عثمان رضى الله عنه په دربار كى حاضريدو سره عرض يې وكړ چـى اى امـير المـؤمنين د دى امت خبر واخله لدينه مخكى چى په قرآن پاك كـى د يهـودو او نصـاراو پشـان اخـتلاف پيدا شي حضرت عثمان رضى الله عنه د صحابه كرامو رضى الله عنهم سره له مشورى نـه وروسته له ام المؤمنين حفصه رضى الله عنها نه د قرآن پاك هغـه نسـخه راوغوښتـه كـوم چى د امير المؤمنين حضرت ابوبكر صديق رضـى الله عنـه مبـارك زمانـه كـى پـه پـوره اهتمام سره جمع او ترتيب كړى شوى ؤ او حضرت زيد بن ثابت انصاري ، عبـد الله بـن زبير قريشي ، سعيد بن عاص قريشي او عبد الله بن حارث بن هشام قريشي يې راوبلـل او خالص په قريشي ژبى او محاورى مطابق يې د قرآن كـريم څـو نسـخې وليكلـى او لويـو ښارونو ته يې وليږلى او دا فرمان يې جاري كړ چـى لدينـه عـلاوه د قـرآن كـريم نـورى نسخى چى د غير قريشي ژبى الفاظ او لغات پكى موجـود وي هغـه وسـوځوي ، د دوى ددغه كارنامى په وجه ورته جامع القرآن ويـل كيـږي د بخـاري شـريف الفـاظ دا دي : "وامر بما سواه من القرآن فى كل صحيفة او مصحف ان يحـرق" يعنـى حضرت عثمان رضى الله عنه دا حكم وكړ چى د هغه قرآن پاك نه علاوه كوم چى د قريشي ژبـى مطابق ليكل شوى نور كوم قرآن او يا صـحيفې وي هغـه دى وسـوځول شـي (صحيح بخاري ج ۱ ص ۷۴۶ پ ۲۰ كتاب فضائل القرآن باب جمع القرآن) .

او د مروان خليفه نه هم سوځول نقل شـوي "قال السخاوى فلما فرغ عثمان من امر المصاحف حرق ماسواها ورد تلك الصحف الأولى الى حفصة فكانت عندها فلما ولى مروان المدينة طلبها الصحف من اخيها عبد الله بن عمر و عزم عليه فى امرها فسيرها اليه عند انصرافه فخرقها خشية ان تظهر فيعود الناس على الاخـتلاف" (مرقاة شرح مشكواة ص ٦٣٠ ، ٦٣١ جلد ثانى) .

حضرت عثمان رضى الله عنه د سوځولو حكم پدى وجه وركړى ؤ چى كـه چيرتـه اوبـو كى اچولى نه خلكو به راويستلى او كه پـه خـاورو كـى دفنـولى نـو بيـا هـم خلكـو بـه راويستلى او تر قيامته پورى به د تورات او انجيل پشان اختلاف پاتى كيده نـو مصـلحت

پدی سوځولو کی وْ د اهانت او بی احترامی له وجی یی نـه وی سـوځولی چـی طعـن پرئ وکړی شي ، په " مظاهر حق " کـی راغلـي چـی حضـرت عثمـان رضـی الله عنـه د مصلحت په وجه وسوځول چی اختلاف پاتی نشي او په شریعت کی کـوم ځـای راغلـي چی سوځول بی ادبی دی ؟ کله چی دا په شریعت کی ندی راغلي او هغـوی د خپـل اجتهاد نه د مصلحت په بناء دا کار کړی نو د خپل عادت په وجه په هغوی باندی طعـن ښکه وکړی شي (ج ۲ ص ۲۴۵) .

په "فیض الباری علٰی صحیح البخاری" کی راغلـي : "والاحـــراق هاهنـــا لـــدفع الاختلاف وهو جائز" (ج ٤ ص ٢٦٤) یعنی پدی ځـای کـی سـوځول د اخـتلاف ختمولو لپاره دی او دا جائز دی .

او په " امداد الفتاوی " کی راغلي چی پدی سوځولو کـی اخـتلاف دی نـو پـدی وجـه دداسې کولو هم ګنجائش شته خو پریښودل یی احوط دي (ج ۴ ص ۵۵) .

قرآن مجید ، قبله او نور قابل تعظیم شیانو حکم ، غرض دا چی په کوم ځـای کـی چـی ددفنول او یا په اوبو کی اچول مشکل وي او یا وروسته بیا هم د بـی حرمتـی احتمـال وي نو د بی حرمتی څخه د بچ کولو لپاره د سوځولو ګنجائش شته د ضـرورت پـه وجـه جائز دي په فتاوی سراجیه کـی راغلـي : "اذا صـــار المصـــحف .... الی قولـــه یغسل"یعنی کله چی قرآن پاک زوړ شي استفاده ورنه نشي کیدلی نـو پکـار دا دي چـی په پاکه کپړه کی تاو کړی شي او په یو پاک ځای کی دفن کړی شي او یا وسوځول شـي او دهغه ایرې بیا په روانو اوبـو کـی واچـول شـي او یـادفن کـړی شـي او یـا پـه اوبـو سره ووینځل شي (ص ۷۱) .

نو پدی تپوس شوی مسئله کی که چیرته چا دغه پاڼې د بی حرمتی نـه د بـچ کولـو پـه نیت سوځولي وي نو پرهغه له پوهولو نه وروسته معافي ورته کیـدلی شـي ځکـه چـی د هغه نیت د توهین او سپکاوي نشي کیدلی ولی چی یو مسلمان بـه قصـداً بـی حرمتـي ښکه وکړي ؟ په مسلمان باندی نیک ګمان ساتل پکـار دي (بخاری بابُ کیف کان بد والوحی الخ ج ۱ ص ۲) کی وایي "انما الاعمال بالنیات" یعنی د اعمالو دار و مـدار تول په نیت باندی دی "ظنوا المؤمنین خیراً" (ابن کثیر سورت حجرات ص ۲۱۲) یعنی په مؤمنانو باندی نیک ګمان ساتئ "یاایها الذین امنوا اجتنبوا کثیراً من الظن ان

بعض الظن اثم" (سورت حجرات) او په حدیث شریف کی راغلي : "ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث" (تفسیر ابن کثیر سورت حجرات ج ۷ ص ۲۱۲) یعنی له ګمان نه ځان وساتئ ځکه چی ګمان لـه ټولـو نـه لـوی دروغ دي ، فقط والله اعلم .

د قرآن پاک د تلاوت څه طریقه پکار ده ؟

(٦ سوال) قرآن مجید چی سره د معنی ولوستل شي بهتر دي او زیات اجر ورته حاصلیږي او که یواځی تلاوت سره ؟ که له معنی سره یی ولولي نو څومره درجی زیات ثواب ملاویږي ؟ او چی له معنی سره لولي نو دی سره د تفسیر لوستلو هم ضرورت شته ؟ او که

تفسیر ورسره ونه لولي نو په ثواب کی به کمی راځي ؟

ځواب : پدی کی شک نشته چی د پوهی سره پـه لوستلو کـی ثـواب زیات دی ، په پوهیدو کی چی څومره کوشش کوی نو هومره به زیات ثواب ملاویږي[1] .

فقط والله اعلم بالصواب

د قرآن مجید د تلاوت څه طریقه پکار ده ؟

(۷ سوال) یو سړی په رمضان کی پنځه ځله قرآن پاک ختموي که چیرتـه هغـه لـه معنو سره لولي نو یواځی یو ختم کولی شي نو په کومه طریقه باندی لوستل بهتر دي او په کومه طریقه لوستلو کی زیات ثواب دی ؟

ځواب : په رمضان المبارک کی زیاتره خلک دتلاوت او د قرآن پاک دختمولو شوق لري نو پدی بناء پدی کی دلجمعي زیات وي او زیات لوستل کیږي او زیات وخت کی پکی لګول کیږي ، لهذا څوک چی د کومی طریقی سره زیات مینه او دلچسپي لـري نـو هغه دی هماغه طریقه اختیار کړي دا به ورته بهتر وي ، والله اعلم .

په ګجراتي ژبه کی قرآن شریف لیکل :

[1] ــ وعن عبیدة الملیکی وکانت له اصحبة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یا اهل القرآن لاتتوسدوا القرآن واتلوه حق تلاوته من آناء الیل والنهار وافشوه وتغنوه وتدبروا ما فیه لعلکم تفلحون ولاتعجلوا ثوابه فان له ثوابا ، رواه البیهقی فی شعب الایمان ، زجاجة المصابیح کتاب فضائل القرآن ، ج ۲ ص ۲۰ .

(۸ سوال) په ګجراتي ژبه کی پدی شکل مکمل قرآن پاک ولیکل شي چی ژبه او تلفظ عربي پاتی وي نو پدیکی څه ګناه شته ؟ یو انېږ سړی چی د عربي قرآن مجید یی نه وي لوستې نو هغه د کلام پاک د تلاوت له ثواب نه محرومیږي نو د هغه د سهولت او خیر خواهي لپاره په ذکر شوی طریقه باندی مکمل قرآن په ګجراتي حروفو کی لیکل او پدیکی تلاوت کول د ثواب کار دی او که نه ؟ دغه مسئله دلائلو په رڼا کی تفصیل سره بیان کړئ .

ځواب : په ګجراتي ژبه او حروفو سره د قرآن پاک لیکلو په صورت کی قرآني رسم خط کوم چی د قرآن یو رکن دی ختمیږي او تحریف رسمي لازمیږي لدینه ځان ساتل پکار دي مثلاً بسم الله چی په ګجراتي ژبه کی ولیکل شي نو په لفظ د الله ، الرحمن ، او الرحیم اولني دوه حرفونه (الف لام) په لیکلو کی نه راځي بسم لله رحمن رحیم لیکل کیږي پدی طریقه لیکلو سره یواځی په بسم الله کی شپږ حرفونه کمیږي نو سوچ وکړئ چی مکمل قرآن شریف په ګجراتي ژبه کی لیکلو سره به څومره حرفونه کم شي او حال دا چی د معنو پشان حروف هم قرآن کیدو کی شامل دی ، او بل طرف ته به دا صورت جوړیږي چی په بعضو آیتونو کی حرفونه زیاتیږي مثلاً "الــم" کی د قرآني رسم خط مطابق یواځی دری حرفونه دي لیکن که په ګجراتي ژبه کی ولیکلی شي نو نهه (۹) حرفونه جوړیږي اوس حساب ولګوئ چی په پوره قرآن مجید کی به څومره کمی او زیاتی کیږي ، لدینه علاوه حقیقت دا دی چی قرآني رسم خط قیاسي ندی بلکی توقیفي او سماعي دی او په لوح محفوظ کی د لیکل شوي قرآني رسم خط مطابق دی د الله تعالی له طرفه نازل شوی په تواتر او اجماع سره ثابت دی ، اعجازي دی او پدیکی قراءت سبعه وغیره شامل دي او ټول قراءتونه پکی جاري کیږي ، دغه کمال او خوبي په ګجراتي رسم خط کی نشي موجودیدلیلهذا د دی تابعداري واجب او تبدیلي حرام او ناجائز دی ، اصل طریقه دا ده چی کله به د قرآن پاک کوم آیت او یا سورت نازل شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به د وحي له کاتبینو (لیکونکو) څخه کوم یو راوغوښت او د هر یو لفظ رسم خط به یی د وحي کاتب ته وښود او بیا به هغه لیکلو کوم چی به رسول الله صلی الله علیه وسلم د وحي او جبریل علیه السلام له ښودنی نه یادولو ، نو کله چی د خلیفه اول حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دور خلافت کی دا فیصله وشوه چی کوم آیتونه او سورتونه د مختلفو کسانو سره دي دغه ټول دی یوځای په کتابي شکل کی جمع کړی شي نو کاتب وحي حضرت زید بن

ثابت رضی الله عنه په ډیر احتیاط او پوره توجه سره د هغه اصلي رسم خط مطابق چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ارشاد مطابق د ده علیه السلام په موجودگی لیکل شوی ؤ مکمل قرآن شریف یی ولیکل ، او لدینه وروسته حضرت عثمان رضی الله عنه بیا دوباره قرآن پاک ولیکلو نو د همدی کاتب وحي حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه ته دغه عظیم الشان خدمت ورحواله کړو ، پداسی حال کی چې پنځوس زره صحابه کرام رضی الله عنهم موجود ؤلهذا لدغه مصحف عثماني له رسم خط نه مخالفت کول جائز ندي ، خلور واړه امامان دغه رسم خط ضروري گڼي ، د الله تعالی ارشاد دی " انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون " ترجمه : یعنی مونږ قرآن پاک نازل کړی او مونږ به د دی حفاظت کوو (سورت حجر) .

پدی مذکوره ارشاد کی یواځی د قرآني الفاظو د حفاظت وعده نده بلکی د الفاظو، معنو او رسم خط د ټولو د حفاظت وعده او پیشنگوئي ده لهذا د دینه خلاف کول جائز ندي ، د معنو او قرآني علومو په حفاظت کی علماء کرام مشغول دي او د الفاظو، عبارت او طرز اداء په حفاظت کی قاریان صاحبان مصروف دي او د رسم خط حفاظت د قرآن کاتبین کوي د کوم پیروي چې په مونږ باندی لازم دی .

د ذکر شوي نقصانونو نه علاوه دا هم یو څرگند حقیقت دی چې :

(۱) په عربي کی "ح" او "ه" کی فرق دی او په گجراتي کی فرق نشته .

(۲) په عربي کی "ق" او "ک" کی فرق دی او په گجراتي کی نشته .

(۳) په عربي کی "ء" (همزه) او "ع" بیل بیل دي او په گجراتي کی ندي .

(۴) په عربي کی "ت" او "ط" جدا جدا دي او په گجراتي کی ندي .

(۵) په عربي کی "س" ، "ص" او "ث" کی فرق دی او په گجراتي کی نشته .

(٦) په عربي کی "ذ" ، "ض" او "ظ" کی فرق دی او په گجراتي کی نشته .

مطلب دا چې په ذکر شوي حرفونو کی په عربي کی په رسم خط او اداء کولو کی واضح فرق لري او په گجراتي کی دغه فرق او امتیاز نشته دی که علامی ورته مقرر شي بیا هم ناقص وي چې د تحریر او رسم خط د تحریف سره سره په اداء کولو کی هم فرق واضح کیږي چې د دغو بی‌شمیره غلطیو او غلط تلفظ نه په حرفونو کی تبدیلي راتلو سره مطلب هم بدلیږي ، د ثواب په ځای عذاب او د رحمت په ځای د لعنت

حقدار جوړیږي لکه چې مشهور فرمان دی "رب تال یلعنه القرآن" یعنی د قرآن تلاوت کونکي ډیر داسی دي چې هغو باندی قرآن لعنت وائي .
امام ابن الجوزي رحمه الله فرمائي : چې لکه څنګه امت لپاره د قرآن په مطلب باندی ځان پوهول او د دی پر احکامو عمل کول عبادت دی همدغسی په صحیح طریقه لوستل او د تجوید مطابق حرفونه صحیح صحیح ادا کول هم عبادت دی ، قرآن شریف د یو قابل استاذ نه په صحیح تلفظ سره د لوستلو نه بغیر عربي رسم خط سره صحیح لوستل هم ګران او مشکل دي نو یو انپړ سړی په ګجراتي رسم خط سره به څنګه صحیح ولولي ؟ صحیح او ټهیک لوستل ګران دي لدینه خو دا بهتر دی چې کوم سورتونه په یادو ورته یاد وي هغه دی ولولي لیکن په ګجراتي کی دی نه لولي ځکه چې غلط لوستل حرام دي .
(اتقان ، درمختار ، شامي ، فتاوی ابن تیمیه ، شرح جزري ، ملا علي قاري وغیره)

په ګجراتي ژبه کی د قرآن کریم لیکلو متعلق څو نوری خبرې :

(۹ سوال) تاسو په ګجراتي ژبه کی د لیکلی شوي قرآن شریف کی دتلاوت کولو نه د منع سخت فتوی ورکړی دی مګر په کلي او باندو کی خو اکثر خلک د عربي نه بالکل ناواقف دي او په ګجراتي ژبه کی تلاوت کولو سره د ثواب مستحق جوړیږي ، په ګجراتي ژبه کی لیکل شوی قرآن مجید کی تلاوت حرامیدل په کوم حدیث کی راغلي؟ دغسی کوم حدیث خو مونږ ندی لیدلی ، کوم چې خالص ګجراتي وي یواځی په ګجراتي ژبه پوهیږي او څوک چې پیدائشي ګجراتي وي او په عربي رسم خط کی تعلیم کړی وي دغسی خلک نشته ، او داسی خلک روزانه سحر وخت کی د تلاوت کولو شوق اوعادت لري دا خلک به اوس څه کوي ؟
ځواب : په هغه فتوی کی ستا د ټولو شبهاتو ځواب موجود دی ، کاش چې تاسو په غور سره فتوی لوستی وای ، عباداتو او مامور به عملونو د صحیح او مقبول کیدو لپاره چې کوم ارکان او شرطونه مقرر شوي وي د هغه نه عملي کول او ترینه خلاف ورزي کول هغه عمل لره باطل او فاسد ګرځوي بلکی کله کله د عذاب او سزا باعث هم ګرځي ، الله تعالی فرمایي : "فویل للمصلین الذین هم عن صلاتهم ساهون" ترجمه : هغو لمونځ ګذارو لپاره لویه خرابي ده کوم چې د خپل لمانځه نه بی خبره دي (سورت ماعون) .

په حدیث شریف کی راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : بعضی خلک شپیته کاله لمونځونه کوي لیکن د هغوی یو لمونځ هم نه قبلیږي ولی چی کـه رکـوع صحیح وکړي نو سجده صحیح نه کوي او سجده صحیح وکړي نو رکوع صحیح نه کوي .

په یو بل حدیث کی راځي : رسول الله صلی الله علیه وسلم یو سړی ولید چی رکـوع او سجده یی صحیح نه ادا کول نو وی فرمایل : "لو مات هذا علی حالته هــذا مــات علی غیر ملة محمد صلی الله علیه وسلم" ترجمه : که چیرته دا سړی پدی حالت کی مړ شي نو د ده مرګ به د محمد صلی الله علیه وسلم په دین باندی نه وي .

(مجالس الابرار ص ۳۴)

په یو روایت کی د داسی لمونځ ګذارو په باره کی کوم چی بغیر د کوم شرعي عـذر نه جومات پریدي او په کور کی لمونځ کولو عادت لري فرمایلي : "لضـــللتم" یعنی یقیناً تاسو به ګمراه شئ (مشکواة شریف) .

وګورئ پدی پورته ذکر شوي مثالو کـی د لمانځـه د اصـولو او قاعـدو او د شـرطونو په خلاف لمونځ ګذارو په باره کی خـومره سـخت وعیـد او زورونـه راغلـی ، د قـرآن پاک تلاوت هم یو عظـیم الشـان عبـادت او د زیـات ثـواب کـار دی ، پداسـی کـار کـی بی احتیاطي او غفلت او د اصولو خلاف په غلطه طریقـه سـره لوسـتلو والا هـم ګنهګـار او د سزا قابل ګرځي ، په " فتاوی بزازیه " کی راغلـي "قرأة القرآن بالألحان معصیة والتالی والسامع آثمان" یعنی قرآن پـاک غلـط او بـی قاعـدی لوسـتل ګنـاه ده ، لوسـتونکی او اوریدونکی دواړه ګنهګار دي (ج ۳ ص ۳۷۹) .

قرآن مجید په خالص عربي او نهایت فصیح او بلیغ عربي ژبه کی نازل شوی لهـذا د دی ژبی د اصولو ، خصوصیاتو او د دی د ادا کولو لحـاظ سـاتل ضـروري دي د الله تعالی فرمان دی : "ورتل القرآن ترتیلا" ترجمه : قرآن پاک په ترتیـل سـره لولـه ، او د ترتیل تفسیر حضرت علی کرم الله وجهه دا بیان کړی چی حـروف پـه تجویـد یعنـی د دی له مخرجونو او صفاتو سره ادا کول او همداراز د وقف او د دی د اصولو پیژندل او په هغه باندی عمل کول دي (شرح جزري) .

پدی باره کی د علامه جزري رحمه الله یـو شـعر دی او د هغـی خلاصـه دا ده چـی د تجوید زده کول یعنی د قرآن کریم د صحیح ویلو د قاعدو زده کول او پـه هغـه باندی

عمل کول ضروري او لازمي دي ، کوم سړی چی قرآن کریم په صحیح طریقی سره د دی د اصولو او قاعدو مطابق ونه لولي هغه گنهگار دی ۔

والاخــذ بالتجوید حــتم لازم

من لــم یجود القـــرآن آثــم

یعنی په تجوید باندی عمل کول لازمي او ضروري دي او څوک چی قرآن پاک په تجوید سره ونه لولي هغه گنهگار دی (شرح ملا علي قاري) ۔
او ښکاره خبره ده چی قرآن مجید کوم چی په عربي ژبه کی دی تر څو پوری چی دا د قرآن دماهر نه په صحیح طریقی سره نه وي لوستلی نو په گجراتي کی د دی هم لوستل ناممکن دي ، او لوستونکی په لس گونو غلطیو کولو سره د نبوي صلی الله علیه وسلم فرمان "رب تال یلعنه القرآن" یعنی ډیر د قرآن پاک لوستونکي داسی دي چی قرآن ورباندی لعنت وائي (العقد الفرید) مطابق د قرآني لعنت مستحق گرځي ، الله تعالی دی مونږ ورنه وساتي ، او د همداسی ځایو مطابق ویل شویدي ۔

گـر تو قـرآن بدین نمط خـــوانی

بـبـــری رونـــق مسلمـــانی

یعنی کـه چیرتـه دغسی غلطـه طریقـه سره قـرآن پـاک لـولي نـو مسلماني رونـق به ختم کړي ۔
کوم خلک چی په گجرات کی پیدا شوي او یواځی په گجراتي ژبه پوهیږي او هغو لپاره د عربي لوستل مشکل وي ، دا څومره ساده خبره ده ، ایا د نورو ژبو لپاره هم دغه دلیل ورباندی کولی شي او که یواځی د عربي ژبی لپاره ورانـدی کـولی شـي ؟ لږ څو فکر وکړه مثلاً انګریزي ژبه راواخله ایا دی لپاره هم دغه دلیل صحیح کیږي ؟ قطعاً نـه دلته څو خبره بالعکس ده یو طرف ته څو عربي زده کـول گـران او مشکل دي او بـل طرف ته ژبه زده کول څو پریده د دی ژبی والاو (انګریزانو) په رنګ خان جوړول هم مشکل نه جوړیږي بلکی آسانیږي ۔

ببین تفـــاوت راه از کجاست تابه کجا

لهذا دغسی بهانې مه جوړوه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم بـه د الله تعالی پـه دربـار کی دا فریاد کوي چی "یارب ان قومی اتخذوا هذا القرآن مهجوراً" ای څما ربـه ! زما قوم دغه قرآن پاک بالکل شاته غورځولی وُ ، نو لږ فکر وکړه چی پدی وخت کی به

څه خواب ورکوی ، په عربي کې د قرآن کریم د لوستلو کوشش وکړه ، څمونږ نبی کریم صلی الله علیه وسلم عربي ، قرآن عربي ، او د جنتیانو ژبه هم عربي دی لهذا د عربي ژبې سره محبت ساتل پکار او ضروري دي ، دجومات له امام سره روزانه د لږ لږ یادولو کوشش وکړه ، په حدیث شریف کې راځي چې الله تعالی فرمائي :
چا ته چې په قرآن مجید کې د مشغولیدو په وجه زما د ذکر او دعا وخت نه ملاویږي هغه ته له دعا کونکو نه زیات ورکوم (مشکواة شریف) .
چاته چې د عمر د ډیر والي په وجه سره عربي زده کول مشکل وي نو کوم سورتونه چې هغه ته یاد وي هغه دی بار بار تلاوت کړي لیکن په ګجراتي رسم خط والا قرآن کې دی تلاوت نه کوي پدی وجه چې ګجراتي ژبه کې صحیح لوستل ګران دي .
فقط والله اعلم

په انګریزي کې د قرآن مجید ترجمه کولی شو ؟

(۱۰ سوال) د قرآن پاک ترجمه په انګریزي او نورو ژبو کې کولی شو او یا نه ؟
ځواب : د تبلیغ په غرض باندی کولی شي ، فقط والله اعلم .

د قرآن مجید ترجمه بی اودسه رانیولی شو ؟

(۱۱ سوال) ذکر شوی ترجمه بی اودسه رانیولی شو او یا نه ؟ او غیر مسلم ته لاس کې ورکولی شو او که نه ؟
ځواب : ترجمه مسلمانانو لپاره د قرآن حکم لري لهذا بی اودسه باید ونه نیسئ[1] او غیر مسلم ته د تبلیغ په مقصد ورکولی شي ، والله اعلم .

له قرآن مجید نه د ویښتو راویستل :

(۱۲ سوال) د څو ورځو نه مسلمانانو کې له قرآن مجید نه د ویښتو راوتلو ګرام بحث چلیږي ، د بعضو خلکو خیال دا دی چې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ویښته دی پدی وجه هغه خلک دا په عطرو کې اړدي ، پدی باندی درود خواني کیږي او د دی د زیارت سلسله شروع کیږي ، او بعضی نور بیا وائي چې دا دکوم بزرګ کرامت

---

[1] ــ ولوكان القرآن مكتوباً بالفارسية يكره لهم مسه عند ابى حنيفة وكذا عندهما على الصحيح هكــذا فى الخلاصــة فتاوى عالمگيرى ج ١ ص ٣٩ .

دی لهذا د دی تعظیم کول ضروري دي ، پدی مسئله کی لږ وضاحت وکړئ او دا هم وواییٔ چی دغو ویښتو سره څه وکړی شي ؟
ځواب : هیڅ یو ځای د ویښتو نه خالي ندی ، د سر ، بریت ، ګیری او د بدن په زرګونو ویښتو څخه نده معلومه چی روزانه څومره ویښته غورځیږي ، ماتیږي او یا کټ کولی شي هغه په هوا کی آلوځي هلته دلته پریوځي او قرآن مجید چی له کلونو څخه لوستل کیږي او په ساعتونو ساعتونو کهلاو پروت وي نو پدیکی په کور کی غورځیدلی ویښته په هوا کی الوتلو سره او یا د تلاوت کونکي د سر ویښته په ګرولو سره ماتیږي او غورځیږي او په کلونو کلونو د پاڼو په منځ کی پاتی کیږي نو که چیرته په کتو سره کومه ویښته پیدا شي نو پدیکی د حیرانتیا څه خبره ده بلکی د حیرانتیا خبره دا ده چی د استعمال شوي قرآن مجید نه ویښته ونه ځي .
له قرآن مجید نه د وتلي ویښتو باندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ویښتو مبارکو خیال کول او درود خواني ورباندی کول او بیا د هغی زیارت کول او یا نورو ته ښودل دا د ایمان خرابول دي او دیته کرامت ویل هم جهالت دی .
د حیرانتیا هره خبره کرامت نه وي بلکی استدراج او شیطاني حرکت هم کیدلی شي ، حضرت پیران پیر فرمائي : یو ځل په سیل او سیاحت کی پداسی ځنګل کی زما تیریدل وشو چی اوبه پکی نه وی ، ترڅو ورځو پوری هلته پاتی شوم د اوبو د نه ملاویدو په وجه سخت تږی شوم ، الله تبارک وتعالی زما په سر باندی د وریځو سیوری وکړ او د هغه وریځو نه څو څاڅکي راپریوتی چی په هغی سره زما لږ غوندی تسلي وشوه او بیا وروسته د هغه وریځو نه یوه رڼا راووته چی دآسمان ټولی غاړی ونیولی او د هغه رڼا نه یو ډیر عجیب او ناآشنا شکل را ښکاره شو او ماته یی په خطاب کی وویل : ای عبد القادر زه ستا پروردګار یم په تا می ټول حرام څیزونه حلال کړل پدی وجه چی څه غواړی وکړه ستا نه به هیڅ تپوس نه کیږي ، ما وویل : اعوذ بالله من الشیطن الرجیم ای ملعون او له درګا نه شړل شوي شیطانه لدی ځای نه ورک شه او لری لاړ شه دا څه خبره ده ؟ لدینه وروسته هغه رڼا سمدستي په تیاره بدله شوه او هغه شکل غیب شو او آواز راغی : ای عبد القادره ته پخپل علم او فهم سره کوم چی دی له الهي احکامو نه حاصل کړی او د خپل مرتبی په ذریعه له مانه خلاص شولی که نه ما پدی ځای کی اویا بزرګان او صوفیان ګمراه کړیدي او یو هم په نیغه لاره باندی ندی پاتی شوی (البلاغ المبین ص ۳۴ د حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي تصنیف) .

لدینه معلومه شوه چی هر تعجب آور خبره او شي ته کرامت ویل د ګمراهی علامه ده، د دجال کرشمی هم ډیر زیات تعجب آور دي مړي به ژوندي کوي، له هغه سره به د هغه جنت او دوزخ هم وي څوک چی د هغه خبره ومني هغه جنت او څوک یی چی ونه مني هغهٔ په دوزخ کی وغورځوي، د قحط سالي په زمانه کی د ځا سره به غلی دائی نه وي څوک چی دهغه خبره ومني هغه ته به غله ورکوي، باران به وروي، غله به پیدا کوي، په ځمکه کی پټی خزانی به د هغه تابع وي، پداسی وخت کی به د نن صبا وینبته پرست او ضعیف العقیده خلک خپل ایمان څنګه وساتي.

د ایمان او عقیدی د سلامتیا لپاره حضرت عمر فاروق رضی الله عنه یو مقدس او تاریخي ونه د کوم ذکر چی په قرآن مجید کی راغلی صرف دی لپاره پریکړه چی خلک به د هغه د زیارت لپاره په ډیر اهتمام سره راتلل، او همدارنګه د مکه او مدینی په لاره کی هغه ځایونه چی هلته رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ کړی وُ چی کله یی هغه ځایو ته خلک په ډیر اهتمام سره ورتللو کی ولیدل نو د تنبیه لپاره یی داسی وفرمایل: "فانما هلك من كان قبلكم بمثل ذلك كانوا يتبعون آثار الانبياء" ترجمه: له تاسی نه مخکی قومونه پدی وجه هلاک او برباد شول چی ستاسو پشان هغوی هم د خپلو نبیانو د نښو پسی لګیدلي وو (البلاغ المبين ص ۷).

دا دواړه مثالونه مسلمانانو لپاره د عبرت درس دی، د سړي له بدن نه جدا شوی وینښتو په باره کی بهتره دا ده چی په ځمکه کی دفن کړی شي، غورځول یی هم جائز دي لیکن په لیټرین او غسلخانه کی به یی نه غورځوي ځکه چی لدینه مرض او بیماري پیدا کیږي، "فاذا قلم اظفاره أو جز شعره ينبغي ان يدفن ذلك الظفر والشعر المجزوز فان رمى به فلابأس وان القاه فى الكنيف او فى المغتسل يكره ذلك لان ذلك يورث داء كذا فى فتاوى قاضى خان" (فتاوی عالمگیری ج ٥ ص ۳۵۸ کتاب الكراهية الباب التاسع عشر فى الختان والخصاء وقلم الاظفار الخ فقط والله اعلم بالصواب).

نوټ: ورونو! قرآن مجید د الله قانون دی دا یو مکمل او بهترین دستور العمل دی پدیکی د کامیابی او هدایت لاره لټول پکار دي د کوم په اختیارولو سره چی د دنیا او ددین کامیابي حاصلولی شي، مګر څومره د افسوس خبره ده چی نن مونږ د نیکی او

دهدایت لاره پرینبی په قرآن شریف کی ٔ ویښته لټوو او که اتفاق سره کوم ویښته پکی راوځي نو د هغی په پرستش او عبادت کی لګیا کیږو (العیاذ بالله) څومره د افسوس مقام دی الله تعالی دی مونږ ټولو ته دنیکی او د هدایت توفیق نصیب کړي ، آمین ، والله اعلم .

لِمَا تصفُ صحیح دی او که لِمَ تصفُ :

(۱۳ سوال) دلته یو مولانا کوم چی حافظ قاري او مولوي هم دی هغه خلکو ته تراویح ورکوي نو دتلاوت په دوران کی چی د (۱۴) سپاری "ولاتقولوا لما تصف" آیت ته ورسي نو د لِمَا الف نه لولي نو د دی تلفظ لِمَ جوړیږي او چی مونږه فتحه ورکړه نو فتحه یی هم وانخسته او چی کله مو د تراویحو نه وروسته ورنه تپوس وکړ نو راته یی وویل چی الف نه ویل کیږي ، تاسو د دی وضاحت وکړئ ؟

ځواب : په "ولاتقولوا لما تصف" کی د لِماَ الف ویل کیږي ، د هغه مولوي صاحب خبره چی الف نه ویل کیږي صحیح او درست نده ، والله اعلم .

د تفسیر بالرای شرعي حکم :

(۱۴ سوال) حضرت مفتي صاحب دامت برکاتهم _ السلام علیکم !

دلته پوره یورپ (اروپا) امریکه او کاناډا کی د مودو نه راپدیخوا یوه فتنه چلیږي چی دا د تفسیر بالرای فتنه ده ، د یونیورسټي (پوهنتون) هلکان او جینکی مخلوط طور سره درس قرآن لپاره یوځای کیږي یو کس د قرآن پاک یو آیت لولي او بیا د تفهیم القرآن او یا کوم بل تفسیر نه ترجمه وکړي او بیا وائي : پروفیسر صاحب دغه آیت کریمه په باره کی ستا څه رایه ده ؟ ډاکټر صاحب ستاسو په خیال لدی آیت کریمه نه څه شی ثابتیږي ؟ فلاني صاحب ستا په نزد لدی آیت نه څه مراد دی ؟ غرض دا چی دا قسم تفسیر چلیږي او دیته هغه خلک درس قرآن وائي ، د تفسیر بالرای متعلق د شریعت څه حکم دی ؟ د خپل فکر او عقل مطابق دا قسم تفسیر کول کوم چی سوال کی ذکر شو صحیح دی ؟ مهرباني وکړئ ځواب دلیل سره تفصیلي ولیکئ ، په زیات تعداد کی پوره یورپ او امریکه کی د خورولو اراده لرم .

فقط والسلام مع الاحترام _ مولانا محمد عیسی کاوي _ یوکي

د محترم ورور جناب منشي عیسی کاوي ضلع بهروچ په واسطه

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! د درس قرآن دغه طریقه کوم چې په سوال کې ذکر شوی چې د یونیورسټي هلکان او جینکۍ مخلوط طور سره درس قرآن لپاره یوځای کیږي .... دا درس قرآن ندی بلکې حقیقت کې د تحریف قرآن یو ناروا مشغله ده د کوم پیشنګوئي یې چې حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه کړیدی ، په (بذل شرح ابوداؤد ج ۵ ص ۱۹۱) کې د حضرت معاذ رضی الله عنه ارشاد نقل دی : " له تاسو نه وروسته د فتنې زمانه راتلونکې ده چې مال به ډیر زیات شي او قرآن کریم به عام شي تر دې چې مؤمن او منافق ، سړی او ښځه ، لوی او وړوکی ، غلام او آزاد ټول به د دې په لوستلو شروع وکړي او ځان به د قرآن ماهر ګڼي ، یو ویونکی به دا ووائي چې خلک زما تابعداري ولې نه کوي حال دا چې ما قرآن لوستی دی دوی تر هغې پورې زما تابعداري نه کوي څو پورې چې ما کومه نوې خبره نه وي جوړه کړې (یعنی تفسیر بالرای مې نوي کړی) لدینه وروسته حضرت معاذ رضی الله عنه وفرمایل چې : خپل ځان له نوي نوي بدعتونو څخه وساتئ ځکه کوم بدعت چې راوویستی شي هغه ګمراهي دی لهذا کوم سړی چې د خپل ذهن او دماغ په قوت سره د قرآن مطالب راپیدا کوي او د خپلې خوښې تفسیر کوي هغه د قرآن پاک تحریف پسې لګیدلی او بدترین قسم ګمراه دی او د نبوي صلی الله علیه وسلم فرمان "ضلوا فاضلوا" صحیح مصداق دی او د ناکاره خاتمې خطره ورته شته دی .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم شان خو دا وُ چې "وماینطق عن الهوی ان هو الا وحیٌ یوحی" یعنې څه کار خو څه کوی آن چې یو حرف هم د هغه د مبارک ژبې نه داسې نه راوته کوم چې نفساني خواهشاتو باندې بنا وي بلکې هغه صلی الله علیه وسلم چې به د دین په باره کې د قرآن کریم په سلسله کې کوم ارشاد فرمایلو هغه د الله تعالی لیږل شوی وحی او د هغه جل جلاله د حکم مطابق وي چې هغه ته وحي متلو " قرآن " او غیر متلو " حدیث " ویل کیږي (سورت نجم پاره ۲۷) .

قرآن کریم یو جامع او مکمل کتاب دی ـ د جامعیت دا مفهوم خو شاید د هیچا په نزد باندې نه وي چې هغه دتعلیم او د وضاحت محتاج ندی او خلک دي د خپل عقل او پوهې مطابق د کوم رسول دتعلیم نه پرته د دې مطالب او مراد معلوم کړي ، که چیرته داسې وای نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لیږلو به کومه فایده نه وه قرآن کریم به براه راست رانازلولی شو او دنیا به ورته پخپله استفاده کولو لیکن د قرآن کریم

نه دا معلومیږي چی د هدایت لپاره د قرآن د تعلیم او تفهیم لپاره رسول لیږل شویدی د رسول د واسطی نه بغیر د الله په کتاب باندی پوهیدل ممکن ندی د الله تعالی فرشته اول رسول ته د الله کتاب ورزده کوي او بیا رسول صلی الله علیه وسلم پدی باندی مامور گرځي چی هغه خلکو ته د دی تعلیم ورکړي "علمه شدید القوی" د دی تفصیل دا دی چی د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم د لیږلو مقصد کوم ځای کی چی "یتلوا علیهم ایاته" یعنی د کتاب الله تلاوت او "ویزکیهم" د مؤمنانو تزکیه او پاکي مقرر شوي دي نو هلته د ده صلی الله علیه وسلم د لیږلو اهم مقصد "ویعلمهم الکتاب والحکمة" یعنی د کتاب الله تعلیم او د آیتونو بیان هم دی او په بل ځای کی ارشاد دی : "وانزلنا الیك الذکر لتبین للناس" یعنی مونږ په تا باندی کتاب نازل کړو تر څو ته خلکو ته دا ښه واضح واضح بیان کړی ، پدی بناء رسول الله صلی الله علیه وسلم د آیتونو د بیان فریضه انجام کړه او صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین خاصکر خلفاء راشدین ، عبد الله بن عباس ، عبد الله بن مسعود ، ابی بن کعب ، زید بن ثابت ، ابو موسی اشعري ، او عبد الله بن زبیر رضوان الله علیهم اجمعین غوندی د تفسیر ماهرینو په ذریعه نقلولو سره تر مونږ پوری ورسید ، د قرآن په فهم کی دغه واسطه څنگه له نظره غورځولی شي؟ حضرت علي کرم الله وجهه ته (باب العلم) ویل شویدي نو ده به فرمایل : په الله تعالی قسم هیڅ یو داسی آیت ندی نازل شوی د کوم په باره کی چی ما ته دا نه وی معلوم چی هغه د چا په باره کی او چیرته نازل شوی ؟ همدغسی د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه هم بیان دی او حضرت علی رضی الله عنه دا هم فرمایلي دي : "ان ربی وهب لی قلباً عقولاً ولساناً سؤلاً" زما رب ما ته پوهیدونکی زړه او تحقیق کونکی ژبه راکړیده ، ده به رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د هر یو شي تحقیق کولو لدینه معلومیږي چی د عقل او پوهی سره د استاذ هم زیات ضرورت دی کوم چی د عقل صحیح راهنمائي وکړی شي .

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه شاگرد د حضرت مسروق بیان دی : "کان عبدالله بن مسعود رضی الله عنه یقرأ علینا السورة ثم یحدثنا فیها ویفسرها عامة النهار" یعنی عبد الله بن مسعود رضی الله عنه به مونږ ته یو سورت ولوست او بیا به

تولە ورځ د هغې په باره کې حدیثونه بیانول او د هغې تفسیر او تشریح به یې کوله (طبري ج ۱ ص ۱۷) او د صحابه کرامو رضی الله عنهم په منځ کې د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه (اعلم بکتاب) کیدل منل شوی خبره وه (استیعاب ج ۱ ص ۳۷۳) صحابه کرامو رضی الله عنهم دغه ټول علوم له منبع علوم او سرچشمۀ هدایت رسول الله صلی الله علیه وسلم نه حاصل کړی وُ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعلیم او د صحبت فیض د صحابه کرامو رضی الله عنهم په علومو کې داسې ژور والی اوداسې نورانیت پیدا کړی وه چې هغوی پخپله د حق معیار جوړ شول ـ مرحوم اکبر آله آبادي ډیر ښه ویلي دي :

درفشانی نے تیری قطروں کو دریا کردیا
دل کو روشن کردیا آنکھو کو بینا کردیا
خود نه تھے جو راہ پر اوروں کے ھادی بن گئے
کیا نظر تھی جس نے مُردوں کو مسیحا کردیا !

یعنی کوشش او خواري سره ستا له څاڅکي نه دریاب جوړ شو ، زړه روښانه او سترګې یې بینا کړې ، څوک چې پخپله په لاره نه وو د نورو لپاره راهنما شول څه عجیبه نظر وُ کوم چې له مړو نه مسیحا جوړ کړل ،پدې وجه د سلف صالحینو په نظر کې د صحابه کرامو رضی الله عنهم د علم او فهم ډیر زیات اهمیت وُ ، د دین په هره معامله کې دغو حضراتو به د ټولو نه مخکې همدا کوشش کولو چې پدیکې د صحابه کرامو رضی الله عنهم مسلک او طریقه څه وه او چې کله به دهغو رایه معلومه شوه نو هغه به یې ځان لپاره راهنما او اسوه جوړوله او که چیرته په هغه مسئله کې به د صحابه کرامو رضی الله عنهم په منځ کې اختلاف وُ نو له هغو څخه به د یو صحابي په رایه باندې عمل کولو او له هغې نه باهر قدم ایښودل به یې ضلالت او ګمراهي ګڼله ، لکه څنګه چې امام محمد بن سیرین کوم چې جلیل القدر تابعي دی د حج په باره کې ورنه د یوې مسئلې پوښتنه وشوه نو وی فرمایل :

"کرهها عمر وعثمان فان یکن علما فهما اعلم منی وان یکن رأیاً فرأیهما افضل"

(جامع بیان العلم ج ۲ ص ۳۱) یعنی عمر فاروق او عثمان رضی الله عنهما به هغه مکروه ګڼلو او که دا علم وُ نو هغوی ما نه زیات عالمان وو او که دا د هغوی رایه وه نو

د هغوی رایه هم زما د رای نه زیات بهتر دی ، لږ غور وکړئ جلیل القدر تابعي امام ابن سیرین رحمه الله د صحابه کرامو رضی الله عنهم د علم او رایه په مقابل کی خپل علم او رایه هیڅ ګڼي ، پداسی حال کی چی د دی زمانی بعضی روښان فکر په تفسیر کی د سلف صالحینو د علم او اجتهاد نه د بی نیازی اظهار کوي .
امام اوزاعي خپل یو شاګرد بقیه بن ولید ته فرمایلي دي :
"یابقیة ! العلم ما جاء عن اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم وما لم یجئ فلیس بعلم)" (جامع بیان العلم ج ۲ ص ۲۹) .
ترجمه : ای بقیه ! علم خو هغه دی کوم چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحابه کرامو رضی الله عنهم نه نقل دی او کوم چی له هغوی نه نقل ندی هغه علم ندی .
عامر شعبي فرمائي : "ماحدثوك عن اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم فخذ به وما قالوا فیه برأیهم فبل علیه" (جامع بیان العلم ج ۲ ص ۳۲) .
ترجمه : خلک چی کوم خبری تا ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحابه وُ رضی الله عنهم نه نقل کړي نو په هغو باندی عمل کوه او کومی خبری چی دخپلی رائی نه کوي په هغی متیازی وکړه یعنی په تندر یی وهه .
دا قسم له ډیرو آثارو نه اندازه کیږي چی د سلف صالحینو په نزد د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم د علم څومره وزن وُ ، دهغو په نزد باندی د دی علم دومره قدر وقیمت ولی وُ ؟ ددی راز دا دی چی د قرآني مقاصدو لپاره لکه څنګه سنت نبوي صلی الله علیه وسلم کاشف او واضح کونکی دی همدغسی د صحابه کرامو اقوال سنت نبوي صلی الله علیه وسلم لره کاشف او واضحه کونکی دی ، څکه که چیرته دغه اقوال رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی شوي بیا خو ظاهره ده چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نقل نه هیڅ نقل افضل او بهتر نشي کیدی او که دا د هغوی خپل اجتهادي رایه وي نو په دین کی دهغوی له اجتهادي رای نه غوره او بهتر د چا رائی نشته .
خلاصه دا چی حدیثونه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم فیض یافته صحابه کرام رضی الله عنهم او د دوی فیض یافته تابعین او تبع تابعین او سلف صالحینو رحمهم الله د آثارو او اقوالو نه پرته د خپل عقل او فهم سره د قرآن کریم صحیح مطلب او مراد ته

رسیدل ناممکن دي ، پدی وجه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم تفسیر بالرای (یعنی د خپل عقل او فهم او خواهش مطابق تفسیر کول) ناجائز او حرام کړیدي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی :

(۱) "من قال فی القرآن بغیر علم فلیتبوء مقعده من النار" (رواه الترمذی مشکواة ص ۳۵) یعنی څوک چی د علم حاصلولو نه بغیر د قرآن پاک مطلب بیان کړي نو هغه دی په جهنم کی ځانته ځای جوړ کړي ، ملا علي قاري رحمه الله مرقات شرح د مشکواة کی د دی حدیث شریف په شرح کی لیکي : "قیل یخشی علیه الکفر" یعنی د هغه لپاره د کفر او ناکاره انجام خطره ده (مرقات ج ۱ ص ۱۹۱) .

(۲) "من قال فی القرآن برأیه فاصاب فقد اخطاء" (رواه الترمذی وابوداؤد ، مشکواة شریف ص ۳۵) یعنی چا چی د خپل عقل او فکر نه د قرآن تشریح وکړه که چیرته اتفاقاً هغه صحیح هم وُ هغه خطاکار دی ، ځکه چی د هغه دا حق نه وُ چی په قرآن کریم کی خپله رایه داخل کړي .

د قرآن پاک د تفسیر اهمیت اندازه لدینه وکړئ چی مفسرینو د تفسیر لپاره په پنځلسو علمونو کی مهارت ضروري نبودلی دی ، لکه څنګه چی د دریاب له بیخ نه لعل و مرجان راویستونه مخکی د دی د ټولو طریقو خپلول پکار دي او ددی متعلق د ټولو آلاتو استعمالول ضروري دي او که څوک د دی آلاتو او طریقو حاصلولو نه بغیر دریاب کی غوپه ووهي نو لدینه لعل و مرجان او جواهرات راویستل خو لری خبره ده خپل ځان به هم هلاک کړي بالکل همدغه شان قرآني علوم او ددی عمق ته رسیدو لپاره پنځلس علمونو کی مهارت ضروري نبودلی شویدی او هغه دا دی :

(۱) لغت (۲) علم نحو (۳) علم صرف او اشتقاق (۴) علم معاني (۵) علم بیان (۶) علم بدیع . آخرني دری واړه علمونو ته " علم بلاغت " ویلی کیږي مفسر جوړیدو لپاره دا دری واړه علمونه ډیر اهم دي پدی وجه قرآن کوم چی سراسر اعجاز دی پدی علمونو سره د دی اعجاز معلومیږي (۷) علم تجوید او قراءت (۸) علم عقائد (۹) اصول فقه (۱۰) قصص او د اسباب نزول پیژندل (۱۱) دناسخ او منسوخ پیژندل (۱۲) علم فقه باندی پوهیدل (۱۳) فرایض (میراث) او په حساب باندی پوهیدل (۱۴) په هغه حدیثونو باندی پوهیدل کوم چی د قرآن پاک د مجملو آیتونو تفسیر واقع شوی دی او لدی ټولو

نه وروسته پنځلسم هغه علم دی کوم چی د الله تبارک وتعالیٰ خاص عطیه ده او هغه خپلو خاصو بندګانو ته ورنصیب کوي (شریعت و طریقت کا تلازم ، الاحسان ملخص) .
دا د سلف صالحینو په نظر کی د قرآن پاک د تفسیر عظمت وُ د دی په مقابل کی د تفهیم القرآن مصنف اقوال لږ وګورئ .
(۱) پدیکی (تفهیم القرآن کی) د کوم شي چی ما کوشش کړیدی هغه دا دی چی د قرآن په لوستلو سره چی کوم مفهوم زما په ذهن کی راغلی او کوم اثر چی زما په زړه کی پریوتی حتی الامکان هو بهو پخپل ژبه کی نقل کړم (ترجمان القرآن ۱۳٦۱ھ محرم ص ۲) .
(۲) د تعلیم دغه طرز طریقه بدلول غواړي د قرآن او حدیث تعلیم په ټول باندی مقدم دی مګر د تفسیر او حدیث له پخوانو ذخیرو څخه نه ، الخ (تنقیحات ص ۱۲٦) .
د حدیث او تفسیر چی کوم متداول او مقبول کتابونه دي (مثلاً بخاري ، مسلم ، ابوداؤد ، نسائي ، ابن ماجه ، موطاء امام مالک ، تفسیر ابن کثیر ، مظهري ، روح المعاني ، بیضاوي ، مدارک التنزیل وغیره وغیره) دغو ته پخواني ذخیره ویلو سره بیکاره او ناقابل توجه ګرځولی شي او لدینه آزاد کیدو سره د قرآن فهمي ترغیب ورکولی شي لکه چی په یوځای کی لیکي : " قرآن لپاره د کوم تفسیر ضرورت نشته د یو اعلی درجی پروفیسر کافي دی الخ " (تنقیحات ص ۲۲۲) .

" ببین تفـــاوت ره ازکجاست تابکجا "

یوځل حضرت عمر فاروق رضی الله عنه له حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه تپوس وکړ چی کله د دی امت نبي یو دی ، قبله یوه ده ، او کتاب یی یو دی نو بیا پدیکی اختلاف ولی او څنګه پیدا کیږي ؟ حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په خواب کی وفرمایل : ای امیر المؤمنین قرآن زمونږ په وړاندی نازل شویدی مونږ د دی د نزول په ځایو او مقصد باندی ښه پوهیږو لیکن آینده کی به داسی خلک پیدا شي چی قرآن خو به لولي لیکن هغوی په صحیح طورسره د دی په مصادر او مواردو باندی علم نلري او بیا پدیکی دخپل ځان نه رای زني شروع کړي او په اټکل او په پټو سترګو تیر او غشي به چلوي پدی وجه پدیکی به اختلاف پیدا کیږي او چی کله اختلاف پیدا شي نو بیا جنګونه شروع کیږي (الاعتصام ص ۱۵۷) .
علامه ابن تیمیه رحمه الله دخپل تدبر فی القرآن د طریقی متعلق فرمایي :

"ربما طالعت علی الأیة الواحدة نحو مائة تفسیر ثم اسأل الله الفهم واقول یــامعلم آدم علیه السلام وابراهیم علیه السلام علمنی وکنت اذهب إلی المساجد المهجورة ونحوها وامزغ وجهی فی التراب واقول یامعلم ابراهیم فهمنی" (العقود الدریة ص ۲۶ په حواله د تاریخ دعوت عزیمت ص ۲۹ ج ۲) .

یعنی په بعضی وختونو کی د یو یو آیت لپاره می د سلو سلو تفسیرونو مطالعـه کړیـده او له مطالعی نه وروسته به می د الله تعالی نه پدی آیت د پوهیدو سوال کولـو او ویـل بـه می چی ای آدم او د ابراهیم علیهما السلام معلمه ماته پوهه راکـړی او زه بـه غـیر آباد جوماتو او ځایونو ته لاړم او خپل تندی به مـی پـه ځمکـه کینښـود او ویـل بـه مـی ای ابراهیم علیه السلام ته تعلیم ورکونکیه ماته پوهه راکړی .

تاسو لږ فکر وکړئ علامه ابن تیمیه رحمه الله راسـخ فـی العلـم کیـدو بـاوجود د سـلف صالحینو په علم او فهم باندی څومره اعتماد کوي او د استفادی په غرض بعضـی اوقـاتو کی یو آیت لپاره د اسلافو سل تفسیرونه مطالعه کوي پداسی حال کی چی پـدی زمانـه کی دغه تفسیرونه پخواني ذخیره ویل کیږي علاوه لدینه علامه ابـن تیمیـه رحمـه الله د محترمو اسلافو د علم او فهم او د هغـوی د قـرآن و سـنت متبـع کیـدو تعریـف کـوي او دهغوی تابعداري واجب ګڼي او لیکي : "یجب علی المسلمین بعد موالاة الله ورسوله موالاة المؤمنین کما نطق به القرآن وخصوصاً العلماء الذین هم ورثة الانبیاء الذین جعلهم الله بمنزلة النجوم یهتدی بهم فی ظلمات البر والبحـر .... الخ" (رفـع الملام عن ائمة الاعلام للعلامة ابن تیمیه) .

یعنی په مسلمانانو باندی د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له محبت نه وروسـته دمؤمنانو دوستي او محبت واجب دی لکه چی قرآن کـریم کـی واضـح بیـان شـویدي خاصکر دهغو علماؤ دوستي او محبت کوم چی د انبیاؤ وارثان دٔ او کوم چـی الله تعـالی د هغو ستورو پشان ګرځولي چی په تیارو کـی وربانـدی پـه وچـه او دریـاب کـی رنـا او راهنمائي حاصلولی شي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم دمبعـوث کیـدو نـه مخکی دنورو امتونو علماء بدترین د امت دٔ لیکن د دی امت علماء بهترین د امـت دي ځکه چی دوی پدی امت کی د رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم جانشـین دي دوی سنت راژوندي کوي ، دکتاب الله رونق او رواج پـه دوی سـره دی او دوی علـم بـردار دي

دوی د کتاب الله ترجمان او شارحین دي او کتاب الله د دوی ورد زبان دلیل او برهان دی داپه یاد ساتل پکار دي چې له دی امامانو څخه کوم عام طور باندی په مسلمانانو کې مقبول او معتمد دی (یعنی ائمه اربعه) په دوی کې یو هم داسی نه ؤ چې هغه به قصداً او عمداً د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کوم وړوکي اویا لوی سنت مخالفت کړی وي ، ځکه دوی ټول پدی متفق وو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري او پیروي واجب دی اویواځې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ذات دی چې د ده صلی الله علیه وسلم ټول اقوال او احکام واجب القبول دي الخ (تاریخ دعوت و عزیمت ص ۱۰۱ ، ۱۰۲ حصه دوم مولانا ابوالحسن علی ندوي مدظله) .

حاصل دا چې : داسی قسم درس قرآن او داسی مجلسو نه ځان ساتل ضروري دي او که نه عقاید او عملونه به خراب شي ، ضال او مضل به وګرځي او د داسی خلکو ګمراهي ښکاره کیدو نه وروسته د دی سره ناسته ولاړه هم جائز ندي ، د الله تعالی فرمان دی : "ولاتركنوا الى الذين ظلموا فتمسكم النار" ترجمه : ای ایمان والاو دغو ظالمانو ته مه ورنزدی کیږئ هسی نه چې د دوزخ اوردرته ورسي (سورت هود پاره ۱۲) او ارشاد دی : "فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين" ترجمه : او که چیرته شیطان درنه هیر کړي نو له یادیدو نه وروسته دغسی ظالمانو سره مه کینه (سورت انعام پاره ۷) او د حکماؤ مشهوره مقوله ده : "القبائح متعدية والطبائع متسرقة" بد عادتونه متعدي وي او طبیعتونه غلاګر وي چې د هری کمزوری خبری نه متاثره کیږي ، فقط والله اعلم بالصواب وهو الهادی الی صراط المستقیم .

الله تعالی دی مسلمانان لدی قسمه فتنو نه وساتي او صراط مستقیم (رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین په طریقه) باندی قائم او دائم لري ، ۳ جمادی الثانی ۱۳۹۹هـ .

دقرآن مجید عظمت او دی لپاره دتجوید لازمي کیدل :

(۱۵ سوال) محترم مفتي صاحب دامت برکاتهم ـ د مسنون سلام نه وروسته دیرو ضروري او اهم مسئلی لپاره ستاسو طرف ته رجوع کوم امید دی چې قناعت بخښونکی خواب راته راکړئ .

ځمونږ پدى علاقه كى د قرآن پاک تعليم طرف ته د خلكو ميلان ډير كم دى ، خلک خپلو بچو ته نور تعليمونه ډير په شوق سره وركوي مګر قرآن پاک طرف ته يى توجه ډيره كمه ده ، او په بعضى ځايو كى څه ناڅه تعليم شته ، مګر د تجويد نوم او نبنه نشته او نه د خلكو په زړونو كى دقرآن ښوونكو كوم عزت او احترام شته ، تاسو داسى په طريقه ځواب راكړئ چى د خلكو په زړونو كى د قرآن مجيد عظمت پيدا شي او د دى د لوستونكو هم احترام وكړي او دتجويد ذوق او شوق پيدا شي او ددى د تعليم طرف ته هم توجه وكړي ، جزاكم الله .

ځواب : حامداً ومصلياً ومسلماً ! قرآن كريم مؤمنانو لپاره ډير لوى نعمت دى او دا د ټولو كتابو څخه افضل او اشرف دى د دى د شرافت او فضيلت لپاره يواځى دغه يو خصوصيت كافي دى چى دا دالله تعالى مقدس كلام دى په حديث كى راځي : "خير الحديث كتاب الله" (مسلم شريف) يعنى د الله تعالى كتاب (قرآن) د ټولو نه بهتر كلام دى او په رحمة للعالمين او خاتم النبيين باندى نازل شويدى او ددى د تعليم فريضه رسول اكرم صلى الله عليه وسلم ته حواله شويده ، په يو حديث كى راځي "فضل القرآن على سائر الكلام كفضل الله على سائر خلقه" (ترمذى شريف ، مشكواة شريف ص ۱۸٦) يعنى قرآن كريم په نورو كتابونو باندى داسى فضيلت لري لكه چى الله تعالى په ټول مخلوق باندى لري ، او په يو بل حديث كى راځي : "القرآن احب الى الله من السموات والارض" يعنى قرآن الله پاک ته له آسمان او ځمكى له ټولو نه ډير خوښ دى .

قرآن كريم د ټول عالَم لپاره دالله تعالى آخري او مكمل قانون دى پدى وجه په آسماني كتابو كى له ټولو نه افضل ، اعلى او اوچت دى او د دى امت امتياز دى ، په يو حديث كى راځي : "ان لكل شئى شرفا يتباهون وان بهاء امتى وشرفها القرآن" (رواه فى الحلية په حواله د فضائل قرآن ص ۲۸) يعنى دهر شي لپاره د شرافت يو څيز وي چى د هغه په ذريعه يو په بل باندى فخر كوي او زما د امت افتخار او رونق قرآن مجيد دى ، په دنيا كى خلک پخپل خاندان ، مال او دولت باندى فخر كوي او دا د خپل شرافت ذريعه ګڼي ليكن رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چى زما د

امت لپاره د فخر کولو شی قرآن مجید دی ، کوم سړی چی دا حاصل کړي ، زده یی کړي او ولولي او بل چاته یی ولولي او ورزده یی کړي نو د هغه شوق به زیاتیږي ، او شرافت هم داسی شرافت چی د دنیا لوی نه لوی شرافت دیته نشي رسیدلی

هسی خو په دنیا کی د زرگونو کتابونو تعلیم ورکولی شي لیکن د قرآن تعلیم زده کول او نورو ته ورښودل دا د ټولو نه اعلی قسم تعلیم دی ، ځکه چی د نورو کتابونو عبارتونه او مضامین د انساني دماغونو پیداوار دي د کوم علم چی همیشه محدود او ناقص دی او په آئنده کی به هم ناقص وي ، او قرآن مجید د هغه مقدس ذات گرامي ارشادات دي چی د هغه علم غیر محدود دی ، آسمان او ځمکی او مکمل کائنات هر یو جزء ته شامل دی لهذا د قرآن عظیم ښونکی او زده کونکی د نورو دنیوي کتابونو ښوونکو او زده کونکو باندی اعلی او اشرف گرځولی شي لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم چی ارشاد دی "خیرکم من تعلم القرآن وعلمه" یعنی په تاسو بهتر هغه ځوک دی چی د قرآن عظیم تعلیم حاصل کړي او بیا نورو ته هم د دی تعلیم ورکوي (بخاري شریف ، مشکواة شریف ص ۱۸۳) او په یو بل حدیث کی راځي او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائي : "یااباهریرة تعلم القرآن وعلمه الناس ولاتزال کذلك حتی یأتیك الموت فان اتاك الموت وانت کذلك زارت الملائکة قبرك کما یزار البیت العتیق" ای ابوهریره قرآن زده کړه او خلکو ته یی ښایه او تر مرگه پوری په ټول ژوند کی هم دا مشغله وگرځوه بیا که چیرته پدی حالت کی درته مرگ راشي نو ملائکی به ستا د قبر تر قیامته پوری داسی زیارت کوي لکه څنگه چی د خانه کعبی زیارت کولی شي ، او په بل حدیث کی راځي : "اکرموا حملة القرآن فمن اکرمهم الله فقد اکرم الله الا فلاتنقصوا حملة القرآن حقوقهم فانهم من الله بمکان کاد حملة القرآن ان یکونوا انبیاء الا انه لایوحی الیهم" (عن ابن عمر ، کنزالعمال) یعنی د حافظ قرآن عزت کوئ ځکه چا چی د دوی عزت وکړ هغه د الله تعالی عزت وکړ ، خبردار ! د قرآن حافظانو بی حرمتي او د هغوی په حقوقو کی کمی ونه کړئ ځکه چی د الله په نزد باندی د دوی داسی مرتبه ده چی قریب ده دوی انبیاء وگرځي مگر په دوی باندی وحي نه راځي ، او په بل حدیث کی راځي : "حامل القرآن حامل

رأية الاسلام ومن اكرمه فقد اكرم الله ومن اهانه عليه لعنة الله" (ان ابی امامة ، كنز العمال) يعنی حامل قرآن د اسلام علمبردار دی چا چی د هغه عزت وکړ هغه د الله تعالی عزت وکړ او چا چی هغه ذليل کړ په هغه باندی د الله تعالی لعنت دی ، او په بل حديث کی راځي: "اذا مات حامل القرآن اوحـی الله الی الارض ان لا تأكل لحمه فتقول الارض كيف اكل لحمه وكلامك فی جوفه" (عن جابر بن عبد الله ، كنزالعمال) حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنه روايت کوي چی رسـول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : کله چی يو حامل قرآن وفات شي نو الله تعالی ځمکی ته حکم کوي چی هغه د ده غوښه ونه خوري ځمکه عرض کوي ستا کلام د ده په سينه کی پروت دی نو بيا زه د ده غوښه څنګه خوړلی شم .

او همدارنګه د حضور اکرم صلی الله عليه وسلم ارشاد دی چی د قيامت په ورځ به قرآن لوستونکي او پدی باندی عمل کونکي شخص ته وويل شي چی لوله او درجی حاصلوه او ښه په قلاره يی لوله څنګه چی دی په دنيا کی لوستلو ، ستا مرتبه د آخري آيت په ختمولو سره يعنی خومره آيتونه چی به لولی دومره درجی به درته ملاويږي (ترمذي ، نسائي ، ابوداؤد) .

کوم خلک چی دنيوي ترقي لپاره دنيوي تعليم کی مشغوليدو سره د قرآن له نعمت نه محروم پاتی شي دا خومره لوی تاوان دی ؟

همدارنګه په حديث کی راځي : بيشکه هغه خوک چی په زړه کی قرآن شريف نشته هغه د وران کور پشان دی (ترمذي وغيره) د نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمان دی : چا چی قرآن پاک ولوست او په يادو يی ياد کړ او حلال يی حلال او حرام يی حرام وګڼل او عمل يی پری وکړ نو هغه لره به الله تعالی جنت ته داخل کړي او د ده د کورنی داسی لسو کسانو په باره کی به د ده شفاعت قبلولی شي چی په هغوی باندی جهنم واجب شوی وي (ترمذي ، ابن ماجه ، دارمي) .

الله اکبر ! قرآن لوستونکو او ښوونکو لپاره د الله تعالی په نزد خومره لوی قدر عزت او مرتبه ده ، قرآن پاک د الله تعالی کلام دی د دی عظمت خوک بيانولی شي ، د دی د عظمت اندازه لدينه ولګوئ چی د وحي د نازليدو په وخت کی به د رسـول الله صلی الله عليه وسلم نوراني مخ به سور شو او د وحي له سختی څخه به داسی معلوميده چی

د رسول الله صلی الله علیه وسلم طاقت ختم شو او چی کله به د وحي راتلل ختم شو نو د دوی له مبارک تندي څخه به د ملغلری پشان دخولی څاڅکی راتللی ، حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه فرمائي : کله چی به په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی وحي راتلل شروع شوه نو د دوی مبارک سر به ښکته کیدو ددی په لیدو سره به صحابه کرامو رضی الله عنهم هم خپل سرونه ښکته کول کله چی به دغه حالت ختم شو نو بیا به سر اوچت کړ ، حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه فرمائي : کله چی د "اولی الضرر" کلمه په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی نازلیدو نو پدی وخت کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک پتون زما د پتون د پاسه ؤ نو ما پخپل پتون باندی ناقابل برداشت دروند والی محسوس کړ او ماته داسی معلومیده لکه چی زما پتون میده میده شو ، لدینه اندازه لګول پکار دي کله چی د یوی کلمی وزن زید بن ثابت رضی الله عنه ته دومره محسوس شو نو په کوم ذات باندی چی مکمل قرآن نازل شوی هغه ته به د عامو انسانانو نه څومره امتیاز حاصل وي ، او هغه به څومره سختي برداشت کړی وي ، او د وحي سختي احساس یواځی انسانانو ته نه بلکی حیواناتو ته به هم کیدله لکه څنګه چی حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي : کله چی به وحي راغی او رسول الله صلی الله علیه وسلم به پدی وخت کی په اوښه باندی سور ؤ نو د وحي له وزن او سختی نه به اوښ هم خپله غاړه ښکته واچولو او تر څو پوری چی به وحي نه ؤ ختم شوی خپله غاړه به یی نشو خوځولی ، بیا یی دا آیت کریمه تلاوت کړه :

"انا سنلقی علیك قولاً ثقیلاً" مونږ به تا باندی یو دروند کلام نازلونکي یو په بل ځای کی فرمائي : "لو انزلنا هذا القرآن علی جبل لرأیته خاشعاً متصدعاً من خشیة الله"

ترجمه : که چیرته دغه قرآن مو په کوم غر باندی نازل کړی وای نو تا به لیدلی وای چی هغه د الله تعالی له ویری نه میده میده شوی وای ، دا د کلام الهي عظمت دی دی لره نه کوم ځناور اوچتولی شي او نه غر ددی برداشت لري .

حضرت عبد العزیز محدث دهلوي رحمه الله خپل تفسیر عزیزي کی لیکي : د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دي کله چی حضرت موسی علیه السلام ته د تورات تختی ورکړی شوه نو موسی علیه السلام پخپل ځان کی د هغو راوچتولو طاقت ونه لید نو الله تعالی د یو یو آیت اوچتولو لپاره یو یو فرشته ولیږه یو آیت یی هم نشو اوچتولی بیا یی یو یو حرف لپاره یو یو فرشته ولیږه هغه یی هم نشو اوچتولی کله چی حضرت

موسی علیه السلام او فرشتو ته معنوي دروند والی معلوم شو نو موسی علیه السلام ته حکم وشو چې اوس مې درته د دی اوچتول آسان کړ نو بیا یې اوچت کړ او بني اسرائیلو ته یې راوړل .

فکر وکړئ ! د کلام الهي څومره عظمت دی چې یو یو حرف هم یوه یوه فرشته نشي اوچتولی ، دا خو د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم صدقه ده چې قرآن مجید څمونږ یو وړوکی ماشوم هم یادوي ، دا یواځې د الله تعالی د آسانولو په وجه سره دي د الله تعالی ارشاد دی : "ولقد یسرنا القرآن للذکر فهل من مدکر" یعنی یقیناً مونږه قرآن کریم یادولو او پوهیدو لپاره آسان کړیدی شته څوک یادونکی او پوهیدونکی ؟

د کلام الهي د عظمت په وجه به څمونږه اسلافو د قرآن پاک ډیر زیات احترام کولو لکه چې په مسند دارمي کی له حضرت ابن ملیکه نه روایت دی چې عکرمه ابن ابی جهل رضی الله عنه به د ادب او احترام په خیال قرآن پاک پخپل مخ باندی کیښود او فرمایل به یې : "هذا کتاب ربی ، هذا کتاب ربی" دا زما د رب کتاب دی ، دا زما د رب کتاب دی ، پدی وجه علماء د دی د تلاوت آداب بیان کړیدي ، په آدابو کی یو ادب دا هم دی چې د مسواک او اودس کولو نه وروسته چیزته په یو ګوشه ځای کی نهایت ادب سکون او تواضع سره مخامخ قبلی ته کیني چارزانو او پرلتی به نه وهي د قرآن پاک عظمت په زړه کی راولي او دا تصور وکړي چې دا د هغه ذات کلام دی چې د ټولو بادشاهانو بادشاه دی بیا به نهایت عاجزي او خشوع سره تلاوت شروع کړي که په معنی باندی پوهیږي نو ډیر په سوچ او فکر سره د رحمت او مغفرت په آیتونو کی د رحمت او مغفرت دعا وغواړي او د عذاب او وعید په آیتونو کی د الله تعالی له عذاب نه پناه وغواړي او د تنزیه او تقدیس په آیتونو کی سبحان الله ووائي او د تلاوت په وخت کی د ژړا کوشش وکړي که ژړا ورته نه ورځي نو په تکلف سره دی وژاړي او د ژړا کونکو پشان دی ځان جوړ کړي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت دا وُ چې ژړل به یې او ارشاد یې هم فرمایلی چې کله د قرآن تلاوت کوئ نو ژاړئ او که ژړا نه درځي نو زوره ځان وژړوئ ، یوځل صالح مري رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته قرآن پاک واورولو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : "یاصالح هذه القرأة فأین البکاء؟" ای صالح دا خو قراءت شو ژړا څه شوه ؟ او یو اهم ادب دا هم

دی چی په لوستو کی تلوار او جلتي ونکړي او قرآن پاک د دی فصیح ژبـی د تجویـد د قاعدو مطابق ولولي قرآن پاک صحیح تجوید سره لوستل ضروري دي ، تجوید له کـلام ا لهي نه جدا کیدی نشي که چیرته له قرآن مجید نه تجوید جدا شو نـو قـرآن مجیـد پـه خپل اصلي حیثیت بانـدی بـاقي نـه پـاتی کیږي ، او داسـی بـی قاعـدی لوسـتونکي گنهکاریږي ، د رسول الله صلی الله علیه وسـلم ارشـاد دی : "رب تال یلعنه القـرآن" څومره خلک قرآن پاک پداسی طور سره لولي چـی قـرآن پـاک وربانـدی لعنـت وایـي ، پدی وجه امام القراء والتجوید علامه جزري رحمه الله فرمایي :

والاخـــذ بالتجوید حــتم لازم

من لـــم یجود القـــرآن آثـــم

لانــــه بـــه الالـــه انـــزلا

وهکـــــذا منه الینـــــا وصلا

یعنی تجوید زده کول او قرآن پاک تجوید مطابق لوستل ضروري دي چاچی بی قاعدم او خلاف تجوید ولوست هغه گنهکار دی ، ځکه چی الله رب العـزت قـرآن پـاک تجویـد سره نازل کړی او همدغسی تجوید سره مونـږ تـه رسیدلی دی ، لهـذا قـرآن پـاک بایـد تجوید سره تلاوت کړی شي او د قراءت نه هغه قراءت مراد دی کوم چی په تواتر سـره نقل شوی وي لکه اوه مشهور قراءتونه کوم چی د قراءت اوه امامانو غـوره کـړي ، پکـار خو دا ده چی له اوه واړو مشهور قراءتونو څخه خبردار وای او خپـل اولادونـه مـو هـم خبردار کړی وای لیکن افسوس چی یواځی دامام حفص رحمـه الله پـه روایـت د امـام عاصم رحمه الله د قراءت هم لکه ښکه چی پکار ده د زده کولو اهتمام نـدی کـړی او عام طور سره غلط قرآن لوستل کیږي نه د مخارجو خیال او نه د صفاتو رعایـت کـوي د لحن جلي او خفي نه ډک وي ایا دغسی قرآن لوستل په لمانځه کی جائز کیږي چـی د امت په ذمه باندی د ایمان وروسته تولو نه اهمه فریضه ده چـی د دی د اداء کولـو نـه بغیر د اسلام بنیاد او عمارت هم نړیږي ، نبوي فرمان دی : "والصلواة عمـــاد الـــدین فمن اقامها فقد اقام الدین ومن هدمها فقد هدم الدین او کما قال" د دی لمونځ له ارکانو څخه یو اهم رکن د قرآن پاک قراءت هم دی اوصحیح قـراءت پـه هغـه وخـت کیدلی شي چی د تجوید سره ولوستلی شي .

او یو ادب دا هم دی چې په خوش آوازی سره ولوستل شي ، نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خوش آوازی سره لوستل به ډیر زیات خوښولو لکه چې ارشاد فرمائي : "زینوا القرآن بأصواتکم" یعنی قرآن پاک پخپلو آوازونو سره ښایسته کړئ لیکن دغه خوش آوازي د قراءت د قاعدو مطابق پکار ده کوم خلک چې د تجوید لحاظ نه کوي او د یو قاري سره دلهجو د مشق کولو نه بغیر خپل آواز اوچتولو او تیتولو سره لولي دا صحیح ندي ، الله تعالی دی مونږ ته د قرآن پاک د قدر کولو توفیق راکړي او په امت کی دی ددی تعلیم عام کړي او پدی باندی د عمل کولو توفیق راکړي او د دی عظمت دی څمونږ په زړونو کی پیدا کړي ، آمین والله اعلم بالصواب ، وهو الهادی الی الصراط المستقیم .

د ختم قرآن لپاره اعلان کول :

(۱٦ سوال) څمونږ پدی علاقه کی کله چې یو څوک وفات شي نو په جومات کی لمانځه نه وروسته او یا په قبرستان کی دفن کولو نه وروسته داسی اعلان کولی شي چې فلاني جومات فلاني لمونځ نه وروسته د مړي د ایصال ثواب لپاره قرآن خواني کیږي او دغه طریقه څو کلونو نه جاري دی او بعض وخت د جومات د امام په کیناستو سره په هغه باندی تنقید او اعتراض هم کیږي او کله کله ددی اعلان نه علاوه خپل خپلوانو ته په قرآن خواني کی د شرکت خصوصي دعوت هم ورکړی کیږي نو پدی طریقه اعلان کول او خلکو لره یوځای کول کوم چې اجتماعي التزام ورنه معلومیږي د لاندینی امداد الفتاوی د فتوی مصداق دی او که نه دی ؟

(سوال) د کال په زیاترو وختو کی د مشرانو ارواحو لپاره ایصال ثواب په غرض د کوم خاص انتظام او معین اوقاتو نه بغیر خلک راجمع کړی شي او قرآن مجید ولوستل شي نو جائز وي او خپلو دوستانو او ملګرو ته د شمولیت لپاره وینا کول څنګه دی ؟

څواب : دا یو غیر مقصود شي لپاره خلک رادعوتول دي کوم چې بدعت او مکروه دی ، فقط (امداد الفتاوی جلد اول باب الجنائز) .

څواب : وهو الموفق للصواب : شامي کی داسی قسم قرآن خواني او رواجي تقریباتو متعلق له معراج الدرایه نه نقل کوي : "هذه الافعال کلها للسمعة والریاء فیحترز عنها لانهم لایریدون بها وجه الله تعالی" یعنی دغه ټول کارونه صرف د ریاء او شهرت

لپاره کولی شي لهذا لدینه ځان ساتل پکار دي ځکه چې دغسې رواجي کارو کې اخلاص او للهیت نه وي .
(شامي ج ۱ ص ۸٤۲ کتاب الجنائز مطلب فی کراهیة الضیافة من اهل المیت)
په شرح سفر السعادت کې لیکي : " وعادت نبود که برای میت در غیر وقت نماز جمع شوند و قرآن خوانند وختمات خوانند نه بر سر گور ونه غیر آن واین مجموع بدعت است و مکروه " یعنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم او نورو سلفو صالحینو دا عادت نه وُ چې مړي لپاره دجنازې له لمانځه نه علاوه په بل کوم وخت کې راجمع شي او قرآن ولولي نه په قبر باندې نه نه په بل کوم ځای کې ،
دا ټول رسمونه او رواجونه بدعت او مکروه دي (شرح سفر السعادت ص ۲۷۳) .
حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکي :
" په کومه طریقه چې نن صبا قرآن شریف لوستلو سره ایصال ثواب کولی شي ، نو دغه مروجه صورت صحیح ندی خو که چیرته خاص دوستانو ته وویل شي چې خپل خپل ځای کې حسب توفیق لوستلو سره ثواب ورسوي نو صحیح .... که درې ځلې قل هو الله هم وویل شي او ورته بخشش کړي چې لدینه د یو قرآن ثواب ملاویږي دا د دینه بهتر دی چې اجتماعي شکل سره لس قرآن پاک ختم کړی شي ځکه چې پدیکې په مړي والاو باندې احسان اچول وي او الله تعالی لږ او ډیر ته نه گوري خلوص او نیت ته گوري " (انفاس عیسی ج ۱ ص ۲۱۵) لهذا ستاسو دا دستور خلاف سنت دی د دی پرېښودل پکار دي او پدی باندې د امامانو پابند کول ظلم او زیاتي دی .

غیر مسلمو ته مطالعی لپاره قرآن شریف ورکول :

(۱۷ سوال) غیر مسلم که چیرته مطالعی لپاره قرآن شریف وغواړي نو ورکول یې جائز دي او که نه ؟ غیر مسلم بې اودسه قرآن شریف نیولی شي او که نه ؟ هغه خو په اعمالو باندې مکلف ندی نو بیا هم هغه ته غسل یا اودس کول ضروري دي ؟
خواب : که چیرته د غیر مسلم په زړه کې د قرآن مجید عظمت وي او د هغه له طرفه د دې خبرې اطمئنان وي چې د قرآن مجید بې ادبي به نه کوي نو هغه ته قرآن مجید ورکول جائز دي ، کیدی شي چې هغه ته هدایت نصیب شي مگر هغه ته به د دې خبرې هدایت ورکولی شي چې دا د الله تعالی مقدس کلام دی د ناپاکۍ په حالت

کی دیته لاس وروړل د دی د عظمت په خلاف دي لهذا که د ناپاکئ حالت وي نو غسل دی وکړي او که نه اودس دی وکړي او د قرآن مطالعه دی وکړي او هغه ته به د غسل او اودس کولو طریقه هم ښودل کیږي ، پدی سره به د هغه په زړه کی د قرآن مجید عظمت پیدا کیږي ، انشاء الله ، په درمختار کی لیکي : "ویمنع النصرانی وفی بعض النسخ الکافر من مسه وجوزه محمد اذا اغتسل ولابأس تعلیمه القرآن عسی ان یهتدی" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۱٦٤ مطلب یطلق الدعاء علی ما یشتمل الثنآء) غیر مسلم خو په اعمالو باندی مکلف ندی مګر قرآن مجید د بی ادبی او بی حرمتی نه محفوظ ساتل په مونږ باندی لازم دي پدی بناء که چیرته د بی حرمتی خطره وي نو د کافرو او دشمنانو ته د قرآن شریف وړل په حدیث شریف کی منع شویدي هسی نه چی قرآن مجید د هغوی په قبضه کی راشي او هغوی د دی بی حرمتي ونه کړي ، او که د بی حرمتی خطره نه وي نو بیا منع ندی ځکه چی علت ندی موجود ، په مسلم شریف کی راځي : "عن عبد الله بن عمر عن النبی صلی الله علیه وسلم انه کان ینهی ان یسافر بالقرآن الی ارض العدو مخافة ان یناله العدو"(مسلم شریف ج ۲ ص ۱۳۱ باب النهی ان یسافر بالمصحف الی ارض الکفار اذا خیف وقوعه بایدیهم) فقط والله اعلم .

د ډاک(پوسته) په ذریعه د قرآن شریف لیږل :

(۱۸ سوال) د ډاک او پوستی په ذریعه قرآن مجید لیږل څنګه دي ؟ ګناه خو به نه وي ؟

خواب : د مجبورئ او د ضرورت په بناء باندی د ډاک په ذریعه د قرآن شریف لیږل جائز دي په پوره احتیاط سره باید بند او صندوق کی کینبودی شي او ولیږل شي ، فقط والله اعلم .

د تورات او د انجیل اصلی ژبه کومه ده ؟

(۱۹ سوال) تورات او انجیل په کومه ژبه کی وُ ؟

خواب : آسماني کتابونه په عربي ژبه کی نازل شوي مګر صاحب کتاب (یعنی په چا باندی چی نازل شوی) د خپل قوم په ژبه کی به ورته ترجمه کول نو پدی وجه تورات

په عبراني ژبه کی ؤ او انجیل په سریاني ژبه کی ، (الیواقیت والجواهر ج ۱ ص ۹۴ ، تصنیف علامه شیخ عبد الوهاب شعراني) والله اعلم .

د یو مفتي صاحب د اشکال ځواب :

(۲۰ سوال) د احقر په ناقص ذهن کی دفتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۲۸۴ کی چی د ترمذي شریف کوم حدیث[1] ترجمه کړی شویدی پدی باندی د نظر ثاني کولو ضرور معلومیږي ، شروح اربعه ترمذي شریف شرح سراج احمد ص ۲٦۸ کی لیکي : وګفت ابن عبد الله ندیدم هیچ کس را از صحابه که بود مبغوض تر بسوی وی نو پیدا در اسلام یعنی ار پدر من ، یعنی په صحابه کرامو رضی الله عنهم کی هیڅوک داسی ندي لیدلي چی زما د پلار نه به ورته بدعت زیات مبغوض وای ، او همدارنګه وګوره "تحفة الاحوذی" ص ۲۰۴ جلد اول .

ځواب : د فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۲۸۴ کی د کوم حدیث د ترجمی په باره کی چی جناب والا د نظر ثاني کوم ضرورت ښودلی دی ، پدی باره کی د جناب والا بی اندازی ممنون یم په آئنده کی هم که ځوابونه قابل د اصلاح معلوم شي بلاتأمل راته ولیکئ مګر معافي غواړم حقیقت دا دی کومه ترجمه چی کړی شویده هماغه صحیح ده یعنی تمام صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د حدث فی الاسلام (بدعت) نه زیات مبغوض بل څه شی نه ؤ ، ضمیر د غائب " الحدث " ته راجع دی او د "قال ولم ار" فاعل ابن مغفل دی یعنی دلاندینی کوم یو راوي تفسیر کوي او د هغه فاعل حضرت ابن مغفل دی ، ګویا چی یزید د خپل پلار دری مقولی په حدیث کی نقل کوي ، او نورو حضراتو هم د حدیث همدا ترجمه کړیده چی صحابه کرامو رضی الله عنهم ته حدث فی الاسلام نه زیات مبغوض بل څه شی نه ؤ ، نور المصابیح ترجمه زجاجة المصابیح مؤلفه حضرت مولانا ابوالحسنات سید عبد الله شاه صاحب محدث حیدر آبادي دی وکتلی شي : د عبد الله بن مغفل رضی الله عنه د ځوی نه روایت دی هغه وائي : خما پلار عبد الله ابن مغفل مانه په لمانځه کی په اوچت آواز سره بسم الله

---

[1] _ دا د عبد الله بن مغفل روایت دی د ده ځوی په لمانځه کی د سورت فاتحه په شروع کی بسم الله په زور (جهر) سره ولوست نو عبد الله بن مغفل وفرمایل: ګرانه بچیه دا بدعت دی لدینه ځان ساته په جدید ترتیب کی په کتاب السنة والبدعة په (میلاد کی ودریدل) عنوان کی.

الرحمن الرحيم لوستل واوريدل نو وى فرمايل : بچيه دا بدعت دى او له بدعت نه خان ساته ، بيا يى وويل : ما له صحابه كرامو رضى الله عنهم نه زيات بل څوک له بدعت سره عداوت او نفرت كونكي ندي ليدلي ، الخ (ج ۱ ص ۲۹٦) .

سبع سنابل فی تصریح المسائل مؤلفه حضرت مولانا قاضي رحمت الله محدث راندیر کی لیکي : د عبد الله بن مغفل رضی الله عنه ځوی وفرمايل : ای ځویه دا بدعت دی لدینه ځان وساته ، او فرمايلي دي : ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه څوک داسی ندي ليدلي چی د بدعت نه زيات بل کوم شي سره به يی بغض کولو (ص ١٦) .

انوار الباري شرح صحيح بخاري اردو جلد اول مؤلفه حضرت مولانا سيد احمد رضا صاحب (فاضل ديوبند) ليکي : امام ترمذي په ترک د بسم الله باندی باب قائم کړی اود يزيد بن عبدالله بن مغفل رضى الله عنه حديث روايت کړی چی : ما په لمانځه کی د الحمد نه وړاندی بسم الله وويلی نو زما پلار وفرمايل : ځويه دا محدث او بدعت دی او صحابه كرامو رضى الله عنهم ته دټولو نه زيات مبغوض په اسلام کی د نوی خبرو پيدا كول وُ (ج ۱ ص ۵۴) .

حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب فرمائي : "ويمكن ان يكون مرجع الضمير الحدث والغرض اظهار تقدير من قبل الحدث ويكون تقدير الكلام كان ابغض آ ليه شئى من الحدث فى الاسلام والمقصود منه ان كلام ابن عبد الله لايصح بظاهره اذا المقصود اظهار البغضية الحديث فى الاسلام للصحابة والذى يظهر من الكلام نقيضه لانه يدل على ان الحدث لم يكن مبغوضاً الى اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فبين ان الحدث ههنا عليه والمقصود انهم لم يكن بشئى ابغض اليهم من الحدث فى الاسلام وهذا لايفيد ارجحية ابيه فى بغض الحدث بل يقتضى البغضية الحدث بالنسبة الى سائر الاشياء الى الصحابة رضى الله عنهم اجمعين افاده الشيخ الجليل الجبر النبيل مولينا السيد خليل رحمه الله ۱۲ منه قلت هذه ا لعبارة مكتوبة على هامش التقرير من كلام الشيخ مولانا خليل ا حمد شارح ابى داؤد او لها مكتوبة بيد الشيخ وآخرها بيدو الذى المرحوم نور الله مرقدهما" ۱۲ (الكواكب الدرى ص ۱۲٦ ج ۱) فقط والله اعلم .

په ګبین کی څه مه ګډوئ د حدیث تحقیق :

(۲۱ سوال) یو سړي په کوم کتاب کی حدیث ولید چی په ګبین (شهد) کی څه شی مه ګډوئ ، دغه حدیث صحیح دی او که نه ؟

ځواب : د دی حدیث مطلب دا دی چی ګبین ، پئ ، غوړي وغیره کی بل شی ګډولو سره خرڅول ناجائز دي ، دا خلکو ته دوکه ورکول دي ، د څکلو لپاره په ګبین کی اوبه وغیره ګډول منع ندي .

د " علی حرف " د لفظ تحقیق :

(۲۲ سوال) د " الفرقان " لکهنو میاشتنی مجلی د ذی الحجه د میاشتی ۱۳۸۹ھ په ګڼه کی د فتاوی رحیمیه په تقریظ (ریویو) کی لیکي : دویم جلد (۲۴) صفحه کی دا روایت ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی ، نوی ترتیب کی په مفسدات صوم کی له چارپایانو (ځاروو) سره صحبت کولو سره روژه ماتیري او که نه ؟ د ابوداؤد په حدیث کی دوه ځایه د " علی حرف " د لفظ ترجمه پړمخی پریوتل کړیدی دا صحیح ندی بلکی په اړخ باندی سملاستل ترجمه صحیح ده ، پدی باره کی تفصیل وکړئ .

ځواب : پدی ذکر شوی حدیث کی د " علی حرف " ترجمه او مفهوم پړمخی پریوتل صحیح دي او په اړخ باندی پریوتلو ترجمه صحیح نده ، په ابوداؤد کی دواړه ځایو کی په لاندی لفظو کی پړمخی پریوتو تفصیل شته دی چی : "ای طرف یعنی یجامعون علی طرف واحد هی حالة الاستلقاء" (پړمخی پریوتل) د ابوداؤد مشهور او مستند شرح "بذل المجهود" کی هم د پړمخی پریوتو تشریح کړی : "ای علی هیئة واحدة هی الاستلقاء" (پړمخی پریوتو حالت) (ج ۳ ص ۵۱) والله اعلم .

د الفرقان (لکهنو) د تبصره نګار د اشکال ځواب

استدراک :

د الفرقان میاشتنی مجلی د ۱۳۸۹ھ کال د ذی الحجه میاشت د مارچ د میاشتی سره سمون خوري په ګڼه کی د (نوي مطبوعات) تر عنوان لاندی په تبصرو کی د مولانا سید عبد الرحیم لاجپوري د فتاوی رحیمیه دویم جلد کی نقل شوي د یو حدیث د یو لفظ " علی حرف " د ترجمی سره اختلاف کړی شوی وُ ، نو پدی باره کی مولانا مونږ

ته ولیکل چی : په سنن ابی داوٗد کی کوم ځای کی چی دغه حدیث شریف راغلی هلته د کرښو تر منځ په نقطه کی د دی لفظ هغه ترجمه لیکل شویده کومه چی مولانا کړیده ، او همدارنګه د ابوداوٗد شرح په بذل المجهود کی هم همدا تشریح موجود دی ، تبصرهٔ نګار د حضرت مولانا زیات شکر ګذار دی چی د طالب علمی د وخت په ذهن کی یوه پریوتی غلط فهمي د دوی په ذریعه باندی لری شوه فجزاهم الله خیر الجزاء (ماهنامه الفرقان لکهنو ربیع الثانی ۱۳۹۰ھ) .

د یو حدیث تحقیق :

(۲۳ سوال) د مسنون سلام نه بعد عرض دا دی چی ځمونږ په علاقه کی یو بدعتي عالِم د تبلیغي جماعت په خلاف یو کتاب لیکلی او د هغه په آخر کی د مسند دارمي په حواله یو حدیث لیکلی دی د هغه حدیث تحقیق غواړو ، حدیث دا دی :

" د نبی کریم صلی الله علیه وسلم له وفات نه وروسته یو ځل بعضی صحابه کرامو رضی الله عنهم دا خبره خوښه شوه چی په جوماټ کی راټول شي او د الله تعالی ذکر وکړي ، نو دغو حضراتو په جوماټ کی حلقه جوړه کړه او الله اکبر لا اله الا الله او سبحان الله وغیره تسبیحات ویل یی شروع کړل او د تسبیحاتو د شمیرلو لپاره یی ګیټکئ استعمال کړی کله چی د دی واقعی خبر عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه ته ورسید نو په منډه منډه جوماټ ته راغی او په ډیر غصه کی دا وفرمایل چی تاسو دا کوم حرکتونه شروع کړیدي ؟ هغوی ورته ځواب ورکړ چی مونږ خو د الله تعالی ذکر کوو نو هغه رضی الله عنه وفرمایل : تاسو ځومره زر د بربادی په لاره باندی روان شوئ حال دا چی د نبي کریم صلی الله علیه وسلم کفن مبارک تراوسه زیړ شوی هم نه دی او د ده صلی الله علیه وسلم صحابه کرام رضی الله عنهم هم په مونږ کی موجود دی " د دی حدیث په نقل کولو سره هغه استدلال کوي چی نن صبا موجوده تبلیغي جماعت په وجه جوماټ اوس جوماټ ندی پاتی ، روټی پخول ، خوراک کول ، له بسترو او نورو شیانو سره په جوماټ کی پاتی کیدل ، آرام او خوب کول او د ژوند ټول کارونه په جوماټ کی کولی شي ، په جوماټ کی دغسی حرکتونو کونکو والاو باندی عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ځومره خفګان او ناراضتیا ښکاره کړ د ذکر شوی حدیث نه ښکاره دي .

اوس له تاسو محترم نه دغه فتوی غواړو چی د دغه ذکر شوي حدیث صحیح مصداق کوم خلک دي ؟

ځواب : ذکر شوی حدیث ثابت دی ، ازالة الخفاء او نورو معتبرو کتابو کی موجـود دی ، دغه خلک اجتماعي طور سره عبادت لپاره راجمع کیدل او پدغه شکل سـره د عبـادت کولو ثبوت نه ؤ پدی وجه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه هغوی لره منع کړل ، عبـادت لپاره مخصوص کیفیت او خصوصي طریقه او وخت مقررول کـوم چـی پـه شـریعت کـی ثابت نه وي بدعت او ناجائز دی ، امام شاطبي رحمه الله فرمـائي : "ولان ذکر الله اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او شيئ دون شيئ لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع" (بحر الرائق ج ۲ ص ۱۵۹) (الاعتصام ج ۱ ص ۲٤) پدی وجه رمضان نـه بغیر پـه جماعـت سـره د وتـر لمـونځ مشروع نـدی او همدارنگه په جماعت سره د تهجد لمـونځ ممنـوع او مکـروه دی ، پـاتی شـو د تبلیغـي جماعت په جومات کی حلقه جوړول نـو دا خـو د تعلـیم او د تبلیـغ لپـاره دی محـض عبادت ندی پدی بناء هغه بعضی قیود او شرطونه کوم چی عبادت لپـاره لازم دي هغـه دتعلیم او تبلیغ لپاره نشي کیدلی ، د تعلـیم او تبلیـغ پـه سلسـله کـی نسبتاً آزادي ده او سهولت مطلوب دی ، ځان ځانله بیانوي او یا یو جماعت ته یی بیانوي ، سـحر کـی یی بیانوي او یا ماښام کی او یا د شپی بیانوي دا تـول درسـت او صـحیح دي ، اجتمـاعي عبادت لپاره دغه آزادي نشته ، د مسجد احتـرام او ادب پـه ټولـو بانـدی لازم دی ، لـه جومات نه بهر چی د آرام او خوب لپاره ځای نـه وي نـو مسـافر او تبلیغـي حضـرات د اعتکاف په نیت جومات کی خـوب کـولی شـي مگـر جومـات کـی د خـوراک څښـاک اجازت نه نوي ، تبلیغي حضرات د خپل اصلاح او د دین تبلیغ لپاره راوځـي چـی دوی په جومات کی پاتی نشي نو کوم ځای به پاتی کیږي ؟ ابن اسحاق فرمائي : د نجـران د عیسایانو یو وفد په مدینه منوره کی د نبی کریم صـلی الله علیـه وسـلم پـه خـدمت کـی حاضر شو د دغه وفد خلک د مازیگر لمانځه نه وروسته په مسجد نبـوي صـلی الله علیـه وسلم کی داخل شول او دا د دغو خلکو د لمانځه وخـت ؤ پـدی وجـه هغـوی لمـونځ کول غوښتل صحابه کرامو رضی الله عنهم غوښتل چی دغه خلک پداسی طریقه لمـونځ کولو نه منع کړي مگر رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایـل : پریـدئ چـی خپـل لمونځ وکړي ، او بیا هغوی مشرق طرف ته ودریدل او خپل طریقی سره یی لمـونځ وکړ (زار المعاد) (اصح السیر ج ۱ ص ۴۲۳ ، ۴۲۴) .

لهذا په تبلیغي جماعت اعتراض کول صحیح ندي البته که د جومات د احترام نه خلاف وي نو په ډیر نرمي او محبت سره وینا پکار ده او هغوی ته هم پکار دي چې د جومات پوره احترام وکړي ، دنیوي خبرو کې مشغول نشي او جومات د مسافر خانی په طور د استعمالولو نه خان وساتي او که نه گنهگار به وي ، فقط والله اعلم ۲ جمادی الثانی ۱۳۹۹هجري .

د انبیاؤ او اولیاؤ په اړه

(۲۴ سوال) د اولیاؤ کرامت حق دی او که نه ؟

ځواب : بیشکه د اولیاؤ کرامت حق دی د قرآن مجید او حدیثو نه ثابت دی په عقائد نسفي کی لیکي : "کرامت الاولیاء حقٌّ" (ص ۱۲) .

مګر دا هم باید په یاد ولرئ چی د شیطان شرارت هم حق دی ، د اولیاؤ کرامت او د شیطان د شرارت تر منځ فرق کول د هر سړي کار ندی ، د شیطان د شرارت یوه واقعه ذکر کوو ، د حضرت عبد القادر جیلاني رحمه الله بیان دی چی یو ځل خو ورځو لپاره په ځنګل کی پاتی وم یو ورځ ډیر تږی وم او د اوبو په تلاش کی ووتم خو اوبه پیدا نشولی پدی دوران کی څه وریځی راغلی او خو څاڅکي راپریوتی چی په هغی سره زما لږ غوندی تسلي وشوه بیا دهغه وریځی نه یوه رڼا راووته چی دآسمان ټولی غاړی یی راګیر کړلی او له هغی رڼا نه یو ډیر ناآشنا شکل راښکاره شو او ماته یی په خطاب کی وویل : ای عبد القادره! زه ستا پروردګار یم زه تاباندی ټول حرام څیزونه حلالوم نو چی څه دی خوښه وي کوه هیڅ قسم تپوس به درنه نه کیږي ما وویل اعوذ بالله من الشیطن الرجیم ای ملعون شیطانه لری شه دا څه بکواس کوی نو چی ما ځنګه اعوذ بالله وویل هغه رڼا په تیاره سره بدل شو او هغه شکل ورک شو او آواز راغی ای عبد القادره ! د شریعت څخه کوم واقفیت او بصیرت چی درته حاصل دی او کوم تقوی چی درکی دی چی یو بیدار مغز او متقی عالِم یی پدی وجه رانه محفوظ پاتی شوی که نه ما پدی ځای کی ستا پشان اویا عبادت ګذاران او صوفیان ګمراه کړیدي (البلاغ المبین ص ۳۴ حضرت شاه ولی‌الله) .

لدینه ثابتیږي چی د دین د بزرګانو کرامت او د شیطان د شرارت پیژندل د هر سړي کار ندی ، هره یوه تعجب آور شی کرامت ګڼل او عقیده ورباندی کول ډیر خلی د ګمراهی سبب ګرځي ، فقط والله اعلم .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکی روضی زیارت کول څه حکم لري ؟

(۲۵ سوال) ایا د غیر مقلدینو په نزد د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روضه اقدس لپاره مدینی منوری ته سفر کول ناجائز دي ؟ که دا خبره صحیح وي نو دکتابو حوالی

سره خواب راکړئ ، او پدی باره کی د دیوبند د علماؤ څه نظر دی ؟ جائز ګنې او که ناجائز ؟
ځواب :صحیح ده چی غیر مقلدین د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د مبارکی روضی زیارت کولو لپاره سفر کول ناجائز ګنې ، د دوی د مذهبي مقتدی نور الحسن خان صاحب کتاب " عرف الجادي " کی لیکي : " ووجه منع از سفر زیارت خواه قبور انبیاء باشد یا غیر ایشان آنست که دلیلی برجواز آن از کتاب یا سنت یا اجماع قائم نیست و از سلف ثابت نشده " (ص ۲۵۷) .
د دیوبند علماؤ نظر داسی ندی ، د دیوبند د علماؤ عقیده دا ده چی د سرور کائنات دمبارک مزار زیارت کول افضل المستحبات بلکه واجب ته قریب دي او د لوی فضیلت او د اجر عظیم باعث دي ، د دیوبند یو جلیل القدر عالِم او بزرګ مولانا خلیل احمد صاحب انبهیټوي ثم المدنی رحمه الله لیکي : ځمونږ او ځمونږ د مشائخو په نزد د سید المرسلین د قبر زیارت د اعلی درجی قرابت او نهایت ثواب او د درجاتو د حاصلولو سبب دی بلکی واجب ته قریب دی ، "عندنا وعند مشائخنا زيارة القبر سيد المرسلين (روحي فداه) صلى الله عليه وسلم من اعظم القربات واهم المندوبات وانجح لنيل الدرجات بل قريبة من الواجبات " او مخکی بیا فرمائي : "وينوى وقت الارتحال زيارته عليه الف الف تحية وسلام وينوى معها زيارة مسجده صلى الله عليه وسلم وغيره من البقاع والشاهد الشريفة بل الاولى ما قال العلامة الهمام بن الهمام ان يجرد النية لزيارة قبره عليه الصلواة والسلام ويوافقه قوله صلى الله عليه وسلم من جاءنى زائراً لاتحمله حاجة الا زيارتى كان حقا على ان اكون شفيعاً له يوم القيامة" .
ترجمه : او د سفر په وخت کی به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیارت نیت کوي او ورسره د نبوي مسجد او د نورو متبرکو مقاماتو به هم نیت کوي بلکی بهتر دا دي چی علامه ابن همام فرمایلي چی یواځی د قبر شریف د زیارت نیت به کوي کله چی هلته ورسید نو د مسجد نبوي زیارت به هم حاصل شي ، پدی صورت کی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم تعظیم زیات دی او دا خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خبری سره هم موافق ده کوم چی فرمایلی : څوک چی زما زیارت

لپاره راشي او ددينه علاوه بل کوم کار يې نه ؤ نو په ما باندې حق دی چې د هغه شفاعت قيامت په ورځ وکړم (التصديقات ص ۵) .
او بل جليل القدر بزرګ او محدث مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله د روضه پاک د زيارت فضايل بيانولو نه وروسته فرمائي : کله چې دمدينې منورې اراده وي نو غوره ده چې د روضه اطهر صلی الله عليه وسلم د زيارت نيت وکړی شي (زبدة المناسك جديد ص ۱۱۳) .
او دريم بزرګ شيخ الاسلام مولانا حسين احمد مدني رحمه الله فرمائي : مدينې منورې ته تلل خالص د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زيارت او د ده صلی الله عليه وسلم د توسل په غرض پکار دي .... پدې وجه زما په نزد غوره دا ده چې د حج نه وړاندې مدينې منورې ته تلل پکار دي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په توسل سره د حج او د عمرې د نعمت د قبوليت کوشش کول پکار دي او د مسجد نيت به تبعاً وکړی شي مګر بهتر دا ده چې يواځې د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم زيارت وکړی شي تر څو د "لاتحمله الا زيارتی" والا روايت باندې عمل وشي .
(مکتوب نمبر ۴۵ مکتوبات شيخ الاسلام ص ۱۲۹ ، ۱۳۰ ج ۱) فقط والله اعلم

د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د قبر مبارک د زيارت په اړه

(۲٦ سوال) د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د روضه اطهر د زيارت لپاره مدينې منورې ته تللو په اړه د ديوبند علماء څه نظر لري ؟ اوريدلی مو دي چې ناجائز او شرک يې ګڼي ،لهذا تشريح وکړئ ! مدينه طيبه ته تلونکی سړی د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د قبر مبارک د زيارت نيت وکړي او که د مسجد نبوي ؟ د ديوبند د علماؤ په نزد دواړو کی کوم يو بهتر دی ؟
ځواب : د رسول الله صلی الله عليه وسلم روضه اطهر ته ډير لوی عظمت او شرف حاصل دی د رسول الله صلی الله عليه وسلم جسم اطهر پديکی موجود دی يواځې دا نه بلکی رسول الله صلی الله عليه وسلم بنفس نفيس او ژوندی پديکی تشريف فرما دی ، په حديث شريف کی دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپل قبر شريف کی باحيات دی او دوی ته رزق هم ورکولی شي ، وګورئ د حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله کتاب (الحبور ص ٦) .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه حصه چی د جسم مبارک سره لګیدلی هغه د کعبی شریفی . عرش او کرسئ نه هم افضل او بهتره ده ، وګورئ د مولانا خلیل احمد انبهیټوي ثم المدني کتاب " التصدیقات ص ٦ " په کوم چی د شیخ الهند ، اشرف علي تهانوي ، مولانا عزیز الرحمن مفتي دیوبند او مفتي اعظم مولانا کفایت الله رحمهم الله او نور د دیوبند ډیرو علماؤ دستخطونه موجود دي .
مختصر دا چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم بزرګي ، عظمت او احترام په باره کی څمونږه عقیده هغه ده کومه چی د امام تاج الدین سبکي رحمه الله وه چی هغه کوم جنت دی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر شریف نه افضل او بهتر وي ؟ د رسول الله صلی الله علیه وسلم قبر مبارک یواځی د جنت نه نه بلکی د هر ځای نه اعلی او افضل دی او که دا وویلی شي د قبر مبارک هغه حصه چی د جسم مبارک سره لګیدلی هغه له عرش نه هم افضل ده نو بیا هم د کوم مؤمن لپاره پدیکی د شک او تردید ګنجائش نشته ځکه هر څه چی دي دا د ذات اقدس رحمة اللعالمین په طفیل سره دي " تاج الدین سبکي ګفته است کدام جنت است که بر قبر شریف آنرا افضل نهند قبر شریف افضل است از تمامه اماکن چه بهشت وجه جز آن و ګفته است ا ګر آنرا بر عرش عظیم فضل نهند ، نمی دانم هیچ مومن صادق را که توقف کند دران همه طفیل شریف اوست " (مدارج النبوت ج ۲ ص ۵۷۸) .
حاصل دا چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر شریفْ زیارت افضل المستحبات دی بلکی واجب ته قریب دی د ډیر فضیلت او د ثواب کار دی پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : "من وجد سعةً ولم یزرنی فقد جفانی" یعنی څوک چی وس او قدر باوجود زما زیارت ته رانشي هغه ماسره ډیره بی وفائي وکړه ، او فرمایلي دي . "من زار قبری وجبت له شفاعتی" یعنی څوک چی زما د قبر زیارت وکړي هغه لپاره زما شفاعت واجب دی ، او فرمایلي دي : "من زارنی بعد مماتی فکانما زارنی فی حیاتی" یعنی چا چی زما د مرګ نه وروسته زما زیارت وکړ دا داسی ده لکه چی زما په ژوند کی زما زیارت کړی وي (مراقی الفلاح ص ۱۵۰ کتاب الحج فصل فی زیارت النبی صلی الله علیه وسلم) (باب حرم المدینة حرمها الله تعالی مشکواة شریف ص ۲٤٠ ، ۲٤۱) لهذا څوک چی د وس او طاقت باوجود د

رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت لپاره مدینی منوری ته لاړ نشي هغه د ډیرو فضائلو او له بی شمیره برکاتو نه محرومیږي او بدنصیب ګڼلی شي ، او د انکار په وجه هلته نه حاضریدل بدبختي ، بدنصیبي او د سنګدلی دلیل دی ، او که د عذر په وجه حاضریدلی نشي نو په هغه هیڅ الزام نشته دی .
د دیوبندیانو جلیل القدر عالم او بزرګ مولانا خلیل احمد انبهیټوي ثم المدني لیکي : "ځمونږه او ځمونږ د مشائخو په نزد د سید المرسلین د قبر زیارت اعلی درجه قربت او نهایت ثواب او درجاتو د حاصلولو سبب دی بلکی واجب ته قریب دی ، "عندنا وعند مشائخنا زيارة القبر سيد المرسلين (روحی فداه) صلی الله علیه وسلم من اعظم القربات واهم المندوبات وانجح لنيل الدرجات بل قريبة من الواجبات " (التصديقات ص ٥) .
پاتی شو د نیت سوال نو په ذکر شوي کتاب کی مولانا خلیل احمد لیکي : چی د سفر په وخت باید د رسول الله صلی الله علیه وسلم دقبر نیت وکړي او ورسره د مسجد نبوي او د نورو مقدسو مقاماتو هم نیت وکړي ، غوره دا ده کوم چی علامه ابن همام فرمایلي دي چی خالص د قبر شریف د زیارت نیت وکړي او بیا چی کله هلته ورسي نو د مسجد نبوي زیارت به هم وشي پدی صورت کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعظیم زیات دی او دی سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم قول هم موافق دی چی فرمائي : څوک چی زما زیارت له راشي چی زما د زیارت نه علاوه یی بل هیڅ کوم کار نه وُ نو په ما باندی حق دی چی د قیامت په ورځ د هغه شفیع جوړ شم ، "وينوی وقت الارتحال زيارته عليه الف الف تحية وسلام وينوی معها زيارة مسجده صلی الله علیه وسلم وغيره من البقاع والمشاهد الشريفة بل الاولى ما قال العلامة الهمام بن الهمام ان يجرد النية لزيارة قبره عليه الصلواة والسلام ويوافقه قوله صلی الله علیه وسلم من جاءنی زائراً لاتحمله حاجة الا زيارتی كان حقا على ان اكون شفيعاً له يوم القيامة" (التصديقات ص ٥) .

او حضرت مولانا رشید احمد گنګوهي رحمه الله دروضه پاک د زیارت فضائل بیانولو نه وروسته لیکي : کله چې د مدینې منورې اراده وي نـو غـوره دا ده چـې د روضۀ اطهر د زیارت نیت وکړي او لاړ شي (زبدة المناسك جدید ص ۱۱۳)

او حضرت شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدني شیخ الحدیث دار العلوم دیوبند فرمائي : مدینې منورې ته تلل خالص د سرور کائنات زیارت او د ده صلی الله علیه وسلم د توسل په غرض پکار دي .

(مکتوب نمبر ۴۵ مکتوبات شیخ الاسلام ص ۱۲۹ ، ۱۳۰ ج ۱)

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د مبارکو ویښتو وجود :

(۲۷ سوال) دا خبره مشهوره ده چې زیاتره لویو ښارونو او کلو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ویښته شته ایا دا صحیح ده ؟ او د دې تعظیم پکار ده ؟

ځواب : د حدیث شریف نه ثابت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم بـه خپـل مبارک ویښته په صحابه کرامو رضی الله عنهم تقسیمول ، فتاوی ابـن تیمیه رحمـه الله کې لیکي: "فان النبی صلی الله علیه وسلم حلق رأسه واعطی نصفه لابی طلحـة ونصفه قسمه بین الناس" نو که چاسره وي څـه د تعجـب خبـره نـده ، او کـه د دی صحیح او قابل اعتماد سند وي نو تعظیم یې کـول پکـار دي ، او کـه سـند نـه وي او دجعلي کیدو یقین هم نه وي نو بیا خاموشي اختیارول پکار دي ندی تصدیق کوي او نه تکذیب او نه دی تعظیم کوي او نه اهانت ، فقط .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکو ویښتو زیارت وکړی شي او که نه ؟

(۲۸ سوال) یوځای کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ویښته دی (۱۲) ربیع الاول باندی د هغه زیارت مقرر شویدی د لری لری ځایونه خلـک راځـي او (۱۳_۱۴) تاریخونه ښځو لپاره مقرر شویدي نو پدی باره کی څه حکم دی ؟

ځواب : بیشکه ویښته او نور نبوي صـلی الله علیـه وسـلم تبرکـات موجـب د خـیر او د برکت دی او د دی په زیارت سره اجر و ثواب ملاویږي ، لیکن خلـک پـدیکی غلـو او زیاتی کوي او حقیقت دا دی چې له حد نه تجاوز کول په عقیـده کـی وي او کـه پـه عمل کی ډیر بد او د عذاب سبب دی ، پدی وجه عمر فـاروق رضـی الله عنـه حجر

اسود ته په خطاب کی فرمایلي ؤ ، بیشکه ته یوه تیره یی نه چا ته فایده ورکولی شي او نه نقصان ؟ او دوی رضی الله عنه هغه ونه د کوم تعریف او فضیلت چی قرآن مجید کی راغلی پدی غرض یی پریکړه چی خلکو به د دی په زیارت کی دحد نه زیات اهتمام شروع کړی ؤ او همدارنګه دوی رضی الله عنه د مکی مکرمی او د مدینی منوری په لاره کی چی کوم ځای کی رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ کړی ؤ په هغه ځایونو کی چی کله خلک په اهتمام سره لمونځ کولو کی ولیدل نو منع یی کړل او وی فرمایل : له تاسو نه وړاندی قومونه هم دغسی د انبیاؤ د آثارو پیروي کولو په وجه سره برباد شویدي (البلاغ المبین ص ۷) .

همدغسی د تبرکاتو په زیارت کی هم اهتمام کیږي ، لری لری ځایونه خلک راځي ، بیلمازان ، فاسقان ، فاجران او بی پرده ښځې زیاتی وي ، د بی حیائي او د بی شرمی پوره نمائش کیږي ، او پدیکی بی شمیره اعتقادي او عملي نقصانات موجود دي ، لهذا ذکر شوی طریقه پرینبودل پکار دي ، حضرت عائشه رضی الله عنها د خپلی زمانی د ښځو متعلق فرمائي : که چیرته د دغه زمانی ښځې رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلی وای نو دوی به یی جومات ته له تلو نه منع کړی وای (حدیث) .

له تبرکاتو نه د برکت حاصلولو صحیح او جائزه طریقه دا ده چی بغیر د تاریخ تعینولو او بلااهتمام د اجتماع کله چی زړه وغواړي زیارت وکړي او په نورو هم وکوي .

په بخاري شریف کی دي : "عن عثمان بن عبد الله بن موهب رضی الله عنه قال دخلت على ام سلمة رضى الله عنها فاجرت الينا شعرا من شعر النبى صلى الله عليه وسلم مخضوباً" حضرت عثمان ابن عبد الله بن موهب رضی الله عنه بیان کوي چی زه ام سلمه رضی الله عنها خوا ته لاړم نو هغی مونږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ویښته مبارکه راوویسته چی د نکریزو اثر ورباندی ؤ .

(ج ۲ ص ۸۷۵ ، پ ۲۴ کتاب اللباس باب ما یذکر فی الشیب)

"وفى رواية عن عثمان بن عبد الله بن موهب رضى الله عنه قال ارسلنى اهلى الى ام سلمة رضى الله عنها بقدح من ماء وقبض اسرائيل ثلث اصابع من قصة فيه شعر من شعر النبى صلى الله عليه وسلم وكان اذا اصاب الانسان عين اوشيى

بعث اليها مخضبةً فى الجلجل فرأيت شعرات حمرا" (بخـاری شـريف ص ۸۷۵ ايضاً) .

دستور دا ؤ چی چا ته به د نظر وغیره څه تکلیف پیدا شـو نـو ام المـؤمنين ام سلمه رضی الله عنها ته بی یی د اوبو پیاله ورلیږله . هغی سره د رسـول الله صلی الله علیه وسلم یو څو ویښته مبارک ؤ چی د سپینو زرو په یوه نلکه کی یی محفـوظی سـاتلی وی هغه نلکه به یی په اوبو کی واچولو او هغه به یی مریض او بیمار باندی څکلوی او کُله به یی په یو لوی تهپ کی اوبه واچولی او بیمار به یی پکی کینولو او هغه د تهپ په اوبو کی به یی دغه نلکه هم اچولو (قسطلاني شرح بخاري ج ۸ ص ۳۸۲) .

د حدیث راوي حضرت عثمان بن عبد الله بن موهب رضی الله عنه بیان کوي چی ما دغه ویښته ولیدلی چی په نکریزو سره سره شوي ؤ .

او په مسلم شریف کـی دي : "فقالت هذه جبة رسول الله صلی الله علیـه وسـلم فاخرجت جبة طيالسة كسروانية لها لبنة دیباج وفرجیها مکفو فين بالديبا فقالت هذه كانت عند عائشة رضى الله عنها حتى قبضت فلما قبضت قبضتها وكـان النبي صلى الله عليه وسلم يلبسها فنحن نغسلها للمرضى نستشفي بها" .

حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها نه روایت دی چی یـوه طیالسـاني کسروي جبه (چینه) راوویسته چی د هغی ګریوان او دواړه لستونو کـی د وریښمـو کـار شـوی دی او وی فرمایل : دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه جبه (چینه) ده کـوم چی د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها سره وه د هغی له وفـات کیـدو نـه وروسـته اوس ماسره ده ، نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دا چینه آغوستو مونږه دا پـه اوبـو سره وینځو او هغه اوبه خپلـو بیمـارانو بانـدی د شـفاء او د صـحت پـه غـرض څکـوؤ (صحيح مسلم شريف ج ۲ ص ۱۹۰ كتاب اللباس والزينة باب تحرم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال الخ) .

"عن ام عطية قالت دخل علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن نغسل ابنته فقال اغسلنها ثلاثاً او خمسا او اكثر من ذلك بماء وسدر واجعلـن فى الآخـرة كافوراً فاذا فرغتن فاذنني فلما فرغنا آذناه فالقى الينا حقوة فقال اشعرنها اياه" .

حاصل د حدیث دا دی چی حضرت ام عطیه د حضرت زینب بنت رسول الله صلی الله علیه وسلم دغسل او کفن واقعه بیانوي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل لنګ مونږ ته راکړه چی د مړي جسم سره تاؤ کړو (تر څو د دی له برکت نه ورته نفع ورسي) (بخاري شریف ج ۱ ص ۱۶۸ پ ۵ کتاب الجنائز باب کیف الاشعار للمیت).
فقط والله اعلم بالصواب

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د " سیدنا " لفظ ویل :

(۲۹ سوال) د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مبارک نوم سره د " سیدنا " لفظ ویل بدعت دی او که ندی ؟

ځواب : په حدیث شریف کی راځي : "انا سید ولد آدم ولافخر" لهذا د " سیدنا " لفظ ویل بدعت ندی ، له حدیث نه ثابت دی ، باب بدء الخلق وذکر الانبیاء علیهم السلام ، فقط والله اعلم .

مدینه منورۍ ته د تلو اصلي مقصد څه دی ؟

(۳۰ سوال) مدینی منوری (زادها الله شرفاً وکرامة) ته حاضریدل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیارت په غرض پکار دي او که دمسجد نبوي د زیارت په نیت ؟ لکه څنګه چی د حافظ ابن تیمیه رحمه الله مشهور مسلک دی .

ځواب : مدینی منوری ته تلل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر شریف دزیارت په نیت سره پکار دي دغه بهتر دي ، لکه چی مولانا خلیل احمد صاحب محدث سهارنپوري ثم المدني رحمه الله فرمائي : ځمونږ او ځمونږ د مشائخو په نزد د سید المرسلین (ځمونږ ځان دی پری قربان شي) زیارت اعلی درجه قربت او نهایت ثواب او د درجاتو د حصول سبب دی بلکی واجب ته قریب دی چی په سفر او د مال و ځان په خرچ کولو سره نصیب کیږي ، او د سفر په وخت کی به د ده د زیارت نیت کوي ، غوره دا دي کوم چی علامه ابن همام رحمه الله فرمایلي دي چی خالص د قبر شریف د زیارت نیت وکړئ بیا چی کله هلته ورسئ نو د مسجد نبوي زیارت به هم حاصل شي ، پدی صورت کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعظیم زیات دی او د دی موافقت پخپله د حضور صلی الله علیه وسلم د ارشاد نه هم کیږي چی فرمایي : څوک چی زما زیارت لپاره راشي چی د زیارت نه علاوه یی بل کار نه وي نو په ما باندی د هغه حق دی چی د قیامت په ورځ یی شفیع جوړ شم ، او همدغه شان عارف

ملاجامي نه هم نقل دي چې دوی زيارت لپاره دحج جدا سفر وکړ او دغه طريقه د عاشقانو له مذهب سره زيات نزدې دی ، اوس د وهابيانو دا وينا چې مدينې منورې ته سفر کول يواځې د مسجد نبوي په نيت سره پکار دي او پدی باندې هغه حديث دليل نيول چې " دريو جوماتونو نه علاوه بل ځای ته سفر مه کوئ " نو دا قول مردود دی ځکه چې حديث چيرته هم په منع باندې دلالت نه کوي بلکې د فهم خاوند که چيرته غور وکړي نو همدغه حديث په دلالت النص سره په جواز باندې دلالت کوي ، ځکه کوم علت چې درې جوماتونه له نورو جوماتونو څخه مستثنی کړې هغه د دې جوماتونو فضيلت دی او دغه فضيلت په ډير زيادت سره پ روضه مبارک کې موجود دی ځکه د ځمکې هغه حصه چې د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم د جسم مبارک سره لګيدلې هغه حصه مطلقاً افضل دی تر دی چې د کعبې ، عرش او کرسی نه هم افضل او بهتر دی ، څنګه چې ځمونږه فقهاء کرامو پدی باندې تصريح کړيدی ، او هر کله چې فضيلت خاصه له وجې درې جوماتونه د عموم نهي نه مستثنی دي نو بايد چې په طريقه اولی سره روضه مبارک د فضيلت عامه په سبب مستثنی وي .

ځمونږ د بيان موافق بلکې لدينه هم په زيات تفصيل سره دغه مسئله ځمونږ شيخ مولانا رشيد احمد ګنګوهي قدس سره پخپل رساله " زبدة المناسك " د مدينې منورې زيارت په فصل کې بيان کړيده کوم چې څو څو ځلې چاپ شويده ، او همدارنګه پدی مسئله کې ځمونږ شيخ المشائخ مفتي صدر الدين دهلوي قدس سره يوه رساله ليکلې چې په هغه کې وهابيانو او د دوی په ملګرو باندې قيامت جوړ کړی او بيخ کن دلائل يې ذکر کړيدي او دهغه رسالې نوم "احسن المقال فی شرح حديث لاتشد الرحال" دی او دا هم چاپ او مشهور شويدی ، د دغه رسالې مطالعه کول پکار دي ، والله اعلم (التصديقات لدفع التلبيسات معروف بمهند ص ۵ ، ٦ ، ۷) .

او شيخ الاسلام حضرت مولانا حسين احمد مدني رحمه الله فرمائي : مدينې منورې ته تللو په باره کې د حافظ ابن تيميه رحمه الله مسلک مرجوح بلکې غلط دی ، مدينه منورې ته حاضريدل يواځې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زيارت او د ده صلی الله عليه وسلم د توسل په غرض پکار دي ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم حيات يواځې روحاني ندی کوم چې عام مؤمنانو او شهيدانو ته حاصل دی بلکې جسماني هم دی د حيات دنيوي له قبيلې څخه بلکې له ډيرو وجوهاتو نه لدينه قوي دی ، په ده صلی الله عليه وسلم باندې توسل يواځې وجود ظاهري ندی چې په حيات

دنیوي کی به کیده بلکی پدی برزخي وجود باندی هم کول پکار دي ، د محبوب حقیقي وصال او د ده رضا یواخې د حضور علیه السلام په ذریعه او توسل سره کیدلی شي ، پدی وجه زما په نزد باندی د حج نه وړاندی مدینی منوری ته تلل پکار دي او د ده صلی الله علیه وسلم په توسل سره د حج او عمری د نعمت د قبولیت کوشش کول پکار دي ، که د مسجد نیت تبعاً هم وکړی شي مګر غوره دا ده چې یواخې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیارت نیت وکړی شي تر څو "لاتحمله حاجة الا زیارتی" والا حدیث باندی عمل راشي (مکتوبات شیخ الاسلام مکتوب ۴۵ ، ج ۱ ص ۱۲۹ ، ۱۳۰) .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک لاس حضرت رفاعي رحمه الله ښکل کړ :

(۳۱ سوال) حضرت سید احمد کبیر رفاعي رحمه الله مدینی ته لاړو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روضه مبارک زیارت وکړ نو د سرور کائنات مبارک لاس راښکاره شو او رفاعي رحمه الله دغه مبارک لاس ښکل کړ ، دا حقیقت څومره پوری رشتیا دی ؟ د کتابونو په حوالی سره ځواب راکړئ ، جزاکم الله خیراً .

ځواب : امام جلال الدین سیوطي رحمه الله پخپله رساله " شرف مختم " کی سلسله وار سند لیکلی چې هغه روایت کړی له شیخ کمال الدین نه او هغه له شیخ شمس الدین جزري نه او هغه له شیخ زین الدین مراغي نه او هغه له شیخ عز الدین فاروقي نه او هغه له خپل پلار شیخ ابو اسحاق ابراهیم نه او هغه له خپل پلار شیخ عز الدین عمر رحمهم الله نه چې زه په کال ۵۵۵ه کی سید احمد رفاعي سره د حج په سفر کی ملګری وم کله چې هغه مدینه طیبه ته ورسید او په روضه شریف باندی حاضر شو نو هغوی پدی الفاظو سره سلام وکړ چې ـ السلام علیکم یاجدی یعنی ای نیکه په تا باندی سلام ، له روضی نه ځواب راغی "وعلیکم السلام یاولدی" یعنی ای زما ځویه په تا باندی هم سلام چې دغه سلام د جومات ټولو خلکو واورید او په سید احمد رفاعي باندی سخت وجد راغی او تر ډیر وخت یی ژړل او په ډیر شوق

یی دا عرض وکړ ، یاجداه

فی حالــة البعد روحی کنت ارسلها
تقبـــــــل الارض عنی وهـــی نائبتی
وهــــــذه دولة الاشباح قـــد حضرت
فامدد یمینـــك کی تحظـــی بهـــا شفتی

یعنی ای بابا جان ! د لري والي په حالت کی می درته خپل روح لیږلو او هغه بـه زما په نیابت هغه ځمکه ښکلوله اوس چی د جسم د حاضري نوبت راغلـی دی نـو خپـل ښی لاس مبارک لږ را اوږده کړه تر څو ځما شونډی د دی په ښکلولو سره مشرف شي ، نوفوراً د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک لاس ځلیدونکی او ړقیـدونکی لـه قبر شریف نه رابښکاره شو او په زرګونو خلکو یی زیارت وکړ او سید رفـاعي رحمـه الله ښـه ښکل کړ (مجمع البحور ص ۱۸٦) .

د دی عظیم الشان واقعی تفصیل سند سره په معتبرو کتابو کی نقل شـویدی د شک او د شبهی هیڅ ضرورت نشته ، د الله تعالی د اولیاوُ څخه د کرامت ظاهریدل په عقـل او نقل دواړه طریقو سره ثابت دي او قرآن او حدیث نه د دی تائید کیږي ، اصـل کـار د الله تعالی دی او بنده د دی د ظهور ذریعه جوړ کړی شي او پدی شان سـره د هغـه د تقرب او د مقبولیت شهادت ورکړی کیږي .

د چرګی هګی څلور واړه طرفونه د بند کلا پشان بند وي پدی کی زره برابر سوری نه وي او بیا د ا لله تعالی په قدرت سره د دی بند کلان نه ناڅاپه یو بچـی راوځـي چـی زیات کمزوری وي ، که د قادر مطلق همدغسی قدرت سره د نبی کریم صلی الله علیـه وسلم (چی د دوی حیات هم مسلمه حقیقت دی) مبارک لاس د قبر شـریف نـه بـاهر وځي نو پدیکی د عقل خلاف څه خبره ده ؟ البته خـلاف عـادت ضـروري دی پـدی وجه خو دیته کرامت ویلی کیږي ، د اولیاء کرامو نه چی کومی خبری ظاهریږي هغه ته کرامت ویلی شي ، مګر د ولي کرامت په حقیقت کی د هغه نبي معجزه وي د کـوم چی دی یی امتي دی او د چا په تابعداری او پیروی کـی ورتـه دغـه کمـال حاصـل شویدی ، همدغه شان د اوبو د پاسه ګرځیدل او په هوا کی الوتل وغیره هم کرامتونه دي کومو ته چی حسي کرامت ویل کیږي یعنی کوم چی په سترګو سره لیـدلی شـي ، دلته دغه خبره هم یاد ساتل پکار دي چی عام طور حسي کرامتونه کمال ګڼلی شـي ،

خو د اهل کمال په نزد معنوی کرامت کمال دی یعنی په شریعت مصطفوي صلی الله علیه وسلم باندی ثابت قدم اوسیدل ، د ژوند په هره شعبه او په هره موقعه باندی د سنت او غیر سنت تر منځ فرق کول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو باندی پوره عمل کول او په زړه سره الله تعالی ته متوجه کیدل چی یوه لحظه هم په غفلت کی تیر نشي ، د حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله په خدمت کی یو بزرګ حاضر شو او عرض یی وکړ : ما ته خو کالو پوری د حق په نسبت کی د قبض حالت وُ ستاسو حضرت خواجه باقی بالله رحمه الله په خدمت کی حاضر شوم او د قبض شکایت می ورته وکړ نو د حضرت خواجه په توجه او دعا سره زما د قبض حالت په بسط سره بدل شو ، تاسو هم راته لږه توجه وکړئ ځکه چی حضرت خواجه رحمه الله خپل ټول خلفاء او مریدان تاسو ته حواله کړیدي ، نو حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله په خواب کی وفرمایل : ماسره خو د سنتو د اتباع نه علاوه بل هیڅ نشته ، ددی خبری په اوریدو سره هغه بزرګ باندی حال طاري شو او د کثرت نسبت او باطني قوت له اثراتو نه د سرهند شریف ځمکه په خوزیدو شوه ، هغه چی څنګه مسواک په ځمکه باندی کیښود نو ځمکه په قلاره شوه او د هغه بزرګ جذبي کیفیت هم ختم شو لدینه وروسته ده هغه بزرګ ته وفرمایل : ستا په کرامت سره د سرهند ځمکه په خوزیدو شوه او که فقیر دعا وکړي نو انشاء الله د سرهند شریف مړي به ژوندي شي ، لیکن زه ستا د دغه کرامت (ځمکی خوزیدل) او دخپل دغه کرامت (یعنی په دعا سره د سر هند شریف ټول مړي ژوندي کیدل) نه د اودس په دوران کی د سنت په طریقه مسواک کول په ډیرو درجو سره غوره اوافضل ګنم (دیپاچه در لاثاني شاه محمد هدایت علی جیپوري ج ۳ ص ٦ ، ۷).

حضرت سید احمد کبیر رفاعي رحمه الله یو کامل متقی او متبع سنت او د بدعتونو سخت دشمن وُ د هغه بنیادي تعلیم دا وُ چی د الله تعالی تلاش د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ذریعه وکړئ (البنیان المشید ص ۴)او د دغه محمدي صلی الله علیه وسلم طریقی بنیاد لره د سنتو په ژوندي کولو او د بدعتونو په ختمولو سره محکم او مضبوط کړئ (ایضاً ص ۸) .

کرامت د سنتو د تابعداری ثمره او نتیجه ده ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تابعداری نه بغیر هیڅ قسم کمال نشي حاصلیدی ،حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرماني : هر یو فضیلت او هر یو کمال د رسول الله صلی الله علیه وسلم په

پیروي او د ده صلی الله علیه وسلم په شریعت په تابعداری باندی موقوف دی او بس ، (مکتوب امام رباني ج ۱ ص ۱۳۵) .

لهذا د شریعت د تابعداری نه بغیر چی د تعجب هره یوه خبره پیدا شي هغه هیچری کرامت ندی بلکی استدراج او شیطاني حرکت دی .

سلطان العارفین حضرت بایزید بسطامي رحمه الله فرمائي : که چیرته تاسو داسی کمال والا سړی ووینئ چی په هوا کی پرلتی وهلی ناست وي او یا د اوبو د پاسه ګرځي نو خو پوری چی د دی امتحان ورباندی نه وي کړی چی د اسلامي احکامو او د شرعي حدودو باندی پابندی کی څنګه دی ، نو هیچری پری یقین ونکړی .

حضرت بسطامي رحمه الله ته چا وویل چی فلانی سړی په یوه شپه کی مکه مکرمی ته رسي نو هغه وفرمایل : شیطان خو په یو پړق سره له مشرق نه مغرب ته رسي او حال دا چی د الله تبارک وتعالی لعنت کی ګرفتار دی (بصائر العشائر ص ٦١٢) .

د طریقت پیشوا حضرت جنید بغدادي فرمائي : الله تعالی ته د وصل کیدو بی شمیره طریقی او لاری دي مګر مخلوق لپاره ټولی لاری بندی دي ، د دی لپاره یواځی هغه لاره کولاوه ده کوم چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تابعداری لاره ده .

حضرت ابوحفص کبیر حداد رحمه الله کوم چی په اهل طریقت کی لوی بزرګ دی فرمايي : چا چی خپل اقوال ، حالات او کارونه د کتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم په میزان باندی نه وي تللي او خواهشات نفسي بد نه ګڼي نو هغه د بزرګانو په فهرست کی مه شاملوئ .

حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمايي : ای بچیه ! کوم څه چی صبا پکار راځي هغه د صاحب شریعت تابعداري دی ، احوال ، معارف او علوم ، اشارات او رموز چی له متابعت سره یوځای شي نو فبها او که نه د خرابی او استدراج نه سیوا بل هیڅ ندي .

یعنی ای بچیه ! کوم شی چی صبا (قیامت کی) پکاریږي هغه د صاحب شریعت صلی الله علیه وسلم تابعداری دی ، درویشانه حالات او عالمانه وجد ، علوم او معارف ، صوفیانه رموز او اشارات که چیرته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تابعداری سره یوځای وي نو بیشکه چی دغه بهتر دي ؟ او که چیرته دغه خبری د شریعت د پابندی او د سنتو له تابعداری نه خالي وي نو دخرابی او استدراج نه سیوا بل هیڅ حقیقت ورته نشته (مکتوب امام رباني ج ۱ ص ۱۸۵ مطبع مرتضوي دهلي) .

او فرمائي : د شریعت مخالفت باوجود (اګر که د یو ویښته برابر وي) که چیرته بالفرض څه احوال او وجد حاصل شي نو دا استدراج دی آخر به هغه رسوا کیږي .
خلاصی بی اتباع محبوب رب العالمین علیه وعلی آله من الصلواة افضلها ومن التسلیمات اکملها ممکن نیست یعنی د رب العالمین د محبوب صلی الله علیه وسلم د تابعداری نه بغیر خلاصی او نجات ممکن ندی ، (مکتوب امام رباني ج ۱ ص ۱۰۰) .
پدی زمانه کی له پیرزاده او یاداسی څوک چی کوم تعجب آور کار ترینه ظاهر شي ، نو غوث ، قطب او یا پیر ګڼلی کیږي که د هغه اعمال او عقائد له شریعت نه هر څومره خلاف وي که هغه ګیری خریي او سینما ایکټر ولی نه وي (انــا لله الخ) دا څومره لویه ګمراهي ده الله تعالی دی عقل سلیم او د هدایت توفیق نصیب کړي ، آمین ،
حضرت شیخ سعدي رحمه الله فرمائي :

خلاف پیغمبر کسی راه ګزید
که هر ګز بمنزل نخواهد رسید

یعنی چا چی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له طریقی نه خلاف کومه لاره اختیار کړه هغه به هیچری منزل مقصود ته ونه رسي .

مه پندار سعدي که راه صفا
توان رفت جز درپی مصطفی

یعنی سعدیه ! چیری دا ګمان ونکړی چی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د تابعداری نه بغیر څوک سمه لاره حاصل کړي ، فقط والله اعلم .

ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم بشر نه وُ ؟

(۳۲ سوال) بریلوي رضاخانی ملایانو عقیده ده چی حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم بشر یعنی انسان نه وُ ، او وائي کوم خلک چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بشریت قائل دي یعنی بشر یی ګڼي هغه خلک (معاذ الله) کافر او له اسلام نه خارج دي ، لهذا د دی لږ وضاحت وکړي .
خواب : حضرت رسول مقبول صلی الله علیه وسلم او نور انبیاء کرام علیهم السلام بشر (انسان) کیدل قطعي او یقیني دي د قرآن او حدیث نه ثابت دي لدینه چی څوک منکر وي هغه د قرآن او له حدیث نه منکر دي .

خمونږه نبي آخر الزمان صلى الله عليه وسلم ديارلس سوه كاله مخكى خپل امت ته دغه ضروري پيغام ورکړی ؤ چی تاسو به له حد نه نه اوچتوي لکه څنگه چی نصاراؤ (عيسايانو) حضرت عيسى ابن مريم عليه السلام لره د خپل حد نه اوچت کړی ؤ زه د الله تعالى بنده او دهغه رسول يم ما ته د الله تعالى بنده او د هغه رسول وايئ .
(بخاري ، مسلم)

افسوس چی د دی پيغام د ضد دا يوه نمونه ده چی اهل بدعت د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بشريت نه انکار کوي او حال دا چی قرآن حکيم ځای په ځای د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بشريت اعلان کړيدی پخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هدايت ورکړی شويدی چی هغهٔ خپل ځان ته بشر ووائي تر څو امت ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم حقيقت بشري علم حاصل شي او دوی د عيسايانو پشان رسول الله صلى الله عليه وسلم لره په الوهيت کی داخلولوسره په گمراهی کی اخته نشي .

(۱) د الله تعالى فرمان دی : "قل سبحان ربی هل كنت إلا بشراً رسولاً" يعنی ای رسول مقبول (صلى الله عليه وسلم) تاسو ووايئ : سبحان الله زه خو صرف بشر رسول يم (سورت بني اسرائيل) .

(۲) په سورت کهف او حم سجده کی فرمايي : "قل انما انا بشر مثلكم .... الآية" يعنی ای رسول مقبول (صلى الله عليه وسلم) تاسو ووايئ : زه هم ستاسو پشان يو بشر يم (فرق دا دی) ما ته وحي کيږي چی ستاسو معبود يو الله دی او غير د دينه بل څوک نشته .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم پشان پخوانو انبياء کرامو عليهم السلام هم خپل قوم ته همدغسی ځوابونه ورکړي ؤ مثلاً د الله ارشاد دی : "قالت رسلهم ان نحن الا بشر مثلكم" يعنی هغو پيغمبرانو عليهم السلام ويلي ؤ چی مونږه هم ستاسو پشان بشر يو مگر الله تعالى د خپلو بندگانو نه چی چاته وغواړي نبوت ورکوي (سورت ابراهيم) .

په حديث کی راځي چی رسول الله صلى الله عليه وسلم به داسی دعاء کوله :

"اللهم انما انا بشر اغضب كما يغضبون فايما رجل اذيتها وشتمته او لعنته فجعلها له صلواة وزكواة وقربة تقربه بها اليك" .
يا الله زه خو يو بشر (انسان) يم ما ته هم دغسې غصه راځي لکه نورو انسانانو ته چې غصه ورځي نو کوم يو مسلمان ته که (د بشريت په غلبې سره) تکليف ورسوم او يا ورته بدرد ووايم او يا ورته بددعائي وکړم نو دغه ټول د هغه په حق کې رحمت او سبب د تزکيه او دقربت او نزديکت ذريعه وګرځوی (چې په هغې سره هغه خپل مقرب جوړ کړی) او په حديث شريف کی راځي : "عن ام سلمة زوج النبیٔ صلی الله عليه وسلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه سمع خصومة بباب حجرته فخرج اليهم فقال انما انا بشر وان يأتيني الخصم فلعل بعضكم ان يكون ابلغ من بعض فاحسب انه قد صدق وقضى له بذالك فمن قضيت له بحق مسلم فانما هى قطعة من النار فليأخذها او فليتركها" ترجمه : حضرت ام سلمه رضی الله عنها نه روايت دی چې دوه ډلو خپله لانجه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته پيش کړه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : زه خو يو بشر (انسان) يم ما ته خلک خپلی لانجی او مقدمی راوړي کيدی شي چې يوه ډله خپل دلائل او صفائي بيانولو کې چالاک وي او زه ورباندی د رشتوني ګمان وکړم پدی بناء د هغوی په حق کی فيصله وکړم وکړم (مګر په ياد ولرئ) پدی طريقه سره چې چاته هم د ناخبری کی د بل چا حق ورکړم نو هغه ورته (حلال ندي) بلکې د جهنم يوه ټکړه ده خوښه يې چې اخلي اوکه يې پريږدي (ابواب المظالم والقصاص باب اثم من خاصم فى باطل وهو يعلمه صحيح بخاری پ ۹ ج ۱ ص ۳۳۲ او پ ۲۹ ج ۲ ص ۱۰۶۲ ، عينى شرح بخاری ج ۱ ص ۲۵۷ ، شرح معانى الآثار ج ۲ ص ۲۸۷) .
او په يو بل روايت کی راځي : "عن رافع بن خديج قال قدم النبى صلى الله عليه وسلم المدينة وهم يؤبرون النخل فقال ما تصنعون قالوا كنا نصنعه قال لعلكم لو لم تفعلوا كان خيرا فتركوه فنقصت قال فذكروا ذالك له فقال انما انا بشر اذا

امرتکم بشئ من امر دینکم فخذوا به واذا امرتکم بشئ من رأی فانما انا بشر" (رواه مسلم ، مشکوٰة ج ۱ ص ۲۸ باب الاعتصام بالکتاب والسنة) .

ترجمه : د رافع بن خدیج رضی الله عنه نه روایت دی کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی منوری ته تشریف راوړ نو دمدینی خلکو د کجورو د ونو پیوندونه لګول نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورنه تپوس وکړ چی دا څه کوئ ؟ انصارو ځواب ورکړ چی دا یوه طریقه ده چی پخوا نه یی کوو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل څما امید دی که دا ونکړئ نو ښه به وي نو انصارو حضراتو دغه کار پرینبود لیکن پدی کال کی کجوری کمی وشوی ، راوي وائي چی خلکو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته د دی ذکر وکړ نو هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل : زه خو یو بشر یم ، کله چی درته د دین په باره کی حکم وکړم نو هغه واخلئ او عمل پری وکړئ (هغه د الله له طرفه وي) او کله چی د خپلې رایی نه یوه خبره درته وکړم نو زه یو بشر یم (یعنی پدیکی غلطي هم کیدی شي او پدیکی تاسو ته هم د رایی ورکولو حق شته دی) .

د حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه نه یو اوږد حدیث نقل شوی چی د هغی یوه ټکړه دا ده :

"قال قام رسول الله صلی الله علیه وسلم فینا خطیباً بماء یدعی خما بین مکة والمدینة فحمد الله واثنی علیه ووعظ وذکر ثم قال اما بعد الا یایها الناس فانما انا بشر یوشك ان یأتی رسول ربی فاجیب وانا تارك فیکم ثقلین الخ" (مسلم شریف باب من فضائل علی بن ابی طالب رضی الله عنه ج ۲ ص ۲۷۹) .

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع څخه فارغیدو نه وروسته "غدیر خم" مقام کی خلکو ته خطبه او وعظ وفرمایل : او د حمد و ثنا نه وروسته یی وفرمایل : ای خلکو واورئ زه هم یو بشر (انسان) یم کیدی شي زما د رب قاصد ما ته راشي او زه هغه ته لبیک ووایم ، زه به تاسو کی دوه اهم څیزونه پریدم .... الخ .

رسول الله صلی الله علیه وسلم څو ځلی په لمانځه کی سهو شویدی هغه فرمایلي دي : "انما انا بشر انسی کما تنسون فاذا نسیت فذکرونی" یعنی زه هم یو بشر یم لکه

څنګه چی تاسو هیرول کوئ دغسی زه هم هیرول کوم کله چی ما نه هیر شي نو راته یادوئ یی

په یو بل حدیث کی راځي : "عن عائشة رضی الله عنها قالت کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یخصف نعله ویخیط ثوبه ویعمل فی بیته کما یعمل احدکم فی بیته وقالت کان بشراً من البشر" (مشکواة ج ۲ ص ۵۲۰ باب فی اخلاقه وشمائله صلی الله علیه وسلم) ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائي : رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپلی پڼی مبارکی پخپله ګنډلی او خپلی کپړی مبارکی به یی پخپله ګنډلی او پخپل کور کی به یی داسی کار کولو لکه څنګه چی تاسو پخپل کور کی کوئ عائشه رضی الله عنها فرمائي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په انسانانو کی یو انسان ؤ .

حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله فرمائي : " ای برادر محمد صلی الله علیه وسلم بآن علو شان بود و به داغ حدوث و امکان مقسم " یعنی ای وروره ! محمد صلی الله علیه وسلم د دومره لوی شان او هستئ باوجود هم بشر ؤ د حدوث او امکان نه خالي نه ؤ (مکتوب نمبر ۱۰۳ ص ۱۷۷) .

په یو بل مکتوب کی دانبیاء کرامو علیهم السلام په باره کی لیکي : " خود را بشر مثل سائر بشر می ګفتند " یعنی انبیاء کرام علیهم السلام به خپل ځانته د نورو انسانانو پشان بشر ویلی (مکتوب نمبر ۱٦۷ ج ۱ ص ۱۷۱) .

او د " قصیده برده " مصنف فرمائي : "فمبلغ العلم فیه انه بشر وانه خیر خلق الله کلهم" د رسول الله صلی الله علیه وسلم متعلق ځمونږ د علم آخري انتها دا دی چی دا بشر دی او د الله تعالی په ټولو مخلوقاتو کی غوره او افضل دی (قصیده برده)

بعد از خدا بزرګ توئی قصه مختصر

د علم عقائد امام شیخ ابن همام فرمائي : "ان النبی علیه السلام انسان شه الله بتبلیغ ما اوحی الیه" (مسامره ص ۱۹۸) یعنی بیشکه نبي یو انسان دی چی الله تعالی هغه لره دی لپاره لیږي چی کوم شی دیته وحي کیږي هغه خلقو ته ورسوي .

له دغو آیتونو ، حدیثونو او د بزرګانو له اقوالو نه ثابتیږي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم بیشکه بشر او انسان ؤ ، لهذا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په بشریت

باندی عقیده لرونکي کافر گڼل او کافر ورته ویل قطعاً غلط او باطل دي ، بلکی علامه ابوالفضل شهاب الدین سید محمود آلوسي البغدادي رحمه الله پخپل مشهو کتاب "تفسیر روح المعانی" کی یوه فتوه نقل کړیده او په هغی کی هغه چاته کافر ویل شویدي څوک چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بشریت نه انکار کوي .

"وقد سئل الشیخ ولی الدین العراقی هل العلم یکونه صلی الله علیه وسلم بشراً من العرب شرط فی صحة الایمان او من فروض کفایة فاجاب انه شرط فی صحة الایمان ثم قال فلو قال شخص او من برسالة محمد صلی الله علیه وسلم الی جمیع الخلق لکن لا ادری هل هو من البشر او من الملائکة او من الجن او لا ادری هل هو من العرب او من العجم فلاشك فی کفره لتکذیبه القرآن"

یعنی د حضرت شیخ ولی الدین عراقي رحمه الله نه سوال وشو چی ایا د ایمان د صحت لپاره دا ضروري دي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم بشر ومني ، یا دغه منل فرض کفائي دي چی د بعضو منل ورته کافي کیږي ؟ نو ځواب یی ورکړ چی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم بشر منل د ایمان د صحت او د اسلام په شرطونو کی داخل دي تر دی پوری چی که چیرته یو سړی دا ووائي چی زه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په رسالت باندی ایمان لرم چی دا د ټولو مخلوقاتو لپاره نبي دی لیکن ما ته دا پته نشته چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم بشر دی او که ملک او یا جن نو د دغه سړي په کفر کی هیڅ شک نشته ځکه چی ده د قرآن پاک تکذیب وکړ .

(تفسیر روح المعانی ج ۲ ص ۱۰۱ پ ۴ دغه خبره د لقد من الله علی المؤمنین اذا بعث فیهم رسولاً الخ د (۱۶۴) ایت تفسیر لاندی کړی دی) .

غرض دا چی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د بشریت په باره کی د شک کولو هیڅ گنجائش نشته لیکن پدغه خبره هم ځان پوهول پکار دي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم یواځی بشر کیدو کی د نورو انسانانو پشان ؤ نه په ټولو

صفاتو او کمالاتو کی .

چه نسبت خـــاک را بــاعالَــم پاک

حقیقت دا دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم مثال په انسانانو کـی داسـی دی لکه په کانو کی د یاقوت ، یاقوت د ذات په اعتبار سره کـانی دی لـیکن پـه یـاقوت او نورو کانو کی د ځمکی او د آسمان فرق دی .

حکیم الامت حضرت تهانوي رحمه الله فرمائي : د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم شان مبارک دا دی چی : "بشر لا کالبشر ولکن کالیاقوت بین الحجر" رسـول الله صلی الله علیه وسلم بشر خو دی مگر د نورو انسانانو پشان ندی بلکـی دوی صـلی الله علیه وسلم په انسانانو کی داسی دی لکه څنګه چی په کـانو کـی یـاقوت وي چـی د ذات په اعتبار سره خو هغه هم کانی دی مگر د یاقوت او نورو کانو تر منځ د ځمکـی او آسمان فرق دی ، دا واقعی خبره ده .

گفتــه اینک مــابشــر اینان بشــر

مـــاوایشـــان بستهٔ خــوابیم وخور

این نـــداستنـــد ایشـــان ازعـــمی

درمیـــان فـــرقی بـــود بی منتها

(ایواء الیتامی ص ٢٦).

رسول الله صلی الله علیه وسلم بشر خو دی مگر مجموعهٔ بشر نه عالي مرتبت ، افضل و اکمل او اقدس و اطهر دی ، الله تعالی دوی صلی الله علیه وسلم ته نبـوت او رسـالت ورکړي او نور هغه باطني ، ظاهري ، دنیوي ، اخروي خوبیانې ، محاسـن او کمـالات ورکړیدي چی بل هیڅ انسان لپاره ممکن ندي ، الله تعالی چی رسـول الله صـلی الله علیه وسلم ته کومه مرتبه ورکړی دغه مرتبه بل هیڅ نبي او رسول او یا ملک مقـرب تـه ندی ورکړی .

جبریل امین هم د معراج په شپه تر یو خاص مقام پوری رسیدو سره د خپلـی عـاجزی اعتراف وکړ .

اگـــر یک سرموی بـــر تر پرم

فـــروغ تجلی بســـوزد پـــرم

په هر حال لکه څنګه چی د رسول الله صلی الله علیه وسـلم بشـر منـل د ایمـان جـزء دی همدغسی د ده صلی الله علیه وسلم بشریت له هر بشر نـه اوچـت او مقـدس منـل

هم ضروري دي تر دی چې د علماء کرامو اتفاق دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم بول و براز هم ناپاک نه ؤ ، د خولو خوشبوئي به یې له مشک او عنبر نه زیات بنه ؤ ، علماؤ دا هم ویلي دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم به سوری نه ؤ ، والله اعلم بالصواب .

" فرمان مصطفوي " په نوم اشتهار غلط دی ! :

(۳۳ سوال) یو څو ورځې کیږي چې زما په نوم د نوم او ادرس (پته) نه بغیر یو خط راغی په هغه کې لیکلی دي چې یو سړي ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب کې بشارت ورکړیدی چې مسلمانانو ته ووایه : لمونځ وکړئ ، قیامت راتلونکی دی ، دغه مضمون چې نقل کړئ او لسو کسانو ته ورسوئ نو تا ته به ډیره فائده وشي او که نه نقصان به وشي ، یو کس داسې وکړ نو پنځلس زره ورته ملاو شوی او بل کس داسې ونکړل د هغه ځوی مړ شو ، ډیر خلک دغسې خطونه لیکي ، نو دغسې خطونه لیکل او دغسې عقیده ساتل څنګه دي ؟ پدی شکل " فرمان مصطفوي " والا اشتهار وخت په وخت راوځي ، کوم چې دغه خط سره ستاسو په خدمت کې پیش کوم .

ځواب : " فرمان مصطفوي " په نامه اشتهار او وصیت نامه بالکل مصنوعي او جعلي دي د کوم چالاک یهودي او یا بل کوم اسلام دشمن سړي کار دی چې مسلمانان له اسلام نه بدګمانه ، او عقیده یې کمزوری کړي په هغه وخت کې چې د وصیت نامې د لیکلو مطابق کار ونه شي (لکه ۱۳۸۰ھ کې د عیسی علیه السلام د نزول او د دجال راوتل وغیره) نو د مسلمانانو عقائد به متزلزل او کمزوري شي او رسول الله صلی الله علیه وسلم د نورو پیشنګویانو څخه هم د شوق او اعتماد ختم شي بلکې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په نبوت کې هم شک او شبهې کول شروع کړي پدی خبره باندی سده ساده مسلمانان نه پوهیږي ، د لمونځ ، روژې او توبه وغیره زړه راښکونکي شیانو په لیدو سره دوکه کیږي او وخت په وخت دغسې اشتهارات چاپوي ، کلي او قریو ته خطونه لیکي او د غلطو خبرو په چاپولو سره د مال او د ایمان د بربادی سبب جوړیږي دغسې اشتهارات او خطونو په لیکلو سره د فائدی او نه لیکلو سره د نقصان کیدو عقیده ساتل موجب د ګناه او ډیر لوی جهالت دی ، مسلمانانو ته لدینه ځان ساتل پکار دي فقط .

په راندیر کی تبع تابعین رحمهم الله :

(۳۴ سوال) راندیر کی د جامع جومات سره متصل د تبع تابعینو خلور زیارتونه دي دا ټول سړي دي او که کومه ښځه هم پکی شته ، نومونه یی څه دي او په کوم تاریخ باندی راغلی دي ؟ سندي تفصیل نه مو خبر کړئ ، مهرباني .

ځواب : په ۱۳۴۳ه کی زه دلته د امام په حیث باندی راغلی یم هغه وخت کی مو د بوډاګانو لمونځ ګذارانو نه اوریدلي ؤ چی تقریباً (۵۰) کاله وړاندی د کانپور نه څوک بزرګ راغلی ؤ د هغه وینا وه چی ما ته بشارت شویدی چی په راندیر کی د تبع تابعینو رحمهم الله یو څو قبرونه دي د ځای تعین هم هغوی کړی ؤ او ویلی ؤ چی ماته لدی ځاینه خوشبویي راځي په همدی ځای کی یی قبرونه دي ، لدینه علاوه بل کوم سند او د نومونو وغیره کوم تفصیل ندی معلوم په عوامو کی مشهوره شوی او تحقیق ته ندي رسیدلي ، نو د عدم روایت په وجه لا نصدق ولا نکذب په درجه کی قرار لرو ، فقط والله اعلم بحقیقت الحال .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم والدین کله وفات شویدي ؟

(۳۵ سوال) د دین علماء او د شریعت مفتیان حضرات د قرآن او حدیث په رڼا کی پدی مسئله کی څه فرمائي چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم والدین کریمین او جد امجد د نبوت نه مخکی وفات شوي او که وروسته ؟

ځواب : د رسول الله صلی الله علیه وسلم والد خو د ده صلی الله علیه وسلم د ولادت نه مخکی وفات شوی ؤ او والده ماجده یی هغه وخت وفات شوی چی د نبي کریم صلی الله علیه وسلم عمر د شپږو کالو ؤ او نبوت خو څلویښت کلنی نه وروسته شروع کیږي نو لدینه معلومیږي چی والدین یی دور رسالت نه مخکی وفات شویدي ، والله اعلم کتبه السید عبد الرحیم لاجپوري غفر له ولوالدیه .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د والدینو اسلام :

(٣٦ سوال) او دغه حضرات مسلمانان دي او که نه ؟

ځواب : پدیکی اختلاف دی غوره دا ده چی پدی مسئله کی سکوت اختیار کړی شي پدی نازک بحث کی مشغولیدل ندي پکار ، دا د عقیده سره کوم تعلق نلري نوځکه سکوت پکی بهتر دی[1] ، فقط والله اعلم .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم والدینو لپاره ایصال ثواب :

(۳۷ سوال) دغو حضراتو لپاره ایصال ثواب او دعا کولی شو او که نه ؟ او د درود شریف په ویلو سره ثواب رسولی شو او که نه ؟

ځواب :دبعضو په نزد جائز دي او د بعضو په نزد ناجائز ، مسئله اختلافي او نازک دی ، فقط والله اعلم .

د ولي کیدو معیار څه دی ؟ څوک چی د شریعت پابند نه وي هغه ولي کیدلی شي ؟ که د داسی سړي نه خرق عادت یعنې کوم شی ظاهر شي نو هغه ته کرامت ویلی شو ؟

(۳۸ سوال) نن د گجرات ، مهسانه ضلع خیرالو په کلي کی یو جعلي پیر پیدا شوی دی د هغه دا دعوه ده او د عوامو هم دا خیال دی چی د ده د پوکي اثر تر یوه میل پوری رسي ، او یو میل لری چی بوټلونو وغیره کی اوبه ایښي وي په هغی کی د بیماری د ازالی اثر پیدا کیږي ، او دا هم اوریدلی شوي چی په زرګونو بیماران صحت یاب شویدي ، عوام دغه جعلي پیر د الله تعالی ولي او پوکی یی کرامت ګڼي ، او د اوبه دمولو لپاره د سړو او ښځو زیاته ګڼه ګونه وربانـدی جوړ وي او پدی وجه خلکو نه لمونځونه هم قضا کیږي ، او د هغه حالت دا دی چی نه د لمونځ پابندي او نه د جماعت اهتمام کوي او نه د سنتو تابعدار دی ، ګیره هم نه پریدي او پردو ښځو سره هم ملاویږي او لاس ورسره هم ملاووي او خلک ورته تیتیږي او سجدی ورته لګوي او هغه یی نه منع کوي نو ایا هغه ته ولي او د هغه پوکي ته کرامت ویلی شو ؟

---

[1] ــ علامه شامي دواړه اقوال ذکر کولو نه وروسته فرمایي چی پدی مسئله کی توقف کول پکار دي دا د هغه مسئلو څخه ندي چی د هغو به تپوس کیږي "وبالجملة كما قال بعض المحققين أنه لاينبغى ذكر هذه المسئلة الا مع مزيد الادب وليست من المسائل التى يضر جهلها او يُسئال عنها ف القبر او ف الموقف فحفظ اللسان عن التكلم فيها الابخير اولى واسلم" ، شامی ج ۲ ص ۱۸۵ باب النكاح الكافر .

ځواب : حامداً ومصلياً ومسلماً وبالله التوفيق : دا د فتنی زمانه ده الله تعالی دی ځمونږ حفاظت وکړي ، حضرت پیران پیر رحمه الله هم لدینه پناه غوښتله او فرمایل به یی : "هذا آخر الزمان اللهم انا نعوذبك من شره" دا آخره زمانه ده یاالله د دی له شر نه مونږه وساتی (ملفوظات مع فتح الرباني ص ٦٦٥) .
په جمع الجوامع کی حدیث ذکر دی چی په آخره زمانه کی به شیطان د بزرگانو په شکل کی خلک گمراه کوي (معاذ الله) د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات نه وروسته د امام مهدي رحمه الله تر ظاهریدو پوری چی د قیامت کومی علامې ښکاره کیږي هغه علامات صغری دي او د امام مهدي رحمه الله له ظهور نه وروسته تر نفخ سور (د شپیلی پوکي) پوری چی کومی نبی ظاهرېږي هغه علامات کبری دي ، او د خلکو ایمان او یقین له اوسه نه متزلزل او " بامسلمان الله الله بابرهمن رام رام " پشان حالت جوړیږي او د جعلي پیر په پوکي باندی مینیدلو او عاشق کیدو سره لمونځونه او جوماتونه قربانوي ، د بی حیایی ، بی شرمی او د بی پردگی مظاهره کولو سره د شیطان په دام کی گیر شي او د الله تعالی د لعنت ښکار وگرځي ، دغو خلکو چی اوس دا حالت دی نو کله چی د قیامت علامات کبری ظاهر شي او دجال راوځي چی د هغه کارنامې ډیر حیرت انگیز وي مړي به ژوندي کوي او جنت او دوزخ به هم ورسره وي چی تابعدار به په جنت او مخالفین به جهنم کی غورځوي ، قحط سالي به وي چاسره به غلی دانې نه وي نو پدی وخت کی خپلو منونکو ته غلی دانې پیدا کوي ، پټی او دفن شوی خزانی به یی د حکم تابع وي نو په هغه وخت کې به د جعلي پیر د پوکي نه متاثر کیدونکو خلکو څه حال وي ؟ دغسی ضعیف الایمان او متزلزل مسلمانان به خپل ایمان څنگه ساتلی شي ؟
پدیکی څه خبره نشته چی قرآني آیات ، اسماء الهي او جائز عملیات تعویذ او دمونه وغیره (کوم چی کفري او شرکي کلماتو نه پاک وي او معاني یی واضح وي) علاج کولی شي .
د حضور اقدس صلی الله علیه وسلم فرمان دی چی الله تعالی داسی هیڅ بیماري ندی پیدا کړی مگر د هغه علاج او دواء هم پیدا کړیدی : "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ماانزل الله داءً الاانزل له شفاءً" رواه البخاری (مشکواة شریف ص ٣٨٧ کتاب الطب والرقی).

"عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لکل داء دواء فاذا اصیب دواء الداء برء باذن الله" رواه مسلم ، مشکواة شریف ص ۳۸۷ کتاب الطب .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د سترګو درد او مار لړم چیچلي وغیره لپاره د دم درود اجازه ورکړیده .

د حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه بیان دی چی مونږ به د اسلام راوړو نه وړاندی دم درود کولو او چی کله مو اسلام قبول کړ نو بارګاه نبوي صلی الله علیه وسلم کی مو عرض وکړ چی یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دم درود څه حکم دی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ماته خپل منترونه واوروئ ، په کوم منتر کی چی شرک نه وي هغه جائز دی ، په مشکواة شریف کی دي :

"عن عوف بن مالك رضی الله عنه قال کنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا یارسول الله کیف تری فی ذلك فقال اعرضوا علیّ رقاکم لابأس بالرقی مالم یکن فیه شرك" رواه مسلم (مشکواة شریف ص ۳۸۸ ایضاً) .

خبره پدیکی ده چی په یوه پوکي سره زرګونه او لکونه انسانان فیض یاب کیږي او یو میل لری په اوبو کی د شفا تاثیر پیدا کیږي اول خو دا صحیح ندي ، د توهم پرستئ ، ضعیف الاعتقادي او د فاسد یقین نتیجه ده او که چیرته دا صحیح هم ومنل شي بیا هم عادتاً محال دي او خلاف عادت کیدو په وجه په شرعي اصطلاح کی دیته (خرق عادت) ویلی شي ، که چیرته دغسی خرق عادت شی تله یو نبي نه ظاهر شي نو هغه معجزه ده لکه څنګه چی د بدر په غزا کی حضور اکرم صلی الله علیه وسلم له ځمکی نه یرموټی خاوره راواخسته او "شاهت الوجوه" ورباندی دم کړ او دشمن طرف ته یی وغورځولی کوم چی د هر یو کافر سترګو ته ورسیدی او سترګی ورباندی پټی شوی او پړی وخت کی صحابه کرامو رضی الله عنهم هغوی قتل کړل ، الله تعالی دغه واقعه قرآن کریم کی داسی بیان کړی : "ومارمیت اذ رمیت ولکن الله رمی" یعنی تاویشتل ندي کړي لیکن الله تعالی ویشتل کړي (سورت انفال ۹ نمبر پاره) .

او که چیرته دغسی خرق عادت شی د الله تعالی د کوم ولي نه ظاهر شي نو هغه ته کرامت ویلی شي او که د کوم فاجر او فاسق سړي نه ظاهر شي نو هغه استدراج (شیطاني چال) وي .
په ذکر شوی مسئله کی کله چی دغه جعلي پیر جمعی سره د لمونځ پابندي نه کوي بلکی د یواځی لمونځ هم پابندي نه کوي او ګیره یی هم نشته (کوم چی د ټولو انبیاؤ کرامو علیهم السلام اتفاقي قدیمي سنت دی) نو هغه فاسق سړی ولي نشي کیدی لهذا که د هغه نه کوم کرشمه ظاهر شي هغه کرامت نه بلکی استدراج او شیطاني دام دی او سحر و جادو دی لهذا هغه خواته تلل او ورسره ملاویدل او د هغه دم کړی اوبه برکتي ګڼلو سره څکل جائز ندي ، او په همدی کی د ایمان او د عقیدی حفاظت دی.
حضرت مولانا شیخ عبد الحق حقاني رحمه الله (د تفسیر حقاني صاحب) فرمائي :
" عوام خلک په کرامت او استدراج کی فرق نشي کولی ، پدی وجه بیلمازه ، شرابي او د فاسق خرق عادت شیانو په لیدو سره د هغه تابعدار جوړیږي او هغه خرق عادت شی کرامت او هغه فاسق ته ولي وائي او پدی نه پوهیږي چی د ولي درجه د صالح مؤمن کیدو نه وروسته وي یعنی کله چی یو صالح مؤمن وي او بیا وروسته د الهي ذات او د صفاتو عارف جوړیدو سره د دنیا لذتونه ترک کړي او په عبادت کی همه تن مصروف ګرځي او د شوق الهي جذبه هغه لره بارګاه کبریا ته راکاږي هلته بیا د درګاه په خواصو کی شمار شي او پدی وخت کی د هغه کوم خرق عادت کار ظاهر شي دیته بیا کرامت ویل کیږي او دی سړي ته ولي ، او که پدی درجه کی نه وي بلکی یواځی صالح مؤمن وي نو دهغه خرق عادت شیانو ته کرامت نشي ویلی او دغه شخص هم اصطلاحي ولي ندی او هغه څوک چی له سره صالح مؤمن نه وي بلکی کبیره او لویو ګناهونو کی مبتلا او اخته وي او یا له سره مؤمن نه وي هغه چیری هم ولي ندی او د هغه خرق عادت شیان شیطاني دام او استدراج دي نه کرامت لکه مخکی چی د دی ذکر وکړی شو (عقائد اسلام ص ۱۵۳ ، ۱۵۴ باب ۱ فصل ۱) .
د الله تعالی مقبول بنده هغه دی کوم چی د ذات او صفات الهي عارف وي او د ده په طاعت او عبادت پوره پابند وي د سنتو متبع او له ګناهونو څخه ځان ساتي د حرامو او شبهاتو نه لری اوسي دغسی پاکو نفسونو ته " اولیاء الله " ویلی شي .

ابوحفص کبیر حداد فرمائي: چا چې خپل احوال او اقوال د قرآن او نبوي صلی الله علیه وسلم سنتو په ترازو کې نه وي تللي او نفساني خواهشات بد نه گڼي نو هغه د الله تعالی نیک او مقبول بنده نه دی (البلاغ المبین فارسي ص ۴٦).

عارف بالله شیخ بایزید بسطامي رحمه الله فرمایي: که چیرته تاسو څوک ووینئ چې عجیب وغریب کارونه کوي په هوا کې الوزي په فضا کې پرلتی وهلی ناست وي، او د اوبو د پاسه گرځي نو څو پورې چې هغه د شریعت او د سنت طریقی پابند نه وي دغو کارونو ته یې هیڅ خیال او توجه ونه کړئ: "لونظرتم الی رجل اعطی انواعاً من الکرامات حتی یتربع فی الهواء او یمشی علی الماء فلا تعتبروا به حتی تنظروا کیف تجدونه عند الامر والنهی وحفظ الحدود واداء احکام الشریعة" (البلاغ المبین فارسی ص ٤٦) او (رساله قشیریه ص ١٥).

حضرت جنید بغدادي رحمه الله فرمایي: "الطرق الی الله تعالی کلها مسدودة علی الخلق الامن اقتفی اثر الرسول" یعنی د وصول الی الله ټولې طریقې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو د پیروی نه بغیر بند او باطل دي (قشیریه ص ۲۰) (البلاغ المبین ص ۴٦).

ابو عبد الله حارث بن اسدي محاسبي فرمائي: "من صح باطنه بالمراقبة والاخلاص زین الله ظاهره بالمجاهدة واتباع السنة" ترجمه: د چا باطن چې په مراقبه او اخلاص سره درست او صحیح شو نو الله تعالی به د هغه ظاهر په مجاهده او اتباع سنت سره بنایسته کړي (رساله قشیریه ص ۱۳) (البلاغ المبین ص ۴٦).

حضرت ابو سعید خراز رحمه الله فرمائي: "کل باطن یخالفه الظاهر فهو باطل" یعنی هر هغه باطن چې ظاهر دهغه مخالفت وکړي یعنی چې ظاهر د باطن مطابق نه وي نو هغه باطل او مردود دی (رساله قشیریه ص ۲۴، البلاغ المبین ص ۴۵).

حضرت ذوالنون مصري رحمه الله فرمایي: "من علامات المحبة لله عزوجل متابعة حبیب الله صلی الله علیه وسلم فی اخلاقه وافعاله و اوامره وسننه" یعنی دمحبت الهي له علامو نه یوه علامه دا هم ده چې د الله تعالی د حبیب صلی الله علیه وسلم

په اخلاقو ، افعالو ، اوامرو او سنتو دهغه صلی الله علیه وسلم کی اتباع او مکمل پیروي وکړی شي (رساله قشیریه ص ۹) .
حضرت شیخ بایزید بسطامي رحمه الله د یو بزرګ شهرت په اوریدو سره ملاقات لپاره ورغی هغه بزرګ اتفاقاً د کور نه جومات ته راتلو نو هغه یی قبلی طرف ته د توکانی په توکولو باندی ولید نو بایزید بسطامي رحمه الله بغیر ملاقات نه واپس شو او وی فرمایل : چا ته چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو (د قبلی د حرمت) خه خیال نه وي نو د هغه په بزرګی باندی خه اعتبار دی ؟ په رساله قشیریه کی لیکي :
"یقول سمعت ابی ، یقول لی ابویزید قم بنا حتی ننظر الی هذا الرجل الذی قد شهر نفسه بالولایة وکان مقصوداً مشهوراً بالزهد فمضینا الیه فلما خرج من بیته رمی ببصاقة تجاه القبلة فانصرف ابویزید ولم یسلم علیه وقال هذا غیر مامون علی ادب من آداب رسول الله صلی الله علیه وسلم فکیف یکون ماموناً علی ما یدعیه"
(رساله قشیریه ص ۱۵) .
پیران پیر شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمایي : "کل حقیقة لایشهد لها الشرع فهی زندقة" یعنی هر هغه حقیقت چی د محمدي صلی الله علیه وسلم شریعت نه خلاف وي هغه ګمراهي او بی دینی ده ، (البلاغ المبین ص ۴۵) .
د الله تعالی ارشاد دی : "وذروا ظاهر الاثم وباطنه" یعنی تاسو ظاهري او باطني ګناه پریدئ (سورت انعام) .
یعنی هر قسم ګناه پریدئ دکوم تعلق چی د بدن ظاهر اندامونو (غوږ ، پوزه ، سترګو ، لاس او پښو وغیره) سره وي او اندروني ګناه هم دکوم تعلق چی یواځی زړه او د نفس اندروني جذباتو سره وي (تفسیر مظهري ج ۱۴ ص ۲۰۴ اردو) .
د باطن اثر په ظاهر باندی کیږي ځکه چی د ظاهر او باطن تر منځ قوي رشته ده چی د هر یو اصلاح او خرابي په بل کی تاثیر کوي .
حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمایي : بدني او ظاهري نیک اعمالو تر سره کولو نه بغیر د زړه د صحیح کیدو دعود رد او باطل ده لکه څنګه چی په دنیا

کی بغیر د روح نه د جسم کیدل ناممکن دي همدغسی ظاهر اعمالو نه بغیر باطني او اندروني یعنی د زړه احوال هم ناممکن او محال دي ، پدی زمانه کی اکثر دغسی مدعیان زیات دي ، الله تعالی دخپل حبیب صلی الله علیه وسلم په برکت مونږ د ملحدانه عقیدو نه بچ کړي (مکتوبات امام رباني ص ۵۳ ، ۵۴ ج ۱ فارسي مکتوب ۳۹)

څوک چی د شریعت پابند او د سنتو تابعدار نه وي هغه کله هم د الله تعالی ولي او دوست نشي جوړیدی که د هغه نه کومه عجیبه خبره ظاهره شي هغه کرامت نه دی بلکی سحر او استدراج دی ، د ریاضت او مجاهدی په ذریعه سره هم عجیب او حیرت انګیز کارونه ظاهریدلی شي پدیکی د اسلام هم څه قید نشته لکه چی علامه ابن حجر رحمه الله فرمائي : "قال ابن حجر انه ناظر صوفی برهماً فطار البرهمی فی الجو فارتفعت الیه نعل الشیخ والناس ینظرون" یعنی یو صوفي د یو جوګي سره مناظره کوله نو هغه جوګي په هوا کی والوتو او هغه صوفي وریسی خپله پنه وویشته او خلکو دغه حالت لیدلو (البصائر ص ۴۱۲ عربي ، بصیرت نمبر ۴۷) .

حضرت ابو یزید بسطامي رحمه الله نه چا تپوس وکړ چی فلانی سړی په یوه شپه کی مکه مکرمی ته رسي ، هغه وفرمایل : شیطان په یو سیکنډ کی له مشرق نه مغرب ته رسیږي (نو دا خو څه کمال او دحقانیت کوم دلیل ندی) حال دا چی هغه باندی د الله تعالی لعنت دی ، "وقیل له فلان یمر فی لیلة الی مکة فقال : الشیطان یمر فی لحظة من المشرق الی المغرب وهو فی لعنة الله تعالی" (البصائر ص ٤١٢ عربي ، بصیرت ٤٧) .

امام رباني مجدد الف ثاني شیخ احمد سر هندي رحمه الله لیکي : که چیرته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تابعدار کی کمالات وي نو ښه او که نه استدراج نه علاوه بل څه ندي (مکتوبات امام رباني ج ۱ ص ۱۹۵) .

او لیکي : څوک چی د شرعي احکامو باندی په عمل کولو کی سست وي او چست نه وي نو هغه د الله تعالی له معرفت نه محروم دی او د ده په فاسد خیالاتو کی چی څه وي هغه هیڅ ندي او کوم حقیقت ورلره نشته دا ټول استدراج او شیطاني مکر دی چی پدیکی جوګي او برهمن هم ورسره شریک دی ، یعنی دغسی خبری له جوګي او برهمن نه هم ظاهریږي (ج ۲ ص ۱۰۹ مکتوب نمبر ۵۵ ،فارسي او اردو ج ۲ ص ۱۸۱).

د ګجرات او بالخصوص د سورت ښار د زرګونو مسلمانانو پير و مرشد حضرت مولانا شاه محمد هدايت علي نقشبندي مجددي جيپوري رحمه الله فرمايي :
څوک چې په ظاهر او باطن کې د سنتو تابعدار وي همدغه متقي او د الله تعالی ولي دی او چا چې د هوش او تميز باوجود تابعداري او پيروي پرينبې وي هغه چيری هم د الله تعالی ولي نشي کيدلی ، لکه شيخ سعدي رحمه الله چې فرمائي :

خلاف پيغمبر کسی راه ګـزيد
که هر ګز بمنزل نخواهد رسيد

ترجمه : هر چا چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه خلاف لاره اختيار کړه هغه چيری هم منزل مقصود ته نشي رسيدلی ، پدی زمانه کې اکثر خلک خپل وضع قطع د شريعت په خلاف جوړوي لکه لمونځ نه کول او يا کله کله کول ، ګيره خرول او ډير زيات کمول او بريتان لوی لوی ساتل ، پينسې له ګيتو نـه ښکتـه سـاتل او داسـی نـور کارونه داسلامي شريعت او د طريقت خلور واړو امامانو په نزد دغسی کس فاسق دی ، په حديث شريف کې راځي چې د فاسق سړي په صفت کولو سره عرش معلی خوزيږي ، او په قرآن پاک کې الله تعالی فرمايي : "ان الله لايهدی القوم الفاسقين" بيشـکه الله تعالی فاسق قوم ته هدايت نه کوي ، ليکن جاهلان دغسی خلکو ته د الله تعالی وليان وائي او هغه فاسق پير دخپل ولايت اثبات دجاهلانو لـه ژبـی نـه آوري او غلـی پـاتی کيږي ، جاهلان وايي : چې پير صاحب پنځه لمونځونه مکه مکرمـه کـې ادا کـوي نـو پدی وجه دوی ته پدی ځای کې دلمونځ کولو څه ضرورت نشته .
نو ای وروره ! دغسی خلک کوم چې فاسقان دي او الله تعالی خپـل دوسـتان نـدي ګرځولي له دوی سره بيعت کول ندي پکار او د دوی له صحبت او ملګرتيا نـه ځـان ساتل ضروري دي ځکه چې فائده خو نشته او نقصان يی ښکاره دی .
مولانا روم رحمه الله فرمائي :

دست ناقص دست شيطان است وديو
زانـکه اندر دام و تکليف است وديو

ترجمه : د ناقص سړي لاس د شيطان لاس وي ځکـه چـې پـديکی سراسـر مکـاري او تکليف دی ، او د دوی له صحبت او ملګرتيا نه لری کيدل پکار دي اګـر کـه لـه دوی څه عجائبات ظاهر شي کوم چې شريعت کې ورته استدراج وائـي لکـه د زړونـو حـال بيانول ، په زړونو باندی تاثير غورځول ، د غيبـو او پټـو خبـرو بيـانول ، پخپلـه غائـب

کیدل ، په هوا کی الوتل ، دغه ټول صفتونه په لعین شیطان ، جوګي او هندي برهمن او د یونان په فلاسفه ؤ کی هم وي که د دغو شیانو نوم ولایت وي نو بیا شیطان کافر ته هم ولي ویل لازمیږي ، ولایت د حق نزدیکت یقین کامل ، د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره زیاته مینه او د الله تعالي د حبیب صلی الله علیه وسلم د مکمل اتباع نوم دی .

حضرت مولانا روم رحمه الله هم د ناقص او د کامل معرفت او پیژندګلوي کړیدی او فرمایلي دي :

(۱) ای بسا ابلیس آدم روئی هست
پس بهر دستی نه باید داد دست

ترجمه : یعني ډیر شیطانان د بني آدم په شکل کی دي نو د هر سړي په لاس کی بغیر د تحقیق نه لاس ورکول یعنی بیعت کول پکار ندي .

(۲) هر که اواز کشف خود گوید سخن
کشف اور اکفش کن بر سر بزن !

ترجمه : هر څوک چی د خپل کشف نه خبرې وکړي نو د هغه د کشف نه څپلی جوړی کړه او په سر یی ووهه .

(۳) ما برای استقامت آمد یم
نه پی کشف و کرامت آمد یم

ترجمه : مونږ د شریعت په احکامو باندی پابند اوسیدو لپاره راغلي یو ، کشف او کرامت لپاره نه یو راغلي .

عروة الوثقی حضرت خواجه محمد معصوم سرهندي رحمه الله فرمائي :

د ناجنس او مخالف له صحبت او ملګرتیا نه ځان ساتئ او د بدعتي له ملګرتیا نه لری تښتئ ، او څوک چی د شیخی په مسند او مقام باندی ناست وي او عملونه یی د سنت نه خلاف وي د هغه څخه ډیر ډیر لری ګرځه بلکی د هغه په کلي کی هم مه پاتی کیږئ هسی نه چی هغه طرف ته دی میلان پیدا شي او په عقیده کی دی فرق راشي ، دغه پیر پټ غل دی ، او د شیطان دام دی اګر که د هغه نه رنګا رنګ خرق عادت شیان ووینی اوله دنیا سره یی تعلق نه وي د هغه له صحبت او ملګرتیا نه داسی تښته لکه څنګه چی د شیر او زمري نه تښتی ، د شریعت و طریقت ، حقیقت او معرفت د ټولو مقصد دا دی چی د خاکي بنده بخشش او مغفرت نصیب شي او د دی روښني

ذریعه د شریعت تابعداري دی او د شریعت په اعمالو کی اخلاص پیدا کیدل طریقت دی ، د چا په حال وقال ، کشف و کرامت باندی بخشش منحصر ندی ، کوم حال یا کشف او یا خرق عادت چی د متقي نه ظاهر شي هغه نور دی او دیته کرامت او برکت وایو او که د شریعت خلاف خلکو نه دغسی کارونه ظاهر شي نو هغه ته استدراج وایو .

(معیار السلوک ورافع الاوهام والشکوک ص ۲۹ ، ۳۲ ، ۳۳)

د شیخ ابوالنصر موسی رحمه الله بیان دی چی ځما پلار شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله زما په وړاندی یوه عجیبه واقعه بیان کړه چی یوځل زه څو ورځو لپاره په یو ځنګل کی اوسیدم هلته اوبه نه وی څو ورځي اوبه نه ملاویدو په وجه ډیر پریشانه او حالت می ډیر خراب وُ چی د الله په حکم سره وریځی سوری جوړ کړو او لږ غوندی څاڅکي باران هم وشو چی پدی سره لږ راحت او سکون پیدا شو او بیا وروسته له همدی وریځی نه یوه رڼا ښکاره شوه او په ټولو اطرافو کی خور شو او بیا ورنه یو عجیب شکل رابنکاره شو او آواز یی وکړ ای عبدالقادره زه ستا رب یم په تاباندی هغه ټول څیزونه حلالوم کوم چی تانه سیوا په نورو خلکو باندی حرام شویدي چی څه دی زړه غواړي خوره او چی څه ته دی شوق کیږي کوه د دی خبری په اوریدو سره ما وویل اعوذ بالله من الشیطن الرجیم ، ای ملعونه لری شه څه بکواس کوی پدی سره خورا هغه رڼا په تیاره بدل شوه او هغه شکل ورک شو او وی ویل ای عبد القادره ! ته دهغه علم او فهم په وجه سره چی کوم تا د الهي احکامو نه حاصل کړی له مانه بچ شوی او که نه په همدی ځای کی ستا پشان اویا بزرګان ګمراه کړیدي ، لدینه وروسته شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله وفرمایل : ای بخته دا د الله تعالی فضل دی .

(البلاغ المبین فارسي ص ۳۴ ، ۳۵)

د ویسما (WESMA) په کلي کی د کجوری د یو ونی کرشمه :

د سورت نه لس پنځلس میله لری د ویسما په کلي کی د کجوری یوه ونه د لمر د حرکت مطابق حرکت کوي په غرمه کی د لمر په ودریدو سره به هغه هم راتیتیدو او کله چی به لمر پریوتو هغه به هم په ځمکه راپریوتله او کله چی سحر لمر راوختو نو هغه به هم حرکت شروع کړو او وبه دریده تر غرمی به ولاړه وه ، یعنی د لمر په رفتار

سره به روانیده او د لمر پریوتو سره به وده کیده ، د دغه ونی د دی کرشمی په لیدو هندوانو او ناپوهه او جاهل مسلمانانو شیطاني حرکت کرامت وګنلو او نذرانی او شکرانی یی ورته شروع کړی ، ناریل او ګلان یی ورباندی واچول ، د لاجپور مشهور بزرګ حضرت صوفي صاحب قدس سره چی دغه درخت پرستي ولید نو د شپی خپلو شاګردانو سره هلته ورسید او هغه ونه د پولیس او څوکیدارانو موجودګی باوجود له بیخه وویسته .

(باغ عارف ص ۴۰۱)

د ملنګانو او جعلي پیرانو په پوکي کی فائده کیدل د حقانیت دلیل ندی په باطلو شیانو کی هم فائده وي ، د جلیل القدر صحابي عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د بي بي په سترګو کی څه تکلیف ؤ نو یو یهودي عالِم باندی څه تارونه دم کړه او په غاړه کی یی واچول چی پدی سره لږ آرام ورته ملاو شو نو عبد الله بن مسعود رضی الله عنه هغه تارونه پریکړل ، ښځی ورته وویل چی زما په سترګو باندی ډیر زیات درد ؤ او پدی سره ماته ډیر آرام ملاو شوی ؤ هغه رضی الله عنه ورته وفرمایل چی دا شیطاني کار دی شیطان پخپله ستا سترګی په درد کولی نو هر کله چی ښځی پدی عمل وکړل شیطان خپل تنګول پریښودل ، ستا لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمل کافي دی او هغه دا "اذهب الباس" رب الناس اشف انت الشافی لاشفاء الا شفاءك شفاء لايغادر سقماً" دا د یو حدیث خلاصه ده او پوره حدیث په مشکواة شریف ص ۳۸۹ کتاب الطب والرقی الفصل الثانی کی وګورئ ، فقط والله اعلم بالصواب .

د قرآن او حدیث او د صحابهٔ او د سلفو د اثارو او اقوالو په رڼا کی په انبیاؤ او صحابهٔ کرامو باندی د طعن او تنقید شرعي حکم :

دا فتوه ده چی د رسالی په شکل کی هم نشر شوی ده او نشر کونکي د صابن کړه آګره صهیب برادرز دي او د اداری منیجر (مشر) حضرت مولانا مفتی عبد القدوس رومي صاحب د رسالی په شروع کی " تقریب کتاب " تر عنوان لاندی یو څو مفیدی خبرې لیکلي چی د کتونکو د فائدی لپاره دلته نقل کولی شي هغه لیکي :

د دی کتاب مصنف زما مخدوم الحاج مولانا مفتي سید عبد الرحیم لاجپوري راندیري دامت برکاتهم په علمي حلقه کی مشهور و معروف ، اهل علم و فتوی او صاحب زهد و تقوی بزرګ دی ، په دور حاضر کی چی چا د مودودیت خطرناکتوب او زهر ناکتوب په شدت او اهمیت سره محسوس کړی نوموړي پدی جمله کی لوړ علمي مقام لري . فتوی نویسي کی د نوموړي ښکاره خصوصیت دا دی چی د اړوندی مسئلی نهایت تفصیل سره هر اړخیز بحث کوي ، پدی رساله کی هم (کوم چی حقیقت د یو سوال ځواب دی) د نوموړي دغه خصوصیت ښکاره دی ، د نظر لاندی رساله کی د حضرت مفتي صاحب مدنظر دغه سوال دی چی :

مودودي صاحب کی عقیدوي نقصان او خرابئي څه وه ؟ د ده دیني او اصلاحي خدمتونه مسلم دي او که نه ؟ د دوی تعریف او د ده د خدمتونو ستاینه کول څنګه دي؟

د دی سوال په ځواب کی حضرت مفتي صاحب د علامه مودودي د لیکنو څخه اقتباسات وړاندی کولو سره دغه لاندینی خبرې ثابت کړیدي :

(۱) د مودودي صاحب په لیکنو کی داسی مواد په زیات مقدار کی موجود دي چی په هغو سره د انبیاء کرامو علیهم السلام او د صحابه کرامو رضی الله عنهم د پاکو او مقدسو نفسونو عظمت او رفعت مجروح او داغدار کیږي او پدی خبره کی هیڅ شک نه پاتی کیږي چی علامه مودودي پخپلو لیکنو کی په انبیاء کرامو علیهم السلام او صحابه کرامو رضی الله عنهم باندی واقعي د طعن او د تنقید مرتکب شویدی .

(۲) لدی مرحلی نه وروسته دویمه مرحله دا ده چی په انبیاء کرامو علیهم السلام او صحابه کرامو رضی الله عنهم باندی د طعن او تنقید کولو شرعي حکم څه دی ؟

نوموړي مفتي صاحب د قرآن او حدیث د صحابه ؤ او سلفو د آثارو او اقوالو په رڼا کی نهایت وضاحت او تفصیل سره دغه خبره هم ثابت کړیده چی د دین او شریعت په لحاظ سره په انبیاؤ او صحابه کرامو باندی طعن او تنقید کول بالکل حرام او ناجائز دي بلکی په بعضی صورتونو کی خو د کفر خطره هم شته پدی وجه د دی مرتکب فاسق خو ضرور دی .

(۳) دریمه مرحله دا ده چی که چیرته مودودي صاحب د فسق او د معصیت مرتکب شوی نو د دی مدح او صفت کول شرعاً څه حکم لري ؟ مفتي صاحب د قرآن و حدیث او د صحابه ؤ او سلفو د آثارو او اقوالو په رڼا کی د شرعي فاسق صفت کولو ممانعت هم ثابت کړی دی .

د دغو دریو مرحلو نه وروسته د مودودي صاحب دمدح او صفت کولو شرعي حکم پخپله واضحه کیږي پدی وجه د دی زیات وضاحت ته هم کوم ضرورت ندی محسوس شوی .

د حضرت مفتي صاحب دامت برکاتهم دغه دلائل او لدینه ثابت شوي ځوابونه دومره قوي او محکم دي چی د منلو نه پرته بله هیڅ لاره نه پاتی کیږي ،

منیجر صهیب برادرز آګره .

اوس اصل سوال او ځواب وګورئ :

(۳۹ سوال) د مودودي صاحب په عقیده کی څه نقصان ؤ ؟ د ده دیني او اصلاحي خدمتونه مسلم دي او که نه ؟ او د ده صفت کول او د ده دخدمتونو ستاینه کول څنګه دي ؟ دلته پدی مسئله کی ډیر غټ اختلاف دی علماء هم پدیکی شامل دي ، لهذا د مدلل او مفصل ځواب ضرورت دی تر څو حق واضح شي او د اختلاف له شر نه خلک وساتل شي .

(مولانا موسی کربادي خادم اسلام ایجوکیشنل ټرسټ ۸۶ ساؤتھ اسټریټ ډیوزبري یو، کی) .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً وبالله التوفیق : چاچی د انبیاء علیهم السلام عصمت (پاکي) مجروح کړی دی او د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین په شان کی بی ادبي او ګستاخي کړي وي او د اهل سنت والجماعت له اتفاقي فیصلی نه خلاف ورزي کړي وي هغه د تعریف او صفت قابل ندی ، او که د هغه تعریف او صفت کولی شي نو د هغه ناکاره عقیده او ګمراهي هم واضحه کول پکار دي چی خلک په شک

او اشتباه کی واقع نشي او د هغه اقتداء ونه کړي ، په حدیث کی راځي : "اترعـون عن ذکر الفاجر بما فیه اهتکوه حتی یعرفه الناس اذکروه بما فیه حـتی یحـذره الناس" ایا تاسو د فاجر سړي بدي بیانولو څخه ویریږئ د هغـه هتـک (عیبونـه ویـل) وکړئ تر څو خلک یی وپیژني او په هغه کی چی کومه بدي او ناکاره صفت وي هغـه بیان کړئ تر څو خلک ورنه بچ شي (طبراني ، ابن حبان ، معجم کبیر ، سـنن کبـری ، احیاء العلوم ج ٣ ص ٤٩ ، او الاشباه والنظائر ص ٦٥٤) .
او په حدیث کـی راځـي : "اذا مدح الفاسق غضب الرب تعالی واهتزله العـرش" یعنی کله چی د فاسق صـفت وکـړی شـي نـو الله تعـالی غصـه کیـږي او پـدی وجـه عرش خوزیږي ، (مشکواة شریف ص ٤١٤) او د اکابرو سلفو قول دی : "ثلاثـة لاغیبة لهم الامام الجائر ، المبتدع والمجاهر بفسقه" د دریو کسانو بدي بیانول غیبـت ندی ، اول د ظالم بادشـاه دویم بـدعتي (بدعقیـده) او دریم ښکـاره فاسـق (احیـاء العلوم ج ٣ ص ١٤٩) .
دا معلومه خبره ده چی د عقیدی فسق د عمل له فسق نه ډیر لوی دی ، نو څوک چی په عملي فسق کی گرفتار دی د هغه د بدیو حکم ښکاره کول دي ، لهـذا څـوک چـی عقیدوي فسق کی گرفتار دی د هغه گمراهي خلکو ته ښکاره کول نسبتاً زیات ضروري دي ، چی خلک د هغه اقتداء ونکړي او خپل پیشـوا یی ونـه گرځـوي او د مـودودي صاحب بده عقیده ظاهره او ښکاره دهځ د دی د انبیاء کرامو علیهم السلام عظمـت نقصاني کړی او د صحابه کرامو رضی الله عنهم او اسلافو عظمت شان مجروح کړی او دی لپاره یی یو غلط اصل او قانون جوړ کړی چی :
د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه علاوه هیڅ یو انسان به د حق معیار نه جـوړوي ، هیڅوک به د تنقید نه بالاتر نه گڼي ، د هیچا په ذهني غلامی کی به نه اختـه کیـږی ، هر یو کس به د الله تعالی جوړ کړی کامل معیار باندی وتلی او برابر کړی څـوک چـی د دغی معیار په لحاظ سره په کومه درجه کی وي هغه لره بـه پـه هماغـه درجـه کـی ساتي (د جماعت اسلامي ترمیم شوی دستور) د دغـه غلـط اصـل پـه جوړولـو سـره د صحابه کرامو رضی الله عنهم او سلف صالحینو د مرتبه کمولو او د خلکو په نظر کـی د سپکولو ناجائز کوشش کړیدی ، او په سـیدنا امـیر معاویـه رضـی الله عنـه بانـدی خـو

خامخا تنقید کړی او په غلطو حوالو ورکولو سره هغه ته د غلطو واقعاتو نسبت کولو سره هغه بدنام کړی .

په فقه او تصوف باندی یی مسخره کړی ، د محدثینو محنت او کوشش یی ضائع کڼلی ، او د الهي حکومت غلطه نظریه په قائمولو سره ، د څلورو ارکانو یعنی (لمونځ ، روژه ، زکات او حج) ته د جهاد تربیتي نوم ورکولو سره د عبادت روح او مقصد ختم کړیدی پدی وجه وغسی شحص مطلقاً د تعریف او د صفت اهل ندی ، او پدی وجه حق پرستو علماؤ همیشه د ده غلطیانې بیان کړیدي او امت یی د ده د لیکنو زهریله اثراتو څخه خبر کړی دی .

د اهل سنت والجماعت مسلک دا دی : چی د هیڅ یو نبي علیه السلام په باره کی داسی څه ویل روا ندي چی د هغه علیه السلام د اوچت شان مناسب نه وي لیکن مودودي صاحب ډیر بی تکلفی سره دانبیاء کرامو علیهم السلام په شان کی داسی الفاظ استعمالوي چی د دوی د شان سره مناسب ندي ، لکه چی لیکي :

(۱) د موسی علیه السلام مثال د هغه جلد باز فاتح پشان دی چی خپل اقتدار مضبوطولو نه بغیر مخ په وړاندی روان وي او شاته مفتوحه علاوقو کی د ځنګل د اور پشان بغاوت خور شي (ترجمان القرآن ص ۳ ج ۲۹ عدد ۴ از مودودي[1] مذهب ص ۲۳) .

(۲) د حضرت داؤد علیه السلام په فعل کی د نفسي خواهش دخل وُ ، او د ده علیه السلام د حاکمانه اقتدار نامناسب استعمال سره هم څه تعلق وُ او هغه څه داسی فعل وُ کوم چی په حقه حکومت کونکي حاکم سره ښه نه ښکاري (تفهیم القرآن ص ۳۲۷ طبع اول) .

[1]– نوټ : ویل کیږي چی دا عبارت د مولوي امین حسین اصلاحي دی چی د مودودي صاحب په ترجمان القرآن کی نشر شوی وُ ، دا خبره پخپل ځای صحیح ده که چیرته مودودي صاحب په نزد باندی دغه عبارت قابل د اعتراض وای نو ضرور به یی پری تنقید کړی وُ مګر هغه داسی ندی کړي نو معلومیږي چی د مودودي صاحب دغه عبارت سره اتفاق دی .

(۳) حضرت داؤد علیه السلام د خپلی زمانی اسرائیلي رسم و رواج نه متاثر کیدو سره له اوریا نه د طلاقو درخواست او مطالبه کړی وه (تفهیمات حصه دوم ص ۴۲ طبع دوم) .

(۴) نور خو نور ډیر ځلي پیغمبرانو علیهم السلام ته هم د دی شریر نفس د رهزنی خطرات پیش کیږي ، لکه څنګه چی حضرت داؤد علیه السلام پشان جلیل القدر پیغمبر ته په یو موقع کی تنبیه کړی شوی چی "لاتتبع الهوی فیضلك عن سبیل الله" (سورت ص) یعنی د نفسي خواهشاتو پیروي مه کوه هسی نه چی تا د الله د لاری نه واړوي (تفهیمات ج ۱ ص ۱٦۱ طبع پنجم ، ج ۱ ص ۱۷۴ طبع دار الاسلام) .

(۵) د حضرت نوح علیه السلام په باره کی لیکي : ډیر کرته په یو باریک نفسیاتي موقع باندی د نبي پشان اعلی او اشرف انسان هم دخپلی بشري کمزوریو نه مغلوبیږي .... لیکن کله چی الله تعالی ورته تنبیه فرمائي چی کوم خوی حق پریدي او د باطل ملګرتیا وکړي هغه یواځی پدی خاطر خپل خوی ګڼل چی له تا نه پیدا دی دا یواځی د جاهلیت یوه جذبه ده ، نو بیا هغه فوراً د خپل زړه د زخم نه بی پروا کیدو سره دی طرف ته متوجه شي کوم چی د اسلام مقتضی ده .
(تفهیم القرآن سورت هود ص ۳۴۴ ج ۲)

(٦) د سیدنا حضرت یوسف علیه السلام ارشاد : "اجعلنی علی خزائن الارض" یعنی ما د مصر د خزانو نګران او سرپرست مقرر کړه ، دا خبره یوسف علیه السلام عزیز مصر ته کړی وه ، پدی باره کی مودودي صاحب لیکي : دا یواځی د وزیر مالیات د منصب مطالبه نه وه لکه څنګه چی د بعضو خلکو خیال دی بلکی دا د ډکټیټر شپ یعنی (حاکم مطلق) مطالبه وه او د دی په نتیجه کی چی حضرت یوسف علیه السلام ته کوم پوزیشن او مقام حاصل شو هغه بالکل هغه مقام ؤ کوم چی پدی وخت کی د اټلي سولینی ته حاصل دی (تفهیمات حصه دوم ص ۱۲۸ طبع دریم ، ص ۱۲۲ طبع پنځم) .

(۷) د حضرت یونس علیه السلام نه د رسالت د فریضی په ادا کولو کی څه کمي شوی ؤ او غالباً دوی بی صبره کیدو سره د وخت نه وړاندی خپل ځای هم پریښی ؤ .
(تفهیم القرآن ج ۲ ص ۳۲۱ سورت یونس ، حاشیه ص ۳۱۲ ، ۳۱۳)

ايا د مودودي صاحب پدى الفاظو او تعبيرونو سره : جلد باز فاتح ، د نفسي خواهشاتو په بناء د حاكمانه جذبى ښكار ، د رسالت نامناسب استعمال ، د بشري كمزوريو نه مغلوب ، د جاهليت د جذبې ښكار ، د رسالت په فريضه كى څه كمى او كوتاهي او ډكتيتر شپ ، كى د بى ادبى اړخ موجود نـدى ؟ كه چيرته دغه الفاظ او تعبيرات خوك د مودودي صاحب په باره كى استعمال كړي نو دوى ته (كه چيرته پدغه وخت كى ژوندى واى) او د دوى ملګرو ته لدينه خفګان نـه پيدا كيده ؟ كه چيرته دغه الفاظ مودودي صاحب له شان سره مناسب نه وي نو پخپله انصاف وكړئ چى د انبياء كرامو عليهم السلام په شان كى دغه الفاظ مناسب كيدى شي ؟

التي سمجھ كسى كو بهى ايسى خدا نه دے
دے آدمى كـــو موت مكر ايسى ادا نه دے

يعنى الله تعالى دى چاته هم دغسى غلط فكر نه وركوي ، مرګ دى ورته وركړي نه داسى حركت .

سيدنا حضرت آدم عليه السلام په باره كى د ده وينا وګورئ :

" دلته د دغه بشري كمزوري حقيقت باندى پوهيدل پكار دي كوم چى حضرت آدم عليه السلام نه ظاهر شوى وه بس د يوى فوري جذبى په بناء كوم چى شيطاني لمسوني په اثر اوچت شوى ده په ده عليه السلام باندى نسيان او غفلت په راتلو سره د نفس د كنترول قوت كمزورى شو او د طاعت هغه لوړ مقام نه د معصيت او نافرمانى په كنده كى راپريوتو (تفهيم القرآن ج ٣ ص ١٣٣) .

سيد المرسلين حضور اكرم صلى الله عليه وسلم په باره كى ليكي :

" رسول الله صلى الله عليه وسلم نه فوق البشر دى او نه د بشري كمزوريو نه بالاتر دى " (ترجمان القرآن جلد ٨٥ شماره اپريل ١٩٧٦ء د " اسلام د كوم شي علمبردار دى " تر عنوان لاندى) .

دا د مودودي صاحب جرائت او همت دى چى د ابو الانبياء حضرت آدم عليه السلام او د خاتم الانبياء حضور اكرم صلى الله عليه وسلم په شان كى دغسى الفاظ استعمالوي الله تعالى دى مونږ او ټول امت لدى بى ادبى نه وساتي .

دانبياء كرامو عليهم السلام نه وروسته د انسانيت ټولو نه مقدسه او پاكه ډله د صحابه كرامو رضى الله عنهم اجمعين ده ، دغه مقدسه ډله د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د عام امت تر منځ د الله تعالى يوه غوره شوى واسطه ده لدى واسطى نه بغير امت

ته نه قرآن کریم په لاس ورځي او نه د قرآن کریم هغه مضامین کوم چې قرآن پاک کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان او وضاحت نه پرېښودل شوي "لتبین للناس مانزل الیهم" او نه د دې واسطې نه بغیر چاته د رسالت او د دې د تعلیماتو علم حاصلیدی شي ، دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند ملګري ، د ده صلی الله علیه وسلم تعلیماتو لره د خپل ځان او ښځې او اولاد نه زیات خوښونکي دي او د ده صلی الله علیه وسلم پیغاماتو او هدایاتو لره دخپل ځان په قربانولو سره د دنیا ګوټ ګوټ ته رسونکي وُ ، په ټول عمر کې په هر حالت ، هر کیفیت او په هر یو شي کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تابعداری په لار باندې روان وُ او هیڅ یو خبره کې هم سنت محمد صلی الله علیه وسلم نه بل خوا ته قدم ندی ایښی دا د ټولو نه لوی امتحان دی مګر ټول صحابه کرام رضی الله عنهم پدې امتحان کې په کامل طور سره کامیاب شوي دي ، او داسې کامیاب او پوره وختل چې صحابه کرامو رضی الله عنهم او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند په آئنه کې خپل ژوند ښایسته کړو او د هغه صلی الله علیه وسلم ژوند یې ځانته د لارې مشال وګرځولو .

او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مصاحبت او ملګرتیا کوم شرف حاصل شویدی د ټول امت نیک اعمال چې یوځای کړی بیا هم د هغه مقابل نشي کولی لږ فکر وکړئ د صحابه کرامو رضی الله عنهم دوه رکعتونه کوم له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره یوځای ادا کړیدي ایا د ټول امت لمونځونه هم د هغه دوه رکعتونو سره برابریدلی شي ؟ ایا د صحابه کرامو رضی الله عنهم یوه روژه کومه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای نیولی د ټول امت روژې په یوځای کولو سره د هغه یوې روژې پشان کیدی شي ؟ ایا د صحابه کرامو رضی الله عنهم یو حج کوم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای ادا کړی د ټول امت حجونه په یوځای کولو سره هم د هغه مقابله کولی شي ؟ د صحابه کرامو رضی الله عنهم هغه یو نیم سیر اوربشې یا خرما کوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپل مبارک لاس سره د قبولیت شرف وربخښلی ټول امت که چیرته دغر برابر هم سره زر صدقه کړي نو هغه شرف حاصلولی شي ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ارشاد فرمایلی دی چې : زما صحابه وُ ته بد مه وایئ (د هغوی مرتبه دا ده) که له تاسو نه څوک د احد غر برابر هم سره زر صدقه کړي نو دا د هغوی یو مد

بلکې د نیم مد اوربشو برابر هم نشي کیدلی ، که چیرته د دغه مقدس او پاکو خلکو په عدالت او ایمانداری کې دا قسم خبرې وکړی شي نو بیا د دوی په ذریعه رسیدلی قرآن پاک لمونځ ، روژه ، زکات او د اسلام نورو ارکانو او تعلیماتو به څه حیثیت پاتې شي ؟ حاصل د خبری دا : صحابه چې د کومې مقدسې ډلې نوم دی هغه د امت عامو افرادو پشان ندی بلکې هغوی د یو خاص مقام او د امتیازي شان لرونکي دي ، او دغه مقام او امتیاز دوی ته د قرآن او د سنت صریحي نصوصو ورکړیدی چې دلته مختصر ډول یو څو آیتونه او حدیثونه ذکر کوو :

د قرآن پاک نصوص

(۱) "کنتم خیر امة اخرجت للناس الخ" تاسو بهترین امت یئ چې د خلکو (اصلاح او فایدی لپاره) پیدا کړی شوي یئ (سورت آل عمران پ ۴) .

(۲) "وکذلك جعلناکم امة وسطا لتکونوا شهدآء علی الناس" او مونږه تاسو یو امت جوړ کړي یئ کوم چې (له هره پلوه) نهایت اعتدال باندی دئ ترڅو تاسو په مخالف خلکو باندی ګواهان ووسئ (سورت بقره ۲ پاره) .

(۳) "والسابقون الاولون من المهاجرین والانصار والذین اتبعوهم باحسان رضی الله عنهم ورضو عنه .... الخ" او کوم مهاجرین او انصار چې (په ایمان راوړو کې له ټولو نه) وړاندی دي او باقي امت نه خومره خلکو چې په اخلاص سره د هغوی پیروي وکړي الله تعالی د هغه ټولو نه راضي دی او دوی ټول د الله تعالی نه راضي دي ، (سورت توبه پ ۱۱) .

پدی کې د صحابه کرامو رضی الله عنهم دوه طبقې بیان شویدي یو سابقین اولین او بله وروسته ایمان راوړونکی او د دواړو طبقو په باره کې دا اعلان شوی چې الله تعالی د هغوی نه راضي او هغوی د الله تعالی نه راضي دي .

علامه ابن عبد البر د استیعاب په مقدمه کې فرمائي : "ومن رضی الله عنه لم یسخط علیه ابدا أن شاء الله تعالی" یعنی الله تعالی چې له چانه راضی شو بیا چیری هم ترینه نه ناراضه کیږي دا پدی چې الله تعالی ته وړاندني او وروستني ټولو شیانو باندی علم دی لهذا هغه له هغه چانه راضي کیږي کوم چې په آئنده زمانه کې هم د

الله تعالی د مرضی خلاف کار کونکی نه وي نو پدی وجه چا لپاره د رضاء الهي اعلان د دی خبری ضمانت دی چی د هغه انجام او خاتمه هم په خیر او نیکی باندی کیږي .

(۴) "فانزل الله سكينته على رسوله وعلى المؤمنين والزمهم كلمة التقوى وكانوا احق بها واهلها وكان الله بكل شيئ عليما" نو نازل کړ الله تعالی د خپل طرف نه سکون (اطمئنان) پخپل رسول صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو باندی او دوی یی په تقوی باندی کلک کړل او دوی د دی حقدار او اهل وو او الله تعالی په هر شي باندی خبردار دی (سورت فتح پ ۲٦) د دی د وضاحت ضرورت نشته چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارک دور کی چی کوم مؤمنان ؤ هغه ټول صحابه رضی الله عنهم دي او د همدوی په باره کی دغه آیت نازل شویدی .

(۵) "لكن الرسول والذين امنوا معه جاهدوا بأموالهم وانفسهم .... وأولئك لهم الخيرات وأولئك هم المفلحون" لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلم او کوم مؤمنان چی ورسره دي په مال او ځان سره جهاد کوي .... دوی لپاره نیکی دی او دوی لپاره کامیابي ده (سورت توبه پ ۱۰) .

(٦) "الذين امنوا وهاجروا وجاهدوا فى سبيل الله بأموالهم وأنفسهم اعظم درجة عند الله واولئك هم الفائزون ° يبشرهم ربهم برحمة منه ورضوان وجنت لهم فيها نعيم مقيم" کومو خلکو چی ایمان راوړی او (الله لپاره) خپل وطن پریښی او د الله په لاره کی پخپل مال او ځان سره جهاد کړی دوی الله په نزد باندی ډیره لویه درجه لري او دوی پوره کامیاب دي ، الله تعالی ورته د خپل طرف نه د رحمت او رضامندی او د هغو جنتونو بشارت او زیری ورکوي چی دائمي نعمتونه پکی وي (سورت توبه پ ۱۰) .

(۷) "يوم لايخزى الله النبى والذين امنوا معه نورهم يسعى بين ايديهم وبأيمانهم" او په هغه ورځ چی الله تعالی به رسول صلی الله علیه وسلم او مؤمنان رسوا نکړي د دوی رڼا به له دوی نه وړاندی روان وي او ښي طرف ته هم (سورت تحریم پ ۲۸) .

حضرت شاه عبد العزیز محدث دهلوي رحمه الله فرمائي : دغه آیت کریم دلیل چی په آخرت کی به صحابه کرامو رضی الله عنهم باندی عذاب نه وي او پدی چی د

رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروسته هم د دوی نور نه زائل کیږي او نه زائل شوی نور د دوی څه پکار راځي (تحفه اثنا عشریه ص ۵۳۰) .

(۸) "محمد رسول الله والذین معه اشداء علی الکفار رحماء بینهم تراهم رکعاً سجداً یبتغون فضلاً من الله ورضواناً سیماهم فی وجوههم من اثر السجود" .

محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی او څوک چې د ده صلی الله علیه وسلم ملګري دي هغوی د کافرو په مقابله کې تیز او سخت او پخپل منځ کې نرم او مهربان دي ، ته به وینې دوی لره چې کله رکوع کوي او کله سجده کوي د الله تعالی د فضل او رضامندی په طلب کې لګیدلی او د دوی د سجدو او د لمونځونو اثر د دوی په مخونو کې ښکاره دی (سورت فتح پ ۲۶) .

عام مفسرین امام قرطبي وغیره فرمائي : چې "والذین امنوا" عام دی پدیکې د صحابه کرامو رضی الله عنهم پوره جماعت شامل دی او پدیکې د صحابه کرامو رضی الله عنهم تعدیل و تذکیه (صفائي) او د دوی مدح او ثنا پخپله د کائناتو له مالک لخوا نه راغلی دی .

(۹) "لایستوی منکم من انفق من قبل الفتح وقاتل أولئك اعظم درجة من الذین انفقوا من بعد وقاتلوا وکلاً وعد الله الحسنی والله بما تعملون خبیرا" کومو خلکو چې د مکې د فتح کیدو نه وړاندی (د الله په لاره کې) خرچ کړی او جهاد یې کړی برابر ندي دوی په درجه په درجه کې د هغه خلکو نه ډیر اوچت دي کومو چې له (فتح مکه نه) وروسته خرچ او جهاد کړی ، او له ټولو سره الله تعالی د نیکۍ (جنت) وعده کړیده او الله تعالی ستاسو له ټولو اعمالو نه خبردار دی (سورت حدید پ ۲۷) .

پدی آیت کریمه کې هم الله تعالی د ټولو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم مدح او صفت بیان کړی او له ټولو سره د نیکی (جنت) وعده کړیده .

(۱۰) "والذین امنوا وهاجروا وجاهدوا فی سبیل الله والذین آووا ونصروا أولئك هم المؤمنون حقاً لهم مغفرة ورزق کریم" .

یعنی کومو خلکو چې ایمان راوړی او هجرت یې کړی او د الله په لاره کې جهاد یې کړی او کومو خلکو چې دغو مهاجرو ته خپل کور کې ځای ورکړی او امداد یې ورسره کړی دا خلک په حقه مؤمنان دي دوی لپاره مغفرت او په (جنت) کې ورته

ډير معزز رزق دى (سورت انفال پ ۱۰) پدى آيت كريمه كى هم الله تعالى د ټولو مهاجرو او انصارو تعريف او صفت بيان كړيدى او د دوى رشتينى او واقعي مؤمنان كيدو ګواهي وركړيدى او دوى سره يى د مغفرت او د كريم رزق وعده كړيده .
تلك عشرة كاملة

نبوي صلى الله عليه وسلم مبارك احاديث

(۱) رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمائي : "ان الله نظر الى قلوب العباد فاختار محمداً فبعثه برسالته ثم نظر فى قلوب العباد فاختار له اصحابه فجعل انصار دينه ووزراء نبيه فما رأه المسلمون حسناً فهو عند الله حسن وما رأه المسلمون قبيحاً فهو عند الله قبيح" (اقامة الحجة ص ۸ ، مجالس الابرار ص ۱۳۰ ، مجالس نمبر ۱۸ ، مؤطاء امام محمد ص ۱۱۲ ، البداية والنهاية ج ۱۰ ص ۲۲۸)
يعنى الله تعالى د خپلو بندګانو زړونو ته وكتل نو محمد صلى الله عليه وسلم يى رسالت لپاره غوره كړ او بيا يى د بندګانو زړونو ته وكتل نو دده صلى الله عليه وسلم صحابه كرام رضى الله عنهم يى ده صلى الله عليه وسلم ته غوره كړل چى د خپل دين مددګاران او د خپل رسول الله صلى الله عليه وسلم وزيران يى وګرځول (نو صحابه كِرامو رضى الله عنهم د الله د دين مددګاران او د رسول الله صلى الله عليه وسلم وزيران دي) نو مسلمانان چى كوم كار ښه وګني هغه د الله په نزد باندى هم ښه وي او كوم چى بد وګني هغه د الله په نزد باندى هم بد دى .
(۲) "عن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لياتين على امتى كما اتى على بنى اسرائيل حذو النعل بالنعل .... ما انا عليه واصحابي"
يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : هغه ټول څه به زما په امت كى هم راځي كوم چى په بني اسرائيلو كى راغلي وُ ، بني اسرائيل (۷۲) ډلى جوړى شوى او زما امت به (۷۳) ډلى جوړيږي دغه ټول به دوزخيان وي يواځى يوه ډله به نجات مومي ، صحابه كرامو رضى الله عنهم عرض وكړ هغه كومه ډله ده ؟ په ځواب كى

وفرمایل : "ما انا علیه واصحابي" په کوم دین باندی چی زه او زما ملګري دي (مشکواة شریف ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنة) .
حضرت امام رباني مجدد الف ثاني فرمایي : پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم د هغو مختلفو ډلو نه د ناجیه (نجات موندونکی) ډلی فرق او امتیاز بیان کړیدی او دا "الذین هم ما انا علیه واصحابي .... الخ" .
یعنی پیغمبر اکرم علیه السلام د نجات موندونکی ډلی پیژندلو په باره کی فرمایلي : څوک چی په هغه طریقه باندی وي په کومه طریقه باندی چی زه او زما صحابه کرام رضی الله عنهم دي په ظاهره کی دومره فرمایل کافي وُ چی " په کومه طریقه باندی زه یم " له ځان سره یی صحابه کرام رضی الله عنهم یوځای کړل دی لپاره چی تول پدی پوه شي چی کومه طریقه زما ده هغه زما د صحابه کرامو رضی الله عنهم ده او د نجات لاره د صحابه کرامو رضی الله عنهم په تابعداری کی منحصر دی (مکتوبات امام رباني ج ۱ ص ۱۰۲ ، ۱۰۳) .
(۳) "عن عمر بن الخطاب قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول سألت ربی عن اختلاف اصحابی من بعدی .... الخ" رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : ما دخپل رب نه له ما نه وروسته د خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم د اختلاف په باره کی تپوس وکړ نو الله تعالی را باندی وحي وکړه چی ای محمده صلی الله علیه وسلم ستا صحابه کرام رضی الله عنهم زما په نزد داسی دي لکه د آسمان ستوري (بعضی ستوري له بعضی نورو نه قوي وي لیکن رڼا په هر یو کی شته) نو هر څوک چی په اختلافي مسئله کی په دوی کی د هرچا تابعداري وکړي هغه به زما په نزد باندی هدایت یافته وي او بیا یی وفرمایل : "اصحابی کالنجوم فبایهم اقتدیتم اهتدیتم" زما صحابه کرام رضی الله عنهم د ستورو پشان دي هر یو پسی چی اقتداء وکړئ نو هدایت به مومئ (مشکواة شریف ص ۵۵٤ باب المناقب) .
(۴) "عن ابی بردة رضی الله عنه عن ابیه قال رفع یعنی النبی صلی الله علیه وسلم رأسه الی السماء فقال النجوم أمنة للسماء فاذا ذهبت النجوم اتی السماء ما توعد وانا امنة لاصحابی فاذا ذهبت اتی اصحابی مایوعدون واصحابی أمنة لامق

فاذا ذهب اصحابي اتی امتی مایوعدون" رواه مسلم (مشکواة شریف ص ۵۵۳ باب مناقب الصحابة) .

یعنی یوځل نبی اکرم صلی الله علیه وسلم آسمان طرف ته وکتل او وی وفرمایل : ستوري د آسمان ساتونکی دي کله چی ستوري ختم شي نو په آسمان کی چی کوم آفتونه راتلونکي وي هغه به راشي او زه خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم لپاره د امن باعث یم کله چی زه رخصت شم نو بیا چی صحابو باندی کوم مصیبتونه او آفتونه راتلونکي دي هغه ټول به راشي او زما صحابه کرام رضی الله عنهم زما امت لپاره د امن باعث دي کله چی صحابه کرام رضی الله عنهم رخصت شي نو پدی وخت کی په امت باندی چی کومی فتنی او بلاګاني راتلونکي وي هغه ټول به راشي .

(۵) "اکرموا اصحابي فانهم خیارکم ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم .... الخ" زما د صحابه کرامو رضی الله عنهم عزت کوئ دوی په تاسو ټولو کی بهترین خلک دي او بیا هغه خلک چی له دوی نه وروسته دي او بیا هغه خلک چی له دوی نه وروسته دي او بیا به دروغ خوریږي تر دی پوری چی خلک به بغیر د قسم ورکولو نه قسم خوري او بغیر د بللو نه ګواهي ورکولو لپاره تیاریږي (مشکواة شریف ص ۵۵٤) .

(٦) "ما من احد من اصحابي یموت بارض الا بعث قائداً ونوراً لهم یوم القیامة" زما د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه هر یو کس چی په کوم ځای کی وفات شي هغه به د قیامت په ورځ د هغه ځای خلکو لپاره قائد او نور جوړ شوی راپورته کیږي (مشکواة شریف ص ۵۵٤ ، ترمذی شریف ج ۲ ص ۲۲٦) .

د صحابه کرامو رضی الله عنهم د دغو مناقبو او فضائلو په بناء د اهل سنت والجماعت اتفاقي عقیده دا ده چی د لوی نه لوی ولي د یو ادنی صحابي مرتبی او درجی ته نشي رسیدلی امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمائي : " هیچ ولي بمرتبه صحابي نرسد. اویس قرني رحمه الله بان رفعت شان که بشرف صحبت خیر البشر علیه وعلی آله الصلوات التسلیمات نرسیده بمرتبه ادنی صحابي نرسد ، شخص از عبد الله بن مبارک رحمه الله پرسید که ایهما افضل معاویه ام عمر بن عبد العزیز ؟ درجواب فرمود : "الغبار الذی دخل انف فرس معاویة رضی الله عنه مع رسول

الله صلی الله علیه وسلم خیر من عمر بن عبدالعزیز کذا مرةً" (مکتوبات امام رباني مجدد الف ثانيؒ ص ۲۰۵ دفتر اول مکتوب نمبر ۲۰۷) .

ترجمه : هیڅ یو ولي د صحابي مرتبی ته نشي رسیدلی ، اویس قرني د دومره لوی شان باجود هم چونکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحبت ندی مشرف شوی پدی وجه د یو ادنی صحابي مرتبی ته هم نشي رسیدلی ، چا د عبد الله بن مبارک نه تپوس وکړ چی حضرت معاویه رضی الله عنه بهتر دی او که عمر بن عبدالعزیز رحمه الله ؟ په ځواب کی وفرمایل : د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا کی چی د حضرت معاویه رضی الله عنه د آس پوزی ته کوم ګرد وغبار ننوتی هغه هم د عمر بن عبد العزیز رحمه الله نه څو چنده بهتر دی .

الله اکبر د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحبت او ملګرتیا څومره لوی شان دی ، پدی وجه د اهل سنت والجماعت عقیده دا ده چی د صحابه کرامو رضی الله عنهم خاصکر د مهاجرینو او انصارو باندی بدګماني کول او دوی ته بدرد ویل د قرآن پاک نبکاره مخالفت او د الهي شریعت سرعام بغاوت دی د دغسی کس نه د کفر خطره ده (خلفاء راشدین ص ٦) .

پیران پیر شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمائي : "واتفق اهل السنة علی وجوب الکف عما شجر بینهم والامساك عن مساویهم واظهار فضائلهم ومحاسنهم" یعنی اهل سنت والجماعت پدی اتفاق کړی چی : کوم اختلاف چی د صحابه کرامو رضی الله عنهم په منځ کی واقع شوی د هغه په باره کی سکوت اختیارول او د دوی بدی ذکر کولو نه ځان ساتل او د دوی فضائل او خوبیاني ظاهرول او بیانول پکار دي .(غنیة الطالبین ج ۱ ص ٥٤) .

علامه ابن هما م په اسلامي عقائدو باندی خپل مشهور کتاب " مسامره " کی فرمایي : (واعتقاد اهل السنة والجماعة تزکیة جمیع الصحابة وجوبا باثبات العدالة لکل منهم والکهف عن الطعن فیهم واثناء علیهم کما أثنی الله سبحانه وتعالی علیهم الخ) یعنی : داهل سنت والجماعت عقیده دټولو صحابه کرامو تزکیه یعني دګناهونو نه دپاکوالي بیانول پدی نشان سره چی ددوی دټولو عادل کیدل ثابت کړی شي او په دوی باندی دطعن کولو نه ځان وساتلي شي او ددوی مدح او ثنا وکړی شي لکه

چی الله تعالی ددوی مدح او ثناء کړی ، (مسامره ص ۱۳۲ طبع دیو بندء مقام صحابه ص۷۹)

علامه ابن تیمیه رحمه الله په " شرح عقیدة واطیه " کی فرمایي : ومن أصول أهل السنة والجماعة سلامة قلوبهم وألسنتهم لأصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم كما وصفهم الله تعالى فى قوله والذين جاءوا من بعد هم (الابة ا لخ) یعنی داهل سنت والجماعت دعقایدو په اصولو کی داخبره هم ده چی دوی خپل زړونه او ژبی دصحابه کرامو په معامله کی بالکل صفا ساتي لکه څنګه چی الله تعالی پدی آیت کریمه کی فرمایلي دي : (والذين جاءوا من بعد هم الخ .) دشرح عقیده واسطیه ص ٤٠٣ طبع حصر بحواله مقام صحابه ص ۷۹)

علامه سفاینی رحمه الله فرمایي : والذي اجمع عليه اهل السنة والجماعة انه يجب على كل واحد تزكية جميع الصحابة باثبات العدالة لهم والكف عن الطعن فيهم والثناء عليهم فقد اثنى الله سبحانه عليهم فى عدة ايات من كتاب العزيز ..... الخ .

یعنی داهل سنت والجماعت پدی باندی اجماع ده چی هر سړي باندی واجب دي چی صحابه کرام پاک صاف وګڼي دهغوی عدالت ثابت کړي اوپه هغوی باندی داعتراض کولو نه ځان وساتي ، او دهغوی مدح او ثنا وکړي څکه چی الله تبارک وتعالی دخپل کتاب په مختلفو آیتونو کی ددوی مدح او ثنا کړیده (عقیده سفارینی ج۲/ ۳۳۸ بحواله مقام صحابه ص ۸۰)

دعقایدو مشهور کتاب " شرح عقائد نسفیه " کی لیکي : ((ويكف عن ذكر الصحابة الابخير ،)) یعنې داسلام عقیده داده چی دصحابه کرامو دخیر او نیکي نه علاوه ذکر ونکړی شي . (شرح عقاید نسفیه ص ۱۱٦)

او همدارنګه دعقایدمشهور کتاب " شرح مواقف " کی سید شریف مرجاني په مقصد سابع کی لیکي : المقصد السابع انه يجب تعظيم الصحابة كلهم والكف عن

القدح فيهم لان الله عظيم واثنى عليهم فى غير موضع من كتاب . الى والرسول قد احبهم واثنى عليهم فى الاحاديث الكثيرة)

یعنی دټولو صحابه کرامو عزت او احترام کول اوپه دوی باندی داعتراض کولو نه خان ساتل واجب دي ځکه چی الله تعالی لوی ذات دی او ده پخپل کتاب کی په ډیرو ځایو کی په دیو حضراتو باندی مدح او ثنا کړیدی (دآیتونو دلیکلو نه وروسته لیکي) او رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوی سره محبت کولو او پخپلو ډیرو حدیثو کی ددوی صفت کړیدی . (شرح مواقف)

مګر مودودي صاحب ددغو فیصلو هیڅ پروا نلري ، بلکې دوه خودساخته اصول دالله درسول نه سیوا هیڅ یو انسان معیار حق نه جوړوي ، چاره دتنقید نه بالاتر نه ګڼي ... الخ) لاندی دده په نزدیه صحابه کرامو او نورو باندی تنقید کول جائز بلکې ضروري دي ، لکه چی صحابه کرامو باندی تنقید کوي او لیکي :

(۱) لدی ټوله زیاته عجیبه خبره داده چی ډیر ځلی صحابه کرامو رضی الله عنهم باندی هم د بشري کمزوریو غلبه کیدلو ، او هغوبه یو بل سره مقابلې کولې ، الخ (تفهمان ص۲۹۳ جلد اول ، ج۱/ ۳۵۸ مطبوعه جنوري ۱۹۷۹ ع) حقیقت دادی چی انپړ او عوام نه کله په عهد نبوي کی معیاري مسلمانانو او نه دهغه نه وروسته کله هغه ته دمعیاري مسلمان کیدو فخر حاصل شوی . معیاري مسلمان خو هغه زمانه کی هم په حقیقت کی هغه خلک و او اوس هم هغه خلک دي کوم چی دقرآن او حدیث په علمونو باندی نظر لري او دچاپه رګونو کی چی دقرآن علم او دنبي اکرم دپاک ژوند نمونه ننوتي وي ، او پاتی شو عوام نو په هغه وخت کی هم ددغو معیاري مسلمانانو پیرو کار وو او اوس هم دی ." تفهیمات ج ۱/ ۳۰۹ ترجمان القران جولائي ۱۹۴۳ ع "

الله تعالی خو دټولو صحابه کرامو په باره کې فرمایي : (ولكن الله حبب اليكم الايمان الخ او لا يستوي منكم من انفق ـ الى ـ وكلا وعدالله الحسنى) او دټولو مهاجرو او انصارو په باره کې ارشاد دی : (يبشر هم ربهم برحمة منه ورضوان وجنت لهم فيها نعيم مقيم) او رسول اکرم مطلقاً ارشاد فرمایي: اصحابي كالنجوم فبأيهم اقتديتم اهتديتم . لیکن نو دوی صاحب ته ټولو صحابه کرام معیاري مسلمانان نه بنکـ..ـي ، غرض داچی دلته هم مودودي صاحب دعوامو صحابه کرامو تنقیص او

کمی بیان کړی، داصحیح دی چی دټولو صحابه کرامو ترمنځ دمرتبو فرق و لیکن په صحابه و کی اونی نه ادنی نه ادنی مرتبی والا صحابي له لوی نه لوی ولي او قطب نه افضل او بهتر دی ، همدا داهل حقو عقیده ده لکه چی وړاندی بیان شو.

(۳) مودودي صاحب دتفهیم القران دآل عرمان سورت د" ولقد عفا الله عنهم " آیت په تفسیر کی لیکلي : (په کومه معاشره کی چی سود خوړل کیږي په هغوی کی د سود خوړلو په وجه دوه قسمه اخلاقي مرضونه پیداکیږي په سود اخستونکو کی حرص وطمع او خود غرضي او په سود ورکونکو کی نفرت ، غصه او بغض وحسد پیداکیږي داحد په جنگ کی ددغو دواړو مرضونو څه ناڅه حصه شامله وه) (تفهیم القران ج۱ ص۲۸۸) یعنې تراوسه پوې معاذ الله درسول اکرم صلی الله علیه وسلم په صحبت سره دحصابه کرامو په ذهن او اخلاق او کردار کی پوره بدلون نه و راغلې او دجاهلیت په زمانه کی چی دسودی راکړی ورکړې کوم رواج و دهغه اصر داحد ترجنگ پورې باقي پاتی و . العیاذ بالله . دمودودي صاحب یو ملګری مولوي صدر الدین اصلاحي لیکي :

(۴) دکلونو تعلیم او تربیې نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام دجګړی میدان ته راوستل او باوجود ددی چی ددوی په ذهن کی عظیم انقلاب ښکاره شوی و مګر بیا هم د اسلام په لومړنیو جګړو کی صحابه کرامو دجهاد فی سبیل الله اصلي روح په معلومولو کی بار بار غلطي کولو ، (ترجمان القران ۵۷ء ص۲۱۲ ، مودودي مذهب ص۵۹)

دغه مولوي صدر الدین صاحب په حضرت ابو بکر صدیق باندی تنقید کوي او لیکي : " اګر که غیرت دانسانیت بهترین جوهر دی لیکن اسلام دی لره ازاد نه پریدي دا خپل تابع ګرځوي او داعتدال له حد نه وتلو ته نه پریدي ، انسان ته حکم کوي چی چېرته دنفس دخواهشاتو نه مغلوب نشي ، څه چی کوي او څه چی وایي د نفسانیت اوله جذباتو نه بالکل خالي کیدو سره یواځې دالله تعالی درضا مندي حاصلولو او دعادل نظام برقرار کولو لپاره وکړي ، دا داسلام دومره ناز کترمن مطالبه ده چی یوځل صدیق اکبر غوندی بی نفسه حقیقي او سراسر دللهیت نه ډک انسان هم ددی له پوره کولو نه وویرید ، الخ " (ترجمان القران جنوري ۵۸ء مودودي مذهب ص٦٦)

(۵) " حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه ډیر دلوی مرتبې والا بزرګذی او دوی داسلام بیش بها خدمتونه کړیدي البته له ده نه دادوه کارونه داسې صادر شویدي چې دیته دغلط ویلو نه علاوه بله چاره نشته . " (مودودي مذهب ص ۸۴)
او نور هم په جلیل القدر صحابه کرامو باندی په " خلافت او ملوکیت " کې تنقیدونه کړیدي او حال داچې په حدیث کې صراحتاً صحابه کرامو لره دتنقید هدف ګرځولو نه منع شویده او پدی باندی ډیر سخت وعیدونه راغلي دي ، لکه چې په حدیث کې دي :
(۱) عن عبدالله بن مغفل قال قال رسو الله صلی الله علیه وسلم : ((الله الله فی أصحابي لا تتخذوهم من بعدي غرضاً فمن أحبهم فبحبي احبهم ومن ابغضهم فبغضی ابغضهم ومن اذاهم فقد اذانی ومن اذانی فقد اذی الله ومن آذی الله فیوشك ان یأخذه)) یعنی زما دصحابو په باره کی دالله تعالی نه وویریږي او الله نه وویریږي خبر دار ، له مانه وروسته ددی دملامتي هدف مه ګرځوئ، چاچې دوی سره محبت وکړ هغه زما سره دمحبت په وجه هغوی سره محبت وکړ او چاچې دوی سره بغض وکړي هغه له ماسره دبغض کولو په وجه سره هغوی سره بغض وکړ ، چاچې زما صحابه و ته تکلیف ورکړ هغه ماته تکلیف راکړ او چاچي ماته تکلیف راکړ هغه الله تعالی ته تکلیف ورکړ او چاچي چې الله تعالی ته تکلیف ورکړ قریب دی چې الله تعالی به یې ونیسي . (ترمذي شریف ج۲/ ۲۲٦ مشکوات شریف ص ۵۵۴ باب مناقب الصحابه .)
پدی حدیث کی غور وکړئ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم صحابو ته (اصحابي) وفرمایل اوله دوی سره مینه او محبت یې خپل محبت او دوی سره بغض یې خپل بغض یعنې درسول الله دذات سره دبغض علامه وګرځولو ، لدینه وروسته هم صحابه کرامو باندی آزادانه تنقید او نکته چیني کول درسول الله نه دبغاوت په حکم کی ندی ؟ (معاذ الله)
۲ـ په ترمذي شریف کی دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : " إذا رأیتم الذین سبون اصحابي فقولو لعنة الله علی شرکم "کله چې داسې کسان ووینې چې زما صحابو ته بدرد وایي نو تاسو

ورته ووايئ چې ستاسو پدې بد باندې دالله تعالى لعنت دى ، (ترمذي شريف ج۲/ ۲۲۷، مشكوات شريف ص ۵۵۴ ايضا)

۳_ ((ولا تسبوا اصحابي فلوان احدكم انفق مثل احد ذهبا ما بلغ مد احد هم ولا نصيفه)) متفق عليه ، يعنى: زما صحابو ته بد رد مه وايي (ځكه چې ددوى مرتبه داده) كه چېرته په تاسو كى څوك ناحد غر برابر سره زره خيرات كړئ نو دهغوى يو مد بلكي دنيم مد (او ريشي) برابر نشي كيدلې ، (مسلم شريف ج۲/ ۳۱۰ ، ترمذي شريف ج۲ ص ۲۲٦ مشكوت ص ۵۵۳ ايضاً)

۴_ ((عن عويمر بن ساعدة انه صلى الله عليه وسلم قال ان الله اختارني واختار لي اصحاباً فجعل لى منهم زراء و انصارا فمن سبهم فعليه لعنة الله والملائكة والناس اجمعين ولا يقبل الله منهم صرفاً ولا عدلاً)) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : الله تعالى زه غوره كړى يم او زما نپاره يې زما صحابه غوره كړيدي او دوى يې زما وزيران او مدد ګاران او رشته داران جوړ كړي ، څوك چې پدوى بد وايي په هغه دى دالله تعالى او دفرشتو او دټولو خلكو لعنت وي ، او الله تعالى به ددوى نه فرض قبلوي او نه كوم نقل ، (مظاهر حق ج۴ ۵۷۸ باب مناقب الصحابه)

۵_ اوپه غنية الطالبين كى حديث دى : قال رسو الله صلى الله عليه وسلم فى رواية انس رضى الله عنه ان الله عزوجل اختارنى واختارلي اصحابي فجعلهم انصاري وجعلهم اصهاري وانه سيجئى فى آخر الزمان قوم ينقصو نهم الا فلا تاكلوهم الا فلا تشاربوهم الا فلا تناكحوهم الا فلا تصلوا معهم الا فلا تصلوا عليهم ، عليهم حلت اللعنة ، (غنية الطالبين ۱/ ٥٤).

يعنى حضرت انس رضى الله عنه روايت كړى چې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : الله تعالى زه غوره كړى يم او ما لپاره يې زما صحابه غوره كړي او دوى يې زما مدد ګاران رشته داران جوړ كړيدي ، اوپه آخره زمانه كى به يوه ډله پيداشي چې دصحابه كرامو مرتبه به كموي نو تاسو هغوى سره مه خوراك او څكاك كوئ او مه دهغوى له ښځو سره نكاح كوئ او مه ورسره لمونځ كوئ او مه وربانديې جنازه كوئ په هغوى باندى دالله لعنت نازل شويدى .

(٦) دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی : " لاتسبوا اصحاب محمد فلمقام احد هم ساعة خیر من عمل احدکم عمره " یعنی دنبي کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرام ته بد رد مه وایئ ، پدوی کی دیو کس یوه لحظه عبادت کول له تاسودټول عمر عبادت نه بهتر دی ، (مظاهر حق ج۴/ ۵۷۹)

(۷) او دابن عمر رضی الله عنه نه بل روایت دی چی دوی به فرمایل : په چاکی چی لس علامې وي هغه اهل سنت والجماعت والا دی پدیکې یوه علامه داده : " ولا یذکر احداً من الصحابة بسوء " یعنی په صحابه کرامو کی به دهیچا بدی نه وایې ،(تکمله بحر الرائق ج۸/ ۱۸۳ کتاب اکراهیه)

(۸) په ابو داود او ترمذي کی له حضرت سعید رضی الله عنه نه روایت دی چی : دوی واوریدل چی بعضې خلک دحکومت دامیرانو په وړاندی حضرت علی کرم الله وجهه ته بد رد وایي نو حضرت سعید بن زید رضی الله عنه وفرمایل : افسوس زه وینم چی ستاسو په وړاند ی درسول الله صلی الله علیه وسلم صحابو ته بد رد ویل کیږي او تاسو وربandی ردِ نه کوئ او نه یې منع کوئ (واورئ) مادرسول الله صلی الله علیه وسلم نه پخپلو غوږونو سره دا آوریدلي دي : (دحدیث بیانولو نه مخکې وویل پدی هم پوهه شئ ماته ددی څه ضرورت نشته چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسې خبره منسوب کړم چی هغه نوی کړی چی دقیامت په ورځ کله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره ملاو شم هغه بیا له مانه دهغه تپوس وکړي ، لدینه وروسته یې حدیث بیان کړ) ابو بکر صدیق رضی الله عنه جنتی دی ، عمر رضی الله عنه جنتی دی ، عثمان رضی الله عنه جنتي دی ، علي رضی الله عنه جنتي دی ، طلحه رضی الله عنه جنتي دی ، زبیر رضی الله عنه جنتی دی ، سعد بن مالک رضی الله عنه جنتي دی ، عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه جنتي دی ، ابو عبید بن جراح رضی الله عنه جنتي دی ، داخو دصحابه کرامو نومونه واخستل کله چی دلسم شخص نوم یې وانخست نو خلکو تپوس وکړچی لسم څوک دی ؟ نو بیا یې ذکر کړ چی سعید بن زید رضی الله عنه (یعني خپل نوم یې دعاجزي په وجه ذکر نه کړ او بیا وروسته یې دخلکو په اصرارباندی ظاهر کړ) لدینه وروسته سعید بن زید رضی الله عنه وفرمایل : " والله لمشهد رجل منهم مع النبی صلی الله علیه وسلم یغبر فیه وجهه خیر من عمل

احدکم ولو عُمرَعمر نوح " په الله تعالی قسم چی په صحابه کرامو کی دیو کس رسول الله سره په کوم جهاد کی شریکیدل چی په هغهٔ کی دهغه مخ گرد جن شوی وي دبل چا دټول عمر عبادت نه بهتر دی اگر که هغه ته دنوح علیه اسلام برابر عمر ورکړی شي . (ابو داود شریف ج۲/ ۲۹۱ کتاب السنة باب فی الخلفاء)

(۹) عدی له ابن عائشه رضی الله عنه نه مرفوعاً روایت کړیدی : " إن شرار أمتي أجرؤهم على أصحابي "زما دامت بدترین خلک هغه دي کوم چی زما دصحابو (بدي بیانولو کې) ډیر زیات زړور دي .(مظاهر حق ج۴/ ۵۸۳)

۱۰ _ عن النبی صلی الله علیه وسلم لان یلقی الله عبد بذنوب العباد خیر له من ان یبغض رجلاً من اصحابي فانه ذنب لایغفر له یوم القیامة . (نزهة المجالس ج۲/ ۲٤۳)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : دبنده له الله تعالی پداسې حال کی یو ځای کیدل چی دټولو بني آدمو دگناهونو پنډ په سر باندی ایښې وي داله هغه حالت نه بهتر دی چی دالله تعالی په دربار کې پداسې حال کې حاضر شي چی دکوم صحابي عداوت او دشمني یې په زړه کی وي ځکه چی دغه گناه په قیامت کی نه معاف کیږي . (خیر المونس ترجمه نزهة المجالس ۲/ ۳۰۲)

(۱۱) قال ابن عباس قال النبي صلى الله علیه وسلم من احب اصحابي وازواجي واهل بيتي ولم يطعن فی واحد منهم وخرج من الدنیا علی محجبتهم کان معی فی درجتي یوم القیامة ، (نزهة المجالس ج۲/ ۲۲۳) حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : څوک چی زما له صحابو ، ازواج مطهراتو او اهل بیتو سره محبت لري او له دوی نه په هیڅا باندی طعن نه کوي (یعنی بد رد ورپسې نه وایي) او دوی محبت په زړه کی ساتلو سره لدی دنیا نه لاړ شي نو هغه به دقیامت په ورځ ماسره وي ، په سورت حشر کی الله تعالی دنبوت په دوی کی موجود او په آینده کی راتلونکې مسلمانان درې طبقې کړیدي لومړی دمهاجرینو چی ددوی په باره کې الله تعالی دافیصله کړیده :

(اولئك هم الصادقون) یعنې داخلک ریشتوني دي او دیم انصار چې ددوی دصفتونو او فضایلو له ذکر کولو نه وروسته فرمایي : (اولئك هم الفلحون) همدغه خلک کامیاب دي . دریمه طبقه هغه خلک دي چې دمهاجرو او انصارونه وروسته ترقیامته پورې راتلونکې دي ددوی په باره کې فرمایي : (والذین جاءوا من بعد هم یقولون ربنا اغفرلنا والاخواننا الذین سبقونا بالایمان ولا تجعل فی قلوبنا غلاً للذین آمنوا) سورت حشر پ۲۸.

او هغه خلک چې وروسته پدی وینا سره راځي چې ای ربه زمونږ مونږ ته هم بخښنه وکړه او زمونږ هغه ورونو ته هم بخښنه وکړه کوم مونږ نه وړاندې مسلمانان شوي او زمونږ په زړونو کې مومنانو لپاره هیڅ بغض او حسد مه پیدا کوی، په ازالة الخفاء کې حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله ددی آیت کریمه په تفسیر کې څو روایتونه نقل کړیدي ، هغه نقل کوي : عن سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه قال : الناس علی ثلث منال قد مضت منزلتان وبقیت منزلة فاحسن ما انتم کائنون علیه ان تکونوا بهذه المنزلة التي بقیت ثم قرا للفقراء المهاجرین الذین ..... الخ) سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه فرمایي : دمسلمانانو درې طبقې دي دوه طبقې خو تیر شویدي اوس یواځې یوه طبقه پاتې ده نو ستاسو بهترین حالت دادی چې کومه طبقه پاتې ده پدیکې ځان داخل کړی، او لدینه وروسته هغه د " للفقراء المهاجرین الذین اخرجوا..... الایة "تلاوت کړ او وی فرمایلي چې دا دمهاجرینو طبقه ده او داتیره شویده او بیا یې د.((والذین تبوء وا الدار والایمان)) آیت تلاوت کړ او ویې فرمایل چې داد انصارو طبقه ده داهم تیره شویده او لدینه وروسته د((والذین جاءوا من بعدهم یقولون ربنا اغفرلنا والاخواننا الذین ..... الخ)) آیت تلاوت کړ او وی فرمایل هغه دوه طبقې خو تیر شویدي اوس دغه یوه طبقه پاتې دی لهذا ستاسو بهترین حالت همدا دی چې پدی دریمه طبقه کې ځان شامل کړئ ، (ازالة الخفاء مقصد اول ، فصل ششم ج۲/ ۲۴۵، ۲۴۶)

" عن الضحاك والذين جاءوا من بعدهم أمروا بالاستغفار لهم وقد علم ماحدثوا . الخ " يعني له ضحاکم رحمه الله نه دوالذين جاءوا من بعدهم په تفسير کې نقل دی : خلکو ته حکم شوی چې صحابه کرامو لپاره استغفار وکړي او حال داچې الله تعالی ته پته وه چې ددوی ترمنځ به جنګ جګړې پیداکیږي . (ازالة الخفاء ج۲/ ۲٤٦)

" عن عائشة رضى الله عنها قالت امروا ان يستغفرو لأصحاب النبى صلى الله عليه وسلم فسبوهم ثم قراء ت هذه الاية والذين جاءوا من بعدهم يقولون ربنا اغفرلنا ولا خواننا الذين سبقونا بالايمان "يعنى حضرت عائشه صديقه فرمايي: مسلمانانو ته حکم ورکړی شوی چې دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم صحابو ته استغفار وکړي ليکن خلکو (داستغفار په ځای) هغوی پسې بدرد ویل شروع کړل او ددی وینا نه بعد دوی هم د" والذين جاءوا من بعد هم "آيت تلاوت کړ (ازالة الخفاء ج۲/ ۲٤٦)

((عن ابن عمر رضى الله عنه انه سمع رجلاً وهو يتناول بعض المهاهرين فقرأ . للمهاجرين الذين اخرجوا من ديارهم الخ ثم قال هو لاء المهاجرين افمنهم انت ؟ قال لا ثم قراء والذين تبؤ الدار والايمان الاية قال هو لاء الانصار افمنهم انت ؟ قال لا ثم قرأ عليه والذين جاءوا من بعد هم الأية قال افمن هولاء انت ؟ قال ارجو... قال لا ، ليس من هؤلاء من سب هؤلاء))

دحضرت عبدالله بن عمر رضلی الله عنهما نه روايت دی چې دوی نه له یو کس نه مهاجرينو کی په چا باندی اعتراض کول واوريدل نو ده دهغه په وړاندې دا آيت کريمه للفقراء المهاجرين الذين اخرجوا .... ولوست او بيا يې وفرمايل : داخو دمهاجرينوبيان دی آيا له دوی نه يې ؟ هغه وويل چې نه ، بيا يې دا آيت کريمه والذين تبؤوالدار والايمان .... ولوست او وی فرمايل دادانصارو بيان دی ايا ته له دوی نه يې ؟ هغه وويل چې نه او بيا يې ورته دا آيت کريمه والذين جاءوا من

بعدهم ....ولوست او وی فرمایل ایا ته له دوی نه یې ؟ هغه وویل: ددی امید لرم وې فرمایل نه ، لدی ډلې څخه هغه څوک نشي کیدلې چی مخکیني دوه ډلوته بدرد وایي .(ازالة الخفاء ج۲/ ۲٤٦)

((ومن وجه اخر عن ابن عمر رضی الله عنه انه بلغه ان رجلا قال من عثمان رضی الله عنه فدعاه فاقعده بین یدیه فقراءعلیه للفقراء المهاجرین الذین .... قال أمن هؤلاء انت ؟ قال لا ثم قراء والذین جاءوا من بعدهم یقولون ربنا اغفر لنا الخ قال أمن هؤلا ء أنت ؟ قال ارجو ان اکون منهم قال لا والله لایکون منهم من تنا ولهم وکان فی قلبه الغل علیهم))

یعنی په یو بل سند سره دابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی چی دوی ته داخبره ورسیده چی یو څوک حضرت عثمان رضی الله عنه باندی اعتراض کوي نو هغه سړی یې راوغوښت او خپل مخکې یې کینولو او دغه آیت یې وربانديې ولوستو للفقراء المهاجرین الذین الخ او تپوس یې ورنه وکړ چی آیا ته په دوی کی یې ؟ هغه وویل چی نه اوبیا یې پدې دا آیت کرمه ولوست چی والذین تبؤوا الدار والایمان الخ . او تپوس یې ورنه وکړ چی آیا په دوی کی ته شامل یې ؟ هغه وویل چی نه بیا یې پرې دا آیت کریمه ولوست چی والذین جاءوا من بعد هم الخ اوتپوس یې ورنه وکړ ایا ته په دوی کی شامل یې ؟ هغه وویل امید خو همدغسې لرم چی په دوی کی شامل کړی شم ابن عمر رض ی‌الله عنه وفرمایل : نه په الله قسم هغه څوک په دوی کی نشي شاملیدلې چی په مهاجرینو او انصارو باندی اعتراضونه کوي او په زړه کې ددوی دشمني ساتي . (ازالة الخفاء ج۲/ ۲٤٦ فصل ششم)

ابو عروه زبیري رحمه الله وایي : یوه ورځ مونږ دامام مالک رحمه الله په خدمت کی حاضر وو نو خلکو دهغه کس تذکره وکړه کوم چی صحابه کرامو پسې بدرد ویلې نو امام مالک رحمه الله دغه آیت کریمه محمد رسول الله ... تر لیغیظ بهم الکفار پورې تلاوت کړ او بیا یې وفرمایل دچاپه زړه کی چی دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په صحابه و کی دیو چا متعلق غصه وي هغه ددغه آیت لاندی داخل دی ، یعنې دهغه ایمان په خطره کی دی خکه چی پدی آیت کی دکوم صحابي سره غیض او غصه په

زړه کې ساتل دکافرانو علامـه مقرر شـویده ، (مظـاهر حـق ج۴/ ۵۷۸ ، مقـام صـحابه ص۴۰)
او همدارنګه امام مالک رحمه الله فرمايي :" من أبغض الصحابة وسبهم فليس لــه فى فئ المسلمين حق " څوک چې صحابه کرامو سره بغض لـري او بـد رد ورتـه وايـي هغه دمسلمانانو په فی (غنيمت) کی حق نه لري .(مظاهر حق ج۴/ ۵۷۸)
دامام احمد بن حنبل رحمه الله نه تپوس وشو چـی څـوک امـیر معاویـه او عمـرو بـن العاص رضلی الله عنهما پسې خبرې کوي ايا هغه رافعي (شيعه) دی ؟ وی فرمايـل : پـه دوی باندی هماغه جرائت کولې شي چی په زړه کې يې خباثـت پـټ وي، او هرڅـو ک چی دصحابه کرامو پسې خبرې کوي دهغه په زړه کې خباثت پټ وي .(البدايــة والنهاية ج۸/ ۱۳۹ بحواله ماهنامه تعليم القران راولپندي ۱۹۶۸ء)
او همدارنګه امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمـايي: لايجوز لاحد ان يذكرشيئا من ((مساويهم ولا ان يطعن على احد منهم بعيب والا نقص فمن فعل ذلك وجب تأديبه ، وقال الميموني سمعت احمد يقول ماهم والمعاوية رضى الله عنه نســأل الله العافية وقال لي يا أبا الحسن اذا رأيت احدا يذكر اصحاب رسو الله صـــلى الله عله وسلم بسوء فاتهمه على الاسلام .))
يعنی هيڅا لپاره جائز ندي چی دصحابي بدي ذکر کړي او يا پرې څخه عيب ولګوي او نقصان يې بيان کړي څوک چی داکار وکړي هغه تـه ادب ورکـول واجـب دي ، او دده شاګرد ميموني رحمه الله فرمايي : ما دامام احمد رحمه الله نه اوريدلي دي چې ويلې پدې خلکو باندی څه شويدي چی دحضرت معاويه رضی الله عنه بدي بيانوي ، مونږ دالله تعالی نه دعافيت سوال کوو او بيا يې ماته وفرمايل کلـه چـی تـه يـو څـوک ووينې چی دصحابه کرامـو بـدي بيـانوي نـو دهغـه اسلام مشـکوک وګڼـه .(الصارم المسلول بحواله مقام صحابه ص۷۷)
امام ابو ذرعه، رازي کوم چی دامام مسلم رحمه الله له لويو استاذانو څخه دی فرمايي : ((اذا رأيت رجلا ينقص احدا من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وســلم فاعلم انه زنديق ذلك ان القران حق والرسول حق وما جاء به حــق ومــا ادى

ذلك الینا کله الاالصحابة فمن جرحهم انما اراد ابطال الکتاب والسنة فیکـون الجرح به الیق والحکم علیه بالزندقة والضلالة اقوم واحق))
یعنی کله چی یو څوک ووینی چی په صحابه کرامو کی دچا بدي او نقصان بیانوي نـو ته پوه شه چی هغه زندیق دی ځکه چی قرآن حق دی او رسول حق دی او څه چی رسول رواړي دي هغه حق دي او داټول شیان مونږ ته صحابه کرامـو رسـولي دي نـو څوک چی په دوی باندی جرح کوي هغه په اصل کی کتاب او سنت بـاطلول غـواړي نـو پخپلـه هغـه مجـروح کـول زیـات مناسـب دی او پـه هغـه بانـدی دګمراهـي او دزیندیقیت حکم لګول بالکل صحیح او انصاف دی (فتح المغیث ص ۳۷۵ . مظاهر حق ج۴/ ۵۷۸)

شیخ بشبلي علیه الرحمه فرمایي : " ما آمن برسول الله مـن لم یـوقر اصـحابه " چاچی دصحابه کرامو عزت او احترام ونه کړ (ګویا) پـه رسـول اکـرم صـلی الله علیه وسلم باندی ایمان ندی راوړی (مکتوبات امام رباني ج۳/ ۴٦ مکتوب نمبر ۲۴ فارسي)

همدغه شان یوبل بزرګسهل بن عبدالله تستري رحمـه الله فرمـایي : " هغـه څـوک پـه رسول الله باندی ایمان نه لري چی هغه درسول الله دصحابو رضی الله عـنهم تعظـیم او احترام نه کوي " دشمیم الریاض ترجمه شفا قاضي عیاض ج۲/ ۵۸ ، مظاهر حق ج۴/ ۵۷۸) حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمـایي : " یاویل من ابغضـهم او سـبهم اوسـب بعضهم الی قوله فأین هؤلاء من الایمان بالقرآن اذ یسبون من رضی الله عنهم " یعنی هغو کسانو لپاره سخت عذاب دی کوم چی دصحابه کرامو اویا بعضو ددوی سره بغض ساتي او یا بد رد ورته وایي دغسې خلک په قران باندی دایمان څه واسطه لـري ؟ چی داسې چاته بد رد وایي دچانه چی الله تعالی دراضـي کیـدو اعـلان کړیـدی (ابن کثیر بحواله مقام صحابه ص۴۳)

حضرت شاه ولي الله محد ث دهلوي فر مـایي : " ونکف السنتنا عن ذکر الصحابة الا بخیر وهم ائمتنا وقا دتنا فی الدین وسبهم حرام وتعظیمهم واجب" یعنـي مونږ به صحابه کرام یواځې په نیکي سره یادوو دغه زمونږه دینـي امامـان او پیشـوایان دي دوی ته بد ویل حرام او ددوی تعظیم او احترام په مونږ واجب دی .

(تفهیمات الهیه ج۱/ ۱۳۴.)

حضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوي فرمایي: " بالیقین این جماعت هم درحکم انبیاء خواهد بود .... الخ "یعني یقیناً دصحابه کرامو جماعت هم دانبیاء کرامو په حکم ده نو لکه څنګه چې دقطعي او یقیني دلایلو په وجه په کوم نبي باندې تنقید نشي کولی او ددوی خبره واجب التسلیم وي نو همدغه شان په صحابه کرامو باندې هم یواځې دتنقید نیت کول هم بې دیني اوښکاره ګمراهي ده. (تحفه اثنا عشر یه ص۵۲۹) شیخینو (ابو بکر، عمر) نه زیات دخلافت حقدار و هغه ابو بکر او عمر رضی الله عنهما او ټول صحابه کرام په غلطه او خطاء باندې وګڼل او زه نه پوهیږم چې په دغو ټولو باندې دغلط او خطاګمان کولو نه وروسته دهغه کوم نیک عمل آسمان ته ورسي "

(ازالة الخفاء ص ۲٤٤ مقصد اول فصل چهارم)

علامه ابن تیمیه رحمه الله فرمایي: " دزړونو دټولو نه لوی مرض او ناپاکي داده چې دانسان په زړه کې دهغو خلکو په باره کې بغض او کینه وي کوم چې غوره مومنان او دانبیاو نه وروسته داولیاء الله سرتاج او مشران دي پدې وجه په مال د غنیمت (فئ) کې هغو خلکو لپاره حصه مقرر شویده کوم چې دمهاجرو او انصارو سابقینو او اولینو په باره کې په زړه کې بغض او کینه ونه لري او هغوی لپاره ددعا او استغفار هم کوي لکه چې فرمایي: (والذین جاءوا من بعدهم الخ)" یعني بعضوخلکو لپاره هم په مال د(فئ) کې حصه ده کومه دمجاهرینو نه وروسته راځي او دا دعاکوي چې ای زمونږه ربه مونږه او زمونږه هغو وروڼو ته بخښش وکړی کومه چې مونږ نه وړاندې مسلمانان شویدي او زمونږ په زړونو کې مومنانو لپاره کینه او حسد مه پیداکوې ای زمونږه ربه بیشکه ته لوی مهربان او رحم والا یې.

(منهاج السنة بحواله تاریخ دعوت وعزیمت حصه ۳ص۲۹۹، ۳۰۰)

او همدارنګه دوی داهم فرمایي: درسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه وروسته په امت کې بهترین سړی ابو بکر او لدینه وروسته حضرت عمر اوبیا حضرت عثمان او بیا حضرت علي رضی الله عنهم اوبیا ټول صحابه کرام بهترین دټولو خلکو دی چاته هم مناسب ندی چې ددوی نوم زره برابر په بدي سره واخلي او یا په دوی باندې طعن وکړي او یا پکې عیب ولټوي. او څوک چې دغه کار وکړي په اسلامي حکومت باندې

شرعاً واجب دی چې دغسې خبیث ته سزا ورکړي او معاف یې نکړي ، او توبه ورباندی وباسي که په رشتیا سره توبه وکړي نو قبول دی کړي او که توبه ونه باسي نو سزا دی وربانډی جاري ساتي او هغه دی قید کړي ترهغه پورېچې توبه وباسي اویا مړ شي. (الصارم المسلول ص۵۷۳)

حافظ ذهبي رحمه الله فرمایي : دصحابه کرامو له فضائلو نه هغه څوک خبردار دی چې څوک ددوی له حالاتو او ژوند نه خبردار وي ، درسول اکرم صلی الله علیه وسلم په ژوند کې او درحلت نه وروسته ددوی په ایمان کې وړاندی والې ، له کافرو سره جهاد ، ددین خورول ، داسلامي شعائرو اعلان ، دالله اودده درسول کلمه اوچتول او د فرائضو او دسنتو تعلیم ورکول ، او که چېرته دغه صحابه کرام نه وای نو ددین هیڅ یو اصل او یا فرع ترمونږه پورې رسیدواو مونږ دهیڅ فرض او سنت څخه نه خبریدو او نه درسول اکرم صلی الله علیه وسلم احادیث او حالات مونږ ته رسیدل ،لهذا څوک چې د ددی په شان کې گستاخي او بې ادبي کوي هغه له دین نه اوځي او دمسلمانانو له طریقې نه هم اوځي، او داځکه چې په چاباندی طعن کول ترهغې پورې نه کیږي ترڅو پورې چې دهغو بدیو لره په زړه کې ځای ورنکړي او بغض یې په زړه ونه ساتي ، او ترڅو پورې چې دهغوی فضائلو نه کومه چې الله تعالی په قران کې ذکر کړي، منکر نشي ، او تر څو پورې چې دهغه فضائلو نه کوم چې الله تعالی په قران کې ذکر کړی منکر نشي ، او تر څو پوری چې دهغه فضائلو او مناقبو او صحبت نه منکر نشي کوم چې درسول الله صلی الله علیه وسلم له دوی سره و ، او پدی وجه هم په صحابه کرامو باندی‌طعن کوونکی له دین نه وتلي دي چې همدغه صحابه کرام دماثور او منقول بهترین او افضل ترین وسیله دی او په وسیله باندی طعن کول داسې دی لکه په اصل باندی طعن کول ، اوپه ناقل باندی عیب لګول په حقیقت کې منقول باندی عیب لګول دی ، او داخبری‌هغه چالپاره دي چې غور او فکر وکړي او له نفاق ، رندیقیت او الحاد نه خپله عقیده پاکه کړي الخ . (شریعت وطریقت کا تلازم ص۲۲، ۲۳ ازم مولانا ذکر یا نور الله برقده .)

امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمایي : " دغسې بزرگانو پسې بد رد ویل او بدگماني وربانډی کول دانصاف او دیانت څخه ډیره لری ده " (مکتوبات امام رباني ج۳/ ۴۸ فارسي)

مناظر اسلام حضرت مولانان مرتضی حسن چاند پوري فرمايي:
ائموپسي بد رد ویلو سره سړی وړوکی رافضي(شیعه) جوړیږي او دصحابه کرامو په شان کی گستاخي کول اصل رفض یعنې شیعه توب دی ، (تنقیح التنقید ص۱۰)
خلاصه دخبرې داچی صحابه کرام درسول الله صلی الله علیه وسلم دصحبت او ملګرتیا نه فیض یافته دي دده په ملګرتیا او صحبت سره ددوی زړونه منور (روښانه) او باطن یې بالکل پاک او صاف شویدی، پدی وجه دانسان کامیابي پدیکې ده چی ددوی په گستاخي کولو سره خپل آخرت تباه نکړي ، په آخرکی دامام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله هغه مقوله کوم چی دزړه په تخته باندی دلیکلو قابل دی وګورئ
((وایضاً رذائیلي که منافي شفقت ومهرباني است واز ذمائم اخلاق است ازحسد وکینه وعداوت درحق جماعت که بشرف صحبت خیر البشر مشرف شده اند چون مقصود شود که بهترین این امت خیر الامم ایشانند وسابق ترین این ملت ناسخ الملل هم ایشانند وقرن ایشان بهترین قرون بوده وصاحب ایشان فاضل ترین انبیاء ورسل بوده اګر ایشان باین صفات رویه موصوف باشند که کمینه این امت مرحومه را ازان ذمائم عاراست ایشان چرا بهترین این امت باشند واین امت بکدام وجه خیر الامم بود واسبقیت ایمان واولیت انفاق اموال وبذل انفس راچه مزیت وفضیلت باشد وخیریت قرن راچه تاثیر وفضل صحبت خیر البشر راچه اثر باشد ، جماعتیکه درصحبت اولیاء این امت زندګاني مینمایند ازین رذائیل نجات می یابند جمعی که درصحبت افضل الرسل علیه السلام عمر خود راصرف کرده باشند واز برای تائید ونصرت دین او بذل اموال وانفس نمودند چی احتمال دارد که این ذمائم درحق شان توهم نموده آید مګر آنکه عظمت وبزرګي خیر البشر علیه السلام از نظر ساقط شود (العیاذبالله) وصحبت او علیه اسلام ازصحبت ولی امت ناقص تر متوهم کرد ـ نعوذ بالله سبحانه ـ حالانه مقرر است که هیچ ولی امت مرتبه صحابي نرسد فکیف به نبي آن امت) (مکتوبات امام رباني فارس ج۳/ ۴۵، ۴۶ مکتوب نمبر۴)
یعنې همدارنګی هغه رذیل او کمینه صفتونه کوم چی دشفقت او دمهرباني منافي دی او دبدو اخلاقو نه دی دهغو خلکو په باره کې کوم چی دخیر البشر په صحبت باندی مشرف شویدي حسد ، بغض او کینه څنګه مقصود کیدی شي کوم چی په ټولو امتونو کې دبهترین امت افضل ترین افراد د ی او ټولو مذهبونو لره دمنسوخ کونکی مذهب سابق ترین خلک دی یعنې دصحابه کرامو زمانه دټولو زمانو نه بهترین زمانه وه او

ددوی ملګري پرته‌لو نبیانو او رسولانو کی افضل او بهتر و ، که چیرته صحابه کرامو په ردي صفتونو باندی موصوف وي دکومو نه چی ددی مرحومه امت یو کمینه سړي ته هم عار او شرم ورځي (که چیرته خدانخواسته دغه روی صفات په صحابه کرامو کی وي) نو بیا دغه خلک (صحابه کرام) څنګه بهتردامت کیدې شي اودغه امت په کوم اعتبار سره بهترین دامتونو کیږي ، اوپه ایمان کی دټولو نه اول او زیات ، او په مال او ځان سره دټولو نه زیات خرچ کول څنګه دزیادت او فضیلت سبب جوړیږي ، او دخیر القرون به څه تاثیر وي ، او د خیر البشر دصحبت او ملګرتیا به څه اثر وي ؟ هغه خلک کوم چی ددی امت د اولیاو په صحبت کی څه وخت پاتې شي هغه ددغه رذیله صفتونو څخه نجات پیداکوي نو هغه خلک چی دافضل الرسل صلی الله علیه وسلم په صحبت کی خپل عمرونه لګولي دي او ددین دتائید او مدد لپاره خپل ځانونه او مالونه مصرف کړي ایا داکیدې شي چی ددغو پاکو خلکو په باره کې ددغسې ناکاره صفتونو وهم او تصور کولې شي ؟ سیوا ددینه چی دخیر البشر عظمت او بزرګي له نظره پریوځي او ددوی صحبت دیو ادنی امتي له صحبت نه هم ناقص او کم وګڼل شي (نعوذبالله منها) او حال داچی داخبره ثابت ده چی دامت هیڅ یو ولي دصحابي درجې او مرتبې ته نشي رسیدلې نو ددی امت دنبي درجې ته به څنګه ورسي ، (مکتوبات امام رباني اردو ج ۳/ ٦١ مکتوبات نمبر ۲۴)

مرحوم اکبر اله ابادي هم څه ښه ویلي دي :

درفشاني نے تیري قطرون کو دریا کردیا ـــ دل کو روشن کردیا آنکھون کو بینا کردیا

خودنه تهے جو راه پر اوروکے هاوي بن گئے ـــ کیا نظر تهي جس نے مردون کو مسیحاکردیا

دریم خلیفه راشد حضرت عثمان رضی الله عنه عظیم المرتبت او جلیل لمنقبت صحابي دی په لومړنیو مسلمانانو کی دی دکومو په باره کې چی دالله تعالی خصوصي اعلان دی چی " رضی الله عنهم ورضواعنه ، السابقون السابقون اولئك المقربون فی جنت النعیم "او عثمان رضی الله عنه نهایت پاکدامن او حیا دار و ، ده دوه هجرتونه کړي او دواړو قبلو طرف ته لمونځونه کړي دي او نهایت صبر کوونکي او تحمل کوونکې انسان و ، داسلام نه وړاندی هم چیرته بت پرستي ندی کړی . په ټولو غزاګانو کی درسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملګرې و ، دبدر په

غزا کی درسول الله صلی الله علیه وسلم په اجازت دده صلی الله علیه وسلم دلور او خپلې بي بي حضرت رقیه رضی الله عنها دتیمار دارئ لپاره پاتې شوی و لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلم ده لره یې هم په غزاکې برابر شریک وګڼلو او دنورو شریکانو پشان ده ته هم په غنیمت کی حصه ورکړه ، او دبیعت الرضوان په موقعه باندی کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دی مکه مکرمه ته واستولو او دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحابه کرامو سر په مرګاو جهاد باندی بیعت وکړ نو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : "ان عثمان فی حاجة الله وحاجة رسوله فضرب باحدی یدیه علی الاخری الخ" یعنی عثمان رضی الله عنه د الله تعالی او د ده د رسول صلی الله علیه وسلم په کار کی مصرف دی او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپل ښي لاس باندی ګس لاس کیښود او وی فرمایل چی دا د عثمان رضی الله عنه لاس دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه له طرفه غائبانه بیعت وکړ . لهذا هغه هم پدی بیعت رضوان کی شامل دی د کومی په باره کی چی الله تعالی دخپلی رضامندی بشارت آورولی دی (سورت فتح پ ٢٦) .

د عثمان رضی الله عنه په اسلام باندی له مشرف کیدو نه فوراً بعد رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلی لور حضرت رقیه رضی الله عنها نکاح له ده سره وتړلو ، او کله چی کافرانو د مسلمانانو ضرر رساني لپاره ملا وتړلو نو ده د حضرت رقیه رضی الله عنها سره هجرت وکړ او حبشی ته لاړل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د حضرت ابراهیم او حضرت لوط علیهما السلام نه وروسته حضرت عثمان رضی الله عنه لومړی شخص دی چی د خپل اهل بیت سره هجرت وکړ او د حضرت رقیه رضی الله عنها له وفات کیدو نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپلی دویمی لور حضرت ام کلثوم رضی الله عنها سره یی د ده نکاح وتړلو او کله چی دغه هم وفات شوه نو وی فرمایل : که زما بله لور وای نو دهغی نکاح می هم حضرت عثمان سره تړلو ، دا د ده خصوصیت دی چی بغیر د مطالبی نه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم خپله لور په نکاح ورکوي ، ده د اسلام مالي خدمت هم ډیر ښه کړیدی او ډیری ښی ښی دعاګانې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخستی دي ، د تبوک د غزا په موقع باندی د جهاد د سامان نه علاوه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم دخوراک سامان یی چی په څو اوښانو باندی بار کړی د رسول الله صلی الله علیه

وسلم په خدمت کی حاضر شو نو پدی وخت کی رسول الله صلی الله علیه وسلم آسمان طرف ته خپل لاسونه اوچت کړل او دری ځلی یی وفرمایل : یا الله زه دحضرت عثمان رضی الله عنه نه راضي یم ته هم ورنه راضي شه او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته یی وفرمایل چی تاسو عثمان رضی الله عنه لپاره دعا وکړئ نو ټولو صحابه ؤ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دعا وکړه او په همدی موقع باندی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : "ماضر عثمان ما عمل بعد اليوم" یعنی له نن نه بعد عثمان رضی الله عنه چی څه غواړي ودی کړي هیڅ یو کار به ده ته نقصانه ورکوي (مشکواة شریف ص ۵۶۱) .

او تر یو وخته پوری د وحي لیکلو خدمت هم دوی ته حواله شوی ؤ ، په ټولو نیکو کارونو کی د الله تعالی له طرفه دوی ته عظیم الشان توفیق نصیب شوی ؤ ، د تهجد د لمونځ یی دا حالت ؤ چی د شپی به ډیر کم ویده کیدو او تقریباً ټوله شپه به یی عبادت کولو ، په تهجدو کی به روزانه د قرآن پاک ختمول د ده معمول ؤ ، او دممنوعه ورځو نه علاوه به یی همیشه روژه وه ، په کومه ورځ چی شهیدشو په هغه ورځ یی هم روژه وه ،او په صدقه او خیرات کولو کی یی مثال نه لرلو ، په هره جمعه باندی به د یو غلام آزادولو معمول ؤ ، د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کی سخته قحطي شوه پدی وخت کی د عثمان رضی الله عنه یو زر اوښان په غله باندی بار راغلل او دغه ټول یي په فقیرانو باندی تقسیم کړل ، (خلفاء راشدین ملخصاً ص ۱۱۹ ، ۱۲۰ ، ۱۲۱) .

"عن عمر رضی الله عنه قال ما احد احق بهذا الامر من هؤلاء النفر الذين توفى رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو عنهم راضٍ فسمى علياً وعثمان والزبير وطلحة وسعداً عبد الرحمن بن عوف رضى الله عنهم" (رواه البخارى) .

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل : لدی خلکو نه زیات دخلافت حقدار بل څوک نشته د کومو نه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم تر خپل وفات کیدو پوری راضی ؤ او بیا یی د علی ، عثمان ، زبیر ، طلحه ، سعد او عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنهم نومونه واخستل ، لکه څنګه چی عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه له انتهائي غور وفکر او له اکابرو صحابه کرامو رضی الله عنهم او ګنو خلکو سره د مشوری نه وروسته حضرت عثمان رضی الله عنه دریم خلیفه منتخب کړو او د حضرت علي

رضی الله عنه په شمول ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم په اتفاق سره ورسره بیعت وکړ ، امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمائي : " لهذا علماء فرموده اند که آنقدر اتفاق و اجماع که بر خلافت حضرت ذی النورین رضی الله عنه بحصول پیوسته است بر خلاف هیچ یکی از حضرات خلفاء ثلاثه دیگر بحصول نه پیوسته زیرا که در بدو خلافت او رضی الله عنه چون بکنون تردد بوده " (مکتوبات امام رباني فارسي ج ۳ ص ۴۵ مکتوب نمبر ۲۴) .

ترجمه : او د حضرت ذو النورین رضی الله عنه خلافت د صحابه کرامو رضی الله عنهم په اجماع سره ثابت شویدی پدی وجه علماؤ فرمایلي دي : خومره قدری اجماع او اتفاق چې د حضرت عثمان رضی الله عنه په خلافت باندی حاصل شوی دی د نورو دری واړو خلفاء په خلافت کی دومره ندی حاصل شوی او د دی وجه دا ده چې د ده د خلافت په شروع کی یو قسم تردد ؤ نو پدی وجه خلکو پدی باره کی له ډیر احتیاط نه کار واخستو .

د ده د خلافت په زمانه کی هم ډیر ملکونه او علاقې د اسلام په تصرف کی راغلي دي لکه : همدان ، آذر بایجان ، قیروان ، اندلس ، قبرس ، گازرون ، قلعه سفید ، سیرجان ، مازندران ، نیشاپور ، طوس ، عبس ، هرات ، بلخ ، مصیصه ، قسطنطنیه ، قرطبه .

ویل کیږي چې د ده د خلافت په زمانه کی دومره مال غنیمت حاصل شوی چې د یو اس او د یو اوښ قیمت زر درهم شوی ؤ او د ده د خلافت زمانه د عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت دزمانی پشان ؤ .

حاصل دا چې د ده فضائل ډیر زیات دي او په احادیثو کی هم نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د ده منقبت بیان کړی لکه چې په حدیث کی راځي :

(۱) حضرت طلحه بن عبید الله رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی :

"لکل نبی رفیق فی الجنة ورفیقي فیها عثمان رضی الله عنه" د هر نبي علیه السلام لپاره به په جنت کی یو ملګري وي او زما ملګری په جنت کی عثمان رضی الله عنه دی (مشکواة شریف ص ۵۶۱) .

(۲) حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها روایت کوي چې یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم زما په کور کې په څمکه پروت وُ او پنډۍ مبارک یې ښکاره شوه پدی حالت کې ابوبکر صدیق رضی الله عنه حاضر شو او اجازت یې طلب کړو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اجازت وکړ او بیا حضرت عمر رضی الله عنه تشریف راوړ او اجازت یې طلب کړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اجازت وکړ او بیا وروسته حضرت عثمان رضی الله عنه حاضر شو او اجازت یې طلب کړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اجازت وکړ او خپله پنډۍ مبارک یې پټه کړه (حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي) ما د دوی له رخصتیدو نه وروسته د پنډۍ د پټولو تپوس وکړ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "الا استحیي من رجل تستحیي منه الملائکة" ایا زه د هغه سړي نه شرم ونه کړم چې ملائکې ورنه شرم او حیا کوي (مشکواة شریف ص ۵۶۰).

(۳) "وقال النبی صلی الله علیه وسلم عثمان احیا امتی واکرمها وقال النبی صلی الله علیه وسلم اشد امتی حیاءً عثمان" (نزهة المجالس ج ۲ ص ۲۷۳).

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: حضرت عثمان رضی الله عنه زما په ټول امت کې زیات حیادار او کریم او سخي دی.

"وقال عثمان رضی الله عنه مالمست فرجي بیمیني لانی لمست بها ید رسول الله صلی الله علیه وسلم" (نزهة المجالس ج ۲ ص ۲۷۳).

حضرت عثمان رضی الله عنه فرمائي: ما په ښي لاس سره کله هم خپله شرمګاه نده نیولی ځکه چې ما پدی سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک لاس نیولی وُ.

(۴) "قالت عائشة رضی الله عنها مکثنا اربعة ایام ما طعمنا شیئاً فدخل علینا رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالت یاعائشة هل اصبتم شیئاً قلت لا فتوضأ وخرج یصلی ههنا مرةً ههنا مرةً ویدعو فجاء عثمان رضی الله عنه آخر النهار فقال این رسول الله صلی الله علیه وسلم فاخبرته الخبر فبکی ثم خرج عثمان وبعث لنا دقیقاً وتمراً وغیره ثم قال هذا یبطئی علیکم فارسل خبزاً ولحماً مشویاً

ثم جاء النبی صلی الله علیه وسلم وقال هل اصبتم شیئاً فاخبرته ، بما فعله عثمان فلم یجلس حتی خرج الی المسجد ورفع یدیه وقال اللهم انی رضیت عن عثمان فارض عنه اللهم انی رضیت عن عثمان فارض عنه اللهم انی رضیت عن عثمان فارض عنه" (نزهة المجالس ج ۲ ص ۲٦٧ ، ۲٦٨) .

ترجمه : عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائي : یوځل په مونږ باندی څلور ورځې داسی په نهره تیری شوی چی د خوراک راته هیڅ شی ملاو نشو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی او وی فرمایل ای عائشه تاسو ته زما دتلو نه وروسته د خوراک څه شی ملاو شو ؟ ما ورته وویل چی نه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس وکړ او لمانځه لپاره راووت کله یی هلته لمونځ کولو او کله دلته او دعاء به یی کوله ، او کله چی د ورځی آخر وخت شو (مانبام نزدی شو) نو حضرت عثمان رضی الله عنه راغی او وی ویل چی رسول الله صلی الله علیه وسلم چیرته دی ؟ ما ورته ټول واقعه بیان کړه هغه د دغی واقعی په اوریدو سره په ژړا شو او بیا کورته لاړو او مونږ لپاره یی اوړه او خرما ولیږلی او بیا یی وویل چی د دی په پخولو کی خو ډیر وخت لګي زه تاسو لپاره تیاره روټی درلیږم نو هغه وُ چی مونږ ته یی وریت شوی غوښه او روټی ولیږلی او پدی وخت کی رسول الله صلی الله علیه وسلم هم تشریف راوړلو او وی فرمایلی ای عائشه ! ایا تاسو ته څه خوراک چیرته نه راغلی ؟ ما ورته د حضرت عثمان رضی الله عنه راتلل او ټوله واقعه ذکر کړه چی ددی په اوریدو سره ډیر زیات خوشحاله شو او له ناستی نه بغیر جومات ته لاړو او لاسونه مبارک یی اوچت کړل او دعا یی وکړه یا الله زه له حضرت عثمان رضی الله عنه نه راضي یم ته هم ورنه راضي شه ددی څلی یی دغه دعا وکړه .

"وقال ابو سعید الخدری رضی الله عنه رأیت النبی صلی الله علیه وسلم من اول اللیل الی ان طلع الفجر یدعو لعثمان" (نزهة المجالس ج ۲ ص ۲٦٨) .

حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه فرمایي : ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم د اولی شپی نه تر صبا پوری حضرت عثمان رضی الله عنه لپاره دعاء کولو کی لیدلی دی .

(۵) "وعن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال غفرالله لــك یاعثمـــان ماقــدمت وماأخرت وما هو كائن الی یوم القیامة" (نزهة المجالس ج ۲ ص ۲٦۸).
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : ای عثمـان الله تعـالی ستـا وړانـدیني، وروستني او تر قیامته پوری کیدونکي گناهونه ټول بخښلي دي.
(٦) "وقال علی رضی الله عنه فی قوله تعالی "ان الذین سبقت لهم منا الحسنی" هو عثمان ابن عفان" (نزهة المجالس ج ۲ ص ۲٦۸).
حضرت علي كرم الله وجهه فرمایي چې دغه آیت کریمه "ان الذین سبقت لهم منـا الحسنی" حضرت عثمان رضی الله عنه په باره کی نازل شویدی.
(۷) "عن ابن عباس رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم یشفعن عثمان فی سبعین الفاً ممن قد استوجبوا النار حتی یدخلهم الجنة" (نزهة المجالس ج ۲ ص ۲٦۸). حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمـایي چـې نبـي کـریم صـلی الله علیـه وسلم فرمایلي دي : حضرت عثمان رضی الله عنـه بـه د هغـه اویـا زره کسـانو سـفارش کوي کوم چې د دوزخ عذاب ورباندی واجب شوی وي هغه به د دوی سفارش کولـو سره جنت ته داخل کړي.
(۸) "عن ابی هریرة رضی الله عنه وابن عباس رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم قال لعثمان رضی الله عنه انت ذوالنورین قال یارسول الله صلی الله علیه وسلم لم سمیتنی بذی النورین ؟ قال لانك تقتل وانت تقرأ ســورة النـــور" (نزهة المجالس ج ۲ ص ۲۸۱).
یعنی حضرت ابوهریره رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنه نـه روایـت دی چـې رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت عثمـان رضـی الله عنـه تـه وفرمایـل چـې ای عثمانه ته ذوالنورین یی هغه ورته وویل یارسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم ماتـه دی ذوالنورین نوم څنګه راکړو ؟ هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل دا څکه چـې کلـه تا باغیان شهیدوي نو ته به سورت نور تلاوت کوی.

(۹) "عن ابن عمر رضی الله عنه قال قال النبی صلی الله علیه وسلم اذا کان یوم القیامة یؤتی بعثمان وأوداجه تشخب دماً اللون الدم والریح ریح المسك ویکسی حنتین من نور وینصب له منبر علی الصراط فیجوز المؤمنون بنوری ولیس لمبغضه نصیب" (نزهة المجالس ج ۲ ص ۲۷۱).

یعنی ابن عمر رضی الله عنه فرمائي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : کله چی قیامت قائم شي نو عثمان رضی الله عنه به راوستل شي پداسی حال کی چی د غاړی له رګونو څخه به وینی داری وهي چی رنګ خو به د وینی وي مګر خوشبويي به یی د مشکو پشان وي او ده ته به د نور دوه اعلی جوړی ورواغوندوي او ده لپاره به په پل صراط باندی یو منبر کینبودلی شي او دی به ورباندی ناست وي او مؤمنان به د ده په رڼائي کی د پل صراط نه تیریږي مګر د ده دشمنانو ته د دی هیڅ فایده او حصه نه وي .

(۱۰) یوځل رسول الله صلی الله علیه وسلم ، ابوبکر صدیق رضی الله عنه ، عمر فاروق رضی الله عنه او عثمان رضی الله عنه احد غره د پاسه وختل نو غر په خوزیدو شو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله پښه مبارکه په غره باندی ووهله او وی فرمایل : "اسکن احد لیس علیك الا نبی وصدیق وشهیدان" یعنی ای احد غره په آرام شه په تا باندی بل هیڅوک نشته صرف یو نبي علیه السلام او یو صدیق او دوه شهیدان دي (بخاري شریف ص ۵۲۳).

(۱۱) حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایي : یو ځل رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : "یاعثمان لعل الله یقمصك قمیصاً فان ارادوك علی خلعه فلا تخلعه لهم" یعنی ای عثمان ! امید دی چی الله تعالی یو قمیص درته واغوندوي نو که چیرته خلک له تانه د دی قمیص د ویستلو اراده وکړي نو ته د دوی (په درخواست باندی) دغه قمیص مه وباسه (یعنی که چیرته د خلافت معزوله کیدل وغواړي نو معزول نشی) (ترمذي شریف ج ۲ ص ۶۱۲ ، مشکواة شریف ص ۵۶۴) .

(۱۲) د مرة بن کعب رضی الله عنه نه روایت دی : "سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم وذکر الفتن فقربها فمر رجل مقنع فی ثوب فقال هذا یومئذ علی الهدی فقمت الیه فاذا هو عثمان بن عفان الخ" .
یعنی ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلي چې له مانه وروسته به په تاسو کی ډیرې فتنی او حادثې راپیدا شي او دا یی په ډیر اهمیت سره بیان کړی پدی وخت حضرت عثمان رضی الله عنه چې څادر یی په ځان اچولی ؤ راتیر شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل په هغه ورځ به دغه سړی په حق باندی وي (ترمذي شریف ج ۲ ص ۲۱۱ ، مشکواة شریف ص ۵۶۲) .
او د تمکین په آیت کریمه "الذین ان مکناهم فی الارض اقاموا الصلواة الخ" کی دا مضمون راغلی چې مهاجرینو کی هر څوک چې خلیفه شي د هغه خلافت به د خلکو خوښ وي او د خلافت په زمانه کی به هغه کار کوي کوم چې د الله تعالی مرضي دی (خلفاء راشدین ص ۱۴۰) .
(۱۳) په یو حدیث کی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی : زما زړه غواړي چې یو څا سره د راز خبره وکړم ، ورته عرض وکړی شو چې ابوبکر او عمر رضی الله عنهما حاضر دي وی فرمایل نه بیا ورته عرض وکړی شو چې عثمان رضی الله عنه حاضر دی نو وی فرمایل هو یعنی صحیح ده او بیا یی عثمان رضی الله عنه ځانله کړ او څه خبرې یی ورته وکړی چې د حضرت عثمان رضی الله عنه رنګ پری تغیر شو ، او کله چې د ده د شهادت ورځ راغله او بلوا جوړونکو راګیر کړ نو وی فرمایل کوم د راز خبره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته کړی وه هغه دا ده چې پدی ورځ به ثابت قدم پاتی کیږی اوس زه خپله وعده نه ماتوم .
(۱۴) حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی : "ذکر رسول الله صلی الله علیه وسلم فتنة فقال یقتل هذا فیها مظلوماً العثمان" یعنی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : خلکو په تاسو کی به فتنی پیدا شی او په هغی کی به دا یعنی عثمان رضی الله عنه به مظلومیت سره قتل کړی شي (ترمذي شریف ج ۲ ص ۲۱۲ ، مشکواة شریف ص ۵۶۲) .

(۱۵) روایت دی چی یو ځل علي رضی الله عنه حضرت عثمان رضی الله عنه ته وکتلی او ښه یی وژړنی او وی فرمایل ای عثمان! تا به ظالمان قتلوي ته به په هغه ورځ ثابت قدم پاتی شی او د صبر او تحمل حامی به د ځان نه نه لری کوی.
(۱٦) ابوحنیفه رحمه الله فرمایي : کوم وخت کی چی عثمان رضی الله عنه محاصره شوی ؤ په هغه وخت کی ابوهریره رضی الله عنه ورنه د خبرو کولو اجازت وغوښت نو هغه ورته اجازت ورکړ او د خبرو نه وروسته ابوهریره رضی الله عنه ودریدو او د حمد و ثناء نه وروسته یی وفرمایل "سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول انکم ستلقون بعدی فتنة واختلافاً فقال له قائل من الناس فمن لنا یارسول الله او ما تأمرنا به (ای من نتبعه فیکون لنا العافیة) قال علیکم بالأمیر واصحابه وهو یشیر الی عثمان" یعنی ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چی فرمایلی : زما نه وروسته به په تاسو کی فتنی او اختلافات پیدا شي یو چا د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړ چی پدی وخت کی مونږ د چا تابعداري وکړو؟ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : په تاسو باندی د امیر او د ده د ملګرو تابعداري لازم دی او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت عثمان رضی الله عنه طرف ته اشاره کوله (مشکواة شریف ص ۵٦۲، ۵٦۳).
(۱۷) په بخاري شریف کی ذکر دي چی په یوه موقعه باندی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : "بشره بالجنة معها بلاء یصیبه" (بخاری ج ۲ ص ۱۰۵۲ وفی روایة "علی بلوی ستصیبه" (بخاری ج ۲ ص ۵۲۲).
یعنی حضرت عثمان رضی الله عنه ته د جنت خوشخبري ورکړه او ورسره دا هم چی دی به په یو مصیبت او آزمائش کی مبتلی کیږي.
د دغو آخري احادیثو نه معلومیږي چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته د وړاندی نه معلوم شوي ؤ چی حوادث او فتنې به راښکاره کیږي او حضرت عثمان رضی الله عنه به خلیفه جوړولی شي او بیا به ورباندی امتحان او آزمائش راځي او پدی وخت کی به دی په حق باندی وي د دی تولو خبرو پته لګیدو نه وروسته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورته د دغو فتنو ظاهریدو په وخت کی پخپل منصب باندی صبر و تحمل سره د قائم پاتی کیدو وصیت کوي، نو اوس لږ د غور او فکر نه کار واخلئ ایا

یو معمولي غوندی عقل او فهم والا انسان چی په زړه کی یی د ایمان نور موجود وي هغه دا تصور کولی شي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم یو داسی شخص ته په منصب باندی د قائم پاتی کیدو تاکید کوي کوم چی خپل منصب غلط استعمالوي او مطلوب معیار نه پوره کوي ؟ الله تعالی دی مونږ ته د داسی فکر نه نجات راکړي ، لهذا د انسان کامیابي او نیک بختي دا دی چی د حضرت په عالي شان کی ګستاخي کولو سره خپل عاقبت خراب او برباد نه کړي او د ده په باره کی زړه بالکل صاف او پاک ولري او د ده رضی الله عنه مینه او محبت په زړه کی وساتي ، له ده سره (معاذ الله) بغض او نفرت او د ده په شان کی د ګستاخی نتائج به ډیر خراب وي په یو حدیث کی راخي : "عن جابر رضی الله عنه قال النبی صلی الله علیه وسلم بجنازة رجل لیصلی فلم یصل علیه فقیل یارسول الله مارأینا ترکت الصلوة علی احد قبل هذا قال أنه کان یبغض عثمان فابغضه الله" حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي : چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کی یوه جنازه حاضر کړی شوه چی لمونځ پری وکړي خو رسول الله صلی الله علیه وسلمورباندی لمونځ ونکړ عرض وکړ شو چی یارسول الله تاسو خو مخکی کله داسی ندي کړي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : دی سړي د عثمان رضی الله عنه سره بغض لرلو نو الله تعالی هم له ده سره بغض لري (ترمذي شریف ج ۲ ص ۲۱۲) .

په هر حال د حدیثو مبارکو نه معلومیږي چی عثمان رضی الله عنه به تر آخره پوری په حق باندی قائم وي او د ده شهادت به مظلومانه وي او دا به یو ابتلاء او آزمائش وي ، مګر د مودودي صاحب لنړ نظر دغو مبارکو حدیثونو طرف ته ندی تلی او د ده پشان کی بی بنیاد رنګا رنګ خیانت کریدي چی تاسو ورته لږ وګورئ :

(۱) حضرت عثمان رضی الله عنه ته چی کوم عظیم کار خواله شوی و پده کی هغه صفات او خصوصیات نه وو کوم چی دده جلیل القدر پیشوایانو ته ورکړی شوي وو ، پدی وجه د اسلام په اجتماعي نظام کی دجاهلیت د ننوتو لاره پیدا شوه (تجدید و احیاء دین ص ۲۳ بحواله مودودي مذهب ص ٦٥) .

(۲) لیکن د حضرت عمر رضی الله عنه نه وروسته کله چی حضرت عثمان رضی الله عنه جانشین شو نو رو رو د هغه له پالیسی او طریقی نه واوړیدو او دوی مسلسل په لویو لویو

عهدو باندی خپل رشته داران مقرر کړل او د دی سره داسی مراعاتونه وکړل چی عام طور سره په خلکو کی د اعتراض هدف وګرځید (خلافت و ملوکیت ص ۹۷ بار سوم ۱۹۷۴ء) .

(۳) د حضرت عثمان رضی الله عنه د پالیسی دغه انداز بلاشبه غلط ؤ او غلط کار په هر حالت کی غلط وي که هر چا کړی وي او دغسی غلط خامخا په خبرو سره د صحیح ثابتولو کوشش کول نه د عقل او انصاف تقاضا ده او نه د دین دا مطالبه ده چی د کوم صحابي غلطي دی غلطي ونه ګڼل شي (خلافت و ملوکیت ص ۱۰۷ بار سوم) .

(۴) پدی سلسله کی خاص طور سره دوه شیان داسی ؤ چی ډیر زور او د خطرناکو نتائجو باعث ثابت شو ، یو دا چی حضرت عثمان رضی الله عنه حضرت معاویه رضی الله عنه یې تر ډیری اوږدی مودی پوری د یوی صوبی ګورنر پاتی کړو هغه د عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کی له څلورو کالو نه د دمشق والي ؤ حضرت عثمان رضی الله عنه د ایله نه د روم تر سرحد پوری او د الجزیره نه د بحر ابیض تر ساحل پوری پوره علاقی د ده په ولایت کی راداخل کړی او د خپل خلافت په ټوله زمانه (۱۲) کالو کی د همدی صوبي والي پاتی کړو .... او دویم شی چی لدینه زیات فتنه انګیز ثابت شو هغه د خلیفه د سکرټریټ په اهم پوزیشن (مقام) باندی د مروان بن الحکم مقرر کول ؤ (خلافت و ملوکیت ص ۱۰٦ بار سوم) .

(۵) ماته د دی خبرو په منلو کی یو ذره هم د سوچ کولو ضرورت نشته چی دوی (حضرت عثمان رضی الله عنه) دغه غلطي د نیک نیتی په وجه خپل ځان ته حق په جانب ګڼلو سره ندی کړی ، مګر زه دا خالص غلطي ګڼم او دی لره په اجتهادي غلطي ګڼلو کی ماته سخت فکر پیدا کیږي (اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم ۱ : ۲) .

حضرت معاویه رضی الله عنه او مودودي

حضرت معاویه رضی الله عنه جلیل القدر صحابي دی د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کی پاتی کیدو سره تعلیم او تربیت یې حاصل کړی ، حبر الامت حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما به حضرت معاویه رضی الله عنه د امت په فقهاؤ کی شمیرلو ، لکه چی بخاري شریف کی دي چی یو موقع کی ابن عباس رضی الله عنهما

د حضرت معاویه رضی الله عنه په باره کی وفرمایل : "اصاب انه فقیه" هغه صحیح وبلي هغه خو پخپله فقیه دی (مشکواة شریف ص ۱۱۲) .

په یو روایت کی دوی فرمایي : "دعه فانه قد صحب النبی صلی الله علیه وسلم" (رواه البخاری) یعنی دغه حضرت معاویه رضی الله عنه پخپل حالت باندی پریده خکه چی دی د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په صحبت او ملګرتیا کی پاتی شویدی (مشکواة شریف ص ۱۳) یعنی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه په خصوصي طور سره فیض حاصل کړیدی .

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په صحبت کی دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ارشاداتو کافي ذخیره محفوظ کړیده د حدیثو په کتابونو کی د حضرت معاویه رضی الله عنه (۱٦۳) حدیثونو روایت شویدی چی پدیکی څلور متفق علیه یعنی په بخاري او مسلم دواړو کی شته دی او څلور یواځی بخاري کی دي او پنځه یواځی په مسلم شریف کی دي او باقي د حدیثو په نورو کتابونو کی راغلي دي (تهذیب الاسماء نووي ص ۱۳۳) .

د اسلام راوړلو نه وروسته د حنین په غزا کی نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره شریک شوی دی او د وحي د لیکلو خدمت یی هم کړیدی ، حضرت ابوسفیان رضی الله عنه د رسالت په بارګاه کی حاضر شو او دا درخواست یی وکړ چی : "معاویه تجعله کاتباً بین یدیك قال نعم" یعنی معاویه رضی الله عنه لره خپل کاتب جوړ کړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه درخواست منظور کړ (مسلم شریف ج ۲ ص ۳۰۴) .

حضرت معاویه رضی الله عنه به د وحي د کتابت سره د نبي کریم صلی الله علیه وسلم خصوصي خدمت هم کولو تر دی چی د جعرانه په عمره کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک وېښته هم حضرت معاویه رضی الله عنه کټ کړي و لکه څنګه چی په صحیح مسلم کی دي : "قال ابن عباس : قال لی معاویة اعلمتك انی قصرت من رأس النبی صلی الله علیه وسلم عند المروة بمشقص" ابن عباس رضی الله عنه فرمایي چی حضرت معاویه رضی الله عنه ماته وبلي دي تا ته معلومه ده چی د

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویښته مبارک په مروه کی په قینچی سره ما کټ کړي وُ (مسلم شریف ج ۱ ص ۴۰۸).

د حضرت معاویه رضی الله عنه لوی منقبت دا دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورته خصوصي دعاء کړیده : "اللهم اجعله هادياً مهدياً واهد به" یا الله معاویه هدایت کونکی او هدایت یافته او د ده په ذریعه خلکو ته هدایت نصیب کړی (ترمذي شریف ج ۲ ص ۲۲۵).

ابو ادریس خولاني وائي : "لما عزل عمر بن الخطاب رضی الله عنه عمير بن سعد عن حمص ولى معاوية فقال لاتذكروا معاوية الا بخير فانى سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول اللهم اهدبه" یعنی هر کله چې عمر فاروق رضی الله عنه عمیر بن سعد رضی الله عنه د حمص ګورنرۍ نه معزول او په ځای یی حضرت معاویه رضی الله عنه مقرر کړ (نو خلکو دا خبرې شروع کړی چې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه عمیر رضی الله عنه معزول کړ او معاویه رضی الله عنه یی ګورنر کړ) نو پدی وخت کی عمیر رضی الله عنه وفرمایل : چې تاسو حضرت معاویه رضی الله عنه په نیکی سره یادوئ ځکه چې ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلي دي چې فرمایل یی : "اللهم اهدبه" ای الله د معاویه رضی الله عنه په ذریعه باندی خلکو ته هدایت وکړی (ترمذي شریف ج ۲ ص ۲۲۵).

اویوبل حدیث کې راځي چې نبي کریم ورته دعاوکړ او وی فرمایل : "اللهم علم معاوية الكتاب والحساب وقه العذاب " ای الله معاویه ته حساب او کتاب وښایه او دجهنم له عذاب نه یې وساته ، (الاستیعاب تحت الاصابی ج۳/ ۳۸۱، مجمع الزواید ج۹/ ۳۵٦) بحواله حضرت معاویه اور تاريخي حقايق ص۲۳۰)

مشهور صحابي حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه بیان کوي چې ما دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم نه دابیان اوریدلې دی : " اللهم علمه الكتاب ومكن له فى البلاد وقه العذاب "ای الله حضرت معاویه ته کتاب وښایې او په ښارونو کې ورته ځای ورکړې او له عذاب نه یې بچ کړی"

(مجمع الزواید ج۹/ ۳۵٦ بحواله حضرت معاویه ص۲۳۰)

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم پخپل ژوند کې دحضرت معاویه دامارت اوخلافت پیشنګويي کړې وه او ده ته دعا هم کړې وه لکه څنګه چې له مذکوره حدیث نه ښکاره دی ، او حضرت معاویه رضی الله عنه پخپله هم دابیان فرمايي : چې یو ځل ما دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم لپاره داوداسه اوبه راوړې او هغه اودس وکړاو داودس کولو نه وروسته يې ماته راوکتلې او وې فرمایل : ای معاویه که چېرته تاته امارت حواله کړی شي (او ته امر جوړ کړی شې) نو ته دالله تعالی نه وویرېږه او انصاف وکړه(الاصابی ج۳/ ۴۱۳ مطبوعه مصر)

لدی روایاتو نه صفا معلومیږي چې حضرت معاویه رضی الله عنه ته په نبوي دربار کې کوم مرتبه حاصل وه ؟ او ده سره يې څومره مینه کوله .

همدارنګه په یوبل روایت کې دي چې : نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په سورلی باندی سورشو او حضرت معاویه رضی الله عنه يې ځان پسې شاته کېنولو او لږ وخت وروسته يې وفرمایل :

" ای معاویه ستا له بدن سره زما دبدن کوم حصه لګیدلې ده ؟ دوی ورته وفرمایل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زما ګیډه او سینه ستاسو له مبارک جسم سره لګیدلې ددی په اوریدو سره يې دادعا ورته وکړه "اللهم املاه علما" یا الله دادعلم نه ډک کړی"

(تاریخ الاسلام ازحافظ ذهبي ج۲/ ۳۱۹ بحواله حضرت معاویه ص ۲۳۲)

ددغو خصوصیاتو په وجه باندی ابو بکر صدیق رضی الله عنه پخپل دور کې دوی ته یو جدا او اعلی مقام وزکړی و او حضرت عمر بن الخطاب ورته دشام اونورو علاقو ګورنري ورکړ او دژوند ترپایه پورې يې پدی عهده باندی باقي پریښودو ، او دنیا ته معلومه ده چې حضرت عمر فاروق دخپلو ګورنرانو او والیانو په مقررولو کې ډیر زیات محتاط و ترڅو پورې چې به یو سړي باندی پوره اطمنان نه و حاصل شوی نو دکومې علاقې امیر به يې نه جوړولواو چې څوک به يې ګورنر کړو دهغه به يې پوره نګراني کوله که چېرته یو ذره هم دمطلوب معیار نه کم وختونو فورا به يې معزول (لرې) کولو، نودعمر فاروق رضی الله عنه حضرت معاویه رضی الله عنه لره دشام ګورنر مقررول او د ژوند ترپایه پورې پدی عهده باندی پریښودل داظاهروي چې دده ورباندی پوره او مکمل اعتماد و .

دحضرت فاروق نه وروسته دحضرت عثمان دور راغي ده هم وربانـدی پـوره اعتماد کولو اوپه اهمو کارونو کی به یې ورسره مشوره کوله او دده پـه مشـوره بـه یـې عمـل کولو دوی هم دشام دگورنري په عهده باندی نـه یـواخې برقـرار وسـاتلو بلکـې دده دحسن انتظام او بهتر کار کردگي په وجه شاوخوا نوری لکه اردن ، حمص ، قنسرين او دفلسطين علاقی هم دده دگورنري لاندی داخلی کړی.
دحضرت عثمان رضی الله عنه په دور کی معاويـه رضـی الله عنـه ډيـر زيـات فتوحـات کړيدي، دده دغزاگانو پیشنگوئي (وړاندوينی) دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم په ژبـه له پخوا نه شوی وی ، په حدیث کی راخي حضرت ام حـرام رضـي الله عنـه فرمـايي چی نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي : " اول جيش يغـزون البحر قـد اوجبوا"يعنی زما دامت رومبنی لښکر کوم چی به بحري جنگ کوي هغـو ځـان لپـاره جنت واجب کړو ، (بخاري ص ٤١٠ ماقيل فی قتال الروم کتاب الجهاد)
په بل روايت کی حضرت انس رضی الله عنه فرمايي : چی يو ځل رسول اکـرم صـلی الله علیه وسلم د ام حرام رضی الله عنها کورته تشريف يووړ او ويـده شـو او چـی کلـه راويښ شو نو موسکی شو ام حرام رضی الله عنها دخنـدا او موسـکا وجـه وغوښتـو نـو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمايل : " ناس من أمتي يركبون البحر الأخضـر فی سبيل الله مثلهم مثل الملوك على الأسرة فقالت يارسول الله أدع الله ان يعاني منهم قال اللهم اجعلهامنهم ، الخ "يعنی زما دامت څه کسان بـه دالله پـه لاره کـې دسمندر په جهازونو باندی داسې سواره وي لکه بادشـاهان چـی پـه تختونـو بانـدی ناست وي ، حضرت ام حرام رضی الله عنها عرض وکـړ يارسـول الله دعـا راتـه وکـړئ چی الله تعالی ما هم پـه دوی کـی شـامل کـړي ، رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم دعاوکړه چی یا الله دوی هم په هغوکی شامل کړئ الخ .
(بخاري شريف ج۱/ ٤٠٢ باب غزوة المرأة فی البحر كتاب الجهاد)
دغه غزا کومه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته دجنـت بشـارت (خوشـخبري) ورکړی دحضرت معاويه رضی الله عنه قيادت او مشري لاندی شويده ، لکه څنگه چـی امام طبري ليکي : حضرت معاويه رضی الله عنه په ۲۸ هجري کـال بانـدی پـه قبـرس رومبی بحري حمله وکړه او قبرص يې فتح کړ او پـدی غزاکـی لـه ده سـره دحضـرت

عباده بن الصامت رضی الله عنه محترمه بـی بـی حضرت ام حـرام رضـی الله عنهـا (دچالپاره چې محمد صلی الله علیه وسـلم دشـرکت دعـا کـړی وه) حضـرت مقـداد ، حضرت ابو الدرداء او حضرت شداد بن اوس رضی الله عنهم پشان لوی صـحابه کـرام هم شریک وو (طبري ج۳/ ۲۱۵)

عرض داچې دوی لوی لوی خدمتونه کړیدي ، او بل هغـه وخـت هـم راغـی چـې د حضرت علی کرم الله وجهه له شهادت نه وروسته حضرت حسن رضـی الله عنـه ورسـره صلح وکړه او دوی پدی وخت کی دیو وسیع مملکت خلیفه تسلیم کـړی شـول پـدی طظیقه ټول امت دده دجنډی لانـدی جمـع شـو ، او حضـرت حسـن رضـی الله عنـه ۱۹_۲۰ کاله دده په خلافت کی پاتې شو او دحضرت معاویه له طرفه یې کلنـی وظیفـه قبوله کړه ، سیدا شباب اهل الجنت دحضـرت حسـن او حسـین رضـی الله عنهمـا دده خلافت قبلول او دده په خلافت کی اوسیدل دحضـرت معاویـه دخلافـت دحمـوالي زبردست شهادت دی .

دالله تعالی ویره :

په ترمذي شریف کی دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چې په قیامـت کـی بـه درې کسان پیش کړی شي دقران عالم ، مالدار سړی او دالله په لاره کې قتل شوی او په آخر کی دریا کاري په وجه دوی به جهنم ته لیـږل شـي چـې ددوی دغـه کـار الله تعالی لپاره نه بلکی دنیاوي شهرت لپاره و ، کله چې دده په وړاندی دغه حدیث بیـان کړی شو نو دوی په چیغو وژړل ملګرو پری ګمان وکړ چې مړکیږي او بیا چې په هوش کی راغلل نو دغه آیت یې تلاوت کړ.

(من کان یرید الحیواة الدنیا وزینتها نوف الیهم اعمـــالهم فیهــا وهــم فیهــا لایبخسون اولئك الذین لیس لهم فی الاخرة الا النار وحبط ماصنعوا فیها وباطل ماکانوا یعملون)

یعنی خوک چې ددنیوي ژوند او ددی دزیـب وزینـت طلبګـار وي نـو مونـږ بـه ورتـه دتملونو پوره پوره بدله پدی دنیا کی ورکړو او هیڅ کمـی نـه پکـی کیـږي او داهغـه خلک دي چې په آخرت کی ورته هـیڅ برخـه نشـته سـیوا د اور نـه او کـوم چـې پـه دنیاکی څه کړی و هغه ټول تباه او برباد شول .

ساد ګي او پرهيز ګاري :

کله چې دی دټول دنیا امير المومنين و نو په هغه وخت کی دحضرت فاروق اعظم پشان دده په کپړو کی پیوندونه لګیدلي و اوپدی شکل کی ددمشق په بازارو کی ګرځیده ، یوس بن میده فرمايي : ماحضرت معاويه ددمشق په بازار کی وليد چې په ګريوان باندی يې پیوند لګیدلی و ، (البداية ج۸/ ۱۳٤) ابو حمله فرمايي : ماحضرت معاويه دخطبی ورکولو په وخت کی وليد چې په کپړو کی يې پیوندونه لګیدلي وو (البدایه ج۸/ ۱۱۳)

عدل او انصاف :

حضرت سعد بن وقاص رضی الله عنه دهغو خوش قسمتوڅخه دی دکومو لپاره چې په دنیاکی دنبوت په ژبه دجنت خوشخبري ملاو شويده ، دی فرمايي : "مارأيت احداً بعد عثمان اقضى بحق من صاحب هذا الباب "يعنی ما دحضرت عثمان نه وروسته لدی دروازی والا (يعنی حضرت معاويه) نه زيات په حق باندی فيصله کوونکی څوک ندی ليدلی . (البداية ج۱/ ۱۲۳)

دامام اعمش رحمه الله په وړاندی دعمر بن عبدالعزيز عدل وانصاف ذکر کړی شو نو وی فرمايل : " فکيف لو ادرکتم معاوية قالوا في حلمه ؟ قال بل فی عدله" يعنی که چېرته تاسو حضرت معاويه ليدلی وای نو بيا به مو ورته کتلی وای ، خلکو وويل چې دهغه بردباري هغه وويل نه بلکی دهغه عدل او انصاف به مو ليدلی وای .

(منهاج السنة ج۳/ ۱۸۵)

دحضرت قبصه بن جابر قول دی : " ما رأيت احدا اعظم حلماً ولا اكثر سود داولا ابعد اناءة ولا الين مخرجاً ولا ارحب باعاً بالمعروف من معاويه"يعنی ما داسې څوک بني آدم ندی ليدلی چې دحضرت معاويه رضی الله عنه نه زيات بردبار لدينه د سيادت زيات لائق لدينه زيات باوقار او ډير نرم او دنيکي په معامله کې لدينه زيات فراخه لاسونو والا وي .(البداية ج۸/ ۱۳۵، تاريخ الخلفاء ص۱٤۹ مطبوعه کراچي)

دحضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله نه تپوس وشو چې : "ایهما افضل مغاويـــة او عمر بن عبد العزيز ؟ فقال والله لغبار الذی دخل انف فرس معاويه مع رســـول الله صلی الله عليه وسلم خير من مائة واحد مثل عمر بن عبد العزيـــز" يعنـی پـه حضرت معاويه رضی الله عنه او عمر بن عبد العزيز رحمه الله کی کوم بهتر دی ؟ عبد الله بن مبارک رحمه الله ځواب ورکړ چی په الله قسم هغه ګرد و غبـار چــی د رسـول الله صلی الله عليه وسلم په ملګرتيا کی د حضرت معاويـه رضـی الله عنـه د آس پـوزی کی ننوتی هغه د عمر بن عبد العزيز نـه پـه ډيـرو درجـو بهتـر او افضـل دی (فتـاوی حديثيه ص ۲٦١) .

يو سړي معاني بن عمران ته وويل : په عدل و انصاف کی عمر بن عبد العزيز د حضرت معاويه رضی الله عنه سره څه نسبت دی ؟ نو دوی ته غصه ورغله او وی فرمايـل : چـی د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم په صحابه کرامو رضی الله عنهم باندی بل څوک نشي قياس کولی او حضرت معاويه رضی الله عنـه خـو د نبـي اکـرم صـلی الله عليـه وسـلم صحابي دی او هم يی اوښی (د ښځی ورور) او هم يی په الهي وحي باندی امـين او کاتب دی (شميم الرياض ترجمه شفا قاضي عياض ج ۲ ص ٥٦) .

علامه شهاب الدين خفازي رحمه الله فرمايي :

ومن يكون يطـــعن فی معاوية

فذاك كلب من كلاب الهادية

يعنی څوک چی په معاويه رضی الله عنه باندی طعن کوي هغه د جهـنم د سـپو نـه يـو سپی دی (شميم الرياض) .

ابراهيم بن سعد جوهري رحمه الله وايي : ما د حضرت ابوامامه نـه تپـوس وکـړ چـی حضرت معاويه رضی الله عنه او عمر بن عبد العزيز رحمه الله دواړو کی کوم يـو افضـل او بهتر دی ؟ نو هغه وفرمايل : "لانعدل باصحاب محمد صلی الله عليه وسلم أحداً" مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو رضی الله عنهم سره هيڅوک نه برابرو افضل او بهتر کيدل خو ډير لری خبره ده ؟ (الروضة الندية شرح العقيـــدة الواسطية ص ٤٠٥ لابن تيميه ، مقام صحابه ص ۲۹) .

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکي :

الجواب : په حدیث کی راځي : "لاتسبوا اصحابی فلو أن احدکم انفق مثل احد ذهباً ما بلغ مدّ احدهم ولانصیفه" متفق علیه او په حدیث کی راځي : "اکرموا اصحابی فانهم خیارکم" رواه النسائی ، او په حدیث کی راځي : "لاتمس النار مسلماً رأنی او رأی من رأنی" رواه ترمذي ، او په حدیث کی راځي : "فمن احبهم فبحبی احبهم ومن ابغضهم فببغضی ابغضهم" رواه الترمذي ، او حضرت سفیان او حضرت معاویه رضی الله عنهما یقیناً صحابه دي پدی وجه ذکر شوي حدیثونه دوی ته هم شامل دي نو د دوی احترام او محبت واجب دی او دوی ته بدرد ویل او بغض او نفرت ورسره کول یقیناً حرام دي او له دوی نه چی کوم څه منقول دي که صحیح ومنل شي هم نو پدی باندی د دوی نیکئ بلکی یواځی د صحابي توب یو صفت هم غالب دی لکه چی نبوي صلی الله علیه وسلم ارشاد : "فلو ان احدکم الخ" وربانـدی دلالت کوي او په همدی بناء باندی "لاتمس النار" فرمایلي دي نو کومه وسوسه چی بی اختیاره په زړه کی پیدا شي هغه معاف ده او کومه عقیده چی اختیاري وي دهغه اصلاح واجب ده او کوم سړی چی قصداً بدګماني یا بد زباني او یا بغض او نفرت ساتي نو هغه خامخا د نبوي احادیثو نه مخالف او د اهل سنت والجماعت نه خارج دی لکه څنګه چی د اهل سنت له کتابو نه ظاهر دي پدی وجه د هغه امامت هم مکروه دی او د هغو سره بغیر د ضرورت نه ناسته ولاړه منع ده ، "فی شرح العقائد النسفیة وما وقع بینهم من المنازعات والمحاربات فله محامل وتأویلات فسبهم والطعن فیهم ان کان مما یخالف الادلة القطعیة فکفر کقذف عائشة رضی الله عنها والافبدعة وفسق" (فتاوی اشرفیه ص ٤١ ، ٤٢ حصه دوم) .

یعنی کوم جنګ جګړې چی د صحابه کرامو رضی الله عنهم تر منځ واقع شویدي هغه څه وجه او تاویل لري نو دوی ته بد رد ویل او داسی طعن وربانـدی لګـول چـی د قطعي دلائلو نه مخالف وي دا کفر دی لکه حضرت عائشه رضی الله عنها ته کنځل کول او که نه فسق او بدعت دی .

د حضرت معاویه رضی الله عنه په باره کی د علماء حق دغه بیانات دي لیکن مودودي صاحب بالکل بی بنیاده خبرې دوی ته منسوب کړي او د دوی د مرتبی کمولو ناکام کوشش یې کړیدی لکه چی دوی لیکلي دي :

(۱) او یو بل نهایت ناکاره بدعت د حضرت معاویه رضی الله عنه په زمانه کی دا شروع شو چی دی پخپله او د ده په حکم سره والیانو په خطبو کی د منبر په سر حضرت علي رضی الله عنه ته کنځل او بدرد ویلي تر دی چی مسجد نبوي کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په منبر نبوي روضه ته بالکل مخامخ د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم محبوب ترین عزیز ته کنځلی کیدلې او د علي رضی الله عنه اولادونو او قریب ترین خپلوانو پخپلو غوږو اوریدلي ، د مرګ نه وروسته چاته کنځل کول شریعت خو پریده د انساني اخلاقو نه هم خلاف ده او خاص طور سره د جمعی خطبه پدی ګندګي سره ککړول د دین او اخلاقو په لحاظ سره هم ډیر ناکاره او پریوتي عمل وْ[1] (خلافت و ملوکیت ص ۱۶۲) .

(۲) د مال غنیمت په تقسیم کی هم حضرت معاویه رضی الله عنه د کتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم د صریحي احکامو نه خلاف ورزي وکړ ، د کتاب او سنت په رڼا کی غنیمت د ټول مال نه پنځمه حصه بیت المال کی داخل پکار دي او پاتی څلور حصی په هغه فوځ باندی تقسیمولی شي کوم چی په جنګ کی شریک وي . لیکن حضرت معاویه رضی الله عنه حکم وکړ چی د غنیمت له مال نه دی سره او سپین زر د ده لپاره وویستلی او بیل کړی شي او باقي مال دی د شرعي قاعدی مطابق تقسیم کړی شي (خلافت و ملوکیت ص ۱۶۲ بار سوم) .

(۳) د زیاد بن سمیه استلحاق هم د حضرت معاویه رضی الله عنه د هغو افعالو څخه دي په کومو کی چی ده سیاسي اغراضو لپاره د شریعت یوی اتفاقي قاعدی نه خلاف ورزي کړی وْ (خلافت و ملوکیت ص ۱۶۲) .

(۴) حضرت معاویه رضی الله عنه خپل والیان (ګورنران) د قانون نه بالاتر وګڼل او د دوی په ظلم زیاتي باندی د شرعي احکامو مطابق کاروائي کولو نه صفا انکار وکړ (خلافت و ملوکیت ص ۱۶۳) .

---

[1] .. دا په حضرت معاویه رضی الله عنه باندی سراسر بهتان دی او کومی حوالی چی پدی ورکړی شوي دي هغه ټولي غلطي دي تفصیل لپاره ماهنامه الفرقان جون ۱۹۷۹ء مطابق رجب ۱۳۹۹ھ جلد نمبر ۴۷ شماره نمبر ٦ .

(۵) دغه ټوله کاروائي ګویا د دی خبری عملاً اعلان ؤ چی اوس د ګورنرانو او سپه سالارانو د ظلم بالکل آزادي ده او په سیاسي معاملو کی هغه د شریعت د کوم حد پابند ندی (خلافت و ملوکیت ص ۱٦۱).

(٦) حضرت معاویه رضی الله عنه پخپل دور حکومت کی مسلمان د کافر وارث وګرځولو او کافر یی د مسلمان وارث ونه ګرځولو ، چی عمر بن عبد العزیز په راتګ سره دغه بدعت بند شو (خلافت وملوکیت ص ۱٦۱).

(۷) د یزید ولي عهد جوړولو لپاره ابتدائي تحریک د کوم صحیح جذبی په بنیاد سره نه ؤ شوی بلکی د یو بزرګ (حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه) د ذاتي مفادو په درخواست سره دغه تجویز پیدا شوی ؤ او دغو دواړو صاحبانو دیته ونه کتل چی دوی په دی شکل امت محمدي صلی الله علیه وسلم سره په کومه لاره روانول غواړي (خلافت و ملوکیت ص ۱۴۱).

(۸) پدی باندی حضرت معاویه رضی الله عنه وفرمایل " تر اوسه پوری ما تاسو معاف کولئ اوس زه په قسم خوړلو سره وایم چی که چیرته په تاسو کی چا زما دخبری په ځواب کی یو لفظ هم وویلی نو د هغه د ژبی څخه به د دویم لفظ وتلو نوبت نه راځي لدینه مخکی به ورته په سر توره رسیدلي وي (خلافت و ملوکیت ص ۱۴۴).

نور هم ډیر زیات بازاري الفاظ کوم چی نن صبا خواهش پرست سیاستدانانو لپاره استعمالولی شي د حضرت معاویه رضی الله عنه په باره کی لیکلي دي ، د خلافت و ملوکیت د دغو صفحو له مطالعه کولو نه وروسته سړي ته داسی احساس کیږي چی مودودي صاحب حضرت امیر معاویه رضی الله عنه لره د اوسنی زمانی پشان یو نفس پرست ، موقع پرست ، ابن الوقت او یو چالاک سیاسي سړی ګڼي (معاذ الله ثم معاذ الله).

مودودي صاحب چی حضرت امیر معاویه په باره کی څه لیکلي حق پرستو علماو دهغو جوابونه ورکړیدي او حقیقت یې واضحه کړیدی ، تفصیلي جوابونو لپاره دی دغه کتابونه وکتلی شي .

۱_ اظهار حقیقت به جواب خلافت وملوکیت دحضرت مولانا محمد احساق صدیقي صاحب تصنیف .

۲_ حضرت معاویه اوتاریخي حقائق دمولانامحمد عثماني زید مجده تصنیف ، او نور ،

مودودي صاحب اوس په دنیاکی ندی پاتې پـدی وجـه دبعضـې خلکـو خيـال دادی چې دده دوفات نه وروسته په ده باندی تنقید او تبصره کولو نه دی خود داري وکړی شي ځکه چې حکم دادی چې.دمړو بدي باید بیان نکړی شي بلکـې ددوی مـدح او تعریف وکړی شي دهغوی داوینا پخپله هغوی باندی حجت دی ځکه چـې مـودودي صاحب هم په بعضو مقدسو اشخاصو باندی تنقیدونه کړي کوم چـې الله تعـالی ځانته بللي دي ، که چېرته حق پرست علماؤ په مودودي صاحب بانـدی څـه ولیکـي داخـو نشي برداشت کیدی او مودودي صاحب چې صحابه کرامو او اسلاف عظامو پسې څه لیکلي هغه ټول برداشت کړی شي آخر اسلامي غیرت چېرته لاړ ؟ او دصحابه کرامو او مشرانو محبت کوم ځای دفن شو ، او زمونږ خیال خو دادی چې ددوی دامطالبه ډیر نامناسب او دغلط سوچ نتیجه ده ځکه چې دمودودي صاحب په ذات باندی تنقید نه مخکې و او نه اوس دی .

که چېرته بالفرض والتقدیر دشمني وای نو دهغه په وفـات کیـدو بانـدی خوشـحالیدل څه دعقلمندي خبره نده .

مرا بمرگ عدو جای شادماني نیست ـــــــ که زندگاني مانیز جاوداني نیست

تنقید دهغه فکر ، فاسده عقیده او گمراه کن لیکنو باندی دی کوم چـې داهـل سـنت والجماعت نه مختلف دیو مستقل مکتب فکر شکل اختیار کړیدی او دده دغـه سـرمایه په سیند ندی لاهـو کـړی بلکـې دده دغـه زهریلـه لیکنـې او خیـالاتو خپلـو نکـې او خوږونکی موجود دی او دده نائبین او صفیه والا دغه ټولې خبرې حق گڼـې او ددی په تبلیغ او اشاعت کی سر گرم عمل دی.لهذا څو پوری چې ددی مړلاش او چتـونکې اوګرځوونکی موجود وي متوازن او منصفانه تنقید کول قابل دطعـن او دتشـینع نـدی بلکې ضروري دی .

او دبعضو حضراتو خیال دادی چې مونږ یواځې دمودودي صاحب دتحریک حمایـت کوو او دده دفکرونو او خیالاتو سره زمونږ اتفاق ضروري ندی ، داهم یو قسـم مغالطـه یعنې دوکه ده که حقیقت همداوي نو کله چې دمودودي صاحب په افکارو او زهریلـه لیکنو باندی تنقید کولی شي او دده گمراهي بنکاره کولې شي نو بیا دده هـم خیـال او هم فکر ولې سوخیږي دده له طرفه دفاع ولې کوي ، حقیقت دادی چې دهـیڅ یـو تحریک دباني نظریات او افکار نظر انداز کـولې نشـي بلکـې دهغـه نظریـات او افکـار دتحریک اصلي روح وي . دمودودي صاحب په قول چې : " کـوم تحریـک دبـاني او

لیډر عقائد او نظریات په هیڅ حالت کی نشي نظر انداز کیدی اوپه حقیقت کی همدغه شئ د تحریک روح روان دی ." (ازماهنامه الفرقان ص۱۱۹ خاکسار تحریک نمبر ۱۳۵۸ ھ)

ویل کیږي چی هغه ډیر زیات ذهین او عقلمند ومونږ هم دده دذهانت او زیر کتیا نه انکار نه کوو مګر ذکي اوعقلمند کیدل داهل حق کیدو دلیل نه دی په حدیث کی راځي : "یقال للرجل ما اعقله وما اظرفه وما اجلده وماڼ قلبه مثقال حبة من الایمان"(بخاري شریف بحواله مشکواة شریف ص٤٦١ کتاب الفتن فصل اول)

یعنی داسې هم کیږي چی دیو سړي له نمائشي خبرو نه خلک دومره پورې متاثر کیږه چی په تعجب سره وایي : څومره لوی عقلمند دی څومره ذهانت لري او څه ښه سخن شناس دی او څومره زړه ور دی ، او حال داوي چې دهغه په زړه کی د ذره برابر ایمان نه وي .

داهم ویل کیږي چی ددوی مطالعه ډیره زیاته وسیع ده او دینسي معلومات یي ډیر زیات وو ، مونږ منو چی دهغه مطالعه وسیع ده ، لیکن که چیرته دهغه علم صحیح وای نو دسلف صالحینو اوداهل سنت والجماعت نه به يې خلاف نه کولو او دشیعه ګانو حمایت به يې نه کولو ، دفقه اوشرعي علمونو کتابونو پورې به یې خندانه کوله اود صحابه کرامو رضی الله عنهم غوندی پاکو اشخاصو باندی به يې طعن او تنقید نه کولو ، او دمقدمینو په خدمتونو باندی به يې جرح نه کولو اوبدی به يې نه بیانولو او ددی حدیث به مصداق نه جوړیدو . " دامت وروستنی خلک به په مخکنو باندی ازادانه تنقید او لعنت او ملامتیا شروع کړي "لهذا په حقیقت کی داعلم ندی جهالت دی ، اوپه حدیث کی راځي چی: " ان من العلم لجهلاً "یقیناً بعضی علم جهالت وي .

شیخ سعدي رحمه الله فرمایي : " علمیکه ره بحق ننماید جهالت است" یعنی کوم علم چی دحقی لارې ښودنه ونه کړي هغه علم ندی بلکې جهالت دی .

ویل کیږي چی دمودودي صاحب لیکنو او کتابو څخه خلکو ته خاصکر دنوي نسل هغو ځوانانو ته چی جدید تعلیمونه يې کړیدي دوی ته ډیره دیني فایده رسیدلی ، او پدی طظیقه هغوی داسلام ډیر لوی خدمت کړیدی ، مونږه هم لدینه انکار نه کوو چی خدمت يې کړیدی مګر دوی چی دانبیاو کرامو کوم تنقیص کړی او په صحابه

کرامو رضی الله عنهم باندی چی کوم تنقیدونه کړیدي پدی سره یې ټول خدمتونه هبآ ء منثورا (تباه وبرباد) شویدي .

چون خدا خواهد که پرده کس درد ــــــ میلش امرر طعنه پاکان برد

یعنی الله تعالی چی چاڅره بی پرده کول غواړي نو هغه پاکو خلکو پسې طعن او خبری شروع کړی ، او لدی سره سره درسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مبارک ارشاد هم نظر لاندی ونیسئ چی فرمایي : " ان الله یؤید هذا الدین بالرجل الفاجر" یعنی الله تعالی ددی حق دین تائید لکه دیو فاسق او فاجر سړي سره هم کوي.

(مشکوات شریف ص۵۳۴ باب فی المعجزات)

او مونږه داهم منو چی دده لیکنو څخه جدید تعلیم یافته طبقی ته فایده رسیدلې ده مګر لدی سره سره دهغوی په زړونو کی چی دانبیاء علیهم الصلواة والسلام اودصحابه کرامو رضی‌الله عنهم اوسلف صالحینو کوم عزت او احترام کیدل پکار و هغه ندی پاتی شوی ، او ددغو حضراتو نه کوم چی دمودودي صاحب مداحان او تعریف کونکی دی زمونږ یو درخواست دی چئ په تنهایي کیني او فکر او سوچ وکړئ . (۱) ایا په جماعت اسلامي کې له شمولیت نه مخکې هم دصحابه کرامو رضی الله عنهم او خصوصاً دحضرت عثمان او حضرت معاویه رضی الله عنهما په باره کې تاسو دغسې بدګمانه وئ لکه اوس چې یئ ؟

۲ـ دامت دعلماو په باره کی چی کومه بدګماني اوس تاسو لرئ ایا دجماعت اسلامي سره هم خیال کیدونه مخکې هم و ؟ که چیرته ددی جواب نفی سره وي او یقیناً چی نفی سره به وي ، نو بیا غور او فکر وکړئ چی ددی لیکنو نه تاسو ته کوم فایده شوه اویا بل څه ؟

دانسان کامیابي او نیک بختي پدیکی ده چی خپل زړه دهر قسم بدئ او بدګمانئ څخه پاک او صاف کړي او په زړه کی دانبیاء کرامو او صحابه کرامو او سلف صالحینو سره محبت او عظمت پیداکړي.

یا الله ماته او زما ټولو دوستانو ، خپلوانو او ټولو مسلمانانو ته په صراط مستقیم باندی قائم دایم وساتي او درسول مقبول صلی الله علیه وسلم او دده دټولو اهل بیتو او اصحابو کامل محبت عطا کړي او له دوی سره مو حشر وکړځوي.

آمین بحرمة سید المرسلین صلی الله علیه وسلم وصلی الله علی خیر خلقه محمد واله واصحابه وازواجه واهل بیته واهل طاعته اجمعین برحمتك یا ارحم الراحمین .
فقط والله اعلم بالصواب وعلم اتم احکم . ۱ربیع الاول ۱۴۰۰ ه.

د " تنقید انبیاء و طعن صحابه کا شرعی حکم " رسالی په باره کی د مفتیانو حضراتو او علماء کرامو آراء او نظریات

(۱) زما محترم استاذ حضرت العلام مولانا محب الله صاحب دامت برکاتهم سابق شیخ الادب والتفسیر مدرسه جامعه حسینیه راندیر ، سورت .
محترما! ځو ورځي وړاندی " تنقید انبیاء و طعن صحابه کا شرعی حکم " عنوان لاندی رساله راته ورسیده څه بهترین خواب دی ، د ډیر شاباسي ورکولو لپاره می زړه غواړي . فقط ، بنده محب الله ، ۱٦ فروري ۱۹۸۱ء بنګله دیش .

(۲) حضرت العلام مولانا مفتي نظام الدین صاحب دامت برکاتهم مفتی دار العلوم دیوبند

مکرمنا المحترم زاد مجدکم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته،
پدی وخت کی ستاسو د مهربانی نه دوه رسالی " تنقید انبیاء و طعن صحابه کا شرعی حکم " او " تفسیر بالرأی کا شرعی حکم " په نومونو سره راته رسیدلي د زیات تفصیل او اختصار نه محفوظ بالکل معتدل او داسی صفائی سره او مدلل او مکمل طریقی سره لیکل شوي چی پخپل موضوع کی بالکل مثال او نمونه دی د شروع کولو نه وروسته ځو پوری چی می پوره نه و لوستلی پریښودلو ته می زړه نه کیده الله تعالی دی قبول او منظور کړي او خلکو ته دی ورباندی عام و تام فایده ور په برخه کړي ، آمین .
بنده نظام الدین دار العلوم دیوبند ۱۴۰۱/۳/۲۴ه.

(۳) حضرت مولانا مفتي يحيى صاحب دامت برکاتهم صدر مفتي مدرسه مظاهر علوم سهارنپور

محترم المقام زیدت معالیکم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د حضرت دویم تالیف " تنقید انبیاء .... په دوه مجلسونو کی می واوریدو اوس ختم شو ، د دی د اوچتو مضامینو ، مقدسو آیتو ، مبارکو احادیثو او د پاکو اشخاصو اوچتو مقامونو ښخه واقفیت وشو کوم چی پدی کتاب کی ذکر شویدی او په سر یی کینولی اوډ گستاخي کونکو نه سخت نفرت وشو ، الله تعالی دی مونږ قبر ته رسیدو پوری صراط مستقیم باندی قائم وساتي او ستاسو درجات دی الله بلند کړي .

ففط والسلام خیر ختام ، محتاج دعاء ، یحیی غفر له ، ۳ ربیع الثاني ۱۴۰۱ھ

(۴) حضرت مولانا مفتي محمد ظفير الدين صاحب دامت برکاتهم

مرتب فتاوی دار العلوم مکمل ومدلل

حضرت المحترم مفتي صاحب زید مجدکم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د جناب لیږلی شوی رساله " تنقید انبیاء و طعن صحابه کا شرعی حکم " اوس یو طالب راته راکړه په یو ځل می ټول ولوست ، ماشاء الله تاسو محترم پدی وړه رساله کی هغه ټول مواد جمع کړي کوم چی هره ورځ ورته ضرورت پیدا کیږي تاسو خو په اصل کی د استفتاء ځواب لیکلی مګر پدیکی مو خپل ټول معلومات یوځای جمع کولو کوشش کړیدی ، جزاک الله خیر الجزاء ، کله مو چی فتاوی رحیمیه اولنی جلد لیږلی ؤ د هغه د مطالعی نه وروسته ستاسو پوره معتقد جوړ شوی یم ، او د دغه فتوی په لوستلو سره دغه اعتقاد نور هم اضافه شوه ، الله تعالی له تاسو نه د علم او د دین زیات نه زیات خدمت واخلي او د صحت او سلامتي سره دراز عمر درنصیب کړي ستاسو علم ډیر ژور دی د کوم چی نن صبا ډیر کمی دی ، د رسالی په لوستلو سره دومره زیات خوښ شوم چی بی اختیاره د دی خو کرښو په لیکلو باندی مجبوره شوم ، په آخره کی د دی خدمت درته بیا مبارکي درکوم الله تعالی دی ستاسو خدمت قبول کړي .

طالب دعاء محمد ظفیر الدین غفر له ، دار العلوم دیوبند شپه ۲۲ /۱۴۰۱/۳ھ

(۵) حضرت علامه رفيق احمد صاحب مد ظله العالی

سابق شيخ الحديث مدرسه مفتاح العلوم جلال آباد ضلع مظفر نگر يو ، پي

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد :

د گجرات په سفر کې یوه رساله " تنقید انبیاء و طعن صحابه کا شرعی حکم " په نوم مولانا موسی کرماډي راته وښوده او دوه درې ځای می سرسري وکتو حضرت مفتي سید عبد الرحیم صاحب مدظله د شان او فقاهت مونږ ته وړاندی نه معلوم دی مګر د دی رسالی د قوي دلائلو او د بیان د سنجیدګی نه بی حده متاثره شوم ، الخ .

مولانا علامه رفیق احمد صاحب مدظله

(٦) حضرت مولانا محمد هاشم بخاري دامت برکاتهم

استاذ حديث دار العلوم ديوبند

محترم سیدی حضرت مفتي صاحب دامت برکاتهم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

پدی عمر او کمزوري حالت کې تاسو ډیر یو عجیب وغریب کتاب لیکلی دی چې مودودي جماعت لپاره لاځواب دی الله تعالی دی ستاسو په عمر کې برکت کړي ستاسو سوری دی تر ډیری زمانی پوری قائم ولري او امت ته دی د استفادی موقع نصیب کړي ، آمین .

طالب دعاء محمد هاشم بخاري دار العلوم ديوبند ۱۴۰۱/۳/۲۳ھ

(۷) جناب مولانا قمر الدين صاحب بړودوي زيده مجده

ناظم اعلی اصلاح المسلمين بړوده

بخدمت گرامي محترم مفتي صاحب زيدت معاليکم السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

د سلام نه وروسته د سوال سره اړوند موضوع باندی لیکل شوی کتاب د خپل جامعیت او حسن طباعت په اعتبار سره لاځواب دی ، مودودي صاحب پنه باره کې چې کوم خلک مذبذب شوي د دی کتاب له مطالعی نه وروسته د صحیح فیصلی لپاره به ورته لاره پیدا شي او هغو لپاره به د زړه د اطمئنان باعث وګرځي ، الله تعالی دی ستاسو دغه عظیم خدمت او کوشش قبول کړي او مخلوق ته د دی فایده ورسوي ، آمین .

والسلام قمر الدين محمود ناظم اعلی اصلاح المسلمين بړوده ۱۴۰۱/۳/۲۳ھ

صحابه کرام رضی الله عنهم معیار حق دي :

(سوال) محترم مفتیان صاحبان پدی مسئله کی څه فرمايي چی صحابه کرام رضی الله عنهم د حق معیار دي او که نه ؟ د مودودي جماعت دوی د حق معیار نه مني ، او سوال دا دی چی د صحابه کرامو رضی الله عنهم د حق معیار کیدو څه معنی ده ؟ که چیرته صحابه کرام رضی الله عنهم دحق معیار دي نو دلائل يې څه دي ؟ تفصیل سره بیان کړئ مهرباني .از باره مولا کشمیر

بسم الله الرحمن الرحیم

ځواب : حامداً ومصلیاً : صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین د حق معیار دي د دی مطلب دا دی چی د دوی اقوال او افعال د حق و باطل محک (کسوټي) دي دغو حضراتو چی څه فرمایلي دي او یا یې کوم دیني کار کړی هغه ځمونږ لپاره د لاری مثال ، حجت او د فلاح ذریعه دي . او د دوی د حق معیار کیدو دلائل بې شمیره دي: په قرآن کریم کی فرمايي : "ومن یشاقق الرسول من بعد ما تبین له الهدی ویتبع غیر سبیل المؤمنین نوله ما تولی ونصله جهنم وساءت مصیراً" ترجمه : او څوک چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخالفت وروسته له هغه وکړي چی حق ورته ظاهر شي او د مسلمانانو نه غیر بله لاره غوره کړي نو مونږ هم ده لره څه چی کوي آزاد پریږدو او بیا یې جهنم ته داخلوو او دا ډیر بد ځای د ورتلو دی .

حضرت شاه عبد العزیز محدث دهلوي رحمه الله فرمايي : معلوم شده که خلاف راه مؤمنان اختیار نمود و مؤمنین در وقت نزول این آیت نبودند مگر صحابه (تحفه اثنا عشریه ص ٦٠٠) .

یعنی معلومه شوه څوک چی د مؤمنانو نه علاوه بله لاره غوره کړي هغه د دوزخ مستحق دی او د دی آیت د نازلیدو په وخت کی مؤمنان یواځی صحابه کرام وُ .

لدینه واضح شو چی د صحابه کرامو رضی الله عنهم طریقه د حق او د هدایت طریقه ده او دوی مونږ لپاره نمونه دي لهذا د دوی له طریقی نه چی څوک خلاف کوي هغه گمراه کیږي

قرآن کریم کی بل ځای فرمائي : "هوالذی یصلی علیکم وملائکته لیخرجکم من الظلمات الی النور" الله تعالی او د ده فرشتې په تاسو باندی رحمتونه لیږي تر څو الله تعالی تاسو له تیارو نه رڼائي طرف ته وباسي .
حضرت شاه عبد العزیز صاحب رحمه الله فرمائي : " مخاطب به این صحابه اند و هر که تابع ایشان شد نیز از ظلمات بر آمد ..... الخ " (تحفه اثنا عشریه) .
یعنی د دی آیت مخاطبین صحابه کرام رضی الله عنهم دي (چی الله تعالی د تیارو نه ویستلي دي) او څوک چی د دوی پیروي وکړي هغه هم له تیارو نه وځي ځکه چی دا خبره ظاهره ده څوک چی په توره شپه کی له رڼا سره وځي نو څوک چی ورسره ملګری وي هغه هم د تیارو نه خلاصیږي ، معلومه شوه چی څوک دصحابه کرامو په لاره ځي هغه کامیابیږي او څوک چی ذره برابر ددوی له لارې نه واوړي ګمراه کیږي

په قرانکریم کی یو ځای کی دصحابه کرامو په باره کی فرمایي: (واولئك هم المفلحون) یعنی دغه خلک کامیاب دی ، شاه عبدالعزیز رحمه الله فرمایي : (ولاشك ان تابع المفلح مفلح) یعنی ظاهره ده چی دکامیاب تابع هم کامیاب وي (تحفه اثنا عشریه ص۶۰۱) او بل ځای فرمایي : (اولئك هم الراشدون) همدغه خلک په سمه لاره دي . حضرت شاه صاحب فرمايي : " وتابع الراشد راشد" دنیک تابع هم نیک وي (تحفه اثناعشریه ص۶۰۱)
ددغو پاکو اشخاصوپه باره کی دقرانکریم څو ځایوکی "رضی الله عنهم ورضوانه"راغلی دی یعنی الله تعالی له دوی نه راضي دی او دوی له الله تعالی نه ، علامه ابن عبدالبر داسیتعاب په مقدمه کی فرمایي : "ومن رضی الله عنه لم یسخط علیه"ابداً انشاء الله"(مقام صحابه ص۴۴) یعنی دچاڅخه چی الله تعالی راضي شو له هغه نه بیا کله هم نه ناراضه کیږي (انشاء الله) ځکه چی الله تعالی نه وړاندی وروسته دهرشي علم دی نو الله دهغه چانه راضي کیږي چی په آینده کی کله هم درضا الهي نه خلاف کوونکی نه وي پدی وجه دچاپه حق کی دالله تعالی درضایت

اعلان ددی ضمانت کوي چې دهغه خاتمه او انجام هم په خير او نيکـي حالـت کـې کيږي ، نو دغسې مقدس او پاک صحابه کرام به زمونږ لپاره معيار دحق ولې نه وي .
دقران کريم بل ځای کې ارشاد دی : (يوم لايخزی الله النبی والذين امنوا معه نورهم يسعى بين أيديهم وبأيمانهم) ترجمه : په هغـه ورځ چـې الله تعالی بـه خپـل نبـي او ورسره ملګري مومنانو لره رسوانکړي او ددوی نور (رڼا) بـه ددوی نـه وړانـدی اوښـي طرف ته ګرځي ، اين آيت دلالت ميكند كه ايشان را درآخـرت هـيچ عـذاب نخواهـد شد وبعد ازفوت پيغمبر نور ايشان ضبط وزائل نخواهد شد والا نور ضبط شـوده وزوال پزير فته روز قيامت چې قسم بكار ايشان مى آيد؟
دغه آيت پدی باندی دلالت کوي چې په آخرت کې په دوی باندی بـه هـيڅ عـذاب نه وي او دپيغمبر دوفات نه وروسته هم ددوی نور نه زائل کيږي او که نه نـو دقيامـت په ورځ به زائل شوی او ختم شوي نور څه کار ورکړي؟ (تحفه اثنا عشريه ص ۵۲۰)
رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو لره دحـق معيـار پـه بنودلـو سـره داسـې فرمايي : زما په امت باندی به هغه ټول کارونه راځي کوم چې په بني اسرائيلو باندی راغلی وو ، بني اسرائيل (۷۲) فرقی جوړشـوی وو زمـا امـت بـه (۷۳) فرقـی جوړيـږي داټول به دورخيان وي مګريوائحې يوه فرقه به کاميابه وي ، صحابه کرامو عـرض وکـړ يارسول الله هغه يوه فرقه کومه ده ؟ ارشاد يې وفرمايلو چـې : (ماأنا عليه واصحابی) يعنی داهغه فرقه اوډله ده چې زمـا او زمـا دصـحابه کرامـو پسـې روان وي او پـيروي يې کوي (مشکوة شريف ص ۳۰) .
پدیَ حديث شريف کی رسول پاك ما انا عليه واصحابی فرمايلي دي يواځې مـا انـا عليه ندی فرمايلي ايا داصحابه کرامو لره دحـق معيـار ګرځـول نـدی ؟ او همدارنګـه ارشاد دی چـې : "عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضّـوا عليهـا بالنواجذ" يعنی تاسو پخپل ځان باندی زما او زما دهدايت يافته راشده خلفاو طـريقې لازم کړئ او دجامې په غابنو سره يې کلک ونيسئ (مشکوة صَ ۳۰)
پدی حديث کی دخلفاء راشدينو طريقی ته سنت ويل ددی دليل دی چې لکه څنګـه درسول الله صلی الله عليه وسلم سنت حجت دی همدغسـې دخلفـاء راشـدينو سـنت

هم حجت دی ، علامه تور پشتی ددی حدیث په شرح کې فرمايي : "واما ذكر سنتهم فی مقابلة سنته لأنه علم انهم لايخطئون فيما يستخرجونه ويستنبطونه من سنته بالاجتهاد ولأنه عرف ان بعض سنة لا تشتهر الافی زمانهم فاضاف اليهم لبيان ان من ذهب الی رد تلك السنة مخطئ فاطلق القول باتباع سنتهم سداً للباب" (الفتوحات الوهبية ۱۹۸).

يعنی رسول اكرم صلی الله عليه وسلم خپلې طريقې ته سنت وويل او لدی سره سره دخلفاء راشدينو طريقې ته هم سنت وويلې پدی وجه چی رسول اكرم صلی الله عليه وسلم پوهيدو چی زما خليفه گان زما دسنتو په رڼا کی چی کوم شئ استنباط کوي پديکې به نه خطاکيږي ، اويا پدی وچه ددوی طريقې ته سنت ويل چی درسول اكريم صلی الله عليه وسلم بعضی سنتونه به د خلفاء راشدينو په وخت کی مشهوريږي نو له وړاندی نه رسول اكرم صلی الله عليه وسلم پدی تنبيه وفرمايله او سد دباب يې وکړ چی څوک پدی اعتراض ونه کړي او نه يې رد کړي.

لدينه په واضحه توگه ثابتيږي چی دخلفاء راشدينو طريقه يقيناً زمونږ لپاره حجت او معيار دی ، او ددی په مقابل کی چی مودودي څه ليکلي دي لږ ورته وگورئ : ان تردی چی دخلفاء راشدينو فيصلې هم کومی چی دوی دقاضي په حيث باندی کړی وي ، په اسلام کی قانون ونه گرځيدلې ، (ترجمان القران جنوري ۵۸ ء بحواله مودودي مذهب ص٦٦)

دخلفاء راشدينو او صحابه کرامو په باره کی دده داخيالات دي چی ددوی فيصلې اسلامي قانون اودحق معيار ونه گرځيدل ، او دخپل جماعت په باره کې بيا وايي : کومه ډله چی دقرآن دقطعي نصوصو نه ترتيب شوی او دجماعت اسلامي په دستور کی داخل دی هغو لره مونږ په امت مسلمه کی شميرو او کوم خلک چی لدی حدودو نه تجاوز کوي نو مونږ مجبور يو چی هغوی دامت ددائرې باهر وشميرو ." (ترجمان القران ج۲٦/ ۲۷۷)

ايا دادخپل جماعت معيار حق جوړولو دعوه نده ؟ صحابه کرام خو دحق معيار نشي جوړيدلی ليکن دی او دده جماعت دحق معيار دی . معاذ الله ثم معاذالله .

او همدارنگه رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو لره دحق معيار گرځولو سره ارشاد فرمايي :

"اقتدوا باللدین من بعدي ابی بکروعمر"یعنی له مانه وروسته ابو بکر او عمر رضی الله عنهما پسې اقتداء وکړئ (مشکوات شریف ص۵٦۰)
رسول الله صلی الله علیه وسلم خو داقتداء او پیروي کولو وصیت کوي او دغه جماعت دیته ذهني غلامي وایي .
او همدارنګه ارشادفرمایي : (عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول سألت ربي........) حضرت عمر فاروق فرمایي : مادرسول الله نه دا آوریدلي دي . ما له مانه وروسته دخپلو صحابه کرامو داختلاف په باره کی الله تعالی نه سوال وکړنو الله تعالی راته وحی وکړه . "ان اصحابك بمنزلة النجوم فی السماء بعضها قوی من بعض ولکل نور فمن اخذ بشئ مما هو علیه من اختلا فهم فهو عندی علی هدی" زما په نزد باندی ستا صحابه دآسمان دستوری پشان دی چی بعضې ستورې له بعضو نه قوي دي لیکن هر یو ستوری رڼا لري نو څوک چی دصحابه کرامو په اختلافي مسئله کی دکوم یو رائی غوره کړي هغه به زما په نزد هدایت باندی وي ، عمر فاروق رضی الله عنه فرمائي چی لدینه وروسته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : "اصحابی کالنجوم فبأیهم اقتدیتم اهتدیتم" یعنی څما صحابه د ستورو غوندی دي له دوی نه چی کوم یو پسی اقتداء وکړئ نو هدایت به بیا مومئ (مشکواة ص ٥٥٤) پدی حدیث کی د الله جل شانه د وحي الفاظ "فہو عندی علی هدی" او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه الفاظ "اصحابی کالنجوم فبأیهم اقتدیتم اهتدیتم" د صحابه کرامو رضی الله عنهم د حق معیار کیدو لپاره واضح او ښکاره دلیل ندی ؟
او همدارنګه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی : "ان الله نظر الی قلوب العباد .... الخ" الله تعالی د خپلو بندګانو زړونو ته وکتلی نو د محمد صلی الله علیه وسلم زړه یی پدی ټولو زړونو کی بهتر بیا موند دا یی د خپل رسالت لپاره مقرر کړ بیا یی د نورو زړونو ته وکتلی نو د صحابه کرامو رضی الله عنهم زړونه یی دنورو بندګانو له زړونو نه بهتر بیا موندل نو دوی یی د خپل نبی علیه السلام د

صحبت لپاره غوره کړل او دوی یې د خپل دین مددګاران او دخپل نبي علیه السلام وزیران جوړ کړل نو کوم کار چې دغه صحابه کرام رضی الله عنهم غوره وګڼي هغه به د الله تعالی په نزد هم غوره وي او کوم کار چې دوی بد وګڼي هغه به د الله تعالی په نزد هم بد وي (موطاء امام محمد ص ۱۱۲ ، البدایة والنهایة ص ۲۲۸ جلد ۱۰).

او همدارنګه ارشاد دی : "مامن أحد من اصحابي يموت بارض الا بعث الله قائداً ونورا لهم يوم القيامة" څما د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه چې کوم صحابي په کوم ځای کې وفات شي د قیاست په ورځ به د هغه ځای اوسیدونکو لپاره قائد او نور جوړ شوی پورته کولی شي (مشکواة شریف ص ٥٥٤ ، ترمذی شریف ص ۲۲٦)

او دا هم ارشاد دی "ان الله جعل الحق على لسان عمر وقلبه" رواه ترمذی ، یعنی الله تعالی د عمر فاروق رضی الله عنه په ژبه او زړه باندی حق جاري کړیدی (مشکواة شریف ص ٥٥٧).

معلومه شوه چې د عمر فاروق رضی الله عنه له مبارکی ژبی نه د حق په خلاف هیڅ کومه خبره نشي راوتلی نو بیا د ده رضی الله عنه خبره به څنګه د حق معیار نه وي ؟

او په روایت کی هم ارشاد دی : "لقد كان فيما قبلكم من الامم محدثون فان يك في امتي احد فانه عمر" یعنی له تاسو نه وړاندی چې څومره امتونه تیر شویدي په هغو کی محدث (چاته چې د حق خبری الهام کولی شي) موجود وُ که څما په امت کی څوک محدث وي هغه به عمر رضی الله عنه وي (مشکواة شریف ص ٥٥٦).

په طحطاوي علی مراقی الفلاح کی ذکر دي "روی ابونعیم من حدیث عروبة الکندی ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ستحدث بعدی اشياء فاحبها الى ان تلزموا ما احدث عمر" یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلو : څما نه وروسته به ډیری خبرې پیدا شي ماته به لدی ټولو نه زیات محبوب هغه وي کوم

چی عمر رضی الله عنه ایجاد کړی وي تاسو ټول هغه لازم ونیسئ (طحطاوي علی مراقی الفلاح ص ۲۳۹) .

شیخ الاسلام علامه بدر الدین عیني شارح بخاري په "بنایة شرح هدایة" کی فرمایي :
"سیرة عمر لاشك ان فی فعلها ثواب وفی ترکها عقاب لانا اُمرنا بالاقتداء بهما لقوله علیه السلام اقتدوا بالذین من بعدی ابی بکر وعمر ، فاذا کان الاقتداء بهما مأموراً به یکون واجباً وتارك الواجب یستحق العقاب والعتاب" یعنی د حضرت عمر رضی الله عنه په سیرت باندی په عمل کولو کی بغیر د شک نه ثواب دی او د دی په پریښودو کی عذاب دی ځکه چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پدی قول خپل کی چی : "اقتدوا بالذین من بعدی ابی بکر وعمر" مونږ ته د دوی د پیروي حکم راکړل شویدی نو کله چی د دوی په پیروي باندی امر شوی نو بیا پیروي کول واجب دی او د واجب ترک کونکی د عقاب او د عتاب مستحق دی (بحواله فتاوی قیام الملة والدین ص ۳۷۸).

دغه حق پرست علماء د دوی اقتداء واجب او د دوی قول و عمل معیار ګڼي خو لیکن د مودودي جماعت دغه ذهني غلامي او لدینه علاوه بت پرستي ګڼي .

" ببین تفاوت ره از کجا تا به کجا "

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائي : "رضیت لامتی مارضی لها ابن ام عبد" یعنی زه خپل امت لپاره په هغه شي باندی راضي او خوښ یم چی په کوم شي باندی ابن ام عبد (حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه) راضي او خوښ دی (مظاهر حق ج ۴ ص ۶۸۹ ، ۶۹۰) .

او دغه ارشاد یی هم فرمایلی دی : "تمسکوا بعهد ابن ام عبد" یعنی د ابن مسعود رضی الله عنه وصیت لره لازم او محکم ونیسئ (مشکواة شریف ص ۵۷۸) .

او دغه ارشاد یی هم فرمایلی دی : "لو کنت مؤمرا من غیر مشورة لامرت علیهم ابن ام عبد" رواه الترمذی ، یعنی که چیرته ما څوک بغیر د مشوری نه امیر جوړولو

نو ابن ام عبد (ابـن مسعود رضـى الله عنـه) بـه مـى جـوړ كـړى واى (مشـكواة شريف ص ۵۷۸) .
د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم په خپلو صحابه كرامو رضى الله عنهم باندې څومره اعتماد دى مطلقاً يې وفرمايل چې كوم شى امت لپاره ابـن مسعود رضـى الله عنـه خوښ كړي هغه زه هم خوښوم ، او چې ابن مسعود رضى الله عنه ورتـه كـوم وصيت وكړي هغه لره مضبوط ونيسئ ، ابن مسعود رضى الله عنه امت ته د صحابه كرامو رضى الله عنهم په باره كې څه وصيت فرمايلى ؟ دغه لږ نبه په غور سره وګورئ هغه فرمائي :
"من كان مستنا فليستن بمن قد مات فان الحى لاتؤمن عليه الفتنة اولئك اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم كانوا افضل هذه الامة ابراها قلوباً واعمقها واقلـها تكلفاً اختارهم الله لصحبة نبيه ولاقامة دينه فاعرفوالهم فضلهم واتبعوهم علـى آثارهم وتمسكوا بما استطعتم من اخلاقهم وسيرهم كانوا على الهدى المسـتقيم" (مشكواة شريف ص ۳۲) .
ترجمه : څوک چې د چا پسې اقتداء كول غواړي هغه ته پكار دي چې صحابه كرامـو رضى الله عنهم پسې اقتداء وكړي ځكه چې ژوندي د فتنو نه په امن ندي او صـحابه كرام رضى الله عنهم په ټول امت كې پاک زړي او ژور علم والا او كـم تكلـف والا دي دا هغه خلک دي چې الله تعالى د خپل نبي عليـه السـلام ملګرتيـا او د خپـل ديـن د اقامت لپاره غوره كړي دي تاسو د دوى مرتبه وپيژنئ او د دوى د سيرت پيروي وكړئ او تر خپل وسه پورى محكم ونيسئ ځكه چې دوى په هدايت باندى برابر وُ .
په غور سره وګورئ ابن مسعود رضى الله عنه صحابه كرامو رضى الله عـنهم لـره كـوم حد پورى قابل اتباع ګني ليكن مودودي صاحب اود ده ډلـه ديتـه ذهنـي غلامـي او بت پرستي وائي .
حضرت عبد الله ابن عباس رضى الله عنهما فرمائي : "مارأيت قوما كانوا خيراً مـن اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم" ما داسى كوم قـوم نـدى ليدلى چـى د صحابه كرامو رضى الله عنهم نه بهتر دى (انصاف مع كشاف ص ۵) .

حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله چی یو جلیل القدر تابعي دی په یو مکتوب کی د صحابه کرامو رضی الله عنهم مقام داسی واضح کوي دغه مکتوب دحدیثو مشهور کتاب ابوداؤد کی سند سره ذکر دی چی بعضی ضروري جملې یی دا دي : "فارض لنفسك مارضی به القوم لانفسهم فانهم علی علم وقفوا الی قوله فان الهدی ما انتم علیه لقد سبقتموه الخ" یعنی تا ته پکار دي چی هغه طریقه ځان لپاره غوره کړی کومه طریقه چی قوم (صحابه کرامو رضی الله عنهم) ځان لپاره غوره کړی وه ځکه دوی چی په کوم حد باندی ولاړ دي علم سره ولاړ دي او دوی چی خلک له کوم شي نه منع کړیدي د خپل زور نظر په بناء باندی منع کړیدي او بی له شکه دغه حضرات په دقیق حکمتونو او علمي باریکیو لرونکي ؤ ، او په کوم کار کی چی دوی ؤ پدیکی له ټولو نه د زیات فضیلت مستحق همدوی وو ، نو که چیرته هدایت پدی طریقه کی وسلی شي په کومه چی تاسو قرار لرئ نو د دی مطلب دا دی چی تاسو په فضائلو کی دهغوی نه وړاندی شوي یئ (او دا کار بالکل محال یعنی ناشونی دی) (ابوداؤد شریف ص ۲۸۵ جلد ۲) .

فکر وکړئ ! حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله یو وینشته برابر ددوی له طریقی نه اوړیدو ته تیار ندی ، دوی لره خپل مقتدا او د حق و باطل معیار گڼي مگر مودودي جماعت لدینه انکار کوي او دوی رحمه الله نور اضافه کوي : "سن رسول الله صلی الله علیه وسلم وولاه الامر من بعده سنناً الاخذ بها تصدیق لکتاب الله واستکمال لطاعة الله وقوة علی دین الله من عمل بها مهتدی ومن استنصر بها منصور ومن خالفها اتبع غیر سبیل المؤمنین وولاه ماتولی وصلاه جهنم وساءت مصیرا".

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم څه طریقې مقرر کړي او د ده صلی الله علیه وسلم نه وروسته د ده صلی الله علیه وسلم جانشین اولو الامر حضراتو هم څه طریقې مقرر کړیدي چی د دغو اختیارول د الله د کتاب تصدیق او د الله تعالی د طاعت تکمیل او د الله د دین مدد کول دي څوک چی پدی عمل وکړي هغه کامیاب دی او څوک چی لدینه قوت حاصلوي د هغه مدد به وکړی شي او څوک چی د دغو مخالفت وکړي او د دوی له طریقو نه مخالفت وکړي او د مؤمنانو له لاری نه خلاف وچلیږي

الله تعالی به هغه لره هغه طرف ته وګرځوي چې کوم طرف ته ګرځیدلی او بیا به یې جهنم ته داخل کړي او دا ډیر بد ځای دی (جامع بیان العلم وفضله ج ۲ ص ۱۸۷) .
حضرت امام حسن بصري تابعي رحمه الله فرمایلي دي : " دغه جماعت (صحابه کرام رضی الله عنهم) په ټول امت کی د ټولو نه زیات نیک زړه د ټولو نه زیات ژور علم والا او د ټولو نه زیات بی تکلفه جماعت ؤ ، الله تعالی د خپل رسول صلی الله علیه وسلم د ملګرتیا لپاره دغه جماعت غوره کړی ؤ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اخلاقو او د ده صلی الله علیه وسلم دطریقو خپلولو کی همیشه لګیدلي وو ، د دوی ټول فکر همدا ؤ او د دوی ټول تالاش همدا ؤ ، د دی کعبی په پروردګار می دی قسم وي چې دغه جماعت په صراط مستقیم باندی روان ؤ (الموافقت ج ٤ ص ٧٨ بحواله ترجمان السنة ج ١ ص ٤٦) .
کوم جماعت چې د دغو پاکو صفتونو لرونکی وي چې دغه ځمونږ لپاره معیار نه وي بیا به کوم جماعت معیار وي ؟
حضرت امام محمد بن سیرین رحمه الله نه د یوی مسئلی تپوس وشو نو ده وفرمایل : حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهما به دا مکروه ګڼلو ، که دا علم وی نو هغوی له مانه زیات د (قرآن و حدیث) عالمان وو او که دا د هغوی ذاتی رایه وه نو د هغوی رایه زما د رائی نه زیات بهتر او افضل ده (جامع بیان العلم ج ۲ ص ۳۱) .
حضرت امام اوزاعي رحمه الله فرمائي : "یابقیه العلم ما جاء عن اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم ومالم یجئی عن اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم فلیس بعلم" ای بقیه ! علم هغه دی کوم چې د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه نقل دی او کوم چې د دوی نقل ندی هغه علم ندی (جامع بیان العلم ج ۲ ص ۲۹) .
حضرت عامر شعبی رحمه الله فرمائي : "ماحدثوك عن اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم فخذ به وماقالوا فیه برأیهم فبل علیه"
ترجمه : کومی خبرې چې تاته د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ملګرو نه نقل کړی شي هغه واخله او کومی خبرې چې درته دخپلی رائی نه وکړي هغه ډیران ته وغورځوه (جامع بیان العلم ج ۲ ص ۳۲) .

علامه ابن تیمیه رحمه الله فرمائي : " له اوس نه واخله تر قیامته پوری چی مسلمانانو کی کوم خیر دی مثلاً ایمان و اسلام ، قرآن و علم و معرفت ، عبادات ، دخول جنت او جهنم نه نجات ، کافرانو باندی غلبه ، د الله تعالی د نوم اوچتوالی دا ټول د صحابه کرامو رضی الله عنهم او د خلفاء راشدینو رضی الله عنهم اجمعین دکوششونو برکت دی کومو چی د دین د تبلیغ او د الله تعالی په لاره کی جهاد وکړ ، کوم یو مؤمن چی په الله تعالی ایمان راوړی په هغه باندی به تر قیامته پوری د صحابه کرامو رضی الله عنهم احسان وي ، او شیعه ګانو او نورو (مودودي) جماعت ته چی هم کوم خیر حاصل دی دا هم د صحابه کرامو رضی الله عنهم برکت دی او د صحابه کرامو رضی الله عنهم خیر د خلفاء راشدینو د خیر تابع دی ځکه چی دوی د دین او دنیا دهر خیر ذمه دار او سرچشمه وو " (منهاج السنه ج ۳ ص ۲۴۵ بحواله تاریخ دعوت و عزیست حصه دوم ص ۷ ، ۳۰۶) .

او فرمائي : د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع قطعي حجت دی او د دوی تابعداري فرض دی بلکی دا د ټولو نه لوی حجت او په نورو دلائلو باندی مقدم دی (اقامة الدلیل ج ۳ ص ۱۳۰ بحواله انوار الباری ج ۱۰ ص ۴۸) .

امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمائي : " پیغمبر علیه السلام تمیز فرقه ناجیه از آن فرق متعدده فرموده است آن است "الذین هم علی ما انا علیه واصحابي" یعنی آن فرقه ناجیه آنان اند که ایشان بطریقی اند که من بر آن طریقم واصحاب من برآن طریق اند ذکر اصحاب باوجود کفایت بذکر صاحب شریعت علیه السلام و این موطن برای آن تواند بود که تابدانند که طریق من همان طریق اصحاب است وطریق نجات منوط باتباع طریق ایشان است .... الخ " .

ترجمه : رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دنجات موندونکی ډلی د پیژندګلوي په باره کی فرمایي : څوک چی زما په طریقه او څما د صحابه کرامو رضی الله عنهم په طریقه روان دي ،

په ظاهره دوېره فرمایل کافي وُ چی " په کومه طریقه زه یم " د ځان سره یی د صحابه کرامو رضی الله عنهم ذکر هم وکړ دا پدی غرض چی ټول پوه شي چی کومه طریقه څماده همدغه څما د صحابه کرامو رضی الله عنهم هم ده او د نجات لاره د صحابه کرامو رضی الله عنهم په تابعداری او پیروی کی بند کړیده الخ .

(مکتوبات امام رباني ج ۱ ص ۱۰۲ ، ۱۰۳)
حضرت شاه عبد العزیز محدث دهلوي رحمه الله لیکي : " معرفت حق و باطل فهم صحابه و تابعین است آنچه این جماعت از تعلیم آنحضرت صلی الله علیه وسلم بانضمام قرائن حالي و مقالي فهمیده اند در آن تخطیه ظاهر نه کرده واجب القبول است " (فتاوی عزیزي ج ۱ ص ۱۵۷) .
ترجمه : د حق او د باطل معیار د صحابو او د تابعینو فهم دی کوم شی چی دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تعلیم نه د حالي او مقالي قرائنو په رڼا کی زده کړی دی د هغه قبلول واجب دي .
او همدارنګه دوی پخپل کتاب " تحفه اثنا عشریه " کی د صحابه کرامو رضی الله عنهم په مقام او مرتبه باندی بحث کوي او لیکي : " بالیقین این جماعت هم درحکم انبیاء خواهند بود " (تحفه اثنا عشریه ص ۵۲۹ فارسي) یعنی یقیناً د صحابه کرامو رضی الله عنهم جماعت هم د انبیاء علیهم السلام په حکم کی دی .
نو لکه څنګه چی په کوم یو نبي علیه السلام باندی تنقید نشي کیدلی او د دوی خبره دقطعي او یقیني دلائلو په وجه واجب التسلیم ده همدارنګه په صحابه کرامو رضی الله عنهم باندی هم د تنقید نیت او اراده کول بی دیني او ښکاره ګمراهي ده او ددوی قول او فعل مونږ لپاره د حق معیار دي .
شیخ الاسلام حضرت مولانا سید حسین احمد مدني رحمه الله فرمائي :
" بقول اهل سنت والجماعت صحابه کرام رضی الله عنهم غیر معصوم ګڼي لیکن دا قابل د منلو نده چی د حق معیار یواځی معصوم کیدی شي ، د چا نه چی الله تعالی خپله رضامندي ښکاره کړی او د هغه د جنتي کیدو اعلان کړی هغه به څنګه د حق معیار نه وي " (فرمودات حضرت مدني ص ۱۴۵ مرتبه مولانا ابو الحسن باره بنکوي) .
او دا هم فرمائي : " په صحابه کرامو رضی الله عنهم کی چی څومره کمالات او نیکئ دي که هغه علم دی او که عمل دا ټول د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د طفیل او د ده صلی الله علیه وسلم د تابعداری په وجه دي ، بالذات خو څه نه وو مګر کله چی قرآن او صحیح احادیثو په دوی کی د حقانیت موجبات او معیاریت خبر ورکړ نو نن مونږ ته د دوی په معیاریت کی کلام او تامل کول به یقیناً د قطعیاتو نه انکار کول وي کوم چی د کتاب الله نه انکار دی " (فرمودات حضرت مدني ص ۱۴۶) .

او دا هم فرمائي : " د صحابه کرامو تابعداري حقیقت کی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري ده د چا تابعداري چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په مونږ باندی واجب کړیدی ، د دوی تابعداري د رسالت په حیث باندی ندی بلکی پدی حیثیت سره چی دوی د نبوي صلی الله علیه وسلم ارشادات فهم او نقل کړیدی او همدغسی د وروستنیو امامانو اتباع او تابعداري هم د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع ده کوم چی د فهم او نقل په حیثیت سره کولی شي او مطلق مطاع خو یواځی د الله تعالی ذات دی " (فرمودات حضرت مدني ص ۱۴٦) .
او نور هم بی شمیره دلائل دي چی په هغو سره د رڼا ورځ پشان ثابتیږي چی صحابه کرام رضی الله عنهم د حق او باطل ، خیر و شر ، سنت و بدعت ، ثواب و عذاب وغیره کارونو معلومولو لپاره محک او معیار دی ، کوم کار چی دوی کړی هغه حق او سنت او باعث د نجات دی او د دوی هر قول او فعل مونږ لپاره ذریعه د فلاح او په همدی کی خمونږ ترقي او سعادت دی ، مګر مودودي جماعت دغه نه مني بلکی دیته ذهني غلامي او بت پرستي وائي او عجیبه خبره خو دا ده چی مودودي صاحب د الله تعالی د رسول صلی الله علیه وسلم نه سیوا هیڅوک د حق معیار نه ګڼي مګر خپل خان او خپل جماعت لره د حق معیار منلو لپاره خپل پوره زور لګوي ، صحابه معیار د حق او تنقید نه بالاتر نه ګڼي او د دوی په ذات باندی بی ځایه تنقیدونه کوي لکه څنګه چی یو ځای کی لیکي :
" لدی ټولو نه عجیبه خبره داده چی ډیر ځلي په صحابه کرامو باندی هم بشري کمزوري غلبه کوي " (تفهیمات ص۲۹۴ طبع چهارم)
اوددوی یو ملګرې یو ځای کی لیکي : " مګر بیا هم داسلام په اولنو جګړو کی صحابه کرامو دجهاد فی سبیل الله اصلي روح په پیژندلو کی بار بار غلطیانې کولی "(ترجمان القران ۵۷ ء ص۲۹۲ بحواله مودودی مذهب.)
دجنګ احد دشکست اسباب په شمیرلو سره لیکي: په کومه معاشره کی چی سود خوري وي په هغو خلکو کی دسود خوري په وجه دوه قسمه اخلاقي بیماریانې پیداکیږي په سود خوړونکو کی حرص وطمع بخل او خودغرضی اوپه سود ورکوونکو کی نفرت ، غصه بغض او حسد پیداکیږي داحد دجنګ په میدان کی ددغو دواړو ناروغیو څه حصه شامل وه .(تفهیم القرا ج۱/ ۲۸۸ سوره ال عمران)

او دخپل ځان په باره کې لیکي : داالله په فضل سره ماته دکوم دفاع کولو حاجت نشته په ماباندی الله تعالی خاص عنایت کړیدی چې زما لمن یې له داغونو نه محفوظ ساتي" او دخپل جماعت په اړه لیکي : سمه خبره داده کله چې مونږ په یقین سره داوایو چې حق یواځی دادی (یعني جماعت اسلامي) نو لدینه پخپله داخبره ثابتیږي چې له دی نظریې نه چې څه خلاف دی هغه باطل دی ." (ترجمان القران ج۲٦/ ۷۷)

ګویا چې خپل ځان او خپل جماعت خو دحق معیار ګڼي مګر دصحابه کرامو معیار حق کیدل ذهني غلامي ګڼي.

دده دغه باطني خباثت نشاندهي حکیم الاسلام حضرت مولانا قاري محمد طیب صاحب هم کړیده دوی فرمايي : او پدی صورت کې دمودودي صاحب دجماعت ددستور بنیادي جزء کې علی العموم دادعوی کول چې داالله درسول نه علاوه هیڅوک معیار حق او تنقید نه بالاتر ندی چې پدیکې صحابه کرام دټولو نه مخکې شامليږي ، اوبیاپه دوی باندی دجرح او تنقید عملي تجربه هم کول دحدیث نبوي یواځې مقابله نه بلکې تربوه حده پوری دخپل ځان دحق معیار کیدو دعوه ده ، چې پدی سره دصحابه کرامو هم دتحقیق او پلټلو کوشش کړی شویدی ګویا کوم اصول چې په ډیر شد او مد سره دتحریک بنیاد ګرځول شویدی دځان په باره کې دټولو نه مخکې مات کړی شویدی او سلف او خلف لپاره درسول الله نه علاوه پخپله دمعیار حق جوړیدو کوشش کړی شویدی ، (مودودي دستور وعقائد کې حقیقت ، مقدمه ص۱۸).

فقط والله اعلم وهو الهادي الی صراط المستقیم ۱۷/ شعبان العظم ۱۳۹۹ ه.

دحضرت یوسف علیه السلام زلیخې سره نکاح شویده او که نه ؟

(۴۰ سوال) دحضرت یوسف علیه السلام له زلیخې سره نکاح شوی او که نه ؟

دسوال سبب دادی چې یو قاضي صاحب دیو نکاح نه وروسته په دعا کې داجمله هم وویله : "اللهم الف بینهما کما الفت بین یوسف وزلیخا" نو نکاح شوی ده او یا نکاح خوانانو د خپل ځان نه پیوند لګولی دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

خواب : د بعضو معتبرو تفسیرونو څخه معلومیږي چې د یوسف علیه السلام زلیخې سره نکاح شویده لکه څنګه چې د مفتي محمد شفیع رحمه الله تفسیر " معارف القرآن " کی ذکر دي : " بعضی مفسرینو لیکلي چې پدی زمانه کی د زلیخی خاوند قطفیر وفات شو نو د مصر بادشاه د زلیخې سره د یوسف علیه السلام نکاح وکړه الخ " (معارف القرآن ج ۵ ص ۷۷) .

شیخ التفسیر والحدیث حضرت مولانا ادریس کاندهلوي رحمه الله پخپل تفسیر معارف القرآن کی لیکي : " د عزیز مصر له وفات کیدو نه وروسته بادشاه د یوسف علیه السلام نکاح د عزیز مصر له ښځی زلیخی سره وکړه او دوه بچي هم ورنه پیدا شول چې یو افرائیم او بل میشا ؤ ، تفصیل لپاره تفسیر قرطبي ج ۹ ص ۲۱۳ ، زاد المسیر ج ۴ ص ۲۳۴ ، او تفسیر ابن کثیر ج ۲ ص ۴۸۲ وګورئ (معارف القرآن ج ۵ ص ۲۴۲ سورت یوسف مطبوعه لاهور) .

او په بل ځای کی لیکي : یوسف علیه السلام (۱۱۰) یو سل او لس او یا (۱۰۷) یوسل او اوه کالو په عمر کی وفات شوی او د عزیز مصر د ښځی له کیدی نه د ده علیه السلام دوه زامن پیدا شوي او یوه لور ، زامن یی افرائیم او میشا نومیدل او د لور نوم یی رحمت ؤ چې بیا د حضرت ایوب علیه السلام په نکاح کی راغلی وه الخ (معارف القرآن ج ٦ ص ۲۷۲) فقط والله اعلم .

" قصص الانبیاء " معتبر کتاب دی او که نه ؟

(۴۱ سوال) د " قصص الانبیاء " کتاب لوستل او بیا خلکو ته اورول جائز دي او که نه ؟ د تپوس کولو ضرورت ځکه محسوس شو چې د بعضو خلکو خیال دی چې دا غیر معتبر کتاب دی او د یو څو خبرو وضاحت پکار دی :

(۱) د معتبر یا د غیر معتبر حکم مطلقاً دی او که نه د خاصو ځایونو ؟ که د اختلافي ځایونو نښاندهي وکړی شي نو مونږ غوندی خلکو لپاره به مفید وي .

(۲) یو فارغ التحصیل عالِم د معتبر کتاب اورولو په ځای که دغه کتاب واوروي نو څنګه دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

خواب : " قصص الانبیاء " کتاب په فارسي ژبه کی دی ، د کوشش باوجود هم فارسي نسخه لاس ته رانغله ، دار العلوم اشرفیه نه ترجمه ملاو شو مګر د مطالعی فرصت می ندی پیدا کړی ، اتفاقاً یو دوست وویل چې د حضرت تهانوي رحمه الله په بهشتي زیور لسمه حصه کی د " بعضی کتابونو نومونه چې کتلو کی یی فائده ده " تر عنوان

لاندې د قصص الانبياء هم ذکر راغلی دی چې حضرت تهانوي رحمه الله مفید ښودلی دی نو اوس د مزید تحقیق ضرورت نشته ، یو تاریخي کتاب دی د احکامو او دعقائد کتاب ندی ، او کله چې آورونکي هم عالِم وي نو د غلط فهمی هم څه خطره نشته[1] فقط والله اعلم.

په صحابهٔ کرامو باندې له بدګمانی څخه ځان ساتنه :

(۴۲ سوال) یو سړي پخپل تقریر کی دا روایت بیان کړ چې یو صحابي وفات شو په صحابه کرامو رضی الله عنهم کی د ده د تجهیز او تکفین په ځای دا خبره مشهوره شوه چې دغه سړي نه کله لمونځ کړی او نه یې روژه نیولی او نه په کوم خیر کار کی برخه اخستی ، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ او له مړي نه د بې پرواهی سبب معلوم کړ نو صحابه کرامو رضی الله عنهم د خپلو خبرو تذکره وکړه او بیا رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل تاسو لږ فکر وکړئ کیدی شي کوم نیک کار یې کړی وي پدیکی یو صحابي وفرمایل یو ځل یې د مسلمانانو دیوی ډلی د سامان تموله شپه څوکیداري کړی دی پدی سره رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د هغه د تجهیز او تکفین حکم ورکړ .

اوس سوال دا دی دغه واقعه چې په ظاهره کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو صحابي د اعمالو توهین ښکاري صحیح ده او که نه ؟ تسلي بخښونکی ځواب وکړئ ، مهرباني .

ځواب : په مشکواة شریف کی دغه واقعه پدی شکل ذکر شوی : حضرت ابن عائد رضی الله عنه فرمائي : رسول الله صلی الله علیه وسلم یوی جنازی سره ووت کله چې د لمانځه لپاره جنازه کیښودی شوه نو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل یارسول الله تاسو د ده د جنازی لمونځ مه کوئ دا سړی فاجر (ګنهګار ، بد) دی رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضی الله عنهم ته متوجه شو او وی فرمایل : "هل رأه احد منکم علی عمل الاسلام؟" ایا په تاسو کی چا دغه سړی په کوم اسلامي کار کولو کی لیدلی دی ؟ یو سړي پکی وویل هو! یارسول الله ! "حرس

---

[1] قصص الانبياء کتاب مفید خو ضرور دی مګر د دی ټول روایتونه صحیح ندي لکه د عوج بن عنق قصه هسی فرضي ده او د دی وجه دا ده چی دمصنف په نزد داسی تفاسیر هم شته چی د اسرائیلي روایتونو نه پاک ندي لکه د ثعالبي العرائس ۱۲ سعید احمد پالن پوري .

لیلةً فی سبیل الله" یعنی یوه شپه یی د الله په لاره کی څوکیداري کړی ده ، د دی خبری په اوریدو سره رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ده د جنازی لمونځ وکړ او د هغه په قبر یی پخپلو مبارکو لاسونو خاوری واړولی او وی فرمایل : "اصحابك یظنون انك من اهل النار وانا اشهد انك من اهل الجنة" یعنی ستا ملګري خیال کوي چی ته دوزخي یی او زه ګواهي ورکوم چی ته جنتي یی او وی فرمایل : "یاعمر انك لاتسأل عن اعمال الناس ولکن تسئل عن الفطرة" ای عمره له تانه د خلکو د اعمالو په باره کی تپوس نه کیږي له تانه د دین اسلام په باره کی تپوس کیږي (مشکواة شریف ص ۳۳٦ کتاب الجهاد ، الفصل الثالث) .

علامه طیبي رحمه الله د دی حدیث په شرح کی فرمائي : د دی حدیث مطلب دا دی چی ای عمره تاته پداسی ځای کی د مړو د بدو اعمالو تذکره پکار نده بلکی تا ته پکار دي چی د مړو د نیکو اعمالو تذکره وکړی ، لکه چی ارشاد دی : "اذکروا موتاکم بالخیر" یعنی خپلو مړو لره په نیکی یادوئ ، پدی بناء رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت عمر فاروق رضی الله عنه منع کړ چی پداسی موقع باندی د بدو اعمالو تذکره مه کوه اصل اعتبار اسلام او فطرت لره دی (مظاهر حق بتغیر ج ۳ ص ۳٦۱) .

لدی حدیث نه زیات نه دا معلومیږي چی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته به د ده کوم بد عمل معلوم وُ چی د هغه په بناء باندی یی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د جنازی له لمونځ نه منع کولو او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ده په مقابل کی د هغه د کوم نیک عمل تحقیق وکړ او چی کله ورته یو صحابي دهغه د نیک عمل خبر ورکړ نو بیا یی د هغه د جنازی لمونځ وکړ او دایی هم وفرمایل چی ته جنتي یی تر څو د ده په اړه د چا په زړه کی بدګماني پاتی نشي او حضرت عمر رضی الله عنه ته یی خبرداری وکړ چی په داسی موقع باندی د بدو عملونو تذکره پکار نده بلکی په هر مسلمان باندی د جنازی لمونځ کول پکار دي لکه چی په بل حدیث کی ارشاد دی : "صلوا علی کل بر و فاجر" یعنی په هر نیک او بد باندی د جنازی لمونځ وکړئ (الجامع الصغیر للسیوطی ج ۲ ص ۳۷) .

لدی واقعی نه هرګز دا نه لازمیږي او نه دا خبره پکی ذکر ده " چی دوی نه کله لمونځ کړی او نه یی روژه نیولی او نه په کوم خیر کار کی برخه اخستی " د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابي کیدو سره نه کله لمونځ کول او نه روژه نیول د عقل او قیاس نه لری خبره ده ، فقط والله اعلم ۱۷ صفر ۱۴۰۲ھ .

د پڼی مبارکی په باره کی فتوی باندی اشکال او ددی ځواب :

(۴۳ سوال) د فتاوی رحیمیه دریم جلد (۱۰۵٦) نمبر سوال کوم چی (۲۰۸ ، ۲۰۹) صفحو باندی دی (په نوي ترتیب کی دا په سنت او بدعت کی " د نعل شریف نقشه د دعا د قبولیت لپاره سر باندی کیښول ښکله دي ؟ " عنوان لاندی ذکر شویدی هلته دی وکتل شي ج ۱ ص ٦۷ مرتب مخوا) .
پدیکی د سوال کونکي له عبارت نه معلومیږي چی د اشرف علي تهانوي رحمه الله د رسالی " زاد السعید " په آخر کی د نعل شریف په باره کی د دعا د اجابت لپاره چی کوم عمل ښودلی شوی د همدی په باره کی سوال شویدی او تاسو چی د دی کوم ځواب ورکړی دی دا په ظاهر کی د تهانوي رحمه الله د ښودلي شوي عمل سره ټکراو دی نو سوال دا دی چی دغه ټکراو د اختلاف رائی په بنیاد دی او یا د تبطیق کوم صورت شته ؟ امید دی چی ذکر شوی اشکال حل کړئ ، مهرباني .
ځواب : تاسو چی د نعل شریف په باره کی په فتوی باندی کوم اشکال کړیدی د دی په اړه عرض دا دی چی دغسی سوال له مفتي اعظم مفتي محمد کفایت الله صاحب نور الله مرقده نه شوی ؤ او هغه داسی ځواب ورکړی ؤ :
(۴۸) ځواب : د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د پاکو او مبارکو اثارو نه برکت حاصلول خو له صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو او متقدمینو علماؤ نه ثابت دي لیکن د متبرکه اشیاؤ او اثارو نه مطلب دا دی چی د دغو شیانو په باره کی دا خبره ثابته وي چی دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم استعمال کړي شیان (مثلاً چپنه ، قمیص او یا نعل مبارک) یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاک بدن اجزاء (مثلاً مبارک ویښته) دي لیکن له دغو څخه دکوم یو شي تصویر جوړول او ترینه برکت حاصلول له معتمدو علماؤ نه ثابت ندي .

که چیرته د تصویر نه هم برکت حاصلول صحیح شي نو بیا به د نعل مبارک کوم تخصیص نه وي بلکی چپنه ، قمیص ، ویښته او د قدم شریف په کاغذ باندی تصویر جوړول او بیا ورنه تبرک حاصلول او وسیله کولو حکم او د نعل مبارک له نقشی نه تبرک او توسل حاصلولو حکم به یو وي ، او د شریعت یو ماهر د دی له نتائجو نه بی خبر نشي پاتی کیدی ، کومو بزرګانو چی دنعل مبارک نقشه سرباندی ایښی ، ښکل کړي او توسل ورباندی کړی دا د هغو وجداني او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره د انتهائي محبت له اخطراري افعالو څخه دي او دا د نورو خلکو لپاره د یو عام حکم او قانون په حیث نشي استعمالولی .
او د دی خبری هم کوم ثبوت نشته چی د نعل مبارک دغه نقشه په حقیقت کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نعل مبارک صحیح تصویر دی یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نعل مبارک د منځنی پټی په درمیان او مخکینی دوه تسمو باندی همدغسی ګلان او نقشی شوی وي لکه پدغه نقشه کی شویدی او بغیر د ثبوت نه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه د یو صورت او شکل منسوبول یو ډیر خطرناک کار دی او د دی امکان دی چی "من کذب علی متعمداً الخ" د مفهوم په عموم کی شامل شي څکه چی دغه نقشی ته د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نعل مبارک ویل د دی ظاهري مطلب همدا دی چی هغه سړی دا دعوه کوي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم همدغسی پڼی استعمال کړي دي ، او بیا دغه سوال هم پیدا کیږي چی دغه نقش و نګار په وریښمو سره شوی ؤ او یا په تیلو سره او یا یواځی ټاپه وه ؟ د دغو ټولو خبرو نه د هیڅ یو هم ثبوت نشته او هر یو د خپل خواهش مطابق مختلف حکمونه کوي .
په هر حال تصویر ته د اصل منصب ورکول او د اصل پشان ورسره معامله کول له شرعي احکامو نه ثابت ندي ، او که چیرته د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نعل مبارک کوم چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک قدم سره لګیدلی چاته ملاو شي نو دا خو سعادت دی د هغه ښکلول او سرباندی کیښودل ټول صحیح دي لیکن د نعل تصویر او هغه هم داسی تصویر چی د اصل سره د مطابقت کوم دلیل موجود نه وي نو دا د اصل نعل مبارک قائمقام نشي کیدی الخ (کفایت المفتي ج ۲ ص ۵۹ ، ۶۰) .

دغه قسم د يو بل سوال په ځواب کې ليکي :

(۴۹ ځواب) که چيرته درسول الله صلى الله عليه ولم نعل (پڼه) چاته ملاو شي نو داخو سعادت، وي او دزيات محبت نه دغه نښکلول په سر باندى کيښودل هم موجب دسعادت دى ، مګر داخو اصل نقل ندى داخو تصوير دى او داهم نده معلومه چى دغه تصوير اصل سره موافق دى او که نه ، او دتصوير سره داصل شئ معامله کول په شريعت کى ندى ثابت ، او که نه درسول الله صلى الله عليه وسلم دلاس ، پښى ، وينته ، قميص او دچپنى به هم تصويرونه جوړيدى شي ، او که چيرته ددوى هم اصل سره دموافقت نه نظر واړولي شي نو همدا اوس بى شميره تصويرونه جوړيږي او ديو لوى فتنى دروازه کولاو شي ، کومو بزرګانو چى دغه تصوير سره دمحبت معامله کړى دادهغوى عاشقانه جذبات او دمحبت نتيجه وه مګر دادستور العمل ګرځولو لپاره حجت اودليل نشي کيدى ، (کفايت المفتي ج٢/ ٦١)

دغه پورتنۍ دوه فتوو نه وروسته هم حضرت مفتي صاحب ته مختلف سوالونه راغلل نو مفتي صاحب وليدل چى دمسلمانانو ترمنځ داختلاف اوشقاق دروازه کولاويږي نو مناسب يې وګڼل چى همدا اوس ددى څه غم وشي نو هماغه و چى حضرت مفتي صاحب خپل دغه دوه جوابنه حکيم الامت اشرف على تهانوي صاحب خدمت ته يو مکتوب ته وليږلى او بيا وروسته له دواړو خواو نه خط وکتابت صورت وينو، دغه خط وکتابت د" انمام القال فى بعض احکام التمثال " په نوم ديوې رسالې په شکل کى نشر شو اوپه کفايت المفتي دويم جلد وکتاب السلوک والطريقه په دريم فصل "توسل" کى هم نشر شويدى حضرت تهانوي صاحب چى کوم جوابونه ورکړي داختصار په غرض دهغه يو څو جملې دلته نقل کولې شي ، که تفصيل پکار وي نو کفايت المفتي دى مطالعه وکړى شي .

١ـ دحمد او صلوات نه وروسته احقر دواړه جوابونه ولوستل چى بالکل حق وي اوله درست معنى سره سره په اسلوب دکلام کى دادب رعايت په خاص طور سره دستاينې وړدى دکوم چى پدى نازکو مسئلو کى سخت ضرورت دى ، (بحواله کفايت المفتي ج٢/ ٦٢)

٢ـ داټول تفصيل دنفس حکم دى او که نه په کوم ځاى کى چى دفساد احتمال غالب وي نو هلته نقشه خو پريده پخپله اصل تبرکات هم په شرط دعدم اهانت او

عدم لزوم ختمول لازم او ضروري دي لکه څنګه چې دعمر فاروق رضی الله عنه دوني پریکولو واقعه نقل ده .
۳ـ داخو دطالبانو کار دی کوم چې په دواړه طرفونو کښې ډیر وسعت دی په هر جواب باندی اعتراض او شبهه او دهر اعتراض جواب خو کیدلی شي ، لیکن د شیخ شیرازي ارشاد راته یادیږي .

ندانی کی ما را سرجنګ نیست   وګر نه مجال سخن تنګ نیست

پدی وجه دمناظرانه کلام په بندولو سره ناظرانه عرض کوم ګویا چې په تحریراتو کې همیشه داحتیاط نه کار اخلم ، لکه څنګه چې دمکتوبات خبرت دریمه حصه ۳۳ کیال (۱۵) صفحه کی هم یو صاف مضمون شته مګر په مسئله کی څه تردد پیداشوی او بیا لدی سره سره دعوامو دمختلفو خواهشاتو نه کوم چې زما ذهن ورنه خالي و، اوس دیني مصلحت ددی تقاضا کوي چې د (دع مایریبک الی الامایریبک) دحدیث په حکم سره دحپلی رسالې " نیل الشفا"نه رجوع کوم اوکه درجه چې دضرر سبب واقع شوی وي دهغه نه استغفار کوم اودکوم صادق عاشق دغه فیصله رایادومه اوتکراروم .

علی انني راض بان احمل ا لهوی   واخلص منه لا علی ولالیا

یعنی پدی راضي یم چې عاشق یم ، اوپدی ورنه ځان خلاصوم چې نه فایده وکړم اونه تاوان . (کفایت المفتي ج۲/ ۶۸)
امید دی چې اوس به اشکال رفع شي ، فقط والله اعلم ۲۷/ رجب المرجب ۱۴۰۲ ه.

په خوب کی دامام ابو حنیفه رحمه الله دالله تعالی سره زیارت او دعذاب الهي نه نجات موندلو په باره کی دده سوال اودحق تعالی ځواب

۳۴ـ سوال : حضرت امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله خپل پرور دګار لره (۱۰۰) ځلی په خوب کی ولیدلو او دوی دالله تعالی نه درخواست وکړو چې دقیامت په ورځ به داخلک ستادعذاب نه څنګه بچ کیږي ؟ رب العزت وفرمایل څوک چې صبا بیګاه دغه کلمات وایي هغه زما دعذاب نه نجات مومي . هغه کلمات دادی : سبحان الأبدي

الأبد ...... الخ . ایا داواقعه مستند او معتبر ده اوپه کوم کتاب کی ده ؟ حواله پکار ده ، مهرباني .

خواب: دغه واقعه دفقه حنفي مستند کتاب طحطاوي علی الدر المختار ج۱/ ۳٦ او فتاوی شامي ج۱/ ۴۸ او غایه الاوطار ج۱/ ۲۱ کی ذکر شویده ، په شامي کی داسې ذکر دی . ((ان الامام رضی الله عنه تعالی عنه قال رأیت رب العزة فی المنام تسعا وتسعین مرة فقلت فی نفسی ان رأیته تمام المائة لأسألنّه بم ینجو الخلائق من عذابه یوم القیمة ؟ قال فرأیته سبحانه وتعالی فقلت یارب عز جارك وجل ثناءك وتقدست اسماؤك بم ینجو عبادك یوم القیمة من عذابك ؟ فقال سبحانه وتعالی : من قال بعد الغداة والعشی سبحان الأبدی الأبد.....)) یعنی امام ابو حنیفه رحمه الله له رب العزت سره په خوب کی (۹۹) ځلی ملاقات وکړ او بیا یې خپل زړه کی وویل که په (۱۰۰) سلم ځل می ولید نو سوال ورنه کوم چی دقیامت په ورځ به مخلوق دده له عذاب نه په څه نجات مومي ، امام صاحب فرمایي : چی بیا مې الله رب العزت په خوب کی ولید نو عرض می وکړ ای پرور دګاره ستا دعذاب نه به مخلوق دقیامت په ورځ په څه نجات مومي ؟ نو وی فرمایل : څوک چی صبا او بیګاه دغه کلمات وایي : سبحان الأبدی الأبد سبحان الواحد الأحد سبحان الفرد الصمد . پاک دی هغه ذات چی همیشه همیشه دی ، پاک دی هغه ذات چی یک تنهادی ، پاک دی هغه ذات چی تنها او طاق اوبی نیاز دی ، سبحان رافع السماء بغیر عمد . پاک دی هغه ذات چی آسمان یې بغیر ستنو ودرولې دی . سبحان من سبط الارض علی ماء جمد. پاک دی هغه ذات چی په کنګل شوی اوبو باندی ځمکه غوړولی ده . سبحان من خلق الخلق فاحصاهم عدداً . پاک دی هغه ذات چی مخلوق یې پیداکړی اوټول یې شمار کړیدی.

سبحان من قسم الرزق ولم ینس احداً . پاک دی هغه ذات چی رزق یې تقسم کړیدی او هیڅوک یې هیر کړی ندی ، سبحان الذی لم یتخذ صاحبة ولا ولداً. پاک دی هغه ذات چی خان لپاره یې نه ښځه نیولې او نه اولاد ، سبحان الذی لم یلد ولم

یولد ولم یکن له کفوا احداً. اوپاک دهغه ذات چی نه يې خوک زیږولی دی او نه دچانه زیږیدلی دی او نه دده خوک سیال شته . هغه به زما دعذاب نه نجات او خلاصې مومي.(شامي مقدمه ج۱/ ٤٨ ، غاية الاوطار ج۱ ۲۱)

هر مسلمان ته پکار دي چی دغه دعا خپله وظیفه وګرځوي او صبا بیګایې ووایې نو دابه هغه لپاره لویه کامیابي وي ، دمغفرت اودالله دعذاب نه نجات موندو لپاره ډیره بهترینه وظیفه ده .

رسول مقبول صلی الله علیه وسلم دوفات کیدو نه وړاندی په ناسته ولاړه او ګرځیدو راګرځیدو کی دغه کلمات لوستلی : سبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفرلي وتب علي انك انت التواب الرحيم . او کله به یې سبحان الله وبحمده استغفرالله واتوب اليه . او کله به یې سبحانك اللهم وبحمدك استغفرك واتوب اليك ، لوستل ، دغه ټول روایتونه تفسیر ددرمنثور ج٦/ ٤٠٨) کی ذکر دی (سورت النصر) بحواله سیرت مصطفی ج۳/ ١٥٦ حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله .)

دوظیفې قابل یوه دعا داهم ده

دایمان دحفاظت دعا

بسم الله الرحمن الرحيم اللهم انى اسئلك بعزتك ياعزيز وبقدرتك ياقدير وبحمدك ياحميد وبحكمتك ياحكيم وبرحمتك يارحيم وبعظمتك ياعظيم وبعفوك ياغفو وبفضلك ، يارحمن وبمنك يامنان ان تحفظ على الايمان فى اناء الليل واطراف النهار قائماً وقاعداً راكعاً وساجداً يقظاناً ونائماً حياً وميتاً وعلى كل حال يا ارحم الراحمين.

دانبیاو دهډوکو په متعلق

۴۵ سوال : یوه رساله کی دامام حسن خالص عسکري په حالاتو کی لیکلي دي چی : کله په سرمن رای کی قحطی راغله نو دوخت دخلیفه دحکم مطابق دباران سوالونه وشول خو بیاهم باران ونشو لیکن لدینه وروسته بو عیسائي راهب دعا وکړه نو باران وشو ځکه چی دهغه په لاس کی دکوم دفن شوی نبي هډوکی و، پدی وجه داشک پیداشو چی ایا واقعي دکوم نبي هډوکی و او که دکوم بل انسان ؟ او دهغه راهب په لاس دغه هډوکی د کوم ځای نه راغی ؟ او که واقعا دادنبي هډوکی وي نو ثبوت یې څه دی ؟لهذا په تفصیل سره جواب ورکړئ ، مهرباني.

ځواب: په حدیث شریف کی راځي چی انبیاء کرام پخپلو قبرونو کی ژوندی دی . لمونځ کوي او هغوی ته رزق ورکولی شي ، الله تعالی دانبیاء کرامو بدنونه په زمکه باندی حرام کړیدی ، فی حدیث ابن اوس قال ان الله حرم علی الأرض أجساد الانبیاء. رواه ابو داود والنسائي وابن ماجه والدارمي والبیهقي فی الدعوات الکبیر وفی حدیث ابی الدرداء قال ان الله حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیأفنبی الله حی یرزق فی حدیث مسلم وصح خبر الانبیاء احیاء فی قبورهم بصلون (مشکوات مع هامش ص۱۲۰، ۱۲۱ باب الجمعة .)

لهذاذکر شوی خبره صحیح نده که چیرته په صحیح سند او معتبر روایت سره ثابت شي نو بیا به مطلب داوي چی دکوم نبي له وفات کیدو نه مخکی ګوته وغیره کټ شوی وي او چاسره محفوظ پاتی وي لکه دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم ویښته او نوکان چی وفات نه وړاندی له بدن نه جدا شوی و اوس هم دخلکو سره محفوظ وی ،لدینه علاوه بل کوم تاویل په ذهن کی نه راځي ، فقط والله اعلم .

په نبوي دربار کی دامت اعمال وړاندی کیدل

۴۶_ سوال : تبلیغي حضرات بیانوي چی نبي اکرم صلی الله علیه وسلم باندی امت عملونه پیش کیږي ایا داخبره صحیح ده ؟

خواب: هوا نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته دخپل امت عملونه وړاندی کولی شي ، پدی شکل چی فلانی امتي دا وکړه او فلانـي دا، دامـت پـه نیکواعمالو سره ورتـه خوشحالي او په ګناهونو سره ورته تکلیف رسیږي .

وقال عليه السلام : "تعرض الأعمال يوم الإثنين ويوم الخمس على الله تعالى وتعرض على الانبياء وعلى الاباء ولامهات يوم الجمعة فيفرحون بحسناتهم ويزدادون وجوهم بيضاء ونزهة فاتقوا الله ولا تؤذوا موتاكم نوادر الأصول ص۲۱۳ مطبوعه دارالسعادة قسطنطنيه .(شرح الصدورص۱۷۸)"

فقط دپیر او دزیارت په ورځ دبندګانو اعمال الله ته پیش کیږي او دجمعی په ورځ دانبیاؤ او مور پلار ته ، نو دوی دهغوی په نیکیو باندی خوشحالیږي نو له الله تعالی نه وویریږئ او مړو ته تکلیف مه ورکوئ.

حضرات انبیاء کرام دعمر له شروع څه دکفر اوشرک نه محفوظ کیدل اوحضرت ابراهیم علیه السلام دقول " هذاربي " وضاحت

۴۷ ـسوال : انبیاء کرام له اول نه موحدین وي او که دقرائنو او دلائلو له لیدو نه وروسته موحدین جوړیږي ؟ پدی باره کی داهل سنت والجماعت څه عقیده ده ؟ ددی وضاحت وکړئ ، بعضې خلکو ته له ابراهیم علیه السلام نه ددی قول ((هذاربي)) (کوم چی قران مجید کی دي) اشکال پیداکیږي او هغه خلکو ته ددی آیت کریمه په وجه دا ویناکوي چی حضرت ابراهیم علیه السلام په ابتداء دعمر کی (معاذالله) موحد نه ولهذا پدی باره کی دوضاحت ډیر سخت ضرورت دی ، مهرباني.

خواب: باسمه سبحانه وتعالی حامدا ومصلیاً ومسلماً وهوالموفق :

حضرات انبیاء علیهم السلام له ابتداء نه موحدین دي ، دنبوت نه وړاندی او وروسته دکفر وشرک بلکی دکفر وشرک له بو ی نه هم بالکل پاک صاف وي ، فتاوی رحیمیه په یو خای کی مالیکلي دي ، نبوت او کفر دواړه خپل منځ کی سره ضد دی دا دواړه په یو ذات کی نشي یوځای کیږي ،لهذا څوک چی نبي وي هغه په هیڅ یو حالت کی په کفر سره نشي موصوف کیدی ، او څوک چی کافر وي هغه هم په هیڅ حالت کی نبي نشي کیدی ، (فتاوی رحیمیه ج٦/ ۳۹۱) (اوپه جدید ترتیب کی په همدی باب کی دغه فتوی ، کوم سړی چی حضور علیه السلام ته نوی مسلمان ولیکي څه حکم لري ؟

عنوان لاندی وګوري ، له مرتب نه) دا داهل سنت والجماعت عقیده ده کومه چی دعقائدو کلام په کتابو کی بیان شویده لکه چی شرح فقه اکبر کی وایي : "والانبیاء علیهم الصلواة والسلام ینــزهون عن الصغائر والکبائر والقبائح یعنی قبل النبوة وبعدها" یعنی انبیاء کرام قبل النبوت او بعد النبوت له صغیره ، کبیره او کفر او ګناه څخه بالکل پاک او منزه وي . (شرح فقه اکبر ص۱٦، ۱۷)

په شرح عقائد نسفي کی وایي : وفی عصمتهم عن سائر الذنوب تفصیل وهو انهم معصومون عن الکفر قبل الوحی وبعده بالاجماع وکذا عن تعمده الکبائر عند الجمهور .(شرح عقائد نسقي ص۹۸)

اوپه عقائد اسلام کی وایي : " انبیاء کرام ټول صادقان او نیکو کاران او له کبیره او صغیره ګناهونو نه پاک وو " ذدی تفصیل دادی چی ټول انبیاء کرام دوحی له راتلو نه وروسته یعنې له نبي جوړیدو نه بعد له کفر ، شرک او ټولو کبیره ګناهونو نه عمدا اوسهواً پاک وو ... مګر له کفر او شرک نه اتفاقاً پاک وو له هیڅ یو نبي نه نبوت نه وړاندی هم کفر او شرک ندی صادرشوی الخ . (عقائد اسلام ص۳۸، ۳۹ باب نمبر ۱ فصل نمبر ۴ مصنف مولانا ابو محمد عبدالحق محدث دهلوي ومفسر تفسیر حقاني)

دحضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله تصنیف " عقائد اسلام" کی لیکي:

څلورمه عقیده : ټول انبیاء کرام دالله تعالی پاک او غوره بندګان دکبیره او صغیره ګناهونو نه معصوم وو دانبیاو دعصمت طهارت او نزافت عقیده ساتل دایمان جزء دی ، که چېرته انبیاء کرام معصوم نه وای نو الله تعالی به مطلقاً بی چون وچرا ددوی داطاعت او پیروي کولو حکم نه کولو اونه به یې ددوی تابعداري خپل تابعداري ګرځوله اونه به یې د انبیاء کرامو په لاس بیعت کولو ته پخپل لاس بیعت کول ګرځولو ، لکه چی فرمایي :

"ومن یطع الرسول فقد اطاع الله ، ان الذین یبایعونك انما یبایعون الله یدالله فوق أیدیهم "چاچی درسو الله اطاعت وکړ هغه دالله تعالی اطاعت وکړ ، په تحقیق سره کوم خلک چی تاسره بیعت کوي په حقیقت کی دوی الله تعالی سره بیعت کوي ، دالله تعالی لاس ددوی دلاسونو دپاسه دی .

معصوم هغه وي چې په ټولو حالاتو کې من کل الوجوه يعنې په اخلاق ، عادات ، افعال او اقوالو کې دالله تعالی مصطفی او مرتضی يعني برګزیده او پسندیده بنده وي او دهغه باطن دمعصیت له مادی نه بالکل پاک وي يعني دشیطاني او نفساني مادی نه دهغه زړه بالکل پاک او منزه دی ، ځکه چې الله تعالی په قرانکریم کې انبیاء کرامو ته مصطفين الاخيار او عباد مخلصين فرمايلي دي ، او لدينه مراد من کل الوجوه ارتضا او اصطفاء او کامل اخلاص دی ، او من کل الوجوه پاک وصاف او بلاشرکت غیر دالله تعالی خالص او پسندیده بنده هغه څوک کیدی شي چې دهغه باطن د نفس او دشیطان له بندګئ نه بالکل پاک وي ، او لدغی معصیت مادی نه بالکلیه طهارت او نزاهت نوم عصمت دی (عقائد اسلام ص ۴۵، ۴۶ حصه اول)

حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله خپل يو بل کتاب(علم الکلام) کې ليکي : " دايمان او اسلام نه ددوی زړه دومره ډک وي چې دجزء ياتجزيې په مقدار هم کفر او دجل لپاره ځای پکی نه وي ، کلا وحاشا داسی هرګز نه وي چې حاته پخپله دجال ووايي او بيا له هغه سره قتال وجدال حرام وګني او په نهايت تضرع او عاجزي سره دهغه دبقاء لپاره دعا وکړي" (علم الکلام ص۲۰۱ حصائص نبوت)

لدی حوالو نه معلومه شوه چې انبياء عليهم الصلواة والسلام له ابتداء نه دکفر او شرک بلکې دکفر او شرک له شائبی نه هم پاک او صاف منزه وي ، او داداهل سنت والجماعت عقيده ده ، الله تعالی له انبياء کرامو نه له عالم ازل نه دخپل توحيد ، عبادت او دی طرف ته د دعوت کولو ډير پوخ او مضبوطه وعده اخستی ده، په قرانکریم فرمايي :

"واذاخذنا من النبيين ميثاقهم ومنك ومن نوح وابراهيم وموسی وعيسی بن مريم واخذنا منهم ميثا قا غليظا، ليسئل الصدقين عن صدقهم واعد للكفرين عذابا اليما"(سورت احزاب ايت۷، ۸)

ترجمه : کله چې مونږ دټولو انبياؤ نه دا اقرار او وعده واخسته (چې دالهي احکامو به تابعداري کوي اوپدی کی دالله مخلوق ته دعوت وتبليغ اويوبل سره تعاون او امداد هم داخل دی) اوله تانه مو هم اقرار واخست اوله نوح ، ابراهيم ، موسی، او عيسی عليهم السلام نه هم اوله ددی نه مو ډيره پخته او مضبوطه وعده اخستی ده ترڅو (دقيامت په ورځ) دغه صادقينو (انبياء عليهم السلام) نه ددوی درشتياو تحقيق

وکړي او کافرانو لپاره دردناک عذاب تیار کړیدی .(معارف القران خلاصه تفاسیر ج۷ ۸۹)

په تفسیر جلالین کی راغلي (و) اذکر (اذ اخذنا من النبیین میثاقهم) حین اخراجو من صلب ادم کالذر جمع ذرة وهی اصغر النحل (ومنك ومن نوح وابراهیم وموسی وعیسی ابن مریم) بان یعبدو الله ویدعوا الی عبادته وذکر الخمسة من عطف الخاص علی العام (واخذنامنهم میثاقاً غلیظا) شدیداًبالوافاء بما حملوه وهو الیمین بالله تعالی.... الخ(جلالین مع صاوي ج۳/ ۲۵۲)

دجلاللین په حاشیه صاوي کی راځي : (قوله بان یعبدو ا الله) ای یو حدوه وهو تفسیر للمیثاق (قوله ویدعوا الی عبادته) ای یبلغو شرائعه للخلق فعهد الانبیاء لیس کعهد مطلقه الخلق .....(قوله من عطف الخاص علی العام) ای والنکتة کونهم اولو العزم ومشاهیر الرُسُل وقدمه صلی‌الله علیه وسلم لمزید شرفه وتعظیمه (صاوي علی جلالین ج۳/ ۲۵۲)

پدی ذکر شوی آیت کریمه کی الله تعالی په عالِم ازل کی حضرات انبیاء کرامو نه چی کومه وعده اخستی وه هغه یې بیان کړیده اوپه انبیاء کرامو کی هم کوم چی اولو العزم او مشهور دی خاص طور سره ددوی ذکر دی په هغوی کی خلیل الله حضرت ابراهیم علیه اسلام هم دی ، اوس لږ فکر وکړئ الله تعالی چی دکوم شي انبیاء کرامو نه مضبوطه وعده اخستی ده (او ددغو حضراتو وعده دعام مخلوق پشان نده لکه دصاوي له عبارت نه چی معلومیږي) نو ایا دنیاته تشریف راوړونه وروسته ددی وعدی نه خلاف له دوی نه تصور کیدی شي ؟ او ایا داخبره کولی شي چی انبیاء علیهم السلام له اول پیدائش نه موحد نه وي ؟ کلا وحاشا ددی خبری تصور قدري هم نشي کیدای !لهذا ددی آیت کریمه په رڼا کی داخبره په جرات سره کولی شي چی انبیاء کرام له ابتداء دپیدائش نه موحدین دي اوله ابتداء نه دکفروشرک نه بالکل پاک وصاف او منزه دي ، توحید او دالله عبادت طرف ته دعوت ورکولو لپاره دوی دنیا ته لیږلی کیږي،لهذا حضرت ابراهیم علیه السلام چی اولو العزم نبي دی دوی هم ابتداء پیدائش نه موحد و بلکی موحد اعظم و لکه چی الله فرمایي : (ولقد

اتینا ابراهیم رشده من قبل وکنابه عالمین) دغه آیت کریمه هم دیو تفسیر مطلبق پدی باندی دلالت کوي او همدارنګه الله تعالی دده په باره کی فرمايي: (اذجاء ربه بقلب سليم) اودقلب سليم ادنی مرتبه داده چی هغه دکفر نه پاک وي (تفسیر رازي) دغه آیت کریمه هم زمونږ په دعوی باندی دلالت کوي.

په روح المعاني کی لیکي: (ولقد آتینا ابراهیم رشده) ای الرشد اللائق به وبامثاله من الرسل الکبار وهو الرشد الکامل اعنی الاهتداء الی وجوه الصلاح فی الدین والدنيا والارشاد بالنوامیس الالهية ..... (من قبل) ای من قبل موسی وهارون وقیل من قبل البلوغ حین جرح من السرب وقیل من قبل ان یولد حین کان فی صلب آدم علیه السلام الخ(روح المعاني ۱۷، ۵۸)

په تفسیر رازي کی لیکي: (الحجة السادسة) انه تعالی قال فی صفة ابراهیم علیه السلام وایضا مدحه فقال " ولقد اتینا ابراهیم رشده من قبل وکنابه عالمین" ای اتیناه رشده من قبل من اول زمان الفکرة وکنابه عالمین ای بطهارته وکماله، ونظیره قوله تعالی الله اعلم حیث یجعل رسالته)(تفسیر امام رازي ٤/ ۱۱۰ تحت الأية فلما جن علیه اللیل رأی کوکبا)

په سوال کی چی په کوم آیت کریمه باندی اشکال شوی هغه آیت پخپل حقیقي معنی باندی ندی ، او معاذالله هغه اعتقاداً "هذاربي" ندی فرمایلي مفرسین ددی مختلف جوابونه کوي مثلاً: دوی داداستفهام انکاري په طور فرمایلي او صرف استفهام حذف شوی او یايې داستهزا په طور فرمایلي او یايې دقوم دعقیدی په اعتبار سره فرمایلي یعنې ستاسو دخیال مطابق دغه ستوري زمارب دی مګر اوس لږ وخت بعد ددی حقیقت ښکاره کیږي لکه څنګه چی هغه راپریوته نو ابراهیم علیه اسلام په هغوی باندی دحجت قائمولو لپاره وفرمایل : "لا أحب الافلین"زه له پریوتونکو شیانو سره محبت نه کوم او چاسره چی رب او معبود جوړولی شي هغه له هرڅه نه زیات دمحبت او عظمت لائق وي نو کله چی حضرت ابراهیم لدینه دمحبت نفی وکړه نو

مطلب دا شو چې زه دغه رب نه گنم ، ځکه کوم شئ کې چې تغیير پيداکيږي او فنا کيږي هغه دمعبود جوړيدو قابل نه وي.
په مناظره کې دمقابل طرف دخبری رد کولو يوه طريقه داهم ده چې اول دهغه خبره تسليم کړی شي اوبيا ورباندی دلائل قائمولو سره رد وکړی شي کله کله دا طريقه ډيره موثره وي او مقابل طرف ژر دخپلی خبری نه رجوع کوي ، دلته سيدنا حضرت ابراهيم عليه السلام هم دغه طريقه اختيار کړيده يعنیاول يې "هذاربی" فرمايلی او بيايې" لا احب الافلين" فرمايلو سره دهغه ترديد کړيدی لکه چې په آينده کې دمفسرينو له اقوالو نه ظاهريږي .
دسپوږمۍ او دلمر په ليدلو سره هم ابراهيم عليه اسلام همدغسی طريقې سره دهغوی ترديد کړيدی اوپه آخر کې يې "انی بریٔ مماتشرکون" فرمايلو سره لدی ټولو نه براءت او بيزاري وړاندی کړی دی ، حضرت ابراهيم عليه السلام پدی جمله کې دشرک نسبت قوم ته کړی دوی طرف ته نسبت کول ددی خبری ښکاره دليل دی چې قوم په شرک کې اخته و او دی پخپله له شرک او کفر نه بالکل پاک او صاف و.
په قران مجيد لدی مناظری نه وړاندی حضرت ابراهيم عليه السلام چې دبت پرستي کوم رد کړيدی هغه يې داسې بيان کړيدی : (واذقال ابراهيم لأبيه آزر اتتخذ اصناماً الهة انی اراك وقومك فی ضلال مبين) سورت انعام پ۷ .
ترجمه : او کله چې ابراهيم عليه السلام خپل پلار آزر ته وفرمايل آيا ته بتانو لره معبود گرځوی بيشکه زه تالره او ستاتول قوم لره په ښکاره غلطي کې وينم ، دغه ترديد هم واضح دليل دی چې دابراهيم عليه السلام "هذاربی" ويل عقيدتاً نشي کيدی ، ده ته دخپل رب معفرت له دينه وړاندی حاصل و، په تفسير رازي کې وايي .
(الحجة الثانية) ان ابراهيم عليه السلام كان قد عرف ربه قبل هذه الواقعة بالدليل ، والدليل على صحة ما ذكرناه انه تعالى اخبرعنه انه قال قبل هذه الواقعة لأبيه آزر اتتخذ اصناماًالهه انی أراك وقومك فی ضلل مبين) (تفسير رازي ٤/ ١١٠)
اوس مفسرينو چې د"هذاربی" کوم جوابونه کړی هغه وګورئ.

په تفسیرامام رازي کی لیکي : فثبت بهذه الدلائل الظاهرة انه لايجوز ان يقال ان ابراهيم عليه السلام قال على سبيل الجزم هذاربى وانه ابطل هذا، بقى ههنا احتمالان (الاول) ان يقال هذا كلام ابراهيم بعد البلوغ ولكن ليس الغرض منه اثبات ربوبية الكواكب بل الغرض منه احد امور السبعة (الاول) ان يقال ان ابراهيم لم يقل هذاربي على سبيل الاخبار بل الغرض منه انه كان نياظ عبدة الكواكب وكان مذهبهم ان الكواكب ربهم والههم فذكر ابراهيم عليه السلام ذلك القول الذى قالوه بلفظهم وعبارتهم حتى يرجع عليه فيبطله ومثاله ان الواحد منا اذا ناظرمن يقول بقدم الجسم فيقول الجسم قديم فاذاكان كذلك فلم نراه ونشاهده مركبا متغيراً فهو انما قال الجسم قديم إعادة لكلام الخصم حتى يلزمه المحال عليه فكذا ههنا، قال هذاربى والمقصود حكاية قول الخصم ثم ذكر عقيبه مايدل على فساده وهو قوله لا احب الأفلين وهذ الوجه هو المعتمد فى الجواب والدليل عليه انه تعالى دل فى اول الاية على هذه المناظرة بقوله تعالى وتلك حجتنا اتينا ها ابراهيم على قومه ، (والوجه الثانى فى التاويل) ان نقول قوله هذا ربى معناه هذاربى فى زعمكم و اعتقادكم..... (والوجه الثالث) ان المراد منه الاستفهام على سبيل الانكار الا انه اسقط حرف الاستفاهم استغناءً عنه لدلالة الكلام عليه (والوجه الرابع) ان يكون القول مضمراً فيه والتقدير قال " يقولون هذاربى" وانما القول كثير (والوجه الخاس) ان يكون ابراهيم ذكر هذا الكلام على سبيل االاستهزا كما يقال لدليل سادقوما هذا سيدكم على سبيل الاستهزاء.... الخ. (تفسير امام رازي ٤/ ١١١، ١١٢، تحت الاية فلما جن عليه الليل لأى كوكبا)

شپږم او اوم جواب چې داوږدوالي له ويرې نقل نه کړی شو که دچا شوق وي نو په تفسير کی مطالعه کولی شئ.

په تفسیر روح المعاني کی لیکي : (قال هذاربی) استئناف مبنی علی سوال نشاء من الکلام السابق وهذا منه علیه السلام علی سبیل الفرض وارخاء العنان مجاراة مع ابیه وقومه الذین کانوا یعبدون الاصنام والکواکب ، الی قوله وقیل فی الکلام استفهاماً انکاریا محذوفاً وحذف اداة الاستفهام کثیر فی کلامهم...... وقیل انه مقول علی سبیل الاستهزاء وقیل انه علیه السلام اراد ان یبطل قولهم بربوبیة الکواکب ....الخ (تفسیرروح المعاني ۷/ ۱۹۸)

په تفسیر دتبصیر الرحمان وتیسیر المنان المعروف به (تفسیر مهائمی) کی لیکي :

(فلما جن) ای اظلم علیه اللیل رأی کوکبا، الذهرة اومشتری (قال) لقومه ارخاء للعنان معهم باظهار موافقته لهم اولاً ثم ابطال قولهم بالإستدلال لانه اقرب لرجوع الخصم (هذاربي فلما افل) وهو دناءة تنافی الالهية بل لانه اقرب لرجوع الخصم (هذاربی فلماافل) وهود ناءة تنافی الالهية بل تمنع من المیل الی صاحبها فضلا من اتخاذه الهاً او معبودا فضلا عمایفتقر الیه .(تفسیر مهائمی۱/ ۲۲۵)

په تفسیر بیان القران کی لیکي : دویم شی: ابراهیم علیه السلام له هلک والی له وخت نه توحید پیژندونکی و.... فلما جن...... بیا کله چی په ده او تولو باندی دشپې تیاره خوره شوه نو یوه ستوری یې ولید چی پرقیدو نو ده خپل قو م ته وفرمایل چی ستاسو ه گمان موافق دا زما او ستاسو رب (او زما په احوالو کی متصرف) دی ، ډیر بنه اوس لږ ساعت کی به حقیقت معلوم شي کله چی.لږ وخت وروسته هغه ستوری راپریوته نو ده وفرمایل زه دغسي ډبیدونکی سره کوم چی دغسی حالت وربانـدی راځي چی دحدوث په وجه پخپله دلالت کوي چی دامحدث (پیداکوونکی)ته محتاج دی ، محبت نه کوم او محبت دربوبیت له اعتقاد سره لازم دی نو حاصل یې داشو چی دارب نه گنم او بیا په همدی شپه او یابله شپته کی سپوږمی ولیده چی خلیده نو دوراندی پشان وفرمایل (ستاسو دگمان موافق) دازما او ستاسو رب (متصرف فیٔ الحوال) دی ، بنه لږ ساعت کی به ددی هم حقیقت معلوم شي کله چی دغه هم راپریوته نو بیا یې وفرمایل که چیرته زما حقیقي رب ماته هدایت نه وای کړی (لکه چی تر اوسه پوری راته هدایت کړی دی) نو زه به هم دستاپشان گمراه شم ، اوبیا

کله چې لمر یې ولید چې ډیر په آب وتاب او ځلیدونکی ژ‌ابنکاره شوه نو دوړاندی پښان یې وفرمایل چې (دستاسو دګمان موافق) دازه او ستاسو رب (او متصرف فی الاحوال) دی او داخو په ټولو کی لوی دی پدی باندی به خبره تمامیږي ، که چېرته دده ربوبیت باطل شو نو دوړو خو په طریق اولی سره باطلیږي ، غرض داچې کله مابنام شو داهم پریوته نو بیایې وفرمایل بیشکه زه ستاسو له شرک نه بیزار یم یعنې براءت ظاهروم عقیدتاً خو همیشه بیزاروم .(بیان القرآن ص۱۰۹ ج۳سورت انعام).

په تفسیر معارف القران کی لیکي : "فلماجن علیه اللیل رأی کوکباًقال هذاربی"یعنی یوه شپه کله چې بنه تیاره شوه اویوه ستوری یې ولید نو خپل قوم ته یې اورولو لپاره وفرمایل دغه ستوری زمارب دی ، مطلب داو چې ستاسو په خیال او عقیده باندی دغه زما او ستاسورب یعنې پالونکی دی ، اوس به لږ ساعت کی ددی حقیقت وګورئ څنګه چې لږ وخت وروسته راپریوته نو ابراهیم علیه السلام ته پخپل قوم باندی دحجت قائمولو بهتره موقعه په لاس راغله او وی فرمایل :"لااحب الافلین"دغه لفظ دافول نه اخستل شوی چې معنی یې ډوبیدل دي ، مطلب دادی چې ډوبیدونکو څیزونو سره محبت نه کوم او کوم شئ چې معبود جوړولی شي نوښکاره ده چې هغه سره له هرڅه نه زیات محب ساتل پکار دی ...... او بیا چې کله بله کومه شپه سپوږمی پرقیدونکی ولیده نو بیا یې قوم ته اورولو دپاره پخواني طریقه استعماله کړه او وی فرمایل : ستاسو دعقیدی مطابق دا زما رب دی مګر ددی حقیقت به هم لږ ساعت کی معلوم شي څنګه چې سپوږمی راپریوته نو وی فرمایل که چېرته زما رب ماته هدایت نه وای کړی نو زه به هم ستاسو په شان په ګمراهانو کی داخل شوی وای اوسپوږمی به می خپل رب او معبود ګڼلی وای لیکن ددی ختل او پریوتل بدلیدونکی حالاتو ماته خبرداری راکړ چې دغه ستوري هم دعبادت قابل نده ، پدی آیت کی دی طرف ته هم اشاره وکړه چې زما رب کوم بل شئ دی چې هغه طرف ته ماته هدایت کړی شویدی. لدینه وروسته یوه ورځ لمر یې راختونکی ولید نو بیا یې قوم ته اورولو لپاره هغه مخکیني طریقه وکړه او وی فرمایل : ستاسو دخیال مطابق دازمارب دی او داخو دټولو نه لوی دی مګر ددی لوی حقیقت هم عنقریب معلوم شي نو څنګه لمر هم پخپل وخت راپریوت نو په قوم باندی آخري حجت قائمولو سره اصل حقیقت واضح طور سره بیان کړ او وی فرمایل : "یاقوم إنی بریٔ مما تشرکون"یعنی ای زما قومه زه

ستاسو له دغو مشرکانه خیالاتو او عقائدو بیزار یم پدی چی تاسو دالله مخلوق لره الله تعالی سره شریک کړیدی .... الخ .

(معارف القران ۳/ ۳۸۱ مفتی محمد شفیع صاحب)

په عقائداسلام کی علامه ابو محمد عبدالحق صاحب تفسیر حقاني دهلوي لیکي:

(ابراهیم علیه السلام "هذاربی " داستهزاء په طور کافرانو باندی الزام لپاره فرمایلی و نه دعقیده په طور) کما قال تعالی ولقد اتینا ابراهیم رشده من قبل ، الایة .

یعنی مونږ داول عمر نه ابراهیم علیه السلام ته رشد او هدایت ورکړی و نو درشد دامنافي دی چی لمر ته رب ووایي . (عقائد اسلام ص۴۰ باب ۱، فصل۴) .

د پورتني ذکر شوی حوالونه د "هذا ربی" مطلب واضح شو ، لهذا د دی ایت کریمه په ذریعه هیڅ قسم اشکال کول درست ندي ، او سیدنا ابراهیم علیه السلام له ابتداء نه موحد ؤ د ادنی درجی شک او د شبهی هم گنجائش نشته ، فقط والله اعلم .

د حضرت رکانه رضی الله عنه د صحابي کیدو تحقیق :

(۴۸ سوال) ما اوریدلي چی رکانه (کوم چی پهلوان ؤ) رسول کریم صلی الله علیه وسلم سره دوه دری ځلی او پهلواني کړیده ایا هغه صحابي ؤ ؟ اسلام قبول کړی ؤ ؟ او د اسلام په حالت کی وفات شویدی ؟ امید دی چی حوالو سره ځواب راکړئ ، مهرباني .

ځواب : حضرت رکانه رضی الله عنه د عربو مشهوړ پهلوان ؤ ، د اسلام راوړو نه وړاندی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره دوه دری ځلی پهلواني کړیده او هر واری رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورته شکست ورکړیده دا هم د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم یوه معجزه وه مګر پدی وخت کی اسلام قبول نکړ البته نقل دي چی دغه واقعه د ده د اسلام قبلولو سبب شوه ، د اسلام قبلولو نه وروسته په مدینه منوره کی سکونت اختیار کړ، له ده نه احادیث هم نقل شویدي ، د حدیثو په کتابونو کی په باب الطلاق کی د طلاق البتة په باره کی یو مشهور حدیث دی او دا واقعه د حضرت رکانه رضی الله عنه ده او هغه حدیث د حدیث رکانه په نوم مشهور دی او د اسلام په حالت کی وفات شویدی لهذا د ده په صحابي کیدو کی هیڅ شک نشته ، د ده وفات په مدینه منوره کی د یو روایت مطابق د حضرت معاویه رضی الله عنه په دور

خلافت کی ۴۱ھ یا ۴۳ھ کی شویدی او د بل روایت مطابق د حضرت عثمان رضی الله عنه په دور خلافت کی شویدی ، په تهذیب التهذیب کی لیکي :

"(رکانة) بن عبد یزید بن هاشم بن المطلب بن عبد مناف المطلبی کان من مسلمة الفتح وهو الذی صارع النبی صلی الله علیه وسلم وذلك قبل اسلامه وقیل کان ذلك سبب اسلامه له احادیث وعنه نافع ابن عجیر وابن ابنه علی بن یزید بن رکانة وقیل عن یزید بن رکانة قال الزبیر بن بکار نزل رکانة المدینة ومات بها فی اول خلافة معاویة ، قلت وقال ابن حبان یقال انه صارع النبی صلی الله علیه وسلم وفی اسناده خبره یعنی الذی رواه (ت) نظر وکذا قال ابن السکن وقال ابو نعیم سکن المدینة وبقی الی خلافة عثمان ویقال توفی سنة (٤١)" (تهذیب التهذیب ص ۲۸۷ ج ۳ ، للعلامة حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله) .

"اسد الغابة فی معرفة الصحابة" کی لیکي : "(رکانة) بن عبد یزید بن هاشم بن المطلب بن عبد مناف بن قصی بن کلاب بن مرة القرشی المطلبی . الی قوله . وهذا رکانة هو الذی صارعه النبی صلی الله علیه وسلم فصرعه النبی صلی الله علیه وسلم مرتین او ثلاثا وکان من اشد قریش وهو من مسلمة الفتح وهو الذی طلق امرأته سهیمة بنت عویمر بالمدینة . الی قوله . ثم اسلم بعد ونزل المدینة واطعمه رسول الله صلی الله علیه وسلم من خیبر ثلاثین وسقا ومن حدیثه عن النبی صلی الله علیه وسلم ان لکل دین خلقا وخلق هذا الدین الحیاء وتوفی رکانة فی خلافة عثمان وقیل توفی سنة اثنتین واربعین اخرجه الثلاثة" (اسد الغابة فی معرفة الصحابة ج ۲ ص ۱۸۷ ، ۱۸۸ للعلامة عز الدین ابو الحسن علی بن محمد بن عبد الکریم الجزری المعروف بابن الاثیرم م ۵٦۳۰ باب الراء والکاف) .

په " اکمال فی اسماء الرجال " کی لیکي : "رکانة بن عبد یزید ، هو رکانة بن عبد یزید بن هاشم بن المطلب القرشی کان من اشد الناس حدیثه فی الحجازیین بقی الی زمان عثمان وقیل مات سنة اثنتین واربعین روی عنه جماعة رکانة بضم الراء وتخفیف الکاف والنون" (اکمال فی اسماء الرجال ص ۱۰ ، حرف الراء فصل فی الصحابة رضی الله عنهم لصاحب المشکواة الشیخ ولی الدین ابی عبد الله محمد بن عبد الله الخطیب رحمهم الله) (دا رساله د مشکواة شریف په آخر کی ده) فقط والله اعلم .

د شیعه ګانو دغه وینا چی که چیرته حضرت علي کرم الله وجهه اول خلیفه جوړ کړی شوي وای نو د جمل او صفین جنګونه به واقع شوي نه وو ، ددی ځواب څه دی ؟

(۴۹ سوال) پدی اهم ترینه مسئله کی محققین علماء کرام څه فرمائي : ماسره د یو ملاویدونکي شیعه وینا ده چی که چیرته حضرت علي کرم الله وجهه خلیفه اول جوړ شوی وای او له دینه وروسته ابوبکر ، عمر او عثمان رضی الله عنهم خلیفه ګان جوړ شوي وای نو د جمل او صفین جنګدبه نه واقع کیدل او په زرګونه مسلمانان او صحابه کرام رضی الله عنهم به پدی جنګونو کی نه وژل کیدل صحابه کرامو رضی الله عنهم صدیق اکبر خلیفه کړ او دا مناسب نه وُ ، د دی ځواب څه دی ؟

ځواب : محققینو علماء کرامو د دی اعتراض په دلائلو سره ځواب لیکلی دی او پدی موضوع کی چی کوم کتابونه لیکل شوي هغه دی مطالعه کړی شي ، دا خبره باید ذهن کی وساتلی شي چی الله تعالی ته کوم شی منظور وي او د کوم شي چی اراده کړي وي هماغه شی کیږي (ان الحکم الا الله) پدی کی د بنده هیڅ اختیار نشته ، الله تعالی د انسان د پیدا کیدو نه وړاندی د دی فیصله کړی وي چی دومره کلونه به د ده عمر وي او پخپل ژوند کی به دا دا کارونه کوي او د هغه مقرر وخت په رسیدو سره به دنیا نه رخصتیږي پدیکی یوه لحظه هم فرق نه راځي لکه الله تعالی فرمائي : "اذا جاء اجلهم لایستأخرون ساعة ولایستقدمون" او کله چی د چا د مرګ وخت

راشي نو يو ساعت نه وروسته کيږي او نه مخکې ، او همدارنګه فرمائي : "ولن يؤخر الله نفساً اذا جاء اجلها" يعنی د کوم انسان چی د مرګ نیټه پوره شي بیا یی الله تعالی هر ګز نه وروسته کوي (سورت منافقون) .
نو ستا د شيعه ملګري د خيال مطابق که چيرته حضرت علي کرم الله وجهه خليفه اول منتخب شوی وای نو دری واړه خليفه ګان به د خلافت نه محروم پاتی کيدل ځکه چی دا دری واړه بزرګان د حضرت علي رضی الله عنه په ژوند کی وفات شويدي د ابوبکر صديق رضی الله عنه خليفه اول وفات ۱۳ﻫ کی شوی او د خليفه دويم حضرت عمر فاروق رضی الله عنه شهادت ۲۴ﻫ کی شوی دی او ددريم خليفه حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه شهادت ۳۵ﻫ کی شوی او د څلورم خليفه حضرت علي رضی الله عنه شهادت ۴۰ﻫ کی شوی دی نو اوس تاسو وښايئ که چيرته حضرت علي کرم الله وجهه اول خليفه جوړ شوی وای نو ابوبکر ، عمر او عثمان رضی الله عنهم به څنګه خليفه ګان کيدل کوم چی د الله تعالی د فيصلی مطابق له ورانـدی نه وفات شوي وو .
نو لدينه معلومه شوه چی کومه فيصله صحابه کرامو رضی الله عنهم کړی وه هغه الهامي او د مشيت خداوندي عين مناسب وه ، ستا د شيعه ملګري تجويز لغوه او غلط دی او د الله تعالی په فيصله کی لاسوهنه ده دڅلور واړو خليفه ګانو خلافت د الله تعالی د عين مرضي مطابق و او رسول اکرم صلی الله عليه وسلم هم لـدی فيصلی نه مکمل طور سره راضي و له روايتونو نه د دی اشاری ثابتيږي لکه چی په يو روايت کی دي يوځل رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ديو بانډه چي نه څو اوښان په قرض واخستل چی قيمت به يی فلانی وخت درکوو ، حضرت علي رضی الله عنه بانډه چی ته وفرمايل : ورته د رسول الله صلی الله عليه وسلم تپوس وکړه چی که چيرته ستا له وفات وروسته راشم نو ماته به قيمت څوک راکوي ؟ هغه ورغی او تپوس وکړ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چی ابوبکر به درکوي هغه راغی او علي رضی الله عنه ته يی بيان وکړ نو بيا يی ورته وفرمايل : ورنه تپوس وکړه چی که د ابوبکر رضی الله عنه له وفات نه وروسته راشم نو قيمت به راته څوک راکوي ؟ هغه بيا ورغی او تپوس يی وکړ او رسول الله صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ چی عمر فاروق رضی الله عنه به درکوي هغه چی علي رضی الله عنه ته بيان وکړ نو بيا يی ورته وويل : ورشه دا

تپوس ترینه وکړه چی که چیرته د عمر فاروق رضی الله عنه له وفات نه وروسته راشم بیا به راته قیمت څوک راکوي ؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خواب کی ورته وفرمایل چی عثمان غني به درکوي هغه راغی او علي صاحب ته یی بیان وکړ نو بیا ورته وفرمایل چی ورشه او دا تپوس ترینه وکړه چی که چیرته دعثمان رضی الله عنه له وفات نه وروسته راشم نو بیا به قیمت څوک راکوي ؟ هغه چی دا تپوس وکړ نو سرور عالَم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل کله چی ابوبکرؓ، عمر او عثمان رضی الله عنهم وفات شي نو که کیدی شي نو ته هم مړ شه او یا دا چی په دومره وخت کی به ته څنګه ژوندی پاتی کیږی ته به هم مړ کیږی غرض دا چی دغه ځل بار بار تپوس کولو په وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم له خفګان نه داسی ځواب ورکړ ، رواه اسمعیلی فی معجمه (از فتاوی محمدي ص ۷۴ مؤلف حضرت مولانا سید اصغر حسین صاحب محدث دیوبند) فقط والله اعلم .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دری شیان خوښ وو د هغو تفصیل

(۵۰ سوال) رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی چی ماته د دنیا دری شیان خوښ دي ، خوشبويي ، ښځه ، لمونځ ، د دی لږ تفصیل بیان کړئ ، مهرباني .
ځواب : خوشبويي دل و دماغ معطر کوي او عقل زیاتوي او په عقل سره دین قائم پاتی کیږي پدی وجه خوشبويي ورته خوښ وُ ، او ښځي سړو لپاره د عفت او پاکدامنی اِو د امت د زیاتیدو ذریعې وي پدی وجه ښځې یی خوښې وې ، او لمونځ د اسلام یو اهم رکن دی او د دین بنیاد دی او د لمانځه په وخت کی سړی د الله تعالی په دربار کی حاضریږي یعنی ملاقات کیږي پدی وجه یی لمونځ زیات خوښ وُ ، فقط والله اعلم

د علم او د علماؤ په اړه

د ښځو د تعلیم په باره کې :

(۵۱ سوال) مسلمانانو جینکو ته انګلش زده کول څنګه دي او په شریعت کې څه حکم لري ؟

ځواب : په انګلش باندی چې نوم او پته (ادرس) ولیکلی شي په دومره زده کولو کې څه پروا نشته ، کله خاوند یې په سفر وي او هعه ته خط لیږلو لپاره د انګلش پته او ادرس ضرورت پیدا شي نو بل چاته د تلو ضرورت به نه پیدا کیږي ، جینکو ته په سکول او کالجو کې داخلولو سره اوچت تعلیم زده کول او ډګریانې حاصلول جائز ندي ځکه چې پدیکې د فایدی نه تاوان زیات وي (اثمهما اکبر من نفعهما) تجربه دا ښائي چې په انګریزي تعلیم او د کالج په ماحول سره اسلامي عقائد ، اخلاق او عادات خرابیږي ، آزادي ، بی شرمي او بی حیائي زیاتیږي لکه چې مرحوم اکبر آله آبادي فرمائي :

نظر ان کی رهی کالج مین بس علمی فوائد پر
ګـراکین چپکے چپکے بـجلیان دینی عقـائد پر

یعنی د دوی نظر خو په کالج کی علمي فائدو باندی وخو پټ پټ دینـي عقایدو باندی تندر راپریوت او ختم شو .

د حضرت شیخ الهند مولانا محمود الحسن رحمه الله ارشاد دی چې :" که د انګریزي تعلیم آخري اثر همدا وي کوم چې عام طور سره لیدی شي چې خلک د عیسائیت په رنګ کی رنګ ګرځي ، او یا ملحدانه ګستاخیو سره د خپل مذهب والاو باندی مسخری کوي او یا د حکومت وخت پرستش کوي نو د دغسی تعلیم حاصلو نه یو مسلمان لپاره جاهل پاتی کیدل ښه دي " (خطبه صدارت جلسه افتتاحیه مسلم نیشنل یونیورسټي علی ګړه ۱۹۲۰ء) .

او حکیم الامت حضرت مولانا تهانوي رحمه الله فرمایي : " نن صبا جدید تعلیم په باره کی په علماؤ باندی اعتراض کولی شي چې دوی خلک له جدید تعلیم نه منع کوي او دیته ناجائز وائي ، حالانکه زه دا وایم چې که چیرته د جدید تعلیم دغه اثرات نه وای کوم چې پدی وخت کې عام طور سره کیدلی کتلی شي نو علماؤ به حیری هم لدینه منع نه وای کړی لیکن اوس تاسو وګورئ چې څه حالات روان دي

. څومره چې جدید تعلیم یافته دي پرته د شاذ او نادر نه د دوی ټولو نه لهانځه سره کوم غرض لري نه روژې او نه د شریعت بل یو حکم سره بلکی په هره خبره کـی د شریعت په خلاف چلیږي او بیا وائي چې پدی سره د اسـلام ترقـي کیـږي " (فضـل العلم والعمل ص ۸) .

او فرمائي : " په اسلامي مدرسو کی بیکاره پاتی کیدل په لکونو او کروړونو ځلـه پـه انګریزي کی مشغولیدو نه بهتر دي پدی چې که لیاقت او کمال نه وي نو لږ تـر لـږه عقیده خوبه نه خرابیږي ، او علماؤ سره خو به محبت وي ، که چیرته په کوم جومات کی جارو وهل خدمت کول پیدا شي دا په انګریزی کی د کمال حاصلولو او وکیـل او بیرسټر وغیره جوړیدو نه چې عقیده ورسره خرابه شي او ایمان متزلزل او کمزوری شي د الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ، صحابه کرامـو رضـی الله عـنهم او د دین د بزرګانو په شان کی بی ادبي وشي کوم چې د نن زمانی انګریزي اکثر بلکی لازمي نتیجه ده او دغه ترجیح د یو محب دین په نزد خـو بالکـل واضـح دی ، خـو چاته د دین دتللو څه غم نـه وي نـو د هغـه چـی هـر څـه خوښـه وي وایـي دی " (حقوق العلم ص ٦٣ ، ٦٤) .

او د ده په ملفوظاتو کی دي : " یو صاحب راته وویل چې حضرت ! د بهنګـي تـوب (د لیترین صفائي) کار مسلمانان کوي ، ډیر بد بنکاري ، اوس لږ ډیـر د تعلـیم سلسـله شروع شویده مطلب دا چې د تعلیم نـه وروسـته دغـه کسب بـه پریـدو ، هغـه ورتـه وفرمایل کوم قسم تعلیم ؟ عرض یی وکړ چې د انګریزي تعلیم سکولونه جوړ شویدي، ورته یې وفرمایل که چیرته دغه د بهنګي توب کار ختم شي نو دا د انګریـزي تعلـیم پیشه او کسـب لدینه هم زیات بد دی اوس ظـاهري نجاسـت او پلیتـي ده او دا بـل باطني ګندګي ده اکثر دا لیـدل شـویدي چـی پـدی تعلـیم سـره عقیـده خرابیـږي (ملفوظات نمبر ۴۳٦ ملفوظات ص ۲۷۳ ج ۵) .

(۱) د ډاکتر هنټر وینا ده " څمونږ په انګریزي سکولونو کی تعلیم حاصلونکي هندو یا مسلمان داسی کوم ځوان نشته چې دخپلو مشرانو مذهبي عقائد غلـط ګڼـل نـه وي زده کړي " (مسلمان هند ص ۱۴۲) .

(۲) ګاندهي جي لیکي : " د دغو کالجونو اعلی تعلیم ډیر پاک صـفا سُـتره پیـو پشـان دی په کوم کی چې لږ غوندی زهر هم یوځای شوي وي." (خطبـه صـدارت مولانـا شیخ الهند رحمه الله جلسله مسلم یونیورستي علی ګړه ۱۹۲۰ء ص ٦) .

(۳) سرسید لیکي : " همدغسی د جینکو سکولونه هم جوړ کړی شـول چـی د دغـو نامناسبو طریقو نه دا یقین پیدا شو چی د ښځو بی لاری او بی پردی کولو لپاره دغه طریقه ایجاد کړی شویده " (اسباب بغاوت هند) .

(۴) سر عبد الله هارون د سند مسلمان طلباؤ د تعلیمي کانفرنس په صدارتي تقریر کی داسی بیان کوي : " د تعلیم موجوده طریقه کومه چی لارډ میکالی رائج کړی وه هر هغه څه یی تباه کړل چی مونږ ته زیات عزیز او محترم وُ " (روزنامه " انجام " دهلـي ۲۰ فروري ۱۹۴۱ء) .

(۵) آنریبل مسټر فضل حق وزیر اعظم صوبه بنګال په ۱۹۳۸ء کی چی پټنه کـی د آل انډیا مسلم ایجوکیشنل اجلاس جوړ شوی وُ د هغه په صدارتي بیان کی فرمایلي وُ :
" کوم قسم تعلیم چی په کالج او سکولونو کی ورکول کیږي په اصل کـی دوی نـه د دنیا جوړ شول او نه د دین ، که چیرته د یو مسلمان بچی اوچت نه اوچـت تعلیمـي ډګري حاصل هم کړي لیکن پدی کوشش کی چی د هغه د لاس نه مـذهب ووځـي نو د هغه دغه ډګریانې حاصلول قوم ته څه فایـده ؟ فایـده بـه هغـه وخـت وه چـی مسلمانان پاتی کیدو سره ترقي وکړي . اکبر آله آبادي څه ښه فرمایلي دي : ے

فلسفی کهتا هے کیا پروا گر مـــذهب گیــا
مین یه کهتا هون بهائی یه گیا تو سب گیـا

(" مدینه " (سه روزه) بجنور ۹ اکتوبر ۱۹۳۸ء)

یعنی فلسفي خو وائي که مذهب لاړ شي نو څـه پـروا او زه دا وایم چـی دا لاړو نـو هر څه لاړل .

(٦) د مسلم لیکی اخبار " منشور " (دهلي) مدیر مسټر حسن ریاض ۹ جـون ۱۹۴۰ء پـه اداریه کی لیکي : " له دیرشو کلنو راپـدیخوا د مسلمانانو بچـي عمومـاً یـواځی په انګریزي سکولونو کی تعلیم حاصلوي چی د دی نتیجه دا راووته چی په اوسني دور کی چی څومره تعلیم یافته خلـک دي دوی د اسـلامي کلتـور ، اخـلاق او اسـلامي تصوراتو نه بالکل نابلده او ناخبر دي " .

(۷) علامه اقبال مرحوم په یو نظم کی چی عنوان " فردوس کی خبـری اتـری " دی خپل خیالات داسی ظاهر کړیدي :-

هـــاتف نے کهـــا مجھ سے که فـردوس مین اک روز
حـــالي سے مخـــاطب هوئے یـــون سعدی شیراز

کچھ کیفیت مسلم هندی تو بیان کر
درمانده منزل هے که مصروف تگ وتاز
مذهب کی حرارت بهی هے کچھ اس کی رگون مین
تهی جس کی فلک سوز کبهی گرمئ آواز
باتون سے هوا شیخ کی حالی متاثر
رو رو کے لگے کهنے که اے صاحب اعجاز
جب پیر و فلک نے ورق ایام کا الٹا
آئی یه صدا پاؤ گے تعلیم سے اعزاز
آیا هے مگر اس سے عقیده مین تزلزل
دنیا تو ملی طائر دین کر گیا پرواز
دین هو تو مقاصد مین بهی پیدا هو بلندی
فطرت هے جوانون کی زمین گیر و زمین تاز
بنیاد لرز جائے جو دیوار چمن کی
ظاهر هے که انجام گلستان کا هے آغاز
پانی نه ملا زمزم ملت سے جو اس کو
پیدا هین نئی پود مین الحاد کے انداز
یه ذکر حضور شه یثرب مین نه کرنا
سمجهین نه کهین هند کے مسلم مجهے غماز
خرما نتوان یافت ازآن خار که کشتیم
دیبا نتوان بافت از آن پشم که رشتیم

علامه اقبال مرحوم پدی نظم کی په فردوس کی د حاليّ او شیخ سعدي شیرازي خبری اتری نقل کړي چی یوه ورځ سعدي شیرازي حالي ته مخاطب شو چی د هند د مسلمانانو څه حالات بیان کړي چی اوس پر مخ روان دي او که نیمه لاره کی پاتی شوي دي او د مذهب هغه حرارت او گرمي اوس د دوی په رگونو کی پاتی دی کوم چی د آواز حرارت او گرمي به اسمان ته رسیده ؟ نو د شیخ دخبرو نه حالي زیات متاثر شو او په ژړا ژړا کی یی داسی وویل د کوم وخت نه چی فلک د تاریخ پانه واړوله نو دغه آواز راغی چی په تعلیم سره به درته اعزاز حاصل شي ، هغه خو حاصل شو لیکن پدی سره په عقیده کی تزلزل هم راغی ، دنیا خو حاصل شو

لیکن دین رحلت وکړ ، چې دین وي نو په مقاصدو او اهدافو کې هم رفعت او بلندي پیدا کیږي ، د خمکې لاندې کول او پیشرفت کول دا خو د ځوانانو فطرت دی ، او کله چې د چمن په دیوال درز پیدا شي نو ظاهره ده چې د گلستان خزان شروع شوه نو چاته چې د دین د زمزم اوبه ونه رسي نو په نوي بوټي کې به د الحاد انداز پیدا کیږي ، چیرته شاه یثرب په حضور کې د دې ذکر ونکړې ولې چې د هند مسلمانان مې غماز ونه گڼي ، کوم ازغې چې مونږ کرلي دي لدینه هیڅکله راته خرما ملاو نشي او کومه وړې چې مونږ اوبدلی ده لدینه به چیری هم وریښم جوړ نشي .

د شریعت قانون دا دی چې : د فائده حاصلولو نه د نقصان او د بدي نه ځان ساتل زیات ضروري دي .

په الاشباه والنظائر کې وائي :

"قاعدة خامسة وهی : درأ المفاسد اولى من جلب المصالح فاذا تعارضت مفسدة ومصلحة قدم دفع المفسدة غالباً لان اعتنا الشرع المنهيات اشد من اعتناءه بالمأمورات ص ١١٤" .

په اودس کې غرغره کول سنت دي لیکن روژه دار لپاره د اوبه د تیریدو له ویرې غرغره کول منع دي او همداشان د ویښتو خلالول سنت دي مگر د ویښتو د ماتیدو له ویرې د احرام په وخت کې خلال کول مکروه دي .

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ښځو ته جومات ته د تللو او جماعت سره د لمونځ کولو اجازت و لیکن وروسته د فساد پیدا کیدو له ویرې عمر فاروق رضی الله عنه ښځې جومات ته له راتللو نه منع کړې او حضرت عائشه رضی الله عنها د دغې فیصلې په تائید کې وفرمایل : ښځو چې کوم حالت جوړ کړیدی که چیرته رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه حالت لیدلی وای نو له وړاندې نه به یې له جومات نه بندې کړې وای : "ان عائشة رضی الله عنها زوج النبی صلی الله علیه وسلم قالت : لو ادرك رسول الله صلی الله علیه وسلم ما احدث النساء لمنعهن المسجد". (ابوداؤد شریف ج ١ ص ٩١ باب ما جاء فی خروج النساء الی المسجد) .

د ذکر شوي قانون له مخی کله چی ښځی جومات ته لهٔ تلو نه منع شوي نو دوی لره انګریزي زده کول او په کالجو کی داخلیدل څنګه جائز کیدی شي؟ پداسی حال کی چی دلته دیني نقصانات خو چنده زیات دي ، مطلب دا دی چی داسی تعلیم ورکول چی په هغه سره په دین او ایمان باندی بد اثر پریوځي یعنی غیر اسلامي کلچر ، غیر اسلامي عادات او اخلاق اختیارولو ذریعه جوړیږي دا د ټولو لپاره ناجائز دي هلک وي او که جینی وي البته دومره فرق دی چی جینکی بد اثر زر قبلوي او مذهبي لحاظ سره معاشي ذمه دارياني هم په دوی باندی نشته نو د دوی له انګریزي تعلیم لری اوسیدل ښکار دي په دوی باندی د انګریزي سکول او د کالج هوا هم باید پری ونه لګي او هلکان ، کله چی مذهبي بنیادي او ضروري تعلیم مکمل طور سره حاصل کړی وي او په اسلامي تمدن ، اسلامي اخلاق او عاداتو باندی مضبوط ولاړ وي نو بیشکه دوی لپاره ګنجائش شته چی څومره وغواړي د انګریزي ډګریانې دی حاصل کړي ، د اکبر آله آبادي په قول :

تم شوق سے کالج مین پهلو ، پارک مین پهولو
جائز هے غبارون مین اړو ، چرخ په جهولو
بس اک سخن بنده ناچیز کار هے یاد
الله کو او اپنی حقیقت کو نه بهولو

یعنی که په شوق سره کالج او پارکونو کی اوسیږی او یا په خرخو کی زانګی جائز دي بس دومره خبره یاد لرئ چی الله تعالی او خپل حقیقت هیر نکړئ .

لیکن په موجوده زمانه کی د دی هیڅ ګارنټي او ذمه واري نشته او ناممکن دي ، نو هر کله چی په اسلامي عقائدو او اخلاقو باندی قائم پاتی کیدو یقین نه وي او له بد اثر او بد ماحول نه د محفوظ پاتی کیدو هم پوره اطمئنان نه وي نو لکه څنګه چی د یو مهلک مرض او د صحت لپاره خراب آب و هوا نه د اولاد حفاظت کول ضروري دي همدغه شان د ذکر شوي تعلیم او کلچر نه هم د دوی حفاظت کول ضروري او لازم دي .

د اولاد خیر خواهي پدیکی ده چی دوی لپاره د دنیا د جوړیدو نه زیات د دین په جوړیدو کی فکر وکړی شي د دین بزرګان فرمائي : "صدیق الانسان من یسعی فی

عمارة اخرته وان كان فيه ضرر لدنياه ، وعدوه من يسعى فى خسارة آخرته وان كان فيه نفع لدنياه" (مجالس الابرار م ۸۵ ص ۵۰۰) .
يعني د انسان دوست هغه دی څوک چې د ده د آخرت په جوړيدو کې کوشش کوي اګر که د ده دنياوي نقصان پکې وي ، او دشمن يې هغه دی چې د ده د آخرت په خرابيدو کې کوشش کوي اګر که د ده دنياوي فايده پکې وي.والله اعلم .

ښځو ته انګريزي تعليم ورکول څنګه دي؟

۵۲ _ سوال: نن صبا زمونږ پدی علاقه کی ډير خلک داسی شته چې خپلې لور ګانې کالجونه استوي، اوداسې ليدل شوي دي چې په کالج کی له داخليدو نه وروسته دهغوی لباس ، ناسته ولاړه او رويه کی غرض داچې په هرشئ کې ښکاره فرق پيداکيږي او بيا رو رو شرم او حيا هم ورنه لاړشي، او دمور او پلار مقصد يواځې همدومره وي چې زمونږه لور اوچته ډګري حاصل کړی او لوی نه لوی دنياوي ملازمت ورته پيداشي نو پدی غرض سره خپل لور ته دغسې تعليم ورکول څنګه دی؟
ځواب: کالجونه دجينکو استوونکی مور اوپلار ددوی دښمنان دي دوستان يې نه دي ، په مجالس الابرار کې ليکي : "فصديق الانسان من يسعى فى عمارة اخرته وان كان فيه ضرر لدنياه وعدوه من يسعى فى خسارة اخرته وان كان فيه نفع لدنيا وقد قال الله تعالى وتعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونوا على الاثم والعدوان"يعني دسړي دوست هغه دی چې دده دآخرت داصلاح کوشش وکړي اګرکه دده دنياوي نقصان پکې دی او دشمن يې هغه دی چې دده داخرت دخرابيدو کوشش کوي اګر که څه دنياوي فايده پکی وي ، (م ۷۵ ص۵۰۰)
حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي : دکالج له داخلی نه دفالج داخله ښه ده خکه چې کالج کی ددين نقصان دی او فالج کی دبدن او پدی دواړو بيمارو کی حقيقي بيماري هغه ده کوم چې په کالج کی له اوسيدو نه پيداکيږي ، (ملفوظات ۳/ ۱۰۷ ملفوظ۳۲۱)
پدی کی شک نشته چې کالجی جيني اول نمبر ازاده ، بی پرده اوبی شرم اوبی حياء جوړيږي دا دانګريزي تعليم او دکالج دماحول لازمي نتيجه ده سرسيد مرحوم

کوم چی دانګریزي ډیر لوی حامی و تجربې پدی و ینا باندی مجبور کړ چی " دجینکو سکولونه هم جوړشویدي چی ددغه نامناسبه طریقې دایقین پیداکړ چی دښخو بی لارې اوبی پردی کولو لپاره دغه طریقه ایجاد کړی شویده " (اسباب بغاوت هند)

هرکله چی دجیني نه حیاء لاړه نو هرڅه ختم شول ، حیاء خو دایمان شاخ او جزء دی په یو حدیث شریف کی راځي: " ان الحیاء والایمان قرناء جمیعا فاذا رفع احدهما رفع الأخر" (رواه البیهقي فی شعب الایمان ، مشکواة باب الرف والحیاء وحسن الخلق ص۷۳۲) یعنی حیاء او ایمان دواړه ملګري او یوځای اوسیدونکي دي کله چی لدی دواړو نه یو ختم شي بل ورسره پخپله ختمیږي.

اوس په آساني سره دافیصله کیدی شي چی کالج ته خپلو جینکو سره وتونکی مور اوپلار ددوی دوستان دي او که دښمنان؟

مور او پلار لپاره قرانکریم کی داحکم دی: "قوا انفسکم واهلیکم ناراً" یعنی تاسو خپل ځان او کورنۍ لره ددوزخ داور نه وساتئ(سورت تحریم) او دمور پلار داحال دی چی خپل اولادو لره دوزخ کی داخلوي او دمحبت دعوه هم کوي.

قیاس کن زګلستان من بهار مرا.

داولاد دخرابیدو ذمه واران مور اوپلار دي ، داولادونو ژوند سمول او خرابول دمور پلار په لاسو کی دی ، اولاد ته چی کوم قسم تعلیم او ترتیبت ورکړی شي اولاد همغسی جوړیږي ، په حدیث شریف کی راځي : " مامن مولود الا یولد علی الفطرة فابواه یهودانه او نیصرانه ویمجسانه"یعنی هر اولاد په فطرت سلیمه باندی پیداکیږي (چی ددین اسلام په قبلولو کی پوره استعداد پکی وي) مګر دده مور پلارد(تعلیم او تربیت په ذریعه) ترینه یهوديْ جوړوي اویا عیسائي او یامجوسي ، (مشکواة شریف ص۲۱ بابا الایمان بالقدر)

منو چی په کالج کی زده کوونکی دنیوي کارو کی ترقي کولی شي لیکن دآخرت په اعتبار سره هغوی په یقیني خساره کی دي نو په مصداق د(اثمها اکبر من نفعهما) خاري والا کار حرام او منع دی ، نبوي فرمان دی : ((من احب دنیاه اخرّبأخرته

رمن احب اخرته اخرّ بدنیاه فاثروا مایبقی علی مایفنی)) یعنی څوک چـې ددنیا په محبت کې اخته شوه نو خپل آخرت یې نقصاني کړو او څـوک چـې دآخـرت په محبت کې لګیدلی دی هغه ددنیا په اعتبار سره خوبه تـاواني وي لهـذا بـاقي پـاتی کیدونکی څیز (آخرت) لره په فاني څیز (دنیـا) بانـدی تـرجیح ورکـړئ ، " حضـرت سلمان فارسي رضی الله عنه فرمایي: کله چې بنده له دنیوي کارونونه بـی پرواهـي وکړي نو دهغه زړه له حکمت نه روښانه کیږي او دهغه اندامونه دالله عبـادت لپـاره مدد ګار جوړیږي لهذا باقي پاتی کیدونکی څیز (آخرت) لره په فاني کیدونکی څیـز (دنیا) باندی ترجیح ورکول پکار دي " (منهاج العابدین)

که چېرته جینې بالغه شوي نه وي بلکی مراهقه یعنې قریـب البلـوغ وي نـو داهـم دبالغې په حکم کې ده ، ده ته هم بی پردی باهر وتل ګرځیـدل جـائز نـه دي، پـه حدیث شریف کـې راځـي: "المرأة تقبل فی صورة الشـیطان وتـدبر فی صـورة الشیطان" یعنـی ښځـه دشـیطان پـه شـکل کـی راځـي او دشیطان پـه شـکل کـی ځي.(مشکواة شریف ۲۶۸ کتاب النکاح باب انظر الی الخطبة)

مطلب دادی چې لکه څنګه شیطان وسوسه آچوي دهمدغسـی دښځـې کتـل باعـث دوسوسی او موجب دفساد دي . اوپه حدیث کی راځي: " المرأة عورة فاذا خرجت استشهرفها الشیطان" (مشکوات شریف ص۲۶۷ ایضاً) یعنـی ښځـه ستره ده .(لکـه څنګه چې عورت پټولی شي دغسې ښځې لره هم پټول پکار دي اولکـه څنګـه چـې ستر ښکاره کول بدکار دی نو دښځی بی پرده کیدل او ګرځیدل هم بد کار دی.)

او کله چې ښځه باهر ته ووځي نو فوراً شـیطان ورپسـی ولګیـږي ." اوپـه ګنـاه کـی داخته کولو تدبیرونه جوړکړي " اوپه حدیث کی راځـي. " العینان زناهمـا النظـر والاذنان زناهما الاستماع واللسان زناه النطق والیدان زناهما الـبطش" یعنـی د سترګو زنا کتل دی او داو دغوږونـو زنـا اوریـدل دي او دژبـی زنـا خبـری کـول او دلاسونو زنا نیول دي . یعنی ددی ټولو نه زناکیږي. (مسلم شریف۲/ ۳۳۶ بـاب قـدر علی ابن آدم خطه من الزنا وغیره) اوکله چې جینی بی پردی ګرځي نـو دغـه ټـول منکرات به مخی ته راځي او قدم په قدم به ګنهګاریږي او نورو لره بـه هـم پـه ګناه

کی اخته کوي ، او هرکله چی ازواج مطهراتو او پاکو لونـو تـه داحکم دی چـی " وقون فی بیوتکن"اوپخپلو کورو کی ناست ووسي ، او کـه چېرتـه طبعـي او یاشـرعي ضرورت لپاره باهر ته ووځي نوبیا (یدنین علیهن من جلا بیهن) یعنی په خپلو څادرو نو کی ځانونه پټ کړي نو عامو ښځو ته به بی پردی سره ګرځیدل څنګه جائز وی ؟
کله چی بالغی او مراهقه جینی لپاره جماعت سره لمونځ کولو لپاره جومات ته دتللو اجازت نشته نو کالج ته دتللو اجازت به څنګه وي ؟ او بیا لا پداسي لباس چـی دنـه اغوستو سره برابر دی کاسیات عارایت ممیلات مائلات الحـدیث یعـنې ډیـری ښځـې داسې دي چی په ظاهر کی خو کپړی اغوستی وي لیکن په حقیقت کی بربنډی وي پخپله هم خلکو ته میلان کوي او نور هم ځانته مائل کوي ، او وړاندی دسزا په طور فرمایي چی دغسی ښځې به یواځی دجنت نه محروم نشي بلکی دجنت دخوشبویي نه هم محرومی وي، نن صبا کالجي جینکۍ دومره تنګ او چسپ لباس اغوندي چی پدیکې کیناستل پاځیدل هم مشکل شي او دهر انـداز شـکل دجـامو دپاسـه واضـح معلومیږي ، داسې قسم کپړی او فیشني لبـاس اغوسـتو سـره پـردو خلکوپـه وړانـدی ګرځیدل څنګه جائز کیدی شي ؟ "لقوله علیه السلام : من تأمل خلـــف امــــرأة ورأی ثیابها حتی تبین له حجم عظامها لم یرج رائحة الجنة" اقول مفاده ان رؤیة الثوب بحیث یصف حجم العضو ممنوعة ولو کشیفاًلاتری البشر منه.
یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی چی کوم سړی یـوې ښځـې پسې وګوري اودهغی کپړی پداسې شـکل وګـوري چـی دهغـی دهـډوکی غټوالې ښکاره شي (یعنی دبدن اندازه یې وشي) هغه دجنت خوشبوئي هم نشـي مونـدلی، ددی حدیث نه داخبره معلومیږي چی دکپړوپداسې طریقه لیدل چی داندام غټوالې او دهغه اندازه معلوم شي ممنوع دی اګر که هغه کپړه دومره پیړه او ډبله وي چـی دبدن پوستکې ورنه نه ښکاري . (شامی ۵/ ۳۲۱ کتاب الخطر والباحه)

ددنیوي تعلیم کلاس جوړول څه حکم لري؟

۵۳ـ سوال : دنیاوی علوم ګجراتي ، انګریزي زده کولو لپاره سکول جوړول او دهغو ښودلو کلاسونه جوړول جائز او دخیر کار دی او که نه؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

خواب: داسې سکول جوړول چې په هغه کې دضرورت په اندازه ګجراتي، انګریزي او نور دنیوي علوم او فنون ښودل کیږي او دصنعت او حرفت (کسب) کلاسونه جوړول چې دحلال رزق ګټولو لپاره مدد کوي بغیر دشبهې نه جائز او دخیر کار دی چې داجر او ثواب باعث دی، لیکن دیني تعلیم او ددیني مدارسو امداد باید دتولو نه اول او وړاندې وګڼل شي.

تم شوق سے کالج مي پهلوپارک مي پهولو جائز هے غباروں مین اړو چرخ په جهولو
بس ایک سخن بنده ناچیز کار هے یاد الله کو اور اپني حقیقت کو نه بهولو
(مرحوم اکبر اله ابادي)

له دیني تعلیم نه مخ اړول اوپه ناز حالت کې دیني مدارس پریښودل اودنیوي تعلیم کې منهمک (همدتن مشغولیدل) کیدل ښه کار ندی دالله تعالی دناراضه کولو سره برابر دی. په قرانکري کې ارشاد دی: " بل تؤثرون الحیواة الدنیا والاخرة خیر وابقی"یعنی بلکې تاسو دنیوي ژوند ته ترجیح ورکوئ او حال داچې (ددنیا په مقابله کې) آخرت غوره او باقي پاتې کیدونکې دی، سورت اعلی.

اول باید بچو ته دقران پاک صحیح او باقاعده تعلیم ورکړی شي، شرعي احکام او ددین له ضروریاتو نه مناسب طریقې سره باخبر کړی شي او ددوی په زړونو کې داسلام داسې نقشه کیښودی شي چې په هغه سره اسلامي جذبات او ایماني احساسات پوخ او مضبوط شي چې هیڅ یو قوت هم دغه جذبه خم نه کړی شي، دسکول او کالجونو تعلیم هم دسالامي اعمالو او اسلامي خصوصیاتو اوداسلامي کلچر برعکس او مدمقابل دی، که چېرته دمسلمانانو بچې له اسلامي تعلیم نه محروم اویاکمزوري پاتې شي نو دسکول او دکالج زهرآلود ماحول او سوسائټي په دوی باندې ضرور اثر غورځوي چې ددې نتیجه به داکیږي چې داسلامي عقائدو او خصوصیاتو نه متنفر او معاذالله، معاذالله بې دینه جوړیږيلهذا که دین عزیز او محترم وي نو پدیکې باید پخته او مضبوط جوړشي اګرکه دنیاوي نقصان وشي، داولاد او دقوم صحیح خیر خواهي پدیکې دی چې ددوی ددین اودآخرت جوړیدلو فکر له دنیوي فکر نه زیات او مخکې دی. په " مجالس الابرا" کې وایي: (دسړي دوست هغه دی چې ددهٔ دآخرت په اصلاح کې کوشش کوي اګرکه پدیکې دنیاوي نقصان وي او دشمن یې هغه وي چې دده دآخرت

خرابـولو پـه کوښـش کـې لګـیدلـی وي اګر که دنـیاوي فایـده یـې پکـی وي .)
(م٨٦ ض٥٠٠)

دماشومانو دسر پرستانو دافرض دی چې ددوی ددنیا جوړولو نـه زیـات فکـر ددیـن جوړولو وکړي، په والدینو بانـدی ډیـره لویـه ذمـه داري ده قـران حکـیم فرمـایي : "یاایها الذین آمنو قوا انفسکم وهلیکم ناراً"ای مومنانو تاسو خپل ځـان او کـور والاو سره داور ددوزخ نه وساتئ(سورت تحریم پ۲۸) که پدیکې مو کوتـاهي وکـړه نو الله تعالی به ددی تپوس کوي . نبي کـریم علیـه السلام فرمـایي"الا کلـم راع وکلکم مسئول عن رعیته" ترجمه : خبردار په تاسو کی هرسړی نګران ذمه داردی دهر سړي نه به دده دذمه واري په باره کی تپوس کیږي .(بخاري او مسلم.)

اوپه یو حدیث کی دي : (کل مولد یولد علی الفطرة فابواه یهودانه او نیصرانه او یمجسانه) ترجمه : هر یو بچی په اسلامي فطرت باندی پیـداکیږي لـیکن مـور او پلار ده لره یهودي ، عیسائي او یامجوسي جوړوي.(مشکواة باب الایمان بالقـــدر ص۲۱)

حکیم الامت حضرت مولانا تهانوي رحمه الله یوه عبر تناکه قصه لیکلې ده :

چی یو کس خپل ځوی له ماشومتوب نه په انګریزي سکول کی داخل کـړ او دهغـه په تعلیم باندی یې ډیرې زیاتې پیسې ولګولې او لندن ته یـې هـم واسـتولو لـه هغـه ځای نه چی اوچتی ډکرئ سره رغی نو بیمارسو او مرګ حـال شـو او ځنکـدن یـې شروع شو نو پلار یې سرته کیناست او په ژړا چی ای زما بچیه ! مـا خـو پـه تابانـدی شل پنځه ویشت زره روپۍ ولګولی ماخو دخپل محنت هغه میوه هم ونه لیـده بچـی ئې سترګی وغړولې او وې ویـل ای پلارجانـه ! اوس وبی ژاړې اصلی ژړا بـه هغـه وخت وکړی کله په قیامت کی ماددوزه په اور کی سـوځیدلی ووینـی، ححکـه چـی تاپه دغه شل پنځه ویشت زره روپۍ په لګولو سره ماته دجهنم په اور کـی دغورځولـو انتظام کړیدی تاپدغو پیسو سره مالپاره دوزخ اخسـتې دی ، ولی چـی تـازه ددیـنې تعلیم نه بند کړم ، پدی وخت کی اوس زه وینم چی زما ټول لیکل او لو ستل بیکاره دي، دمرګفرشته راتلونکی ده ، تاپه دومره زیاتو پیسو په لګولو سـره ماسـره دوسـتي نده کړی بلکی سراسر دشمني دی کړی ده . (وعظ ا لهدی والمغفرة ص۳۳)

دادنیوي تعلیم کی مشغولیدو سره ددیني تعلیم نه دمحروم پاتې کیـدو نتیجـه پـدی وجه مولانا گیلاني رحمه الله فرمایي : " گویا چی دمعاشي لحاظ سره دجدیـد تعلیم خاوندانو حالت په ظاهره بهتر ښکاري خو لیکن ددین په باره کی ددوی کافي تعدا پخپل عمل سره" داثابته کړیده چی اسلام لپاره ددوی دوجودنه عدم وجود بهتر و ، خکه دوی چی په عامو مسلمانانو کی کو شکونه اوشبهات پیداکړي او اسلامي عقیاند او اسلامي اعمالو دتحصیر او توهین په سلسله کی چی ددوی نه کو نـه کولـو او نـه ویلو کارونه صادر شویدي نو پدی سره دوی ددی فیصلی مسحق جوړشـویدي چـی اسلام لپاره ددوی نیستي له هستي نه بهتر و .(ماهنامه الفرقان افادان گیلان ص۱۸۸)

داده داسلامي تعلیم نه دبی پرواهي او غفلت افسوسناک انجام .

دگجرات لوی بزرک او رنګون خطیب او مفتـي مولانـا عبدالحی کهلیتـوي سـورتي رحمه الله پنځوس کاله وړاندی دقوم په وړاندی داګواهي ورکړی چی : (البته دی تعلیم په اکثره مسلمانانو کی دومره اثر خو ضرور کړیدی چی دشریعت دپابندي چی څومره مقدار جوهر ورسره و هغه یې دلاس نه وتی دی ، نه یې په زړونو کی دایمان حرات باقي پاتی دی او نه یې په مخ باندی داسلام کوم علامت (گیره) موجـود ده ، مسلمانا ته داتفاق او اتحاد هدایت کوي او پخپله دمسلمانانو نه په صورت اولبـاس کی ضمانت کوي .(نسیم الصباء ص۳)

او مرحوم علاقه اقبا په یو نظم کی چی عنوان یې " په فـردوس کـی خبـرې اتـرې " دي خپل خیال داسې ظاهر کړیدي .

هاتف نے کہا مجھ سے که فردوس مین اک روز
حالي سے مخاطب هوۓ یون سعدي شیراز

کچھ کیفیت مسلم هندي تو بیان کر
در مانده منزل کے مصروف تگ وتاز

مذهب کی حرارت بھي هے کچھ اس رگون مین
تھي جس کی فلک سوز کبھي گرمي آواز

باتون سے هوا شیخ کی حالي متاثر

رو رو کے لگا کھنے کہ صاحب اعجاز

ایا ھے مگر اس سے عقیدہ من تزلزل
دنیا تو ملی طائر دین کر گیا پرواز

دین ھو تو مقاصد مین بھي پیداھو بلندي
فطرت ھےجوانو ن کي زمین گرو زین تاز
بنیاد لرز جاے جو دیوار چن
ظاھر ھظ کہ انجام گلستان کي ھے آغاز

پاني نہ ملا زمزم ملت سے جواس کو
پیداھي نئي پود مین الحاد کی انداز

یہ ذکر حضور شہ یثرب مین نہ کرنا
سمجھین نہ کھین ھند کے مسلم مجھے غماز

خرما نتوان یافت زان خارکہ کشتھم
دیبا نتوا بافت ازان پشم کہ رشتیم

ددی نظم ترجمه او وضاحت مخکی شویده
لدینه ثابت شو چی د خرابي اصل وجه له دیني تعلیماتو نه بالکل محرومی اویا پکې کمزوري ده ،لهذا لکه خنکه دزهریله هوانه دبچ کیدو لپاره دهیضه ستن (پچکاري) لګولې شي همدغه شان دنیوي تعلیم سره سره ددیني علم هم اشد ضرورت دی ، لهذا دټولو نه وړاندی ددی انتظام کول پکار دی ، حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله فرمايي : (انتظام خو په مسلمانانو کی نشته دی ، کـه چیرته ددنیاتو په لوستلو سره دضرورت لپاره انګریزی تعلیم حاصل کړی شي نو بیا دعقیدی خرابیدو خطره ډیره کمه کمه وي او چی کله دخپل مذهب دعقائدو نه هیڅ علم نه وي نو بیا اکثره وراني پیداکیږي،) (ملفوظات جلد ۵ ص۴۳)

لهذا په دی حاضر اور کی ددنیوي تعلیم په نسبت دیني تعلیم ته زیات فکـر او توجـه پکارده ، ددنیوي تعلیم سکولونه جوړونکی او دصنعت او حرفت کلاسـونه چـلـونکی ډیر زیات دی . حکومت هم پخپله حمایت کوي نو اوس زیات ضرورت ددی خبری دی چی زمونږ دغـه کمـزور مـذهبي اداری (کـوم چـی پـه حقیقـت کـی داسلام دحفاظت قلعه ګانی دی) بنه مضبوط کړی شي او تعداد زیات کړی شـي ، پـه هـره محله او هره کوڅه او په هر جومات کی ددیني تعلیم مکتب جوړیدل ضروري دی .
حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله فرمایي : (پدیکی خو زره برابر هم شک نشته چی پدی وخت کی په مسلمانانو کی ددیني مدرسو وجود داسـی یو لوی نعمت دی چی لدبنه بلی لوی نعمت نشته دی ، پـه دنیـا کـی کـه چیرتـه نـن صبا داسلام دبقاء کوم صورت دی نو همدا دیني مدرسی دی . (حقوق العلم ۵۱)
حضرت مولنا ګیلاني رحمه الله فرمایي : (رشـتیا خـو دادی چـی کـه یـو طـرف تـه دمسلمان میندو اوپلارانو له غبړونه ددوی بچوله په جداکولو سره عصري جامعاتو او یونیورسټیانو کی داخلولو سره ددوی په دل او دماغ کی وظیفان دسرکشي او دکفرد الحاد جراثیم ور داخلوي، نو بل طرف ته ددوی په مقابل کـی زمونـږ دغـه کهفـي . مدرسی وي چی دمسلمانانو (راتلونکی نسل یوی طبقی (اګر که کم تعداد کـی لـږ وي) لره دعقیدوي او اخلاقي ګندګیو څخه پاک سـاتلوکی کامیـاب کوشـش وکـړ . (ماهنامه الفرقان افادات ګیلاني نمبر ۱۸۸)
لهذا داسی دیني مدرسو باقي ساتلواو مضبوطولو او ددی تعداد اضافه کولو لپاره په مالي قرباني کی سبقت او وړاندی کیدو ضرورت دی، حضرت امام رباني مجدد الف ثالي ارشاد فرمایي : " دهرڅه نه لویه نیکي داده چی دشریعت په اشـاعتاو ددی لـه احکامونه دکوم حکم په ژوندی کولو کی کوشـش وشـي ، او خـاص طورپـه داسـی زمانه" کی چی ددین شعائر ختم شوی وي ، دالله پـه لاره کـی پـه کروړونـو رو پـی خرچ کولو دیوی مسئله له اشاعت سره نشي برابریدی ، ددیـن او مـذهب دتائیـد او تبلیغ لپاره مال خرچ کول ډیره لویه درجه ده اوپدی نیت سره یوه روپی لګول اوپه بل نیت سره لکونه روپی لګولو سره برابر دي . (مکتوبـات امـام ربـاني ۱/ ٦٦، ٦٧ ، مکتوب نمبر ۴۸) والله اعلم .

حق پرست علماو ته بدرد ویل ځنګه دی ؟

۵۴_ سوال جاهل پیران او رسمي واعظین او مولود خوان حضرات دمحرم الحرام . ربیع الاول اوربیع الاخر په میاشتو کی دعلماء حق بدنامولواوپه دوی باندی عوامو خلکو، بد ګمانه کولو لپاره دوعظ او تقریر او دمیلاد او مجلسونه جوړوي چی ددی په وجه مسلمانانو کی عملي خرابي او عقیدوی ګمراهي خوریږي او دعلماء حق نه لري کیږي نو پدی بناء ددیوبندله علماو سره تعلق ساتونکی اوښه عقیده لرونکی‌خلک هم پدی ذکر شوو میاشتو کی دیوبندي خیالاتو والا علما لره وعظ او تقریرلپاره راغواړي او تقریر ورباندی کوي چی پدی وجه دعوامو عقائد صحیح کیږي اودعلماوپه باره کی چی کومه بدګماني پیداشوی وه هغه ختمیږي ، اوس کوم ځای چی ګوري دیو بندي علماودوعظ او تقریر په مجلسو کی ډیر په شوق او ذوق سره شرکت کوي او فیض یاب کیږي ، لیکن بعضی داخبره کوي چی پدی میاشتو کی خپله اویا ده بل چا باندی وعظ او تقریر کول بدعت دی او دخپلو مشرانو له مسلک نه خلاف دی ، دیوبندي علماء سفر خرچ اخلي او په ټیکسي کی ځي او بعضي عالمان هدیه هم قبلوي داټول ناجائز دی ، ایا داخبره صحیح ده ؟ پدی باره کی شرعي حکم څه دی ؟ تفصیلي ځواب ورکړی فجزاک الله خیراً .

ځواب : پدی کی هیڅ شک نشته چی دربیع الاول میاشت په اسلام کی برکت والا میاشت ده پدی میاشت کی اقای نامدار رسول مقبول صلی الله علیه وسلم دنیا ته تشریف راوړی کومه چی دانوارو او برکاتو منبع اوسرچشمه دی . یو بزرګ فرمایي

((لهذا الشهر فی الاسلام فضل ومنقبة تفوق علی الشهور ربیع فی ربیع ونور فوق نور فوق نور)) یعنی دغه میاشت په اسلامي کی فضیلت لري نورو ټولو میاشتو باندی فوقیت لري یو پسرلی دی دپسرلي په موسم کی دپسرلي په وخت یعنی دا نور باندی نور دی

اوپدیکی هم هیڅ شک نشته چی درسول اکرم صلی الله علیه وسلم دولادت باسعادت صحیح بیان (که په ربیع الاول کی وي اویاکوم بل میاشت کی) ددارنیو دفلاح اودثواب موجب دی ، چاچی دغه خبره مشهوره کړیده چی دیوبندي علماء دولادت شریفه دبیان نه منکردی دابنکاره دروغ اوبالکل غلط دی ، (سبحانک هذا بهتان عظیم)

زمونږ مشرانواو دیوبند اکابرو علماو داتصریح کړیده درسـول الله صـلی الله دولادت بیان په هره یوه میاشت اوپه هره ورځ چی وي مندوب اومسـتحب اوباعـث دخـیر او برکت دی لکه چی :

(۱) حضرت مولانا رشید احمد صاحب گنگوهي رحمه الله فرمایي : نفس ذکر ولادت نه هیڅوک نه منع کوي .(فتاوی رشیدیه ۱/ ۷۰ مطبـع هندوسـتان پـرنتنګ ورکـس دهـلي.)

نفس ولادت منـدوب دی پـدیـکی کراهـت دقیـودو پـه سـبب سـره راځـي .(فتاوی رشیدیه ۱/ ۱۰۹)

(۲) حضرت مولانا خلیل احمد صاحب مهاجر مدني رحمه الله فرمـایي : دفخـر عـالـه علیه السلام دمیلاد نفس ذکر هیڅوک نه منع کوي بلکی دده دولادت ذکر پشان ذکر د سیرت اوداحوالو مندوب دی ، (براهین قاطعه ۴)

(۳) حضرت ، مولاناتهانوي رحمه الله فرمایي : (داسی به څوک وي چی درسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارک وجود باندی خوشحال نشي اویاشکرونه باسي نو داپـه مونږ باندی) خالص تهمت او محض افتـراء اوبهتـان دی چـی (توبـه نعـوذ بـالله) مونږه خلک درسول اکرم دتذکری نه اویا پدی بانـدی خوشـحالیدو نـه منـع کـوو ، کلاوحاشا، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر خو زمونږ دایمان جـزء دی (وعـظ السرور ۸۲)

(۴) حضرت مولانا محمد منظور نعماني صاحب مدظله فرمـایي : ((الله علـیم او خـیر ګواهي دی چی زمونږ په نزد باندی درسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم)) دولادت باسعادت ذکر دنورو نیکو اذکارو پشان موجب درحمت اوباعـت دبرکـت دی بلکـی درسول الله اکرم صلی الله علیه وسلم دبول وبـراز او دده دسـورلی دخـر دخولـه او متیازی ذکر هم بلاشبهه باعث دثواب دی (سیف یماني برفرقه) (رضا خـانی ص۱٦، ۱۷)

البتـه دمیـلاد رسـمي مجلسـونو تـه زمونـږه بزرګـانو بـدعت ویـل دی چـی دهغـه خصوصیات دادی :

(۱) دیو څوکـانو حلقه په جوړولو سره یو ځای په خوش الحانی سره ویل .

(۲) نداعي یعنی یوبل لره راغوښتل اود اجتماع دومره انـدازی سـره اهتمـام کـول چی دومره دفرض لمونځ او دجماعت هم اهتمام نه کوي .

(۳) قیام او دغه عمل دعقیدی په بنیاد ضروري ګڼلی شي .
(۴) دمیلاد داسی مجلس او محفل په باره کی بدعتیان داعقیده ساتي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړی لهذا په یو خاص وخت کی دتعظیم لپاره ودریږي او رسول الله صلی الله علیه وسلم لره حاضر او ناظر ګڼي .
(۵) او ربیع الاول په (۱۲) تاریخ باندی دغه عمل دعقیدی په طور واجب او ضروري ګڼي اوداخپل نجات لپاره کافي ګڼي پدی وجه دغه خلک دفرائضو او دباجماعت لمونځ پابندي نه کوي ، الا ماشاء الله .
(٦) دمولود دغه رواجي طریقه یو عظیم رکن او داهل سنت والجماعت شعار او نښه ګرځول شوی ده څوک چی ددی پابند ندی هغو ته بدعقیده او بد مذهب ، وهابي داهل سنت والجماعت نه خارج بلکی داسلام نه یی هم خارج ګڼي . که فرض لمونځ قضاء شي نو خیر دی خو لیکن چی مولود پاتی شي ، دجمعی سره لمونځ پاتی شي نو هیڅ پروا نشته خو میلاد دی پاتی نشي .
(۷) میلاد خوانان اکثر وبیشتر بی علم او بی عمل او فاسقان دي ،
(۸) دغسی مجلسونه دمن ګهړت (بی بنیاد) روایتونو اوبی اصل واقعاتو او قصو او خلاف شروع شیانو څخه خالي نه وي .
(۹) دی لپاره شیرني (متهائي) ضروري او لازمي ګڼلي شي .
(۱۰) چراغان او رڼا ګانو کی دحد نه تجاوز کولی شي .
(۱۱) دسرو او ښځو سره یو ځایوالی اوداسی نور غلط کارونه .
دذکر شوي عملي او عقیدوی خرابوپه وجه سره زمونږ بزرګانو دمولود رسمي مجلسونه بدعت ویلی دی چی پدی بزرګانو کی امام ابن الحاج (متوفی ۷۳۷ هـ) او حضرت محبوب سبحانی قطب رباني مجدد الف ثاني شیخ احمد فاروق سرهندي رحمه الله متوفی ۱۰۳۴هـ اونور هم شامل دی ، وګوری کتاب المدخل ۱/ ۱۵۷ ، مکتوبات امام رباني ۳/ ۱۲۰ .
مګر دعدم جواز داحکم عارضي دی اصلي اودائمي ندی ، نو هرکله چی دغه غلط پابندیانی او بدئ دکومو دوجی چی دعدم جواز فتوی ورکړی شویده بندی نشي نو داحکم هم باقي پاتې کیږي ، لکه څنګه چی حکم الامت مولانا تهانوي رحمه الله خاص په ربیع الاول کی درسول الله صلی الله علیه وسلم دولادت شریفه په باره کی داسې بیان فرمایي :

" حق تعالی پدغه آیت کریمه کی درسول الله دتشریف راوړلو حقوق او برکات بیان فرمایي . پدی وخت کی ددی بیان اختیارولو وجه داده چی دبعضو دوستانو عادت ده چی هغوی پدی زما نه (ربیع الاول) کی درسول الله صلی‌الله علیه وسلم فضائل بیانوي او داډیره ښه خبره ده مګر لدی سره سره چی پدیکی کومی غلطی کیږي دهغوی لرې کول هم ضروري دی ." (ذکر الرسول ص۲)

او داهم فرمايي : دخو کالونه زما داعادت دی چی دربیع الاول دمیاشتې په شروع کی پدی میاشت کی دافراط او تفریط کونکو داصلاح لپاره یو وعظ او تقریر کوم اوپدیکی طبعا دعلمي فایدو بعضی نکتی او حقائق هم بیانیږي .

نن دولسم دربیع الاول دی پدی تاریخ کی خلک افراط او تفریط کوي ، دهمدی تاریخ خاص طور سره اراده ندی شوی او نه نعوذ بالله دغه تاریخ سره ضد لرو بلکی الحمد لله مونږ پدیکی دبرکت قائل یو نو تاریخ اګر چی بابرکت دی اوپدیکی درسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر دمزید برکت باعث دی . لیکن ددی تاریخ تخصیص او پدیکی ددغه ذکر التزام کول بدعت دی نو پدی وجه ددی تاریخ تخصیص پریدو ، (واعظ السرور ص۲)

حضرت حکیم الامت دربیع الاول په میاشت ډیر تقریرونه کړیدي د " الظهور" په نوم وعظ هم پدی میاشت کی کړیدی او پدی میاشت کی دوعظ نه کولو عقیده لرونکو په جواب کی فرمايي :

" دادربیع الاول مبارک میاشت دی اوپدیکی دامضمون بیانوم نو شاید په تعلیم یافته خلکو کی داشبهه پیداشي چی په مونږ اوبدعتیانو کی څه فرق دی ؟ هغوی هم دبیان لپاره دغه میاشت خاص کوي او ته هم نو خبره داده چی زمونږ په نزد کوم تخصیص نشته تخصیص به څنګه وي ؟ دلته خو هیڅ یو بیان ددی نه خالي نه وي چی د درسول الله صلی‌الله علیه وسلم دتشریف آوري حکمتونه ، مقاصد او اسرار پکی بیان نشي او مقصد پکی دده کامل اتباع او پیروي دی ، لیکن اوس هم کیدی شي چاته داسوال پیداشي چی په نورو وختونو کی خو ددغه خاص اهتمام سره دابیان دی شوی نو دغه قسم خاص پدی میاشت کی څنګه وکړی شو ، نو دی لپاره داعرض کوم چی مونږ دغه میاشت دی بیان لپاره پدی وجه "منْ حیث انه زمان الولادة" ندی خاص کړی یعنې چی دا دولادت باسعادت زمانه ده " بل من حیث

انه یذکر فیه اهل البدعة ذکرالولادة ولا یحترزون عن البدعات " یعنی پدی وجه ددی میاشتی تخصیص کړی شوی ندی چی پدیکی ولادت شریفه شویده خکه چی په شریعت کی داندی ثابت بلکی پدی وجه د دی تخصیص وکړی شو چی بدعتیان پدی میاشت کی دولادت شریفه دذکر مجلسونه جوړوي او په هغو کی دبدعتونو نه ځان نه ساتي. جامع ، لکه څنګه چی حکیم او طیب هغه وخت دوا ورکوي چی کوم وخت کی درد وي . نو هرکله چی درد او مرض پیداشي نو په دغه وخت کی دوا ورکول کیږي . او هغه مرض هم پدی میاشت کی شروع کیږي پدی وجه دا هر مناسب وګڼلو چی ددی عالج او اصلاح وکړی شي ." (وعظ الظهور ص ۴۸)

د"النور" په نوم وعظ هم په ربیع الاول کی شوی دی چی په هغه کی حکیم الامت فرمایي . " ...... مګر وړاندی لدینه چی پدی باره کی څه بیان کړم ددی سوال جواب ورکوم چی پدی وخت کی (دذکر نبوي په باره کی دآدابو) بیانولو ضرورت څه و . اول خو داسوال کیدی نشي څکه چی درسول اکرم صلی الله علیه وسلم ذکر داسی ندی چی داسوال وربانـدی وکړی شي مګر داسوال زمونږ د ناپوه دمحبت دعویدارانو په وجه پیداشویدي اودهغه خلک دی چی نن صبا دمولود دتخصیصاتو پابند دی . نو دغه حضراتو د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر دخاصو وختوسره خاص کړیدی لکه بعضی دحضرت حسین رضی الله عنه دمحبت دعویدارانو دده ذکر مبارک ربیع الاول میاشت سره خاص کړیدی او څه عجیبه نده چی زما ددی بیان په وجه دچا په ذهن کی داخبره راشي چی دابیان هم شاید پدی وجه کیږي چی دامیاشت ددی بیان دی اوپدی سره دوه قسمه خلکو ته دوه تعجبونه پیداکیږي . " منهمکین فی التخصیصات" لپاره خو داتعجب دی چی داخلک پدی تخصیصاتو باندی رد کوي اوبیا پخپله ددی ارتکاب څنګه کوي؟ ایا ددغو خلکو قول او عمل سره موافق نه وي ؟ او دتخصیص مانعینو ته داتعجب کیږي چی دوی دمحققینو مسلک ولی پریښود ؟ په هرحال چونکی یوی خاص ډلی درسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر یو خاص وخت سره خاص کړیدی نو پدی وجه زما ددی بیان نه دا سوال پیداکیږي او که نه داسوال بالکل بی معنی و الخ . (وعظ النور ص۴۰۳)

او بعض خیر خواد سلکري وايي چی پدی باره کی بحث ومباحثه کول په عوامو کـی بدنامي کیږي . لیکن زه داتپوس کوم چی دداسي بدنامي له ویرې نه ترخـو پـروې خاموش کینو ؟ ددی خاموشي په وجه خو منکرات زیاتیږي .

خلاصه داچی دشهادت اودولات باسعادت ذکر کله چـی دصحیح روایتونـو او جـائز طریقي سره وي ، دغیر معمولي اجتماعي او تداعي اهتمام نه وي او ضروري هـم ونه ګڼل شي نو بیا په محرم الحرام اوربیع الاول کی هم جائز دی پـه شـرط ددی چـی دبعتیانو دمجلسونو پشا نه وي ، او واعظین او مقررین محتاط علماء کرام وي ، داخـو دمیلاد او دشهادت حکم و . لیکن په سوال کی چی دکومـو مجالسـو دحکـم تپـوس شویدی هغه د وعظ مجلسونه دي ، دشهادت او دمیلاد مجلسونه جدا دي او دوعـظ مجلسونه جدا دي ، په دواړو کی ډیر لوی فرق دی ، دمیلاد او دشهادت دمجلس نه دبدعتیانو غرض او مقصد د تاریخ او ورځې تجلیل او یادګار تازه کول دی اوپـدیکی داول نه ترانتها پوری دولادت حسب نسب ، ماشومتوب ، رضاعت ، معجزات ، هجرت ، جنګ وجهـاد ، شـهادت او وفـات پـه ترتیـب سـره بیـانول مقصـود وي او هرکـال همداتکراروي ، او قیام دمجلس میلاد جزء لاینفک وي ، احکام امر بالمعروف او نهی عن المنکر مقصود نه وي بلکی لیدنه خلک منع کولی شي . او ددی بـرعکس زمونږ دوعظ په مجلسو کی دورځې اودیادګار تازه کول مقصـود نـه وي او پـدیکی رسـمي قیام نه کیږي او همداشان نه دبیان هغه ترتیب وي او نـه هغـه طـرز زمونـږ پـه نـزد ددین احکام ، امر بالمعروف او نهی عن المنکر متعلق دشرعي قوانینو اودسنت اتباع اودبدعت مذمت اودغلطو رسمونو ردکول اودبدعتیانو داعترضونو اوالزامونو مناسب جوابونه او دسمی للاری تعلیم او تبلیغ وي او واقعات او فضائل پکی تمهیداً اوضمناً بیانولی شي ، لکه چی حضرت تهانوي رحمه الله فرمایي : " پـه اصـل کـی اجتمـاع دوعظ او احکامو اوریدو لپاره شوی وه اوپدیکی دغه مبارکه واقعه او فضائل هم بیان شول . داهغه صورت دی چـی بلانکیر جـائز دی بلکـی مستحب او سـنت دی ." (اصلاح الرسوم۸۴)

دوعظ مجلس لپاره بلنه او همدارنګه داجتماع اهتمـام او اشـتهار منـع نـدی بلکـی مستحسن او مطلوب دی ، دمعترض دوینا مطابق بیان کوونکی نه دیو بنـدي علمـاء دي لکه په کجرات کی صفرت الحاج مولانـان احمـد رضا صـاحب اجمیري شـیخ الحدیـث دار العلوم اشرفیه راندیر ، او مهتممه مدرسه جامعـه مولانـان محمـد سـعید

صاحب او مولانا عبدالجبار صاحب شیخ الحدیث مدرسه آینـده او نـور او همدارنګـه په بمبئ کی مولانان ابو الوفاء صاحب او مولانان محمد قاسم صاحب شـاهجانپوري اوداسې نور ، داټول علماء کرام دبدعتونو قلع قمع یعنې جرړی ویستونکی او مسنون طریقې رواجونکی دی ، نو ددی‌و دوعظ مجلسو ته بدعت ویل څنګه صحیح کیـدی شی ؟

دحضرت تهانوي رحمه الله ارشاد دی : " محققینو عادت دی چی ټولو یوه فتوی نه ورکوي . پدی وجه له طبیب څخه چی دحلوه خوړلو په باره کـی تپـوس وشـي نـو هغه ته پکار دي چی دحلوه خوړونکی په باره کی تپوس وکړی چی څوک دی . که ورته معلوم شي چی بیمار یې خوری نو ورته ناجائز وایي او که ورته معلوم شي چـی روغ سړی یې خوری نو بیا به ورته جائز وایي، اوس کله چی دمریض دممانعت بـاره واوري او هغه ووایي چی داخو دحلـوه نـه منکـر دی نـو داخـومره بیوقـوفي دی، دحصرت مولانان ګنګوهي رحمه الله نه یو نوی مولوي تپوس وکړ چی دقبرونو څخه فیض حاصلیږي او که نه ؟ مولانا ورته وفرمایل څوک فـیض حاصـلول غـواړي ؟ هغـه ورته وویل چی زه نـو ورنـه یـې وفرمـایل چی نـه حاصلـیږي دادمحـققیـنو شـان دی (رسالـه نفی الحرج ص۳۱).

حجت الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله فرمایي . بـاقي ستاسـو وار ثان دي چی داهل سنت والجماعت بعضې عالمان دشهادت تذکره جائز ګڼـي او ددی موافق دشهادت ذکر دعاشورا په ورځ کوي ، او بعضی علماء دا ناجائز ګڼـي او لدینه منع کوي ، که چیرته دا رشتیا وي نو بی ځایه ندي ، اول یو مثال ذکر کوم او بیا اصل مطلب ته راځم په یو یو دوا او په یو یو غذا کـی څـو څـو تـاثیرات وي نـو پدی وجه بعضی بیمارو ته مفید او بعضی نورو ته ضروري وي ، نـو پـدی بانـدی یـو طبیب یو بیمار ته دغه دواء لیکي او بل بیمار لدینـه منـع کـوي ، پـه ظـاهر کـی دا اختلاف معلومیږي خو د فهم خاوندان دیته اختلاف رائی نه وائي لـیکن دا اخـتلاف د مرض او او اختلاف د موقع د استعمال ګڼي هر کلـه چـی دغـه خبـره ذهـن کـی کیناسته نو واورئ کوم عالم چی د شهادتینو ذکر کوي او یا یې کړیدی د هغو غـرض دا دی چی خلکو ته پته ولګي چی په دین کی جانبازي او جان نثاري او پختګي او استقامت ته ضرورت دی تقیه او نامردي پکار ندی ، حضرت حسین رضی الله عنه نـه د خان او مال لحاظ وکړ او نه د ښځی او اولادونو خیال وکړ او نـه یې د لـوږی او د

تندی پروا وکړه او نه یې بې کسي او بې سروساماني ته وکتلې پخپل نـازنین نفـس باندی د الله په لاره کې قرباني وکړه او خپل خپلوان او دوستان یې هم قربان کـړل خو په دین باندی یې عیب لګیدل قبول نه کړی ، او کوم عالم چې لدینه منع کـوي هغه پدی وجه منع کوي چې د شیعه حضراتو د روزانه شکوه او شکایت او بې بنیـاد ژړا او فریاد نه د زیاترو غوړونه کانه شوي او د صحیح او د غلـط او ضـعیف روایتونـو تمیز نشي کولی او د انبیاؤ او اولیاؤ باهمي نزاکت نه دوی خبر نـدي ، پـه حضـرت هـارون او حضـرت خضـر علیهمـا السـلام بانـدی د حضـرت موسـی علیـه السـلام د اعتراضونو کوم چې قرآن کریم کې ذکر شوي دوی ته پته نشته پدی وجـه دا خطـره ده چې د کم علمی په وجه دا خلک صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین (د چا پـه مدح او صفت باندی چې قرآن کریم مالامال دی او د دوی په مغفرت او عالي مراتبو باندی کیدل او الله تعالی د دوی نه راضي کیدو باندی) بدګمانه کیـدو سـره خپـل عاقبت خراب نه کړي ځکه کله چې د الله تعالی له دوستانو سـره دشـمني وشـي نـو الله تعالی سره به له وراندی نه کیږي ، نو خلاصه دا چې د علماؤ دغه اختلاف چـې یو د شهادتینو ذکر روا ګڼي او بل یې ناروا ګڼي دا د رائی اختلاف ندی چـې تاسـو دا تپوس وکړی چې ته په کوم طرف یې ؟ داد مرضونو د اختلاف په وجـه پـه دوا او پرهیز کې اختلاف دی ، او زه د دواړو سره یم او دواړه حق ګڼم (فیوض قاسمیه ص ۸ ، ۹) .

د محدث حضرت مولانا خلیل احمد صاحب رحمه الله ارشاد دی : پخوا زمانه کـې عوام علماء کرامو ته محتاج وو چې خومره به وړباندی تشدد او سختي کولو نو هغـو به اثر قبلولو چې پریشان به شول نو توبه او رجوع به یې کوله مګر اوس خـو داسـې زمانه ده چې پخپله به ځان طالب جوړ کړی او خلکـو پسـې بـه لګیـدلې وی پـدی طریقه سره که څه اصلاح وکړی نو کړی به دی وي او کـه نـه عوامـو تـه د اصـلاح پرواه خو څه کوی چې احساس یې هم نشته نو د امت اصلاح لپـاره او د الله تعـالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رضاء په خاطر انداز او رنګ بـدلول غـواړي ، چې :

این هم اندر عاشقي بالائ غمهای دیګـــر
هان معصیت کا ارتکاب کسی حال جائز نهین

(کتاب تذکرة الخلیل پریس مرتبه)

پدی زمانه کی په هر ځای کی د وعظ د مجلسو جوړولو خاص ضرورت دی ، د بې دینی حکومت دی ، په دنیوي تعلیم کی زیات مشغولیدو په وجه عوام او خواص له دیني تعلیم نه محرومیږي نه مدرسې ته ځي او نه کتابونه لولي او نه وربانـدی پوهیږي پدی وجه عوامو لپاره د دیني او اسلامي تعلیم نه واقفیت لپاره یواځی وعظ د تولو نه لویه ذریعه ده ، او بل طرف ته رضاخاني ملایان ، حق پرست علماء باندی د کفر نسبت ورته کوي او د دوی له فیوضاتو او برکاتو نه دعوامو محروموُلو لپاره او د سنت ختمولو او بدعت رواجولو په غرض خپل انتهائي کوشش او قوت خرچ کوي . بالخصوص محرم ، ربیع الاول او ربیع الاخر کی دغو د ایمان ډاکوانو ته د گمراه کولو ډیر ښه موقع په لاس ورځي ، سیده ساده عوام د دوی په چالاکی کی گیر شي او د حق پرستو علماؤ باندی بدگمانه شي او د هغو علماؤ د فیوضاتو او برکاتو نه کوم چی حقیقت کی د انبیاؤ وارثان دي محروم پاتی شي او د دوی ناکاره عقیده نوره هم پخه شي ، افسوس دغسی مبارکی میاشتی چی د نیکیو موسم بهار وي د خرابیو او بدیو وبائي موسم وگرځوي ، نو پدی بناء باندی ډیر زیات ضرورت دی چی د دین و شریعت خاذق طبیبان یعنی علماء حق کوم وخت او کوم ځای کی ضرورت محسوس کړي فوراً هلته ځان ورسوي وعظ او نصیحت وکړي او عوام د بدعتي واعظانو او گمراه کن مرثیه خوانانو د مکر او فریب په جالونو کی د گیریدو نه وساتي او دا به پخپل وخت کی د دین تولو نه لوی خدمت وي ، په محرم او ربیع الاول کی خلک په اساني او شوق سره یوځای کیږي دغه غنیمت گنل پکار دي ، د دار العلوم دیوبند اوسنی مفتي اعظم سید مهدي حسن صاحب مدظله په راندیر کی د قیام په زمانه کی به د محرم او ربیع الاول په بعضی تاریخونو کی به سورت علاقه کی وعظ او تقریر کولو په (۱۲) ربیع الاول کی یی هم ځو ځلی تقریر کړیدی ، او فی الحال په محرم او ربیع الاول کی د دیوبند علماء په بیلابیلو ورځو کی تقریرونه کوي په بعضی ځایو کی لس دولس ورځو پوری کیمپ او هغه هم یو کس نه وي بلکی څو کسان تقریر کوي ، څوک دوه ورځې او څوک څلور ورځې او شاید چابه لس دولس ورځې تقریر کړی وي که چیرته پوره لس دولس ورځې تقریر وکړي بیا هم څه حرج پکی نشته دا د بدعت په مقابله کی دی که بدعتیان پنځلس ورځې بیان وکړي نو مونږه هم پنځلس ورځې بیان کوو ، حاصل دا څو پوری چی د

سنتو تردید کیږي نو د بدعت تردید به هم ضرور کیږي . او که چیرته د مشابهت احتمال وي نو ورخ دوه دی وړاندی وروسته کړی شي .

په لکهنو کی د قدح صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین په مقابله کی د مدح صحابه کرام رضی الله عنهم اجلاس وشو او جلوس ووت او د دیوبند له طرفه اعلان وشو چی تر څو پوری چی دصحابه کرامو رضی الله عنهم د قدح سلسله جاري وي نو د صحابه کرامو رضی الله عنهم د مدح سلسله به هم جاري وي چی سرپرستي يې حضرت شیخ الاسلام مولانا مدني او مناظر اسلام مولانا عبد الشکور صاحب رحمه الله کوله ایا دا هم بدعت وُ که نه وُ نو د بدعتیانو په مقابله کی د اهل سنت والجماعت د وعظ مجلسونه څنګه بدعت کیږي ؟ د دی فرق وجه څه ده ؟ البته خالص د یادګار مناوولو او رسما ایصال ثواب په اراده د لنم محرم او دولسم ربیع الاول او یولسم ربیع الثاني وغیره تعین او تخصیص کولی شي پړدی وجه ، لکه څنګه چی دریمه ، څلویښتي او برسي (کال) رسمونه کولی شي دا خو بیشکه ممنوع دي او پدیکی شرکت کول هم منع دي . هان پدیکی چی کوم عقیدوي او عملي خرابیانې وي د دی د اصلاح په غرض کله ناکله خاص موقع ته لاړ شي نو منع ندي .

د واده په موقع باندی چی رسمي وعظ کیدلو هغه هم بند شو نو د دی ځای قوالي ونیولو که چیرته موثر وعظ او تقریرونه بند کړو نو بدعت به لازیات زور پیدا کړي او کیدی شي چی هغه ځای ته هم بدعتي عالمان ورسي چی کوم ځای ن ته نشول رسیدی څکه چی د اهل حق مجلسونه نه وي نو عوام به خود بخود بدعتیانو طرف ته میلان کوي .

لهذا دا وعظ فایده مند کیدو سره سره د ضرر دفع کولو لپاره هم مفید دی او پدیکی نقصان نه د نچ کیدو اړخ هم غالب دی ، که چیرته د وعظ په مجلس کی کوم شی قابل د اعتراض وي نو د هغه بدي او نقصان به واضح کړی شي او د هغه د اصلاح فکر دی وکړی شي د وعظ مجلس دی د هر قسم منکراتو نه د پاک کیدو انتظار دی ونشي کړی . قاعده دا ده چی کوم کار شرعاً ضروري وي نو هغه دی نشي پریښودی او په هغه کی چی کوم نقصان وي هغه دی اصلاح کړی شي .

"وروی عن الحسن انه حضر هو وابن سیرین جنازة وهناك نَوح فانصرف ابن سیرین فذکر ذلك للحسن فقال انا کنا متی رأینا باطلا ترکنا حقاً اسرع ذلك

فی دیننا لم نرجع وانما لم ینصرف لان شهود الجنازة حق قد ندب الله وأمر به فلا یترك لاجل معصية وغیره" .

یعنی حسن بصري او ابن سیرین رحمهما الله په یو جنازه کی شریک وو او هلته ژړا او ویر کونکي ښځي هم وی نو ابن سیرین واپس شو ، حسن بصري چی پدی خبر شو نو وی فرمایل : که چیرته داسی وشي چی باطل وینو نو حق پریدو او له هغه خایه واپس شو نو دا باطل به په ډیر تیزی سره څمونږ په دین کی داخل شي مونږ خو نه واپس کیږو ، راوي وائي چی حسن بصري رحمه الله پدی وجه واپس نشو چی جنازه کی شرکت کول خو حق دی په شریعت کی خو دیته دعوت شوی او د دی هدایت کړی شویدی نو د کوم گناه او معصیت په وجه د حق او فریضی پریښودل ندي پکار (احکام القرآن ج ۳ ص ۳۵۴) .

په رام پور کی د یوی ښادی په موقع باندی حضرت شیخ الهند او خلیل احمد او مولانا اشرف علي تهانوي رحمهم الله دعوت شوي وو هلته چی ورسیدل نو پته ولگیده چی د دعوت په اجتماع باندی ډیر زیات اهتمام شوی او د فخر او تفاخر رنګ پکی و مولانا تهانوي رحمه الله واپس شو او باقي دواړه حضرات شریک شول او وی فرمایل چی پداسی موقع باندی مولانا تهانوي رحمه الله تقوی اختیاروي او مونږه فتوی (لمعات الدین ۲۴) .

واعظ سفر خرچ ضرور اخستی شي او دیته په تیکسي کی هم سفر کول جائز دي او که هغه دعوت کړی شي او خپل کور او کاروبار پریدي او سفر وکړي او پدیکی ورته تکلیف هم وي او حاجتمند هم وي نو هغه ته د هدایاو اخستل هم جائز دي ، او خو یوری چی د علماؤ وس او طاقت وي او لدینه خان ساتي ، که چیرته یو وعظ کونکی کوم وخت کی د ضرورت په وجه څه اخستو لپاره مجبور شي نو هغه پدی سبب په عوامو کی بدنامول او وخت په وخت ورته د عوامو توجه راګرځول دا نهایت بی مناسب او ذلیل حرکت دی او د علماء کرامو اعزاز او اکرام راکمول دي که د چا نه څه لغزش او خطائی وشي نو د هغه د اصلاح طریقه دا نده ، یو ځل په یو محفل کی حضرت فضیل رحمه الله ته دا شکایت وشو چی حضرت سفیان بن عینیه رحمه الله شاهي تحفه قبوله کړیده ، شیخ په محفل کی وویل چی نه سفیان به خپل حق اخستی وي او هغه هم ناقص او کم او خبره یی ختمه کړه او بیا یی خانله

سفیان راغوښت او په ډیره نرمی سره ورته نصیحت وکړ چی ای ابوعلي زه او ته اګر بزرګان نه یو خو د دوی محبین او صحبت یافته ضرور یو مطلب دا چی څرنګه مونږ هم پدی ډله کی شماریږولهذا مونږ باید له داسی کارنه خپل ځان وساتو چی خلک یی دلیل جوړوي او پدی سره بیا بزرګانو باندی عیب لګوي .

"وقال بعضهم للفضيل ان سفيان بن عينية قبل جوائز السلطان فقال ما اخــذ منهم الا دون حقه ثم خلي به وعاتبه بالرفق يا اباعلى ان لم نكن من الصالحين فانا نحب الصالحين" (كتاب الاربعين امام غزالى ۳۷) .

حضرت مولانا محمد زکریا صاحب شیخ الحدیث مظاهر العلوم سـهارنپور رحمـه الله فرماني : پدی زمانه کی په علماؤ باندی یواځی بدګماني او بی توجی نده بلکـی د مقابلی اود دلیل کولو صورتونه عام طور سره اختیارولی شي دا کار د دین په لحـاظ سره خطرناک دی (فضائل تبلیغ فصل نمبر ٦ ص ٢٦) .

حضرت سعید بن مصعب تابعي رحمه الله فرمائي : په شریف او عالم سړي کی څه نـا څه عیب خو ضرور وي لیکن هغه حضرات چی د هغوی د عیبونو ذکر کـول مناسـب ندي دا داسی خلک دي چی فضائل او نیکي یی په بدیو او عیبونو باندی زیات وي نو د هغوی دغه خرابي د خوبیو او فضائلو په وجه قبول کړئ (صفوة الصفوة) .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : د سخي له ګناه او د عـالم لـه لغزش (خطا) او د عادل بادشاه له تندی او تیزی څخه درګذر وکړئ (کنز العمـال ج ۲ ص ۲۹۳) .فقط والله اعلم

د وعظ کولو حقدار څوک دی ؟

(۵۵ سوال) څمونږ اطرافو او کلیو ته له پخوا زمانی څخه د محرم شریف وعظ لپـاره مولوي صاحبان راځي خو څه اصلاح نده شوی ، که رشتیا وایم نـو د هغـوی پخپلـه هم د اصلاح اراده نه وي د هغوی خو یواځی حلواو سره کار دی ، څه قصـی بیـان کړي او عوام خوشحاله کړي او خپله مقرره هدیه وصول کړي ، د مسائلو نـه نـاواقف دي د تحقیق نه وروسته معلوم شو چی عالمان نه دي ، د عربي او فارسـي تعلـیم یی خو نشته د قرآن پاک اردو ترجمی ګوري او وعظ کوي ، لهذا څمونږه اراده ده چـی عربي او فارسي دان مستند عالم وعظ لپـاره راوغـواړو لکـین د زړو خیـالاتو والا څـو

کسان حوشحاله ندي ، لهذا خالص او صفا شرعي بیان راته وکړئ چی هغه خلک هم راسره ومني او متفق شي .

خواب : د وعظ لپاره اولنی شرط علم دی : "الامر بالمعروف يحتاج الی خمسة اشياء اولها العلم لان الجاهل لايحسن الامر بالمعروف" (فتاوی عـالگیری ج ٥ ص ٣٥٣) او څوک چی عالم نه وي د عربي او فارسي باقاعده تعلیم یی نه وي حاصـل کړی د قرآن له تفسیر ، اصول تفسیر ، علم حدیث ، علم فقه او ددی لـه اصـول او قوانینوڅخه واقف نه وي نو هغه د وعظ کولـو اهـل نـدی ، حضـرت شـاه ولی الله رحمه الله په "القول الجميل" کی فرمائي : "محدثاً مفسراً عالماً بجملة کافيـة مـن اخبار السلف الصالحين وسيرهم" یعنی وعظ کولو لپاره ضروري ده چـی د قـرآن ، حدیث او د تفسیر نه عالم او ماهر وي او د سلف صالحینو ، تابعین ، تبع تـابعین او د صحابه کرامو رضی الله عنهم په صحیح حالاتو باندی علم ولري ، په صحیح او ضعیف او موضوعي حدیث کی فرق کولی شي او دغه ټول علوم یی د کامـل اسـتاذ نـه زده کړي وي ، او فرمائي چی د وعظ کولو څه معمولي عهـده نـه ده ، الله تعـالی خپـل رسول صلی الله علیه وسلم ته فرمایلي : "فذكر انما انت مذكر" یعنی تاسو صلی الله علیه وسلم خلکو ته نصیحت کوئ ستاسو کار نصیحت کول دي ، او حضرت موسـی علیه السلام ته فرمایلي ؤ : "وذكرهم بايّام الله" لدینه ثابت شو چی تذکیر او وعظ د دین لوی او عظیم رکن دی ، د دین په معامله کی باید په هر چا اعتبار ونکړی شي ، د دین احکام رسول څه معمولي کار ندی ، په درمختار کی لیکي : "التذكير علـی المنابر للوعظ والاتعاظ سنة الانبياء والمرسلين وللرياسة والمال وقبول عامة من ضـلالة اليهـود والنصـارى" (درمختـار مـع الشامی ج ٥ ص ٣٧٢) .

یعنی وعظ او نصیحت لپاره په منبر او تخت باندی کیناستل خو د انبیاؤ او رسـولانو علیهم السلام کار او طریقه ده د ریاست او عزت و مال او په عوامو کی د مقبولیـت او شهرت لپاره کول د یهودو او نصاراؤ له ګمراهی څخه دي .

حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمائي : "ویحك کن عاقلا ولاتزاحم القوم بجهلك، بعد ما خرجت من الکتاب صعدت تتکلم علی الناس هذا أمر یحتاج الی احکام الظاهر واحکام الباطن ثم الغنی عن الکل" یعنی افسوس په تا ، هوښیار شه او ډېر جهالت سره د امت حکیمانو واعظانو په صف کې مه ودرېږه ، ته د مدرسې نه د وتلو څخه وروسته فوراً په منبر کیناستې او خلکو ته دې وعظ شروع کړې دی ، وعظ لپاره اول ظاهري او باطني مضبوطتیا ته ضرورت دی (چې اعمال او عقائد دواړه د شریعت موافق وي) او لدینه وروسته د ټولو نه د بې پروا کیدو (فتح رباني م ۵۹ ص ۴۳۸) .

او فرمائي : "اعمی کیف تداوی اعین الناس ، اخرس کیف تعلیم الناس ، جاهل کیف تقیم الدین ، من لیس بحاجب کیف یقیم الناس الی باب الملك" یعنی تـه پخپله ړوند یې نو د خلکو د سترګو علاج به څنګه وکړې تـه پخپلـه ګـونګی یې نـو خلکو ته به تعلیم څنګه ورکړې او چې پخپله جاهل یې دین به څنګه درست کـړې ، او څوک چې پخپله دربان نه وي خلك به دبادشاه تر دروازې څنګه ورمخکې کړي ؟ (فتح رباني م ۶۱ ص ۴۷۸) .

نااهل واعظانو ته د قوم د اصلاح کار سپارل د نبـي کـریم صـلی الله علیـه وسـلم د ارشاد مطابق د قیامت یوه علامه ده لکه چې فرمائي : "اذا وسد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة" یعنی کله چې اهم کارونه نااهلو ته وسپارل شي نو د قیامت انتظـار کوه . یعنی پوه شه چې قیامت نزدې دی (بخاري ج ۱ ص ۱۴) .

او کوم اختیاري فعل چې د قیامت علامه وي هغه موجب د ګناه وي ، قوم بیمار دی او جهالت په ټولو بیمارو کې سخته او خطرناکه بیماري ده نو د دې عـلاج لپـاره یـو ډېر حاذق او لائق طبیب پکار دی که طبیب لائق نـه وي نـو د عـلاج پـه ځـای بـه بیماري نوره سیوا کړي او بیمار هلاکت ته نزدې کوي پدې وجـه رسـول الله صـلی الله علیه وسلم امت ته دا هدایت او تعلیم ورکړی چـې : "استعینوا علی کل صنعة بصالح اهلها" یعنی په هر فن کې د هغه فن ماهر نه مدد حاصل کړئ (فتح ربـاني م ۶۲ ص ۴۹۲)

حصرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائي ,څو پوری چی خلکو سره د کـاسلو خلکـو علم وي هغوی به په دین ی ترقي کوي او کله چی د ناواقفو خلکو علم شروع شـو نو برباد به شي (جامع بیان العلم ج ۱ ص ۵۹) .

حضرت امام مالک رحمه الله فرمائي : یوه ورځ امام ربیعه په ژړا شو نـو تپـوس ورنـه وکړی شو نو وی فرمایل پدی ژاړم چی د دین خبرې او مسئلې خلک له جاهلانو نـه تپوس کوي او همدا د گمراهی علامت دی (الاعتصام ج ۱ ص ۱۳۹) .

څوک چی باقاعده د وکالت او د بیرسټری امتحان ورکولو سره کامیاب شوی نـه وي او چا چی د وکالت او بیرسټری سند نه وي اخستی هغه ته تاسو وکیل او بیرسټر نـه وایئ او هغه ته خپله مقدمه نه حواله کوئ . همدارنګه چـاچی باقاعـده د ډاکټـری نصاب او طبي کورس نه وي ختم کړی هغه ته کله هم حکیم او ډاکټر نـه وایـی او د خپل خان او د بچو د خان په باره کی ورباندی اعتبار نه کوئ بلکـی نـیم حکـیم د حان خطره گڼئ نو بیا تعجب دی چی د ایمان په باره کـی " نـیم مـلا " او پـه نـوم مولویانو د ایمان خطره ولی نه گڼي ؟ دلته یـواځی د عبـرت پـه غـرض داسـی دری مشهور واقعات نقل کولی شي چی لدینه معلـوم شـي چـی نـیم ملائـي او ناواقفیـت څومره خطرناک دی :

(۱) علامه زمخشري رحمه الله لیکي چی یو " نیم مـلا " د "یوم ندعوا کـل انــاس بامامهم" آیت کریمه ترجمه داسی وکړه چی یاد کړه هغه ورځ چی مونږ به هـر چـا له دخپل مور سره راوبلو . د امام لفظ یی د ام جمع وګڼله او حال دا چـی اسام د ام جمع ندی ، د امام لفظ مفرد دی چی پیشوا او مقتدا ته ویلی شي نه مور ته .

(۲) یو نیم ملا همیشه به د استنجاء نه وروسته وتر کول چی د هغه نه تپوس وشو چی مولانا دا څه دي ؟ ځواب یی ورکړ چی په حدیث کی راغلي : "من استنجی فلیؤتر" یعنی کله چی سړی استنجاء وکړي نو پکار دی چی وتر وکړي ، لهـذا پـدی حـدیث باندی زما عمل دی او حال دا چی د دی حدیث مطلب دا دی چی څوک استنجاء کوي نو طاق لوټي دي استعمال کړي یعنی دری ، پنځه وغیره .

(۳) د یو " نیم ملا " دوست له کوم دشمن گیر کړی ؤ او وهلو یی نو نیم ملا غوښـتل خپل دوست بچ کړي نو ده د خپل دوست لاسونه ونیول دشمن تـه نـور هـم موقـع

ملاو شوه د نیم ملا نه چا تپوس وکړ دا دی څه وکړل ؟ ځواب یی ورکړ چی ما د شیخ سعدي په قول باندی عمل وکړ تاسو په گلستان کی ندي ویلي ؟

دوست آنباشد که گیرد دست دوست
در پریشان حالي و در ماندگي

یعنی دوست هغه دی چی د پریشانی او ناچاری په حالت کی د دوست لاس ونیسي ، او پدی باندی ما عمل وکړ او حال دا چی دلته د لاس نیولو مطلب د هغه مدد کول دي نه دا چی د هغه لاس په نیولو سره دشمن ته نور هم د وهلو موقع ورکړي

بیشکه چاچی عربي او فارسي نه وي لوستي او له اصطلاحاتو او محاورو نه خبر نه وي نو هغه به ضرور دا قسم غلطیاني کوي او د قرآن او حدیث څخه به غلط مطلب اخلي نو پخپله به هم گمره کیږي او نور خلک به هم گمراه کوي . لهذا د جاهل واعظانو څخه ځان ساتل پکار دي . د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چی څوک د قرآن مطلب د خپل رائی نه بیانوي که صحیح یی هم بیان کړي بیا هم خطا کار دی (مشکواة ص ۳۵) . .

هر کله چی د خپل رائی نه بیان کونکی فاضل عالم هم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ارشاد مطابق خطا کار دی نو د ناخبری په وجه د قرآن و حدیث غلط او خلاف مراد بیان کوي دهغه به څه حکم وي ؟ مطلب دا چی تش په نوم مولایانو او پیشه ور جاهل واعظینو نه ضرور ځان ساتل پکار دي . والله اعلم .

سني مسلمان شیعه هلکانو ته درس ورکولی شي ؟

(۵۶ سوال) د اهل سنت والجماعت عقیدی والا عالم شیعه هلکانو ته د قرآن کریم او نور دیني تعلیم ورکولی شي ؟

ځواب د شیعه گانو بچو ته د قرآن شریف او د دینیاتو داسی تعلیم چی د اهل سنت والجماعت له عقیدی نه خلاف نه وي ورکولی شي .

د مدرسی تعلیم زیات اهم دی او که تبلیغ ؟

(۵۷ سوال) په انګلینډ کی بمدرسه ده او دری استاذان لري چي یو نیم سل هلکان پکی تعلیم حاصلوي ، دری هفتې د استاذانو قانوني رخصتي وی او لدینه علاوه وار په وار استاذان تبلیغي اجتماع ته ځي چی پدی وجه رخصتیاني کیږي ، غرض دا

چې په کال کې دری سوه دیارلس (۳۱۳) ورځې د مدرسی تعلیم دی پدیکی یوسل او شپږ پنځوس (۱۵٦) ورځې تبلیغي پروګرامو کې تیریږي یعنی د تعلیم لپاره یواځی یوسل او اوه پنځوس (۱۵۷) ورځې پاتی کیږي ، دلته په عیسائي ماحول او کفرستان کی بچو ته یواځی تر پنځلس کالو پوری د دیني تعلیم لپاره موقع وي ، پدی بناء د دیني تعلیم اهمیت ته په کتو سره د دوی وختونه ضائع کول او په تبلیغي جماعت کی تلل جائز دي ؟ دیني تعلیم ورکول اهم دي او که تبلیغ جماعت کی تلل ؟ پدی باره کی شرعي حکم واضح کړئ ، مهرباني .

ځواب کله چې استاذان د مدرسې د اصولو او قوانینو مطابق عمل کوي نو دا ناجائز ندي او څه پروا نلري ، د بچو د تعلیم پشان د تبلیغ کار هم نهایت اهم دی د تبلیغ په کار سره لوی ، واړه ، نر او ښځې کی دیني ماحول پیدا کیږي ، او دا د الله تعالی نه د ویری ، د آخرت فکر ، د عبادت شوق او د دینداری د سیوا کولو موقع ده د انګلینډ ماحول دومره خراب دی چې لوی او واړه بالخصوص ځوان طبقی لپاره بی انتها خطرناک دی ، چې سور پلار دینداره وي نو د خپلو بچو د دینداری فکر به کوي او دین علم به ورته ښائي (د کوم نه چې عوام عملاً نفرت کوي) او مدرسی او جوماتونه به اباد وي ، ستاسو مدرسی دستور العمل قابل تعریف او قابل اتباع دي ، لکه څنګه چې علماء کرام د بچو د تعلیم ذمه وار دي همدغسی د تبلیغ د کار هم ذمه وار دي یعنی په دوی باندی دواړه ذمه واری دي .

امام غزالي رحمه الله فرمائي : خبردار شئ چې پدی دور کی هر لوی او وړوکی د تعلیم او تبلیغ ، د رشد و هدایت او د نیک عمل لپاره د خلکو په تیارولو کی قاصر او نیمګړی دی چې پدی وجه ګنهګار دی ، چې په ښاریو کی خلک د لمانځه د شرطونو او احکامو نه ناواقف دي او د کلي او باندو د اوسیدونکو د لمونځونو به څه حال وي ؟

لهذا د ښار په هر یو جماعت او محله کی د یو عالِم دین موجودګي ضروري دی همداشان په هر کلي او بانډه کی هم یو عالِم دین باید موجود وي ، کوم عالِم چې د خپل فرض عین نه فارغ وي او د فرض کفایه لپاره فرصت ولري نو هغه باندی لازم دي چې خواوشاء نزدی علاقی ته لاړ شي او خلکو ته دین او شرعي احکام وښائي ، خپله خوراک باید هم ځان سره یوسي د چا روټی دی نه خوري چې څه اشتباه پیدا نشي ، شاو خوا نزدی علاقه کی چې یو عالِم دین لاړ شي نو د نورو هم غاړه

خلاصیږي او که نه عالِم او غیر عالِم ټولو باندی به عذاب راځي په عـالِم خـو پـدی وجه چی خلکو ته یې دین ندی ښودلی او په غیر عالِم باندی ځکه چـی د دیـن په زده کولو کی یې سستي کړیدی ، کوم عوام چی د لمانځه د شراطو نه واقف دي په دوی باندی لازم دي چی ناواقف خلکو ته ونښائي او که نه دوی هـم ګنهګـار دي ، ځکه چی دوی ناواقف عوامو ته د ښودنی کافي فرصت لري او دوی دغه خدمت په ډیر ښه طریقی سره کولی شي ، او نور خلک چی زراعت ، تجارت او ملازمت پریدي او تبلیغ ته لاړ شي نو د هغوی کاروبار بندیږي او ګډوډي پیدا کیږي کوم چـی دوی یې ذمه وار وُ . د اقتصادي حالت درستوالی هم ضرور دی ، او د علماؤ خـو شـان او کار همدا دی چی کوم شی دوی ته د نبی کریم صلی الله علیـه وسـلم نـه رسـیدلی هغه نورو ته ورسوي ځکه چی علماء د انبیاؤ علیهم السلام وارثان دي (احیاء العلوم ج ۲ ص ۳۳٦) .

که چیرته دبچو تعداد زیات وي اواستاذان کم وی نو استاذان دی ورته زیـات کـړی شي ، دمدرسی په تعمیر باندی دضرورت نه زیات پیسې لګولی شـي او حـال داچـی دمدرسې تعمیر مقصود بالذات ندی اصلي مقصود تعلیم دی نو داستاذانو پـه اضـافه کولو او ددوی دتنخواګانو په باره کی کوتاهي ولې کیږي ؟ خلاصه داچی دتعلیمـي کار سره تبلیغي کار هم ښکار دی په دیني انجمن (کمیټي) سره دتبلیغي کـار لـه ذمه واري نه غاړه نه خلاصیږي .لهذا دتعلیمـي کـار سـره تبلیـغ کـی هـم دلچسپي واخلي او استاذانو ته دخپل درس او تدریس سره سره تبلیغي کار لپاره دتللو اجازت ورکړی

شیخ الاسلام حضرت مدنی رحمه الله لیکي : " ماته پته ده چی دشوری بعضـی غـړو ته داستاذانو دتنخوا جاري ساتلو کی بعضـی اعتراضـات شـته ، دمسـلمانانو تعلیمـي اداری یواځې تعلیمي خدمت سرته رسولو لپاره ندی جوړی شوی بلکی دمسـلمانانو دیني او مذهبي او نور ضروري خدمتونه هم ددوی په فرائضو کی شامل دی همـدا وجه ده چی دروم اوروس دجګړی په زمانه کـی حضـرت نـانوتي رحمـه الله دوری وکړی او لوی او زیات مقدار کی چندی جمع کړی او ترکی ته یـې ولیـږلی او پـدی زمانه کی دار العلوم دیوبند بندیعنی رخصت کړی شوی و او استاذانو ته تنخواګانې ورکړی شوی.

اوشدهي او شنکتهن وغیره ونحوستونو په زمانه کی دسلکانه راچپوتـانو او دنـورو پـه علاقه کی داستاذانو اودعلماو وضدونه ولیـږل شـول او تنخواګـانی بـه یـې باقاعـده ورکول کیدل . پداسې وختوکی کـار کـونکی همـدا اسـتاذان او علمـاء کـرام وو او کیدلی شي، که چېرته د دوی داهل وعیال خبر ګیري بند کړی شـي نـو یقیناً چـی اسلام او مسلمانانوته به ډیر زیات مشکلات راپیداشي . په مذهبي جلسـو اومـذهبي منظـرو پـه مجلسـو کـی دعلمـاو او اسـتاذانو شـرکت او تدریسـي خـدمات معطـل اوړخصتول یواځی نن نه بلکی داسلافوکرامو دتیر شوی زمانی نـه را روان دی . نـو کوم کسان چی پدیکې حصه اخلي هغو دکوم اسلامي اداری دمقاصدو نه علاوه بـل کوم یږ مقصد کی حصه نه اخلي . (مکتوبات شیخ الاسلام ۱/ ۳۵۲، ۳۵٦ مکتوب نمبر ۱۲٦) والله اعلم .

یوه جینې چی دقران کریم دحفظ دوران کی بالغه شي نو اوس په دپوره کولو څه تدبیروي ؟

۵۸ـ سوال : یوه جینې دقران کریم حفظ کول شروع کړل او بیـا پـدی دوران کـی بالغه شوه اوس دحیض په ورځو کی به څه کوي ؟ چی ملګـری هـم وربانـدی خبـر نشي او د شرم په وجه حفظ هم پرې نږدي او قران پاک ختم کړی نو مناسـب تـدبیر وښائي .

خواب : کله چی جینی بالغه شي نو داسې مدرسې ته لیږل جـائز نـدي چـی هلتـه هلکان سبق وایې او استاذان یې نارینه وي . دهغی لپاره جـدا انتظـام پکـار دی او خپل حفظ دی جاري وساتي خو استاذ به یا محرم وي او یا ښځه . غیر محرم نه سبق ویل جائز ندي ، او دحیض په ورځو کی دی حفظ او یا تلاوت نه کوي . والله اعلم .

له دینې تعلیم نه داولاد منع کول ، ذمه داران مور پلار دي

۵۹ ـ سوال : محترم مفتي صاحب دامت برکاتهم ، دمسنون سلام نه وروسته نن صـبا عام طور سره دخلکو ذهن داسې جوړ شوی چی خپل اولاد لپاره ددینـي تعلـیم نـه

هم دنیوي تعلیم اهم گنـي ، دلوی او اوچت ډګري حاصلول اوچته کامیابي گنـي.او اولاد له دیني تعلیم نه محروموي نه ددوی داخلاق سمولو په فکر کی دی او نه یـې ددیندار جوړولو څه خیال ، پـدی بـاره کـی شـرعي هـدایات څـه دی ؟ داولادونـو دیندار نه جوړولو ذمه داري په مور پلار راځي او کـه نـه ؟ امیـد دی چـی تفصیلي جواب سره شواب وګنې .

ځواب: حامدا مصلیاً ومسلماً : اولاد مونږ سره دالله تعالی امانت دی مونږ ته لـه دوی سره داسې سلوک پکار دی چی ددوی جسماني او روحاني تربیت لپاره ضـروري وي ، دبچی دپیداکیدو غرض دالله تعالی معرفت او اطاعت دی او ددی وتربیـت مقصـد دین او روحانیت حاصلول دی ، اولاد ته دوړو او معمولي خبرو تعلیم ورکول او ادب وړنده کول دیو صاع (دری نیم کیلو غله) خیرات کولو نه زیات ثواب لري ، درسول الله صلی الله علیه وسلم ارشـاد دی : (لأن یؤدب الرجل ولده خیرلـــه مـــن ان یتصدق بصاع) (ترمذي شریف) یعنی سړي لپاره خپـل اولاد تـه ادب ورکـول دیو صاع غله خیرات ورکولو نه بهتر وي ، په بوبل حدیث کی ارشاد دی : " مانحـــل والد ولده من نحل افضل من ادب حسن" ترمذي شریف .

یعنې کوم یو پلار خپل اولاد ته دادب ورکولو نه زیات غوره عطیه څه نـده ورکـړی ، او همدارنګه ارشـاد فرمـایي : (مروا اولادکم بالصلوة وهم ابناء ســـبع ســـنین واضربو هم علیها وهم ابناء عشرسنین وفرقوا بینهم فی المضـــاجع) ابـو داود شریف .

ای اخلکو! خپلو اولادو ته کله چی اوه کلن شي دلمانځه حکم کوئ او چی بیا کلـه لس کلن شی او لمونځ نه کوي بیا یې وهـي هـم او پـدی وخـت کـی داووده کیـدو ځایونه هم ورته جداي کړي .(اوداځکه چی هلک په لسم کلني کـی قریـب البلـوغ یعنې مراهق ګرځي نو کیدی شي دچاسره دده بدن ولګي او دادادب خلاف دی .)

دالله تعالی پیغمبر حضـرت محمـد صـلی الله علیـه وسـلم داولاد دپیداکیدونـه ډیر وړاندی دده داخلاق او اعمالوددرست کیدو اودتربیت اهتمام فرمایلي هدایت دی چی سړی دی داولاد د حصول لپاره دکوم ذلیل ، رذیـل اوبـداخلاقي ښځـی سره واده نه کوي بلکی شریف، پاکباز اودینداری ښځی سـره دی نکـاح وکـړی ، ارشاد

دی : (بدعن ابی هریرة رضی الله عنه قال ، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم تنکح المرأة لأربع لما لها ولحسبها والجمالها ولدینها فاظفر بذات الدین تربت یداك) مشکواة شریف ص۲٦۷).

او همدارنگه دجیني مور پلار لپاره هم داهدایت دی چی دخپلې لور نکاح دی دکوم فاسق فاجر او بدکردار سړی سره نه کوي بلکی دیو دیندار ، متقي اوپرهیزگار سړی سره دی وکړی ، لکه چی ارشاد دی : کله چی داسې یو څوک درته دنکاح پیغام ورکړی چی دهغه دین او اخلاقو نه تاسو مطمئن وي یعنې خوښ مووي نو نکاح او واده ورته ورکړی اوکه نه نو په ځمکه کی به فتنه او فساد خور شي .

" عن ابوهریرة رضی الله عنه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا خطب الیکم من ترضون دینه وخلقه فزوجوه الا تفعلوه تکن فتنة فی الارض وفساد عریض " (مشکواة شریف ص۲٦۷)

کله چی پدی باندی عمل کولو سره مور پلار دینداره شي نو اولادونه به یې هم دینداره وي ، الا ماشاء الله .

صحبت صالح ترا صالح کند ــــــــ صحبت طالح ترا طالح کند.

دنیک اولاد پیداکیدو لپاره بل هدایت دادی چی دهمبستري په وخت کی " بسم الله ا للهم جنبنا الشیطان وجنب الشطان ما رزقنا " ووایي یعنی دالله تعالی دنوم اخستو سره داکار کوم یا الله مونږه هم دشیطان نه وساتي او زمونږ هغه اولاد هم چی ته یې مونږ ته راکوي .

دریم هدایت :

کله چی بچی پیداشي اول باید بنه صفا شي ودی لمبوی او بیا په ښي غوږ کی ورته آذان اوپه چپ (گس) غوږ کی ورته اقامت وکړی شي په اذان کی اول څلور ځلی الله اکبر په ویلو سره دبچی په دل ودماغ کی داخبره کینوي چی په دنیا کی هیڅ یو طاقت دالله تبارک وتعالی واحد او قهار له طاقت نه زیات نشته دادتولو نه لوی دی او ډیر عظمت اوبلندي والا دی اولدینه وروسته دوه ځلی اشهدان لا اله الا الله په ویلو سره دالله تعالی وحدانیت غوږ ته په رسولو سره دبچی دل او دماغ ته خبر داري کولی شي چی مسلمان ته دتوحید په تبلیغ کی دهیچا خوف او خطرمانع

نشي جوړيدی ، ددی توحيد له اعلان نه وروسته دوه ځلي اشهد ان محمدارسول الله په ويلو سره دهغه مقدس ذات درسالت اظهار کولی شي چې دهغه په برکت سره مونږ دکفر او شرک له تورو تيارو نه وتلی او دايمان او توحيد په دولت سره مالامال شوی يو هرڅه چې دی داټول دده له برکته دي ، ددغو عقيدوي مسئلو يعنی دالله تعالی د وجود او ت حيد اودرسالت دمسئلې نه وروسته "حی علی الصلواة "په ويلو سره داسلام دټولو نه اهم عبادت طرف ته چې لمونځ دی دعوت ورکولې شي او بيا وروسته د" حی علی الفلاح" په ويلو سره هغه ابدی کاميابي طرف ته دعوت ورکولې شي په کوم چې ددنيا او آخرت دکاميابي راز پټ دی او بيا وروسته دوه ځلی " الله اکبر" اوبيوځل " لا اله الا الله" په ويوسره داوربدولې شي چې دمسلمان کاميابي په هغه وخت کې دی چې دده په زړه کې اول کې هم توحيد دی او په آخر کی هم دده مرګ پدی ريښتيني اقوالو او عقائدو باندی وشي .

څلورم هدايت :

تحنيک او دبرکت دعاباید ورته شي په تحنيک کی هم دبچی صلاح اوفلاح مقصود وي يعنې بچی کوم يو بزرګته ورسوتي شي چې هغه دده دپاره دنيکي او دکاميابي دعا وکړی، او خرما وغيره يعنی کوم خوږ څيز وژلی شي اوبيا يې دبچی په تالو کی وری او دخپلی خولې لاړی دهغه په خوله کی واچوی کومی چې ددينداري او دخير وبرکت باعث دی ، صحابه کرامو به په رسول الله باندی تحنيک اودبرکت دعا کوله ، " عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله عليه وسلم کان يؤتي بالصبيان فيبرك عليهم ويحنکهم " رواه مسلم .(مشکواة شريف ص۳۶۲ باب العقيقة)

پنځم هدايت :

" من ولد له ولد فليحسن اسمه وادبه " (مشکواة ص۲۷۱)

يعنی دچاچی زوی پيداشو نو هغه ته پکار دي چې ښه نوم ورباندی کيږ دي او ادب ورته ورکړي . پدی وجه دبچي نوم بايد دمبارکو نوسونه څخه کينبودل شي ترڅوچی د نيکي اودکاميابي او درحمت وبرکت باعث شي . په حديث کی راځي

چې ستاسو په نومونو کې دټولو نه زیات خوښ نومونه عبدالله او عبدالرحمن دی او همدارنګه نبوي ارشاد دی : " سموا بأسماء الانبیاء" دانبیاء کرامو له نومونو څخه یو نوم خپل بچې باندی اړدي ،

شپږم هدایت : کله چې بچې په خبرو راشي نو هغه ته کلمه وښائي او یو مشر ، دیندار او دتعلیمي طریقو نه واقف ، اخلاقي او مشفق استاذ سره کینولې شي ، استاذ باید داسې وي چې په نرمـي او محبـت سره ورتـه درس ورکـړي پـه بـداخلاقي او بدعاتونو باندی مناسب خبرداري ورکړي ، دضروري علم لـه زده کولـو نـه وروسـته باید دنیوي علم هم ور وښودلې شي مګر دیني علم باید مقدم کـړی شـي ، هوښیـار سړی هغه دی چې خپل اولاد ته دیني اومذهبي تعلیم ورکړی اودین عمـلاً مخکـې کړي ددنیوي ژوند جوړولو لپاره باید دومره خان مړ نـه کـړي چـې هلـک مـذهبي تعلیم سره نابلد پاتې شي او دین برباد شي ، درسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : چاچې دنیا محبوب او مقدم وګڼلـو هغـه خپـل آخـرت تـه نقصـان ورسـولو او چاچې خپل اخرت سره مینه وکـړه هغـه دخپـل دنیـا خـو نقصـان وکـړ مګـر فـاني کیدونکی څیز (دنیا) باندی باقي پاتی کیدونکی څیز (آخرت) ته ترجیح ورکړی او غوره یې کړی ،(رواه احمد) پدی وجه داولاد خیر خواهي پـدیکې ده چـې ددوی ددین او مذهب دصحیح کیدو فکر ددنیا دفکر نه زیات وکړی شي او مقدم کړی شي ، لکه چې دبزرګانو وینـا ده ، " صدیق الانسان من یسعی فی عمارة آخرتــه وان کان فیه ضرر لدنیاه وعدوه من یسعی فی خسارة اخرته وان کان فیه تفع لدنیاه "یعنی دسړي دوست او خیر خواه هغه دی چې دده دآخرت ښه کولو کوشش کـوي اګر که پدیکې دنیوي نقصان وي او دشمن یې هغه څوک دی چې هغه دده دآخرت په خرابولو کې کوشش کوي اګرکه دنیوي فائده یې پکې وي .(مجالس الابرار)

مورپلار که چیرته واقعاً دخپل اولاد خیر غواړي نو ددوی دیني او مذهبي تعلیم کې دی زیات کوشش وکړي ، دقران کریم تعلـیم خـو دادی : " قوا انفسکم و اهلیکم ناراً " یعنې تاسو خپل خان او خپله کورنۍ ددوزخ داور نه بچ کـړئ ، اودمـور پـلار حال دادی چې خپل اولاد دوزخ ته دننه کوي اودعوی دمحبت کـوي څـه عجیبـه کار دی ، په یاد وساتئ چې داولاد بی ینه کیدلو او خرابیـدلو ذمـه واران مـور پـلار

دی ، اولاد ته چې څرنګه تربیت او تعلیم ورکړی شي همغسې جوړیږي ، په حدیث کې راځي :
"کل مولود یولد علی الفرة فابواه یهودانه او نیصرانه او یمجسانه "یعنی هریو بچې په فطر سلیمه باندی پیداکیږي یعنې ددین اسلام قبولو صلاحیت پکی په پوره توګه موجود دی مګر دهغه مور پلار دتعلیم اوتربیت په ذیعه ورنه یهودي ، نصراني او مجوسي جوړوي .(مشکواة شریف ص۲۱)
لدی حدیث نه معلومیږي چې دماشوم ذهن ، اخلاق عادتونه ، ناسته ولاړه اودین یې دمور پلار له تعلیم او تربیت نه متاثره کیږي دوالدینو چې څنګه تعلیم اوتربیت وي په همغه طریقه باندی ماشوم نشو ونما کوي اوتربیت اخلي ، دقیامت په ورځ به دمور پلار نه داولاد په باره کی داتپوس کیږي چې " ما ذا علمته وما ذا ادبته " یعنی تاځپل اولاد ته څه تعلیم ورکړی و او څه قسم تهذیب اوادب دی ورته ښودلی و؟ لهذا داولاد دجسماني پرورش نه وروسته دټولو نه لوی فرض دادی چې ددی قابل جوړ کړی شي چې دالله تعالی په دربار کی معزز وي اودجهنم نه بچ شي او داسې تعلیم او تربیت ورکړی شي چې دسنتو مطابق دژوند تیرولو عادت واخلي او دلمونځ وغیره پابند جوړ شي او په هغه کی دآخرت فکر پیداشي .
ددی په خلاف نن صبا یوه خطرناکه طریقه داشروع ده چې ماشوم دهوش پیداکولو نه فوراً بعد به دنیاوي تعلیم کی ولګوي او دقرآن اودینیاتو تعلیم یاخو بالکل وروسته کړی شي او یاورته ضمني حیثیت ورکړی شي او دا انتها یې غلطه طریقه ده ، پدی طریقه نه خودبچی دیني تعلیم پوره کیږي او نه دبچوپه زړه کی دمذهبي او دیني تعلیم کوم اهمیت او قدر پاتې کیږي .، او په آخر کی هغه له دیني تعلیم او ددین له ضروریاتو نه جاهل پاتې کیږي ، اوپه آخرکې هغه له دیني تعلیم او ددین له ضروریاتو نه جاهل پاتې شي ، بچو ته ګډوډ په ناظره قران ختمولو اودتعلیم الاسلام یو دوه حصې په ښودلوسره داګڼل چې بس فرض پوره شو داډیر زبردست غلط فهمي ده په یاد وساتئ چې یواځې دغسې او دومره تعلیم سره هیڅکله ددیني تعلیم فریضه نه اداکیږي ، دکوم چې سرور عالم پدی الفاظو کی ارشاد فرمایلې دی : " طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة" (ابن ماجه) یعنې هر مسلمان نر او ښځې باندی ددین ضروري علم زده کول فرض دي .

پدی وجه که چېرته مور او پلار خپل اولاد ددین نه جاهل وساتي او دلمانځه وغیره پابند یې جوړ نکړي او دسنت مطابق ژوند تیرولو عادتي جوړ نه کړي او دجهنم نه بچ کیدو سره جنت ته درسیدو لاره ونه وښائي نو دقیامت په ورځ به بیا همدا اولاد الله تعالی ته شکایت کوي .

دآخرت ددغې رسوائي او ذلت.نه دبچ کیدو طریقه همدا ده چې لکه څنګه مور او پلار داولاد جسماني تربیت کوي نو لړې سره سره دوی او خپل ځان هم ددوزخ داوړ نه بچ کړي او ددی تدبیر دادی چې اولادونو ته دقران وحدیث تعلیم ورکړي او بیا یې ورباندی په کلکه عملي کړي ، صحابه کرامو . او دذین بزرګانو ددی ډیر زیات اهتمام کولو چې دمعمولي معمولي خبرو به ورته تعلیم ورکولو او دوړو وړو سنتو به یې پابند جوړول ،لکه درسول الله صلی الله علیه وسلم په سر باندی تیل لګول ، اوس داخو داسې کوم سنت ندی چې دد ی په پرېښودو سره سزا او عتاب لازم دی البته پدی پاندی عمل کولو کی هم ثواب ملاویږي، دداسې وړو سنتو باندې هم دصحابه کرامو پخپله او نورو خلکو لره دعمل کولو ډیر زیات شوق و ، حضرت عبدالله بن ثابت انصاري رضی الله عنه خپل ماشومان راوغښوتل او دزیتونو تیل یې ورته ورکړ او وې فرمایل : چې داپخپل سر باندی ولګوئ هغوی ددینه انکار وکړ ، راوي وایي : " فاخذ عصا وجعل یضربهم ویقول اترغیون عن دهن رسول الله صلی الله علیه وسلم"یعنې لرګې یې راواخست او دهغوی په وهلو یې شروع وکړ او ویې فرمایل ایا تاسو درسول الله دتیل لګولو دسنت نه اعراض کوئ ؟ دادی دتربیت طریقه او دسنت عظمت او قدر ، دتربیت ذمه داري په مور باندی زیات ده څکه چې پلار دښځې او اولادونه دضروریاتو په پوره کولو کی اکثر دکور نه باهر وي او مور په کور کی وي پدی وجه مور ته پکار دي چې دخپل اولاد په تعلیم او تربیت اوپه نقل وحرکت باندی مکمل نګراني وکړي او پخپله هم دینداره ووسي که چېرته مور نکیه ښځه وي دروغ نه وایې کنځلې نه کوي ، سحر وختي پاځي ، دلمونځ پابندي کوي ، دقران حکیم تلاوت کوي نو دهغې په بچو کی هم دغسې صفتونه پیداکیږي او که چیرته مور دروغ وایي ، بدزبانه بد اخلاقه وي کنځلي کوي او ددین دپابندي اهتمام نه کوي نو په بچو کی به هم دغه بدصفتونه پیداکیږي او

دماشوم‌توب دغه بدئ تر آخر عمره پورې پاتې کیږي چې ددی ناکاره نتائج به دنیا او آخرت کی، ضرور قبلوي او داتول دکور دماحول ثمره ده . یو عربي شاعر وایي .

اذا كان رب البيت بالطبل ضاربا فلا تلم الأولاد فيها على الرقص

یعني کله چې دکور ماحول غیر اسلامي وي دکور غتان ډول وهي نو اولاد باید په گډا او نڅا باندی ملامت نه کړي . خلاصه دا ماشوم چې څه زده کوي دکور دماحول نه زده کوي ، چې دکور ماحول خراب او غیر اسلامي وي نو اولادونه به یې هم بدیو سره عادي کیږي ، پدی وجه نهایت ضروري دی چې مور پلار پخپله هم له بدیو څخه ځان وساتي او اولادونه هم وساتي .

داولاد دتعلم وتربیت یو اهم جزء دنیک صحبت اهتمام او له بد صحبت نه لرې کیدل هم دي لکه چې شیخ سعدي دنیک صحبت په باره کی فرمایي :

گلی خوشبوی درحمام روزي رسید ازدست محبوب بدستم
بدوگفتم که مشکی یا عبیري که از بوئ دلاویز تومستم
بگفتا من گلي ناچیز بودم ولیکن مدتي باگل نشستم
جمال همنشین درمن اثر کرد وگرنه من همان خام که هستم

یعني : یوه ورځې یوه خوشبوی داره خاوره دیو محبوب دلاسه حمام کی ماته ملاو شوه دخوشبوی په محسوس کولو سره ماوویل چې ته دمشکو نه جوړه شوی یې او یا عبر نه هغی په زبان حال سره راته جواب راکړ چې زه یو ناچیز او حقیر خاوره وم لیکن یو څه وخت دگل په خوا کی پاتې شوی یم چې زما دغنیمت همنشین دجمال اثر په ما وشو اوپدی وجه زه هم خوشبوی گرځیدلی یم) او که نه زه هماغه حقیر خاوره یم چې پخواوم . مطلب داچې دنیکانو په صحبت سره سړی نیک او صالح جوړیږي لکه څنگه چې په خاوره کې دگل په صحبت او ملگرتیا سره خوشبوی پیداکیږي .(گلستان مقدمه) همدارنگه دبدصحبت په باره کې ارشاد دی .

صحبت صالح ترا صالح کند صبت طالع ترا طالح کند

یعني دنیکانو په صحبت سره به ته هم نیک شې او دبدانو په صحبت سره به بد جوړیږې ،

تاتواني دورشو از یار بد
یار بد بتر بود ازما ربد
ماربد تنهاهمین برجان زند .

یاربدبرجان وبرایمـــان زنـــــد
ترجمه يعنې څومره چې درنه کيدی شي دبد یار او ملګري نه لرې اوسه (او خپل اولاد هم لرې ساته) ځکه چې ناکار دوست دمارنه هم خطرناک دی ځکه مار خو یواحې په ځان حمله کوي او بد ملګرې په ځان او ایمان دواړو لپاره خطرناک دی ، دقران او حدیث دبی شمیره دلائلو نه ثابت دی چې په ټولو شیانو کی دصحبت ډیر لوی اثر دی ، همدا وجه ده چې کوم شیان دبزرګانو په لاسوکی پاتې شوی و او استعمال کړی دی هغه برکتناک ګڼلي شي او دبصیرت خاوندان پکې انوار وبرکات محسوسوي ظاهره ده چې دادهغه صحبت اثر او نتیجه ده کوم چې پدی شیانو کی ددغو بزرګانو په صحبت او ملګرتیا سره حاصل شوی ، نو بنه باید پوهه شو چې لکه څنګه دبزرګانو دصحبت برکت استعمال شوی شیانو کی ظاهریږي همداشان دکافرو او فاجرانو په لاس استعمال شوی شیانو کی هم ظلمت او تور تم وي چې د بصیرت خاوندان یې محسوسولې شي ،لهذا دنیک صحبت اهتمام او دبد صحبت نه اجتناب پخپله هم ښکار دی او خپلو اولادوته هم ښکار دی . فقط والله اعلم .

دمدرسې درس شروع کیدو نه مخکې دعائیه نظم لوستل

۶۰_ سوال : په انګریزي او هندي سکولو نو کی دسکول دشروع کیدو په وخت طلباء و باندی پرار تهنا او پرهیر لوستل کیږي ، زمونږ پدی علاقه کی خالص دیني مدرسې دي ددی منتظمین ډیر زیات اصرار سره داغواړي چې لکه څنګه په سکولو نو می پرار تهنا وي دغسې په مدرسو کی هم کو دعائیه نظم لوستل ښکار دي او د لوستلو شکل به یې داوي چې یو ځل دوه طالبان دنظم یوه مصرعه ولولي او بیا نور ټول طالبان دغه مصرعه په ترنم سره دوباره تکراروي ، اوس سوال دادی .
۱_ ایا په اسلامي مدرسه کی دسکول په شان کوم دعا اجتماعي طور سره لوستل درست دی او که نه ؟ دلته زمونږ بعضی عالمان ورنه انکار کوي .
۲_ که چېرته کوم طالب علم شریک نشي او یا غیر حاضر شي نو دهغه تنبیه کول جائز دی او که نه .؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
ځواب: داسې یو دعائیه نظم چې دالله تعالی ثنا اودرسول مقبول صلی الله علیه وسلم صحیح تعریف اوصفت پکې وي اجتماعي طور سره په اسلامي مدرسوکی

لوستل کېدی، شي پدی کی څه بدي نشته بلکی ښه کار دی ، مثلا دادعا ولوستل شي :

اے خدائے پاک رحمن ورحیم
قاضي حاجات ووهاب وکریم
اے اله العالمین اے بےنیاز
دین ودنیا مین همارے کارساز
توهي معبود او توهي مقصود هے
تیرے هي هاتون مین خیر وجودهے

هم تیرے بندے هین او توهے خدا
تو کریم مطلق اور هم هین گدا
هم گنهگار او تو غفار هے
هم بهرے غیبون سے تو ستار هے
هم هین بےکس اور توهے کس نواز
هم هین لاچار اورتوچاره ساز
تو وه قادر هے که جو چاهے کرلے
جس کو چاے دے جسے چاهے نه دے
تو وه داتاهے که دینے کےلئے
در تیري رحمت کے هر دم هین کهلے
تیري در پرهاته پهیلاتا هے جو
پاهي لیتا هے وه هر مقصود کو
مانگنا هم پر کیا هے تونے فرض
اور سکهاهم کو دیئے آداب عرض
مانگنے کو بهي همین فرمادیا
مانگنے کا ڈهنگ بهي بتلا دیا
بلکه مضمون بهي هر اک درخواست

هم کو یارب تونے خودسکھلا دیا
هر گھڑي دینے کو تو تیار هے
جو نه مانگے اس سے تو بیزار هے
هر طرف سے هوکے هم خوار وتباه
آ پڑے اب تیرے در پر یا اله
گرچه یارب هم سراپا هین برے
اب تو لیکن آپڑے در پر ترے
دل مین هین لاکھون امیدین جلوه گر
هاتھ اٹھاتے شرم آتي هے مگر

تو غني هے اور هم هین بے نوا
کون پوچھے گاه همین تیرے سوا
هے تو هي حاجت رواء دوجهان
هم تیرا در چھوڑ کر جائین کهان
صدقه اپني عزت وجلال کا
صدقه پیغمبر کا ، ان کی آل کا
اپني رحمت هم پر اب مبذول کر
یه مناجات اور دعا مقبول کر

(مناجات مقبول) آمین

ترجمه :

ای رحمن ورحیم پاک الله ، پوره کوونکی دحاجتونو ، ورکړی والا او کریمه ای دټولو مخلوقاتو معبوده ای بی نیازه ، په دین او دنیاکی زمونږ کار سازه معبود او مقصود زمونږ ته یې ، او ستا په لاس او اختیار کی خیر او نیکي ده مونږه ستا بندګان او ته مو الله یې ، ته کریم مطلق او مونږ ګدایان یو مونږه ګنهګار او ته بخښونکې یې ، مونږه دعیبونو نه ډک خوته ستار یې مونږ بی کسه یو او ته دبی کسو مددګار یې ، مونږه ناچاره یو اوته مو چاره ساز یې ته داسې قدر والا یې چی څه وغواړې کوې ، چاته غواړې ورکوې او چاته نه

ورکوبته داسې ورکوونکې یې چې دورکولو لپاره همیشه ستا دروازه خلاصه ده ستا دربار ته چې څوک لاسونه اوږدوي خپل هر مطلب او مراد پوره کیږي .
غوښتل دی راباندی فرض کړي دي ، اودغوښتو اداب دی هم راته ښودلي دغوښتلو حکم دی هم راته کړیدی ، او طریقه او مضمون دی هم راته ښودلې دی ته خو هروخت ورکولو ته تیار یې ، او څوک چې درنه نه غواړي ، ورنه بیزار یې مونږ خو هر طرف نه خوار وتباه یو ، اوس ستا په در کی درته پراته یو په زړه کی مو لکونه امیدونه دي ، مګر په لاس اوچتولو شرمیږو ته غني ذات یې او مونږه بی نوایو ، ستا نه علاوه مونږ بل څوک تپوس والا نه لرو ته ددواړو جهانو حاجت روایې . ستا له در نه علاوه بل ځای زمونږ چېرته دی ؟
ستا دعزت وجلال نه قربان ، دپیغمبر نه قربان اودهغه دآل نه قربان اوس راباندی خپل رحمت نازل کړه ، دغه سوال او دعا مو قبول کړه اودغه لاندیني دعا هم ډیر بهتر دی دایې ولوستل شي .

مناجات بدرګاه مجیب الدعوات

بادشاه جرم مارا درګذار ما ګنهګار وتو امرزګار
تو نکوکاري وما بدکرده ایم جرم بی اندازه بی حد کرده ایم
سلها دربند عصیان ګشته ایم آخر از کرده پشیمان ګشته ایم
دائماً درفسق وعصیان مانده ایم هم قرین نفس وشیطان مانده ایم
روز وشب اندر معاصي بوده ایم غافل از امر ونواهي بوده ایم
بی ګناه نګذشت برما ساعتي ماحضور دل نکر دم طاعتي
بردر آمد بنده بګر یخته آبروي خود زعصیان ریخته
مغفرت وارد امید از لفظ تو زانکه خود فرموده لاتقنطوا
بحر الطاف توبی پایان بود نا امید از رحمتت شیطان بود
نفس وشیطان زر کریما راه من رحمتت باشد شفاعت خواه من
چشم دارم ازګنه پاکم کنی پیش ازین کاندر لحد خاکم کنی
اندر آن دم کزبدن جانم بري ازجهان بانور ایمانم بري

(پندنامه)

ددی مناجات ترجمه چاپه اشعارو کی کړیده چی وایي :

عفو کر میرے جرائم یاخدا تو غفور اور مین هون ګنهګار یاخدا

نیکی تو کرتاهے اور میں کار بد — میرے جرموں کی نہیں الله حد
کی بسر جو معصیت میں زندگی — آخرش حاصل هوئی شرمندگی
مبتلائے فسق وعصیان میں رها — هم قرین نفس وشیطان میں رها
مبتلائے معصیت هو صبح وشام — تیرے امر ونهی سے غافل مدام
ایک ساعت بے گنه گذري نہیں — اور حضور دل سے طاعت کی نہیں
بهاگ کر یه بنده آیا رو برو — جرم سے اپني متاکر آبرو
عفو کي کرتاهے تجهه سے آرزو — کیونکه تیرا قول هے لا تقنطوا
هو وے کیونکر تجهه سے انسان نا امید — تیري رحمت سے هو شیطان نا امید
نفس وشیطان نے کیا گمراه مجهے — نیک هے امید تیرے لطف سے
یا خدامجه کو گناه سے پاک کر — قبل ازین که دفن زیر خاک کر
جان میرے جسم سے جب هو جدا — هو نه قید قلب سے ایمان رها
(آمین)

ترجمه :

یا الله زما گناهونه عفوه کړی — خکه ته غفور یې او زه گنهگار یم
ته نیکي کوې او زه بد — او زما دجرمونو څه حد او اندازه نشته
ټوله زندگي مې گناهونو کې تیره کړی — چې نتیجه یې شرمندگي وه
په فسق او نافرماني کې اخته وم — او هم دنفس شیطان سره ملگری
شپه او ورځ مې په گناه کې تیره کړی — ستا دامر او نهی تل غفلت کې وم
یوه ساعت هم بغیر گناه نه دی تیره کړی — او دزړه په حضور سره مې طاعت هم ندی کړی
اوس درته په تیښته او ژړا راغلې یم — اوپه گناه سره مې خپله آبرو ختم کړیده
خوله تانه دعفوی امید وار یم — خکه چې تاپخپله لا تقنطوا فرمایلي دي
انسان به له تانه ولې نا امیده کیږي — ستاله رحمت نه خو شیطان نامیده کیږي
نفس وشیطان خو زه گمراه کړی یم — خو ستا دلطف نه ښه امید لرم
یا الله مادگناه نه پاک کړی — مخکې لدی چې خاورو لاندی مې دفن کړی
او کله چې مې روح له تن نه جداکیږي — چې ایمان مې له زړه نه جدانه وی

او یا لدینه علاوه بل کوم یو نظم ولوستل شي .

۲ـ او هغوی دی په خبرو سره پوهولې شي سختي دی ورباندی نشي کولې ، فقط .

دبې علمه سړي وعظ کول

(٦١ سوال) کوم خلک چې عالمان ندي ، دکوم معتبر عالم نه قران او حدیث نه دی لوستي، که چېرته دوی دعلماو پشان وعظ کوي نو داختگه دی؟ دلائلو سره به تفصيلي ځواب راکړئ مهرباني.

ځواب: وعظ او نصیحت کول ددین عظیم رکن دی ، ځوک چې دقران او حدیث عالم نه وي هغه ددی کار اهل ندی ، دحضور علیه السلام ارشاد دی: " اذ وسد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة "یعنی کله چې نا اهلو ته کار حواله کړی شي نو دقیامت انتظار کوه (بخاري شریف۱/ ۱۴)

په فتاوی عالمگیري کی لیکي : "الامر بالمعروف یحتاج الی خمسة أشیاء اولها اعلم لان الجاهل لایحسن الامر بالمعروف" امر بالمعروف یعنې وعظ کولو لپاره پنځه شرطونه دي چې اول شرط یې دادی چې عالم وي ځکه چې جاهل سړی په سمه توگه امر بالمعروف نشي کولی .(فتاوی عالمگیري ٦/ ۲۳۵ کتاب الکراهیة الباب السابع عشر)

اوپه درمختار کی لیکي :

"التذکیر علی المنابر للوعظ والا تعاظ سنة الانبیاء و المرسلین"په منبر باندی وعظ او نصیحت کول دانبیاو او رسولانو کار او طریقه ده ، او ددوی نه وروسته ددوی دوارثانو یعنې دامت دعالمانو منصب دی (درمختار مع الشامي ۵/ ۳۷۲ قبیل باب احیاء الاموات) .

او شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله فرمایي " ویحك کن عاقلا لا تزاحم القوم بجهلك بعد ما خرجت من الکتاب معدت تتکلم علی الناس هذا امر یحتاج الی احکام الظاهر واحکام الباطن ثم الغنی من الکل"یعنی افسوس دی په تا باندی ، خان نه هوښیار جوړ کړه دخپل ناپوهي سره دامت دحکیمانو مقابلې ته مه راځه نه دمدرسې نه وتلو نه فوراً بعد په منبر کیناستي او وعظ دی شروع کړ دی وعظ او نصیحت لپاره اول دظاهر او باطن مضبوطیانه ضرورت دی (چې عمل او عقیده

دواړه دشـــروع موافق دي) اولدینه وروسته دټولو نه مستغنی اوبی پروا کیـــدل ضــروري دي .(فتح رباني ص۴۳۸ مجلس نمبر ۵۹).

او فرمايي : "اعمى كيف تداوي اعين الناس ، اخرس كيف تعلم الناس ، جاهل كيف تقيم الدين ، من ليس بحاجب كيف يقيم الناس الى باب الملك" یعنـی تـه پخپله وړوند یې نو دخلکو دسترګو علاج به څنګه وکړی ؟ او ته ګونګې یې نو خلکـو ته به تعلیم څنګه ورکوې او چی خپله جاهل یې نو دین به څرنګه درست کړی . او کوم سړی چی دربان نه وي نو خلک به څنګه شاهي دربار ته وړاندی کړی شـي .(فتح رباني ص۴۷۸ مجلس نمبر ۶۱)

حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمـايي : " فالتذكير ركن عظـيم "یعنی وعظ کول په دین کی عظیم رکن دی ، الله تعالی خپل رسول ته فرمـايلي : " فذكر انما انت مذكر"ته خلکـو تـه نصیحت کـوه ستا کـار نصیحت کـول دي او حضرت موسی علیه السلام ته یې فرمایلي وو "وذكرهم بايام الله "یعنی دغو خلکو ته تیر شوی واقعات بیانوه ، نو دقران کریم دنص نه ثابت شـو چـی وعـظ کـول عظیم رکن دی ، او فرمايي : "فا ما المذكر فلا بد آن يكون مكلفا عدلا محدثاً مفســرا عالما بحملة كافية من اخبار السلف الصالحين وسيرهم ونعنى بالمحدث المشـــتغل بكتب الحديث وكذلك بالمفسر المشتغل بشرح غريب كتاب الله وتوجيه مشكله وبما روى عن السلف فى تفسيره"یعنی واعظ لپاره ضروري دی چـی مکلـف یعنـې مسلمان عاقل ، بالغ او متقي وعادل وي دقران اودحدیث دعلمونو ماهر وي ، سـلف صالحین (صحابه ، تابعین او تبع تابعین) دصحیح حالاتو او ددی دسـریت نـه واقـف وي . دمحدث نه مراد دادی چی دحـدیث کتابونـه یعنـی صحاح سـته (بخـاري ، ترمذي ، ابو داود ، نسائي او ابن ماجه) وغیره سره مشغول وي ، صحیح ، ضعیف او موضوعي حدیث وپیژني او دغه علمونه باید له یو کامل استاذ نه حاصل کړی وي او دمفسر مطلب دادی چی دقران تفسیر اودمشکل آیتونو دتوجیه او تاویل نـه خبـر دار وي ، (القول الجميل مع شرح شفاء العليل ص۱۳۸ ، ۱۴۰ فصل نمبر۱)

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف تهانوي صاحب لیکي " " بعضی حلک کوم چي تربیت یې نه وي شوی او مقتدا (پیشوا) جوړ شي ، دهغوی اخلاق نهایت خراب وي وجه داده چي ددی دوړکتوب نه وړاندی لوی شوی وي ، چي څه ښه ویلي دي :

ای بی خبـر بکوش صاحب خبر شوی
تـــــاراه بیـن نباشي کی رهبر شوی
درمکتـب حقــــائق پیش ادیب عشق
هان ای پسر بکوش که رزوی پدر شوی

نو دخوی جوړیدو نه وړانـدی پلار جوړیـدل او طالـب جوړیدونـه وړانـدی علماو منصب اختیار ول دډیرو خرابیو باعث ګرځي . (الرفیق فی سواء الطریق ص۱۸)

او فرمایي : دمدرسې سفیر چي عالم نه وي نو وعظ ګویي دی نه کوي کـه دچنـدی لپاره صرف دترغیب یو څو خبرې وکړي نو خیر دی مګرغیر عالم سړی دی کلـه هـم وعظ نه کوي پدیکې څو نقصانونه دي یو څـو داچـي درسـول الله صـلی الله علیه وسلم هغه حدیث نه مخالفت کیږي په کوم کی چې فرمایي : هر کار خپـل اهـل تـه حواله کوئ او فرمایي :"اذا وسد الامر الیٰ غیر اهله فانتظر الساعة" یعنې کله چي کار نا اهلو ته حواله شي نو دقیامت انتظار کوه . ګویا چی نا اهلو ته کوم کار حواله کول دومره سخت کار دی چي دادقیامت علامه ده اوداخبـره ثابتـه ده چـي کـوم اختیارې فعل دقیامت علامه وي هغه معصیت او بدکار دی او ظاهره خبـره ده چـي غیر عالم سړی دوعظ ګویي اهل او لائق ندی دایواخې دکامل عـالم کـار دی پـدی وجه غیر عالم ته دی ددی اجازت بالکل نشي ورکولې (التبلیغ ۲۶ وعظ المســـمی ب الهدی والمغفرة ص۴۰ طبع اشرف المطابع تهانه بهون) .

اوپه " تفسیر بیان القرآن " کی فرمایې او لیکي :

" او د علم د شرط کیدو نه معلوم شو چې نن صبا اکثر جاهل او یا جاهل نمـا خلـک ګرځي او وعظ کوي او له مخی بغیر د تحقیق او ثبوت نه روایتونه او احکام بیـانوي نو دوی سخت ګنهګار دي ، او نورو خلکو ته هم د دوی وعظ اوریدل جائز ندي " (بیان القرآن ج ۲ ص ۴۷ آل عمران سورت) .

په همدی بناء حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي : "لایزال الناس بخیر مااتاهم العلم من قبل اکابرهم فاذا اتاهم من قبل اصاغر هم هلکو" یعنـی څـو

پوری چی په خلکو کی د کاملو مشرانو علم وي نو دین کی بـه ترقـي کـوي او کلـه چی یکی د ناواقفو علم شروع شي نو برباد به شي (جامع بیان العلـم ج ۱ ص ۱۵۹ ، ترجمان السنه ج ۱ ص ۴۴ حاشیه نمبر ۲) .
حضرت امام مالک رحمه الله فرمائي : چی یوه ورځ امام ربیعه ډیر زیـات وژړل چـی د سبب تپوس ورنه وشو نو وی فرمایل یدی ژاړم چی د دیني مسئلی تپوس خلک له جاهلانو نه کوي او همدا د گمراهی علامه ده (الاعتصام ج ۱ ص ۱۴۹) .
لنډه دا که څوک د دین کار کوي باید چی د شرعي اصولو مطابق وکړي که چیرته د اصولو نه خلاف کار وکړی شي نو په هغه کی لازمي خرابیانې پیدا کیږي .
حضرت تهانوي رحمه الله فرمائي : حضرت گنگوهي رحمه الله ماته پـه خـواب کـی ولیکل نااهل ته د مدرسی (یا وعظ گـوئي) کـار حوالـه کولـو ! اصـل مقصـد د الله تعالی رضا ده مدرسه مقصود ندی او پاتی شوه دا خبره چی مدرسـه بـه پـاتی نـشـي ددی ذمه وار مونږ نه یو د دی ذمه وار هغه څوک دی چی د چا په وجه مدرسی ته نقصان رسیږي ، یدی باندی حضرت تهانوي رحمه الله وفرمایل چی هر څـومره کـار کیږي باید د اصولو مطابق وشي د شرعي حدودو لاندی وشي ، مقصد د الله رضا ده د مسلمان د هر کار مقصد د الله تعالی رضا کیدل یکار دي ، مدرسه پـاتی شـي او یـا ختم شي ، بدنام شي او یا نیک نام ، چنده وشي او یا بنده شي ، طالبان یکی زیـات وي یا کم وي غرض دا چی هر څه چي وي خو د صحیح اصولو مطابق کیدل دي (ملفوظات حضرت تهانوي ج ۵ ص ۴۲۴ ملفوظ نمبر ۷۳۸) .
علماؤ ته هم یکار دي چی د خپل ذمه واری احساس وکړي لکه څنگـه چـی درس و تدریس ضرور دی همداشان یدوی باندی دا هم لازم دي چی د وعـظ او تبلیـغ پـه ذریعه د عوامو د عقیدو او اعمالو هم اصلاح وکړي ، دی وخت کی چی کوم صورت حال دی دا د کار د تقسیم پشان دی بعضو درس و تـدریس اختیـار کـړی او نـوری ذمه واری یی نظر انداز کړیدي او بعضو نورو بل یو اړخ غوره کړی اولنی صورت یی پرینبی دی ، د علماؤ د دغی ذمه واری په باره کی مولانا تهانوي رحمه الله فرمائي :
" علماؤ نن صبا هغه کار پرینبی کوم چی د انبیاء کرامو علیهم السلام کار ؤ څکـه خـو نن صبا جاهل واعظان زیات تر سترگو کیږي او علما، واعظان ډیر کـم دي نـو تاسـو چی د اصل مقصود نه علاوه کوم شی مقصود جوړ کړی ؤ هغه مو هم پوره نـه کـړ د

هغه مو هم یوه شعبه واخسته یعنی درس و تدریس او دویمه شعبه (تعلیم عـوام) مـو پرینبوده .

محترمو ! که چیرته علماء عوامو ته تعلیم ورنکړي نو جاهلان به یی ورته ورکوي ؟ که چیرته جاهلان دا کار وکړي نو هماغه خبره به کیږي کوم چی حـدیث کـی راغـي : "اتخذو رؤساً جهالاً فضلوا واضلوا" یعنی دغه جاهلان به مقتـدایان جـوړ شـي او خلک به ورنه فتوی غواړي نو دا جاهلان به پخپله هم گمراه شـي او نـور خلـک بـه هم گمراه کړي پدی وجه علماؤ ته پکار دي چی د درس و تـدریـس پشـان د وعـظ و تبلیغ کار هم وکړي او د دی انتظار مه کوئ چی څمونږه وعظ کوم اثر کوي او کـه نه ؟ او څوک یی آوري او که نـه ؟ او اوریـدونکي لویـه مجمعـه ده او کـه یـو کـس ؟ (وعظ العلم والخشیه ص ۳۳) .

د تبلیغي جماعت د شپږو نمبرو په چوکاټ کی کار کول :

(٦٢ سوال) محترم مفتي صاحب ادام الله ظلهم ، د سلام مسنون نـه وروسـته د غیر عالِم سړي وعظ کولو متعلق ستاسو محترم تفصیلي او مدلل فتوی می ولید ماشاء الله ډیر مدلل او بصیرت پیداکونکی وه او دا بالکل صحیح ده چی وعـظ کـول صـرف د علماؤ کار دی خو اوس مزید دوه خبرو په باره کی ستاسو حضور ته عرض کوم امید دی چی څواب مرحمت وفرمایئ او احسان راباندی وکړئ :

نن صبا د الله تعالی په فضل و کرم سره د تبلیغي جماعت کار ډیر زیات وسـیع شـوی ډیرو خلکو ته لدینه فیض و برکت رسیدلی او د هغوی په ژوندکی انقـلاب راغلـی او د آخرت فکر ورسره پیدا شوی هغه خلک د خپل اصلاح پـه نیـت وخـت پـه وخـت تبلیغ ته ځي ، تبلیغي جماعت کی تلونکو لپاره د جماعت مشرانو شپږ نمبری ترتیـب کړیدي او هر یو ته دا هدایت دی چی پدی شپږو نمبرو کـی دننـه د دینـي دعـوت کار وکړي ، د دیني دعوت لپاره د څه نا څه بیانول خو ضرور دي نو تبلیغي کـارکن پدی شپږ نمبرو کی دننه عوامو ته د دین پابندي ، د فرائضو پابندي او د آخرت فکر پیدا کولو لپاره څه بیان وکړي دا جائز دي او که نه ؟ بعض خلک دی کار ته پـه بنـه نظر نه گوري او اعتراض کوي د دوی دغه فعل څنگه دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني

ځواب : د غیر عالِم سړي وعظ کول منع دي لیکن تبلیغ چې د هغه دائره شپږ نمبرو کې محدود ده او د دغو شپږو نمبرو متعلق چې د تبلیغي مشرانو له طرفه کوم کتاب مرتب شوی له همدی کتاب نه چې دعوت وکړی شي او لدینـه تجـاوز کولـو سـره د خپل ځان نه څه اضافه او استنباط ونه کړی شي نو دا کار یو واقـف مسلمان کـولی شي دی لپاره عالِم کیدل ضروري ندي ، " تبلیغ د علماؤ کار دی نـه د جـاهلانو " د دی اعتراض ځواب شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب نورالله له مرقده داسی ورکړیدی : دا اعتراض په اصل کی د تبلیغ او وعظ تر منځ فرق نـه کولـو نـه پیدا کیږي ، وعظ په حقیقت کی یواځی د علماؤ کار دی ، جـاهلانو تـه وعـظ کـول جائز ندي ، دی لپاره عالِم کیدل نهایت ضروري دي تر څو هر یوه خبره چې کـوي د شریعت موافق دي او هیڅ یوه خبره د قرآن او حدیث نه خـلاف ونشـي ، او تبلیـغ چې معنی یې یواځی پیغام رسول دي د چا په لاس کی کـوم پیغـام اسـتولو لپـاره د هغه عالِم کیـدل بالکل ضروري ندي ، په تبلیغي جماعت باندی د نظام الـدین دغـه اعتراض بالکل نه واردیږي ، ځکه چې دوی لپاره تبلیغ کی یواځی خاص شپږ نمبره بیانول دي او دوی ته د دی مشق کولی شي او دوی لره د پیغام په طور ښار په ښـار او ملک په ملک استول کیږي ، د دوی په اصولو کی دا خبره هم ده چې دغو شـپږو نمبرو سره اوم نمبر دا ده چې دغو شپږو نمبرو نه علاوه به بل شي کی نه مشغولیږي (جماعت تبلیغ پر اعتراضات کے جوابات ص ۲۷ ، ۲۸) .

د تبلیغ کار کونکو مخالفت کول او بدرد ورپسی ویل او ذلیل کنول قطعاً ناجـائز او حرام دي او پدی سره خاص دین او تبلیغ ته نقصان رسـول دي ، البتـه کـه چیرتـه هغوی کوم شرعي غلطي وکـړي نـو لکـه ښـکه چـې خپـل ورور تـه نصیحت کـوو همدغسی هغوی ته دی هم نصیحت وکړی شي ، فقط والله اعلم .

د ښځو د تعلیم اهمیت

(٦٣ سوال) نن صبا د لوی جینکو او له دین نه ناواقفو ښځو د یني تعلیم مسئله ډیـر زیات اهم شویده ، جینکی عام طور سره د سکول او کالج شـوقیانې وي او د دوی د مور پلار رجحان هم همدی طرف ته وي ، او د سکول او کالج ماحول چـې څـومره خراب دی دا خو بالکل ښکـاره دي ، جینکـی اکثـره د دیـن د ضروري مسئلو نـه ناخبره دي . د دوی هغه خاص مسئلی هم ورته نـدي معلـومی ، څمونږ کوشـش دا دی چې په کومه طریقه د دوی له کالج او سکول نه مینه واړوو او دیني تعلیم طـرف

ته یی وکرځوو او د دغه مقصد په غرض مونږه په محله کی دوی لپاره د دیني تعلیم انتظام کړی چی په هغی کی جینکی په پوره پرده کی ټک راتګ کوي او سند یافته ښځینه معلماني ورته قرآن مجید یا تجوید او ضروري مسائل او ورسره ورسره د کور کارونه اخلی پخلی ، او ګنډل وغیره هم ښودلی کیږي ، نو پداسی شکل سره محله کی ښځو لپاره د دیني تعلیم انتظام کول شرعاً څنګه دي ؟ پدیکی تعاون کول پکار دي او که نه ؟ امید دی چی تفصیل سره ځواب راکړئ ، جزاکم الله .

ځواب : په حدیث کی راځي : "عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم طلب العلم فریضة علی کل مسلم وفی روایة مسلمة" د انس رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی ، علم حاصلول په هر نارینه مسلمان (او د یو روایت مطابق هر مسلمانه ښځه) باندی فرض دی (مشکواة شریف ص ۲٤ مع حاشیه کتاب العلم)

په التعلیق الصبیح شرح مشکواة المصابیح کی راځي : "وقال البیضاوی المراد من العلم مالا مندوحة للعبد عن تعلمه کمعرفة الصانع او العلم بوحدانیة ونبوة رسوله صلی الله علیه وسلم وکیفیة الصلواة فان تعلمه فرض عین" (ص ۱۵۱ ج اول) .

یعنی بیضاوي وائي چی دعلم نه مراد هغه څه دي چی د هغه پیژندل سړي لپاره ضروري وي لکه د خالق پیژندل او د ده په وحدانیت باندی علم او د ده د رسول صلی الله علیه وسلم په رسالت باندی ، او د لمونځ طریقه څکه چی د دی زده کول فرض عین دي .

مظاهر حق کی د ذکر شوي حدیث په تشریح کی لیکي : " او د علم طلب کول فرض دي د علم نه مراد هغه علم دی چی دهغه ضرورت راځي مثلاً بنی آدم چی کله مسلمان وي نو په هغه باندی د خپل خالق او د ده د صفاتو او د ده د رسول صلی الله علیه وسلم پیژندل او هغو شیانو پیژندل چی د هغو نه بغیر ایمان نه صحیح کیږي فرض دي ، او کله چی دلمانځه وخت شي نو د لمانځه د احکامو پیژندل فرض دي او چی رمضان راشي نو د روژی احکام پیژندل فرض شي او کله چی مالک د نصاب شي نو د زکات احکام پیژندل پری فرض کیږي او کله چی واده

وکړي نو د حیض و نفاس او طلاق وغیره احکام زده کول کوم چې د ښځې او خاوند سره تعلق لري واجب ګرځي همدارنګه د خرید و فروخت کولو احکام پیژندل واجب ګرځي او همدارنګه نور شیان هم حساب کړه غرض دا چې کومه خبره ورته پیدا کیږي د هغه زده کول ورته ضروري دي او که زده یې نه کړي نو سخت ګنهګاریږي " (مظاهر حق په لږ تفسیر سره ص ۹٦ ، ۹۷ جلد اول).

لدی حدیث نه معلومیږي چې هر مسلمان نر او ښځه باندې دومره دیني علم زده کول فرض دي چې په هغه سره د ایمان بنیاد (توحید و رسالت) او د عقائدو اصلاح وشي او همدارنګه اعمال یعنې لمونځ ، روژه ، زکات او حج وغیره درست او صحیح طریقې سره ادا کړی شي او معاملات ، معاشرت او اخلاق ورسره هم درست شي .

لهذا د ضروري علم زده کول یواځې په نارینه و باندې لازم ندي بلکې په ښځو او جینکو باندې هم لازم دي او د دې ډیر زیات اهمیت دی ، کله چې ښځې له دیني ضروري علمونو څخه خبرداری وي او ذهن یې په دیني علومو سره ښایسته او سنبال وي نو هغه خپله زندګي هم د دین په رڼا کې په صحیح طریقې سره تیرولی شي او د خپلو اولادونو او متعلقینو هم بهترین دیني تربیت کولی شي او له ماشومتوب نه د خپلو بچو ذهن د دین په سانچه او قالب کې اچولی شي او هغوی له دیني خبرو سره اشنا کولی شي ، د اولاد په تربیت کې د مور کردار ډیر بنیادي وي ، لهذا په هره ښځه باندې دومره علم زده کول فرض دی چې په هغه سره خپل رب وپیژني او خپله عقیده اصلاح کړي او د غلط قسم عقیدو او رسمونو رواجونو څخه ځان وساتي او خپل عبادت ، لمونځ او روژه وغیره په صحیح طریقې سره ادا کړی شي او د ښځو سره خاص حیض ، نفاس او استحاضې له مسئلو نه ځان خبر کړي ، د دې برعکس که ښځه له دیني علومو نه خبره نه وي او ذهن یې د دین په قالب او سانچه کې نه وي اچول شوی نو نه خپله زندګي دیني تقاضو مطابق تیرولی شي او نه د خپل اولاد صحیح تربیت کولی شي .

د والدینو (مور پلار) ډیره غټه ذمه واري ده چې خپل ځان هم او خپل اهل وعیال هم د دوزخ د اور نه د بچ کولو فکر وکړي ، د الله تعالی ارشاد دی : "یایها الـذین

امنوا قوا انفسکم واهلیکم ناراً" ای مؤمنانو تاسو خپل ځان او خپل کـور والا د دوزخ له اور نه بچ کړئ (سورت تحریم ۲۸ پاره).

او د دوزخ د اور نه د بچ کیدو طریقه همدا ده چې د دوی دینـي تربیـت وکـړي د دین د ضروري علومو نه د واقف کیدو پـوره انتظـام وکـړي د ماشـومتوب د لمـونځ پابند جوړ کړي حلال او حرام ورته وښائي او احکام الهي او د دین ضروریات ورتـه زده کړي ، حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب پـه معـارف القـرآن کـې لیکـي : "قوا انفسکم واهلیکم ..... الایة" پدی ایت کریمه کې عامو مسلمانانو تـه حکـم دی چې د جهنم له اور نه خپل ځان او خپل اهـل و عیـال هـم بـچ کـړي .... د اهلیکم په لفظ کې اهل و عیال ټول داخل دي چې پدیکې ښځـه ، اولاد ، غـلام او وینځې ټول شامل دي او بعیده نده چې د هر وخـت نـوکر چـاکر هـم پـه غلامـو او وینځو کې شامل وي ، په یو روایت کې دي چې کله دغه ایت کریمه نازله شـوه نـو عمر فاروق رضی الله عنه عرض وکړ یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپل ځان د جهنم نه د بچ کولو په مطلب خو پوهیږو (چې له ګناهونو نه بـچ شـو او د احکـام ا لهیه ؤ پابندي وکړو) مګر خپل اهل و عیال د جهنم نه څنګـه بـچ کـړو ؟ رسـول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د دې طریقه دا ده چې د کومو کارونو نـه الله تعـالی منع کړي یئ له هغو نه دوی ټول منع کړئ او د کومو کارونو چې د کولو حکم کړی نو تاسو خپل اهل و عیال ته هم د دې د کولو حکم وکړئ ، دغه کـار دوی د جهـنم له اور نه بچ کولی شي (روح المعاني).

فقهاء کرامو فرمایلي دي چې لدی ایت کریمه نه ثابت شـو چـې هـر سـړي بانـدی فرض دي چې خپلی ښځـې او اولادو تـه شـرعي فـرائض د حـلال او حرامـو تعلـیم ورکړي او پدی باندی عمل کولو کوشش وکړي .... او بعضـی بزرګـانو فرمـایلي چې د قیامت په ورځ به د ټولو نه زیات عذاب د هغه چا وي چې د هغه اهل و عیال له دین نه غافل وي (روح) (معارف القرآن ج ۸ ص ۵۰۲ ، سورت تحریم ایـت نمبـر ۸).

د دغه مبارک ایت نه ثابت شو چې هر سړي بانـدی د اولاد تعلیم او تربیـت لازم او ضروري دی اولاد عام دی هلکان او جینکۍ ټولو ته اولاد ویلی شي ، لهذا لکه څنګه

چې د هلکانو تعلیم او تربیت ضروري دی همدغسی د جینکـو هـم تعلـیم او تربیـت لازمي او ضروري دي .
حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په " اصلاح انقلاب " کی د ښځـو د تعلیم متعلق د " اصلاح معامله به تعلیم نسوان " تر عنوان لاندی یو ډیر مفید مضـمون لیکلی دی ، پوره مضمون که ځوک کتل غواړي نـو پـه " اصـلاح انقـلاب ص ۱۹۰ _ ۲۰۱ " کی وګوري دغه مضمون د بهشتي زیور پـه اولـه صـفحه کـی هـم پـه همـدی عنوان سره په ۹۵ _ ۱۰۷ صفحه باندی چاپ شـویدی ، پـدی مضـمون کـی حضـرت لیکي :
" غرض دا چې عقل او مشاهده دواړه ګواه دي چې دعلم نه بغیر عمل نشي درسـت کیدی او د عمل درست کول فرض و واجب دي نو د علم دیـن دَ حصـول فرضـیت لکه چې بره دعوه شویده عقلاً هم ثابت شو او نقلاً فرض کیدل لدینـه مخکـی بیـان شویدي نو په دواړو طریقو سره د علم دین حاصلول فرض شو ، نـو د دغـو خلکـو دا خیال چې کله ښځی نوکري نه کوي نو د تعلیم څـه ضـرورت دی بالکـل غلـط دی .... دا هم د تجربی نه ثابته ده چې په نارینه و کی د علماؤ موجـودګي د ښځـو دیني ضرورت لپاره کافي ندی او دا په دوه وجو سره ، اول د پردی په سـبب (چـې دا هم اهمو واجباتو نه دي) د ټولو ښځو علماؤ خوا ته ورتلل قریبـاً نـاممکن دي او که چیرته د کور نارینه واسطه کړی شي نو بعضی ښځو ته د کور داسی نارینه هم نـه پیدا کیږي او په بعضی ځایو کی خو پخپله سړو ته هم د خپل دین اهتمام نه وي نـو هغه به د بل چا لپاره د سوال کولو څه اهتمام وکړي ؟ نو دغسی زنانه و تـه د دیـن تحقیق نهایت مشکل دی او که اتفاق سره چاته پیدا هم شي او یا د چا په کـور کـی پلار ، خوی او یا ورور وغیره عالم وي بیا هم بعضی مسئلی ښځـی لـه دوی نـه نشـي پوښتلی ، داسی بی تکلفي د خاوند سره وي او د ټولو خاوندانو داسی کیدل پخپله عادتاً ناممکن دي نو د دوی د عام احتیاج رفع کیدو لپاره د دینـه عـلاوه بلـه چـاره نشته چې بعضی ښځې تعلیم یافته وي چې نوری ښځې له دوی نه د دیـن هـر قسـم تحقیق وکړي ، نو بعضی ښځو ته په متعارف طریقي سره د دین تعلیم ورکول واجـب شو " (اصلاح انقلاب ص ۱۹۴) (بهشتي زیور حصه اول ص ۹۹) .
پورته ذکر شوی حوالونه ښځو او جینکو ته د دیني تعلیم اهمیت ثابـت شـو لهـذا د دوی د تعلیم توجه او د دی انتظام کول هم ضروري دي .

د ښځو او جینکو د دیني تعلیم بهترینه طریقه دا ده چې په هر ځای او کلي کې مقامي طور سره د دوی د تعلیم انتظام وکړی شي چې ښځې او جینکۍ د پردی پوره اهتمام سره تګ راتګ وکړي او داسی قابل اعتماد رفاقت اختیار کړي چې د بدنامی نه باکل محفوظ وي او د دوی په عصمت او پاکدامنی او آبرو او عزت باندی هیڅ قسم داغ ونه لګي او مابنام خپل کور ته واپس ورسي ، او د دوی مشران او سرپرستان هم باید د دوی دتعلیم او د تګ راتګ پوره نګراني وکړي ، د ښځو او جینکو د تعلیم دغه طریقه به انشاء الله د فتنو نه محفوظه وي .

په سوال کی چې تاسو کومې خبرې لیکلي دي که چیرته دا بالکل صحیح وي او جینکی په پوره پرده کی رفت آمد کوي او استاذانې هم د صحیح عقیدې والا او قابل اعتماد وي نو دا خو ډیر زیات قابل د مدح او صفت او صد مبارک باد لائق دی ، هر مسلمان ته د خپل حیثیت مطابق پدیکی تعاون کول پکار دي ، د جینکو مور پلار دی هم دا موقع غنیمت وګڼي او لدینه فایده واخلي او خپلو لونړو ته دیني تعلیم ورکړي ، فقط والله اعلم .

په دیني تعلیم باندی دنیوي تعلیم ته ترجیح ورکولو مذمت :

(۶۴ سوال) د مسلمانانو ډیره غټه طبقه د دیني علومو او همدارنګه له دنیوي تعلیم نه هم بی برخی ده او د دی خبری احساس هم ورته نشته ، او کوم خلک چې له تعلیم سره شوق لري پدی کی زیاتره هغه خلک دي چې دنیوي تعلیم او اوچته ډګري حاصلول خپل کمال او ترقي ګڼي او دی لپاره هر قسم قربانی ته تیار وي او د دی په مقابل کی دیني تعلیم طرف ته هیڅ توجه نه وي او نه یی کوم اهتمام کوي تش په نوم څه دیني تعلیم ورکولی شي ، تاسو ته دا درخواست دی چې د دیني تعلیم په اهمیت باندی تفصیل سره رڼا واچوئ او د مؤمنانو راهنمائي وکړئ ، مهرباني .

خواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! کومې خبرې چې تاسو په سوال کی ذکر کړیدي د ډیر افسوس قابل او د اصلاح لائق دي ، پدی زمانه کی یواځی ستاسو په علاقه کی ندی بلکی دا یو عام مرض دی کوم چې د هیضه او د طاعون پشان خور شویدی او د مسلمانانو ډیره غټه طبقه پدی مرض کی مبتلا دی ، الله تعالی دی څمونږ د ټولو حفاظت وکړي ، آمین .

دغه صورتحال خمونږ د نوي نسل د ایمان د بقاء او حفاظت لپاره ډیر زیات خطرناک دی ، مسلمانانو ته انفرادي او اجتماعي طور سره دغه اهمی مسئلی ته فوري توجه ورکول لازم دي او عملي قدم اوچتول پکار دي او که نه خمونږ د ملي تشخص بقاء او د نوي نسل د ایمان حفاظت به په لوی خطره کی پریوځي ، الله تعالی دی داسی بدحالت او سنګین نتائجو نه پوره اسلامي امت حفاظت کی وساتي ، آمین بحرمة النبی الامی صلی الله علیه وسلم .

کومی خبری چی سوال کی دي دا ټول حقیقت او بالکل صحیح دي ، کله چی مونږ خپلی معاشری ته نظر واچوو نو همدغه صورت تر سترګو کیږي چی دهلکانو او دجینکو تعلیم تش په نوم دی او د یو رسم په طور دیني تعلیم ورکولی شي . خومره فکر او توجه چی دنیوي تعلیم طرف ته کولی شي دومره توجه دیني تعلیم طرف ته نشته ، حقیقت دا دی چی خمونږ د معاشری ځوانی جینکی هم په سکول او کالجو کی تر سترګو کیږي پداسی حال کی چی دغه جینکی عام طور سره له دیني تعلیم نه بالکل بی برخې وي ، نه قرآن پاک صحیح لوستلی شي او نه د دین له ضروریاتو نه خبرداري دي ، د دوی په ژوند کی نه دین شته او نه د دین عظمت او نه په دین باندی عمل ، په دنیوي تعلیم کی دومره زیات نتوتي دي چی د ایمان او دین بیخ او بنیاد ویستلی کیږي مګر د دی احساس قدری نشته نن صبا تقریباً هر ځای د مسلمانانو په معاشره کی همدا حالت دی ، مرحوم اکبر آله آبادي بالکل صحیح فرمایلي دي : ع

نظر ان کی رهی کالج مین بس علمی فوائد پر
ګراګین چپکے چپکے بجلیان دینی عقائد پر

یعنی د دوی نظر یواځی د کالج په علمي فائدو باندی وي خو پدی سره پټ پټ دیني عقائدو باندی تندر پریوت .

مونږ دنیوي تعلیم نه منع کوو مګر شکایت او ګیله دا ده چی مونږ پخپل فکر سره په دیني تعلیم باندی دنیوي تعلیم ته فوقیت او اهمیت ورکړیدی ، دنیوي تعلیم غالب او دیني تعلیم مغلوب دی ، او د دی شکایت قرآن مجید کی هم موجود دی ، د الله تعالی ارشاد دی : "بل تؤثرون الحیواة الدنیا والاخرة خیر وابقی" یعنی بلکی تاسو

دنیوي ژوند ته ترجیح ورکوئ او حال دا چې (دنیا نه) آخرت په ډیرو درجـو سره بهتر او پایدار دی .

مفسر قرآن حضرت مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله لیکي : " یعنی دغـه کامیابي (کوم چې پورتني ایت کی بیان شویدی) تاسو ته په څنګه حاصل شي پداسی حـال کی چې د آخرت فکر له سره نشته بلکی د دنیا ژوند او د دی عیش و آرام ته عقیدتاً او یا عملاً په آخرت ترجیح ورکولی شي او حال دا چې دنیا حقیر او فاني او آخـرت د دی په مقابل کی په کراتو سره بهتر او پایدار دی ، بیا تعجب دی چې کوم شی د کم او کیف په لحاظ سره افضل او بهتر دی هغه پریښودی شي او ادنی شـی اختیـار کړی شي .

(سورت اعلی ۳۰ پاره)

الله تعالی په دی عالَم اسباب کی د هر شي لپاره تریاق پیدا کړي په کوم سـره چـی زهریله او خراب اثـرات ختمیـږي ، د دنیـوي او عصـري تعلـیم زهـرو لپـاره قـرآن و حدیث ، دیني تعلیم او اسلامي تربیت تریاق دی ، که چیرتـه ځمونـږه بچـو بنیـادي دیني تعلیم په صحیح طریقی سره حاصل نه کړ او د فرض په اندازه اسلامي عقائد او احکام هم حاصل نه کړل او په دیني کارونو کی علماء کرامو سره رابطه ونکـړي نـو عصري او دنیوي تعلیم مونږ ګمراهی او تباهي سره مخ کوي او په دنیا او آخرت کی به د دی ناکاره اثرات اوچتـوو ، دا خبـره یـواځی زه نـه بلکـی ځمونـږه مشـرانو او اکابرو هم دا خبره کړیده .

د هندوستان د جنګ آزادي مجاهد اسیر مالتها شیخ الهنـد حضـرت مولانـا محمـود الحسن رحمه الله ارشاد دی : " که چیرته د انګریزي تعلیم آخري اثر همدا وي کـوم چی عام طور سره لیدی شي چې خلک د عیسایانو پـه رنـګ کـی رنـګ شـي او یـا ملحدانه ګستاخي سره خپلو مذهبونو او مذهب والاو پوری مسخری وکړي ، او یـا د حکومتِ وخت پرستش شروع کړي نو د دغسی تعلیم نه یو مسلمان لپاره بـی تعلیمـه او جاهل پاتی کیدل ورنه بهتر دي .

(خطبه صدارت جلسه افتتاحیه مسلم نیشـنل یونیورسـټي علـی ګړهـ ۱۹۲۰ء بحوالـه فتاوی رحیمیه اردو ص ۱۲۴ جلدي سوم) .

حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمائي : " نن صبا جدید تعلـیم پـه باره کی په علماؤ باندی اعتراض کولی شی چې دوی خلک له جدید تعلیم نـه منـع

كوي او ديته ناجائز وائي ، حالانكه زه دا وايم چې كه چيرتـه د جديـد تعليـم دغـه اثرات نه واى كوم چې پدى وخت كى عام طور سره كيدلى كتلى شي نو علماؤ بـه چيرى هم لدينه منع نه واى كړى ليكن اوس تاسو وګورئ چې څه حالات روان دي ، څومره چې جديد تعليم يافته دي پرته د شاذ او نادر نه د دوى ټولو نه لمانځه سره كوم غرض لري نه روژې او نه د شريعت بل يو حكم سره بلكې په هره خبـره كـى د شريعت په خلاف چليږي او بيا وائي چې پدى سره د اسـلام ترقـي كيـږي " (فضـل العلم والعمل ص ۸) .

سرسيد مرحوم ليكي : " همدارنګه د جينكو سكولونه هم جـوړ شـويدي چـې د دى نامناسب طريقو نه دا يقين وركوي چې د ښځو بدكردار او بى پردى كولو لپاره دغـه طريقه ايجاد كړى شويده " (اسباب بغاوت هند ، بحواله فتـاوى رحيميـه پـه همـدى باب كى ۱۲۴ صفحه د تعليم نسوان په عنوان كى وګورئ) .

د بنګال صوبى وزير اعظم مسټر فضل حق ۱۹۳۸ء كال په پټنه كى د آل انډيـا مسـلم ايجوكيشنل اجلاس د صدارت په تقرير كى وفرمايل : " كوم قسم تعليم چې په (كالج او سكول) كى دوى ته وركړى شوى دى اصل كى دوى نه د دنيا شـويدي او نـه د دين ، كه چيرته د مسلمان بچې اوچته تعليمي ډګري حاصل هم كـړي لـيكن پـدى كوشش كى چې دوى د مذهب نه لاسونه ووينځي نو د دوى ډګريانې حاصـلول بـه قوم ته څه فايده وركړي ؟ فايده به هلته وى چې مسلمان پـاتى كيـدو سـره ترقـي وكړي .

اكبر آله آبادي څه ښه ويلي دي : ع

فلسفى كهتا هے كيا پروا ګر مـــذهب ګيـــا
مين يه كهتا هون بهائى يه ګيا تو سب ګيـا

(" مدينه " اخبار (سه روزه) بجنور ۹ اكتوبر ۱۹۳۸ء ، رحيميه ۱۲۵/۳)

د دهلي مسلم ليګي اخبار " منشور " مدير مسټر حسن رياض ۹ جون ۱۹۴۰ء په اداريه كى ليكي : " د تيرو ديرشو كالو نـه مسلمان ماشـومان عمومـا يـواځى پـه انګريـزي سكولونو كى تعليم كوي او د دى نتيجه دا شـوه چـې د اوسـنى دور څـومره تعلـيم يافته چې دي د اسلامي كلچر ، اخلاق او اسلامي تصور نه بالكل محروم دي .

د ډاکټر هنټر قول دی : " ځمونږ په انګریزي سکول کی تعلیم حاصلونکی ځوان هندو وي او یا مسلمان داسی ندی چی هغه د خپلو بزرګانو مذهبي عقائد غلط ګڼل نه وي زده کړي " (مسلمان هند ص ۱۴۲ بحواله فتاوی رحیمیه ۱۲۵/۳) .
علامه اقبال مرحوم " فردوس کی خبری اتری " تر عنوان لاندی یو نظم کی خپل خیالات داسی ځرګندوي :

هـاتف نے کهـا مجھ سے که فـردوس مین اک روز
حـالي سے مخـاطب هوئے یـون سعدی شیراز
کـچھ کیفیت مسـلم هندی تـو بیـان کر
درمـانده منـزل هے کـه مصروف تگ وتـاز
مذهب کی حرارت بهی هے کچھ اس کـی رگون مین
تهی جـس کـی فـلک سـوز کبهی گرمئ آواز
باتـون سے هـوا شیخ کی حـالی متـاثر
رو رو کـے لگـا کهنے کـه اے صـاحب اعجـاز
جب پیـر و فلـک نے ورق ایـام کـا الٹا
آئی یـه صـدا پـاؤ گے تعـلیم سے اعـزاز
آیـا هے مگر اس سے عقیـده مین تـزلـزل
دنیـا تـو ملي طـائر دیـن کر گیا پرواز
دین هو تو مقـاصد مین بهی پیدا هـو بـلندی
فطـرت هے جـوانون کی زمین گیر و زمین تـاز
بنیـاد لـرز جـائے جـو دیوار چمن کی
ظـاهر هے کـه انجـام گلستان کـا هے آغـاز
پانی نه مـلا زمزم ملت سے جـو اس کـو
پیـدا هین نئی پـود مین الحـاد کے انداز
یه ذکـر حضـور شـه یثـرب مین نـه کرنا
سمجهیـن نه کهین هنـد کے مسـلم مجهے غماز
خـرما نتـوان یـافت ازآن خـار که کشتیم
دیبـا نتوان بـافت از آن پشـم کـه رشتیم

دا نظم ترجمی سره وړاندی (۵۱) سوال کی تیر شویدی .

دا دي د عصري (دنیوي انګریزي) اعلي تعلیم نتـائج کـوم چـی د قـوم مشـرانو او قائدینو هم اعتراف کړیدی ، لهذا د دی غلطو نتائجو نه د حفاظت لپاره مونږ ته څـه تدبیر کول پکار دی ؛ او پدی باندی ښه سوچ کول پکار دي چی څمونږ موجوده او آینده تر قیامته پوری د راتلونکي نسل د ایمان او د اعمالو حفاظـت وشـي د دنیـا د هری برخی او هری علاقی مسلمانانو ته د دی فکر پکار دی او زما دغه دعـوت فکـر یواځی تاسو ته نه بلکی د دنیا هر مسلمان ته دی او هغه تدبیر دا دی چـی څمونـږ بچي دیني او مذهبي بنیـادي او ضـروري تعلـیم مکمـل طـور سـره حاصـل کـړي ، اسلامي تعلیـمات و احکامـات او د ایمـان تقاضـې وپیژنـي او پـه اسـلامي تمـدن او اسلامي اخلاقو او عادتونو باندی محکم ودریږي ، د علماء کرامو سره رابطه او دیني او تبلیغي کار سره مکمل وابسته شي او لدی سره سره عصري تعلیم حاصل کـړي نـو انشاء الله د دی زهریله اثراتو څخه به حفاظت نصیب شي .

اکبر آله آبادي ډیره عجیبه خبره کړیده : ع

تم شوق سے کالج مین پهلو ، پارک مین پهولو
جائز ہے غباروں مین اړو ، چـرخ پہ جهـــولو
بس اک سخن بنـــده نـــاچیز کـار ہے یاد
الله کـــو اور اپنی حقیقت کـــو نہ بهـــولو

یعنی تاسو په شوق سره په کالج او پارکونو کی اوسیږئ او که څرخونـو کـی زانګـئ خیر دی بس دومره خبره یاده لرئ چی الله تعالی او خپل حقیقت هیر نکړئ .

که حقیقت باندی غور وکړی شي نو په حقیقت کی علم هغه دی کوم چـی د انسـان په زړه کی د الله رب العزت معرفت او د ده خوف او خشیت پیدا کړي ، انسان خپـل حقیقت وپیژني او په ده کـی عـاجزي او تواضـع او د خپلـو خواهشـاتو او د حـرص ختمولو جذبه پیدا شي ، قبر او د آخرت زندګي راياد کړي ، یـو فارسـي شـاعر دغـه حقیقت داسی بیان کړی : ع

علم چه بود آنکه راه بنمـــا یـدت.
زنګ ګمـراهي زدل بـــزد ایـدت
حرص و هوس از دلت بیرون کنـد
خوف و خشیت در دلت افزون کند

یعنی حقیقت علم هغه دی چی سمه لاره درته وښائي او د گمراهـی زنـګ د زړه نـه وباسي او همدارنګه حرص و هوس هم ختم کړي او په عوض کـی خـوف و خشیت پکی زیات کړي او دیته علم وائي .
یو بل شعر کی وائي : ع

علـــم این فقه است و حـــــدیث
هرکه خواند غیر ازین گردد خبیث

یعنی دیني علم ، فقه ، تفسیر او حدیث دی ، څوک چی دا پریدي او نور علـوم یعنـی فقط دنیوي علومو باندی اکتفا کوي نو داسی سړی عارف نه بلکی خبیث دی .
شیخ سعدي رحمه الله فرمائي : ع

علمي که راه بحق نه نماید جهالت است

یعنی کـوم علـم چـی حقـه لاره (صـراط مسـتقیم) درتـه ونـه ښـائي هغـه علـم نـه بلکی جهالت دی .
خپل اولاد ته اسلامي او دیني تعلیم ورکول نهایت ضروري دي او اسلامي فریضه ده ، د قیامت په ورځ به مونږ نه پدی باره کی تپوس کیږي ، په حدیث کی راځـي چـی د قیامت په ورځ به د پلار نه دا تپوس کیږي چی : "ماذا علمته ، ومـــاذا ادبتـــه" یعنی تا دغه اولاد ته د څه تعلیم ورکړی ؤ او د څه شي ادب دی ورته ښودلی ؤ ؟
د بچي د ښه کیدو او خرابیدو پوره ذمه واري په مور پلار باندی ده بچی دنیا ته پـه ډیر ښه صلاحیت سره راځي مګر دمور پـلار پـه غلـط تربیـت سـره د هغـه صـلاحیت خرابوي د محسن انسانیت حضور اقدس رضی الله عنه ارشاد دی : "مامن مولود الا یولد علی الفطرة فابواه یهودانه او ینصرانه او یمجسانه" یعنی هر بچی په فطرت سلیمه باندی پیدا کیږي (یعنی په هغه کی د دیـن اسـلام د قبلولـو پـوره صـلاحیت موجود وي ، مګر د ده مور پلار (د غلط تعلیم او تربیت سره) لـه ده نـه یهـودي یـا نصراني او یا مجوسي جوړوي (مشکواة شریف ص ۲۱) .
قرآن مجید کی د الله تعالی ارشاد دی : " یایها الذین امنوا قوا انفسکم واهلیکم نـــاراً" یعنـی ای مؤمنـانو تاسـو خپـل ځـان او خپـل کـور والا د دوزخ لـه اور نـه وساتئ (سورت تحریم) .

په معارف القرآن کی لیکي : "قوا انفسکم واهلیکم ..... الاية" پدی ایـت کریمـه کی عامو مسلمانانو ته حکم دی چی د جهنم له اور نـه خپـل ځـان او خپـل اهـل و عیال هم بچ کړي .... د اهلیکم په لفظ کی اهـل و عیـال ټـول داخـل دي چـی پدیکی ښځه ، اولاد ، غلام او وینځې ټول شامل دي او لری نده چـی دائمـي نـوکر چاکر هم په غلامو او وینځو کی شامل شي ، په یو روایت کی راځي چـی کلـه دغـه ایت کریمه نازله شوه نو عمر فاروق رضی الله عنه عرض وکړ یارسول الله (صـلی الله علیه وسلم) خپل ځان د جهنم نه د بچ کولو په مطلب خو پوهیږو (چی له ګنـاهونو نه بچ شو او د احکام الهیه ؤ پابندي وکړو) مګر خپل اهل و عیال د جهنم نه څنګـه بچ کړو ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د دی طریقه دا ده چـی د کومـو کارونو نه الله تعالی منع کړي يئ له هغو نه دوی ټول منع کـړئ او د کومـو کـارونو چی د کولو حکم یې کړی نو تاسو خپل اهل و عیـال تـه هـم د دی د کولـو حکـم وکړئ ، دغه کار دوی د جهنم له اور نه بچ کولی شي (روح المعاني) .
فقهاء کرامو فرمایلي دي چی لدی ایت کریمه نه ثابت شـو چـی هـر سـړي بانـدی فرض دي چی خپلی ښځی او اولادو ته شرعي فـرائض او د حـلال او حرامـو تعلـیم ورکړي او پدی باندی عمل کولو کوشش وکړي .... او بعضـی بزرګـانو فرمـایلي چی د قیامت په ورځ به د ټولو نه زیات عذاب د هغه چا وي چی د هغه اهل و عیال له دین نه غافل وي (روح) (معارف القرآن ج ۸ ص ۵۰۲ ، ۵۰۳ مفتي شفیع صاحب)

لهذا هر مسلمان باندی لازم او ضروري دي چی پخپله هم ضروري دیني علم حاصل کړي او پری عمل وکړي او په زړه کی د دیـن د شـریعت عظمـت او د الله تعـالی د محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نوراني سنتو احترام پیـدا کـړي او پـه سـختی سره وربانډی عمل وکړي او د ټولو نه زیات د قرآن مجید سـره تعلـق پیـدا کـړي او خپل اولاد ته هم دیني تعلیم د قرآن و سنت سره ښایسته کړي او پری د عمـل کولـو هدایت وکړي ، پخوا زمانه کی چی مسلمانان د ترقي او د کمال اوچت مقام حاصل کړی ؤ د هغه بنیادي سبب د قرآن او سـنت او اسـلامي تعلیمـاتو سـره بـی انـدازی محبت او تعلق او کلک عمل کول ؤ ، قرآن چی مسلمانانو ته کوم تعلیمات کړي ؤ نو مسلمانانو پری عمل کولو په کومو لارو چی د تللو هدایت کړی ؤ په هغو لارو باندی تللو ته ناآرامـه وو پـه هـره معاملـه کـی بـه یی خپـل خواهشـات وروسـته او شـرعي

احکامات به یې وړاندې کول ، نن هم په مونږ کې د داسې اوچتو جذبو پیدا کولو ضرورت دی ، نن صبا خو مونږ تش په نوم مسلمانان یو د اسلامي تعلیماتو او تمدن او اسلامي وضع قطع او اسلامي اخلاق او تهذیب نه په میلونو میلونو لرې یو څمونږه ګیله دا ده چې دنیا کې مسلمان پریشانه دی ، د دوی هیڅ کوم اثر نشته ، د دنیا قومونو دوی نه نرمه نوړی جوړه کړیده ، که چیرته په مونږ کې د ایمان حقیقت او ایماني قوت او غیرت وي نو انشاء الله دغه حالت به ختم شي ، په کامل او حقیقي ایمان باندې د الله تعالی وعده ده چې فرمائي :

"ولاتهنوا ولاتحزنوا وانتم الاعلون ان کنتم مؤمنین" یعنی تاسو مه سستیږئ او مه غمژن کیږئ او تاسو به غالب یئ که چیرته تاسو پوره مؤمنان یئ .

علامه اقبال مرحوم په جواب شکوه کې د دې نقشه داسې جوړه کړیده :

شور هے هوگئے دنیا سے مسلمــــان نــــابــود
هم یه کهتے هین که تهے بهی کهین مسلم موجود
وضع مین تم هو نصــــاری تو تمـدن مین هنود
یه مسلمان هین جنهین دیکهـ کر شـرمائین یهود

یعنی شور دې چې دنیا نه مسلمان نابود شو ، مونږ وایو چې مسلمان لاموجود چیرته وُ په وضع کې تاسو عیسایان یئ او په تمدن کې هندوان ، دا خو مسلمان دي چې د دوی په لیدو سره یهود شرموي .

پدې وجه د غفلت له خوب نه رابیداریدل ډیر ضروري دي او خپل خان او اولاد رشتینی او پاخه مسلمان جوړول پکار او لازم دي ، یواځې خپل پلار اونیکونو باندې فخر کول کافي ندي .

علامه اقبال مرحوم ښه ویلي دي : ع

تهے تو آبــــاء وه تمهـــارے هی مگر تم کیا هو
هاتهـ په هـــاته دهــرے منتـــظر فـــــردا هو
یون تو سید بهی هو ، مرزا بهی هو افغان بهی هو
تم سبهی کچهـ هو بتـــاؤ تو مسلمــان بهی هو
وه زمـــــانه مین معـــزز تهے مسلمــــان هـوکر
اور تم خـــــوار هــــوئے تـــارک قرآن هو کر

یعنی ستاسو پلاران خو هر څه وو خو تاسو څه یئ لاس تر زنی د صبا په انتظار ناست یئ ، هسې خو سیدان هم یئ ، مرزا هم او افغان هم ، تاسو خو هر څه یئ خو دا راته ووایئ چې مسلمان هم یئ او که نه ؟ هغوی خو په زمانه کې معزز و د اسلام په وجه او تاسو خوار و ذلیل شوئ د قرآن پرېښودو په وجه
پدی وجه د مسلمانانو ته ډېر واضحه الفاظو کې عرض کوم چې څمونږ د کامیابی یواځنی لاره صرف او صرف همدا ده چې قرآن پاک او اسلامي تعلیماتو سره ژوره مینه پیدا کړو او خپل اولاد او د مسلمانانو بچو ته هم دیني علوم وروښایو ، لدي نعمت نه د خپلو بچو محرومول ډېر عظیم تاوان دی ، یو عربی شاعر وائي : ع

لیس الیتیم الذی قد مات والده

ان الیتیم یتیم العلم والادب

یعنی یتیم یواځې هغه څوک نه دی چې پلار یې وفات شوی وي بلکې هغه بچې هم یتیم دی چې د پلار باوجود هم د دیني علم او اسلامي ادب نه محروم وي .

خلاصه د کلام :

په مور او پلار باندی د ټولو نه غټ حق دا دی چې دوی ته په ښه طریقه اسلامي تعلیم ورکړي ، یواځې په نوم یو څه ابتدائي دیني تعلیم ورکول کافي ندي ، بلکې د عصري علومو سره دیني او اسلامي تعلیمات او تهذیب او اخلاق هم بایـد ورسره وښائي دا په مور پلار باندی غټ حق دی چې د دی پوره کول او ورته پوره توجه کول څمونږ دیني او ملي فریضه ده لدینه بغیر څمونږه ذمه واري نه پوره کیږي ، همدارنګه د قوم سربراه او مشرانو باندی لازم دي چې په ځای خپله علاقه او کلي او محله کې هم اسلامي او قرآني مدرسې جوړی کړي او د مسلمانانو جونوکیو او هلکانو لپاره د دیني تعلیم د بهتر نه بهتر انتظام وکړي ، او لدی سره سره د بچو مور پلار او نیاګانو ته هم عرض دی چې د خپلو بچو د دیني تعلیم پوره نګراني وکړي ، ماشومان پابندی سره مدرسی ته ولیږي او د سبق یادولو او نه یادولو هم خارنه وکړي ، د سکول تعلیم د پاره مونږ څومره فکر مند کیږو همیشه دغه فکر راسره وي چې هلک سکول ته تلی دی او که نه ؟ او ده د سکول سبق یاد کړی او که نه ؟ د سکول ټګ راټګ انتظام بلکې د سکول سره د ټیوشن هم انتظام کوو ، کاش

دومره فکر او توجه قرآن مجید او دیني تعلیم طرف ته مو هم کول چې خمونږ اهل او بنیادي څیز دی .

په یاد ولرئ ! مونږ خپلو بچو ته د اسلامي تعلیم او اسلامي ادب او تهذیب بهتر بل هیڅ نشو ورکولی ، پدی سره به د دوی انشاء الله دنیا او آخرت دواړه جوړیږي ، او ستاسو د مرګ نه وروسته داسې بچي به تاسو لپاره ایصال ثواب او د مغفرت دعاګانې کوي . په حدیث کې راځي : "مانحل والد ولده من نحل افضل من ادب حسن" هیڅ یو مور پلار خپل اولاد ته د ښه ادب نه غوره او بهتر څه عطیه او تحفه نده ورکړې . یو بل حدیث کې راځي : "لان یؤدب الرجل ولده خیر له من ان یتصدق بصاع" د سړي لپاره خپل اولاد ته ادب ورکول د یو صاع غله خیرات ورکولو نه بهتر دي ، په دې باره کې مزید تفصیل د فتاوی رحیمیه اردو ج ۳ ص ۱۳۶ ، ۱۵۲ کې وګورئ

الله تعالی دې مونږ ټولو ته پدې ټولو خبرو باندې د عمل کولو توفیق نصیب کړي .او په ایمان باندې استقامت او په صراط مستقیم باندې جاري او ساري لري او خپله رضا راته نصیب کړي او زمونږه په زړونو کې دې د دیني علومو عظمت او توجه کول او په هر ځای کې اسلامي مکاتب او مدارس قائم او دائم وساتي ، او د ایمان حفاظت او پخپل مقرر وخت باندې دې خاتمه بالخیر را په برخه کړي ، آمین والله اعلم وعلم اتم .

د دین د علماؤ مسئولیت (ذمه واري) :

(۶۵ سوال) د دین عالمان څه مسئولیت (ذمه واري) لري ؟ په مختصره توګه راته بیان کړئ . مهرباني .

ځواب : الحمد لله رب العالمین والصلواة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله وصحبه اجمعین وبعد : اسلامي مدرسې د اسلام کلاګانې دي او یواځې د اسلامي تعلیماتو په ذریعه عقائد صحیح او درست کیدی شي او یواځې د علم په رڼا کې انسان صحیح اسلامي زندګي تیرولی شي او د ده تمام عبادات ، معاملات ، راکړه ورکړه او نور ټول شیان د علم په رڼا کې صحیح او د سنت مطابق ادا کیدی شي ، د تعلیم او تعلم فضائل او اهمیت یې اظهر من الشمس دی ،لهذا په اسلامي مدرسو کې

چی خومره طلباء اوسیږي او کوم استاذان چی د دوی په تعلیم او تربیت کی شپه او ورځ مشغول دي ، او مهتممین وغیره حضرات ټول نیک، بخته او قابـل د صـد مبـارک باد دي د کائناتو هر یو مخلوق ورته دعاګانې کوي ، فرشتی د علم طالبانو ته خپلـی وزرې غوړوي ، او بغیر د شک نه طلباؤ ته د رسول الله صلی الله علیه وسـلم میلمانـه ویلو مستحق . او استاذان یی نهایت قابـل د احتـرام دي کومـو چـی د علـم سلسـله جاري ساتلی ده ، غرض دا چی د اسلامي مدرسو اهمیت ډیر زیـات دی د دغـو لـه اهمیت نه په هیڅ حال کی انکار نشي کیدی .

لیکن دا خبره د رڼا ورځ په شان روښانه ده چی دغو مدرسو او دار العلومو ته د امت ډیر کم کسان رسیږي اکثره د مدرسو نه باهر دي لهذا د امت ډیره لویه طبقه چـی د مدرسو نه په میلونو لری دي هغو ته د دین رسول ، د احکامو او مسئلو نه خبـرول او د اصلاح فکر او د دی انتظام هم ضروري دی ، ددی ټولو کارونو ذمه واري پـه چـا ده ؟ او همدارنګه د حضور اقدس صلی الله علیه وسلم امت تـه د دیـن او د توحیـد دعوت به څنګه ورکوي ؟ بی تکلفه او صحیح ځواب دا دی چی دغه ذمه واري هـم د امت په علماؤ باندی ده "العلماء ورثة الانبیاء" لهذا څنګـه چـی علمـاء کـرام د مدرسو د طالبانو دیني او علمي اصلاح کوي او د علم په ښایست سره ښایسـته کـوي دغه شان د امت د علماؤ دا هم ذمه واري ده چی عوامو ته د دین رسولو کومه لاره او طریقه چی ده هغه لاره او طریقـه اختیـار کـړي او عـوام لـه دیـن او احکـامو نـه خبردار کړي او د دوی په دل و دماغ کی د دین او شریعت محبت پیدا کـړي کـه د وعظ او ارشاد په ذریعه وي او که د دعوت و تبلیغ په ذریعه ، پـدی اهـم او ضـروري کـــــار کـــــی هـــــم علمـــــاؤ تـــــه وخـــــت ورکـــــول پکار دي .

د اسلامي مدرسو په مهتممینو حضراتو باندی هم لازم دي چی پـه خوشـحالی سـره علماء کرامو ته پدی کار کی حصه اخستو لپاره فرصت او موقع ور برابـر کـړي او پـه پوره خوښئ سره دوی ته د وتلو اجازه ورکړي تر څو علماء کرامو ته پدی کـارکی د عملي برخی اخستو او د سفر کولو هیڅ قسـم رکـاوټ نـه وي او د دغـو ورځـو ورتـه تنخواګانې هم ورکړي دا هم د دین ډیر اهم کار دی او دعلماؤ ذمه واري هم دی ، علماء کرام چی دغه ذمه واري پوره کړي نو د دین شـعبه بـه صـحیح طریقـی سـره جاري او ساري وي .

حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکي :
" علماؤ نن صبا دا کار بالکل پرېښي دی کوم چې د انبیاء کرامو علیهم السلام کار وُ خکه خو نن صبا جاهل واعظان ډېر تر سترګو کیږي او عالِم واعظان ډېر کم وي نو تاسو چې د اصل مقصود نه علاوه کوم څیز مقصود جوړ کړی وُ هغه مو هم پوره نه کړِ د هغو مو هم یوه شعبه ونیوله یعنی تعلیم او درس او دویمه شعبه یعنی د عوامو پوهول مو پرېښود .
محترمو ! که علماء کرام عوام پوه نه کړي نو ایا جاهلان به یې پوهوي ؟ که چیرته جاهلان دغه کار وکړي نو هغه څه به کیږي کوم چې حدیث کې راځي : "اتخذو رؤسا جهالا فضلوا واضلوا" یعنی دغه جاهلان مقتدا او پیشوایان وګرځي او خلک ورنه فتواګانې وغواړي نو دا جاهلان به پخپله هم ګمراه شي او نور خلک به هم ګمراه کړي . پدې وجه علماء کرامو ته د درس او تعلیم پشان د وعظ او تبلیغ کار هم پکار دی . او د دی انتظار مه کوئ چې زمونږ وعظ به اثر کوي او که نه ؟ او څوک به یې آوري او که نه ؟ او آوریدونکي ډېر کسان دي او که یو ؟ (وعظ العلم والخشیه ص ۳۳ بحواله فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ۳۸۰ او په جدید ترتیب کې په همدی باب کې د " غیر عالِم سړي وعظ کول " تر عنوان لاندی ج ۳ ص ۱۵٦ کې وګورئ) .
امام غزالي رحمه الله لیکي : پدی پوه شئ چې پدی دور کې د کور هر لوی او وړوکی د تعلیم . تبلیغ ، د رشد و هدایت او عمل صالح لپاره د خلکو په اماده کولو کې قاصر دی چې پدی وجه ګنهکار دی په ښار کې زیاتره خلک د لمانځه د شرائطو او احکامو نه ناواقف دي نو د کلي او باندو خلکو د دین او د لمانځه به څه حالت وي ؟
لهذا د ښار په هره محله او جومات کې یو عالِم دین ضروري دی او همدارنګه په هر یو کلي کې هم یو عالِم دین ضروري دي ، کوم عالِم ته چې د فرض عین نه فارغیدو سره د فرض کفائي فرض پیدا کیږي نو په هغه لازم دي چې نزدی خواوشاء آبادي او علاقی ته لاړ شي او خلکو ته دین وښائي او له شرعي احکامو نه خبردار کړي خیل خوراک دی حان سره اخلي د چا روټی دی نه خوري چې اشتباهي دي ، له نردی علاقی نه چې څوک لاړ شي نو د نورو غاړه خلاصیږي او که نه په عالِم او غیر

عالِم تولو باندی عذاب راځي ، په عالِم خو ځکه چی باهر ته وتلو سره جاهلانو ته دین ندی ښودلی او په غیر عالِم باندی پدی وجه چی د دین په زده کولو کی غفلت او سستي کړیدی ، کوم عوام چی د لمانځه شرائطو نه واقف دي پدوی لازم دي چی نورو ته وښائي او که نه دوی هم ګنهګار دي ځکه چی دوی خو پوهیدل او ناپوهه عوامو ته یی د پوهولو ښه فرصت هم ورسره ؤ ، او دا کار علماء کرام په ښه طریقی سره کولی شي نور خلک که زراعت ، تجارت ، ملازمت وغیره پریدي او تبلیغ ته لاړ شي نو کاروبار یی بندیږي او ګډوډي پیدا کیږي ، د اقتصادي حالت سمول هم ضروري دي ، د علماؤ شان او د دوی کار همدا دی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ورته کوم شی رسیدلی وي هغه نورو ته ورسوي ځکه علماء د انبیاؤ وارثان دي (احیاء العلوم ج ۲ ص ٦٦٣ ، بحواله فتاوی رحیمیه ص ۲۱۹ . په جدید ترتیب کی د دی باب " د مدرسی تعلیم اهم دی او که تبلیغ " عنوان کی ج ۳ ص ۱۴۴ باندی وګورئ) .

شیخ الاسلام حضرت مولانا حسین احمد مدني رحمه الله لیکي :

" ماته معلومه شویده چی د شوری بعضی غړي د استاذانو د تنخواه جاري ساتلو په باره کی څه اعتراضات کوي ، د مسلمانانو تعلیمي اداری یواځی د تعلیمي خدمت لپاره ندي جوړی شوي بلکی د مسلمانانو مذهبي او دیني نور خدمتونه هم د دوی په ذمه دي . همدا وجه ده چی د روم او د روس د جګړی په زمانه کی حضرت نانوتوي رحمه الله دوری وکړی او ډیر زیات مقداری کی چنده جمع کړه او ترکیه ته یی ولیږله ، پدی زمانه کی دار العلوم دیوبند هم رخصت (چهوټي) کړی شوی ؤ او تنخواه ګانې ورکړی شوی وی .

د شدي او شنګهټن وغیره د نحوستونو په زمانه کی د ملکانو راجپوتانو وغیره په علاقه کی د استاذانو او علماؤ وفدونه ولیږل شول او تنخواه ګانې یی جاري وی ، پداسی وخت کی کارکونکي همدا استاذان او علماء وي کیدی شي ، که د دوی د اهل و عیال خبر ګیر یې ونکړي نو اسلام او مسلمانانو لپاره به ډیر زیات مشکلات او مصیبتونه پیدا شي ، په مذهبي او د مناظرو په جلسو وغیره کی د علماؤ او د استاذانو شریکیدل او د تدریسي کارونو معطل کول یواځی اوس نه بلکی د اسلافو د پخوا زمانی نه راروان دي ، نو څوک چی پدیکی حصه اخلي ګویا چی دوی د اسلامي

اداری نه علاوه په بل کوم مقصد کی حصه نه اخلـي (مکتوبـات شیخ الاسـلام ص ۳۵۲ ، ۳۵٦ بحواله فتاوی رحیمیه ج۳ ص ۱۴۵ ، ۱۴٦) .
د دی بزرگانو له لیکنو نه خبره واضحه شوه پدی وجه کـه چیرتـه کـوم اهـم دینـي اجلاس وي د کوم تعلق چی اسلامي تعلیم او یا د عوامو له اصلاح سـره وي او یـا د شریعت د تحفظ سره د داسی ضرورت په وخت کی د اسـلامي مدرسـو مهـتممین او نورو ذمه وارانو ته پدی باندی عمل کـول پکـار دي ، ذمـه داران او قابـل اعتمـاد علماؤ ته پدی کی د شرکت کولو اجازت ورکول پکار دي ، که چیرته تعلـیم تـه خـه تکلیف جوړیږي نو استاذان باید زیات کړی شي یا یو دوه استاذان زیاتي مقرر کـړی شي چی کله کوم استاذ ته اهم ضروري کار پیدا شي نـو د هغـه د غـیر حاضـري پـه وخت کی دی دغه زیاتي استاذان د درس سلسله جاري وساتي
نن صبا د تبلیغي جماعت کار هم ماشاء الله ډیـر زیـات خـور شـویدی او پـه عـالمي سطحه باندی دغه کار کیږي ، او پدی سره عوامو کی دیني بیداري ، د دیـن شـوق او دین لپاره د قربانی جذبه او د آخرت فکر پیدا کیږي ، د بي شـمیره خلکـو ژونـد بدل شوی ، عوامو ته د دین رسولو دغه ډیر لوی میدان دی ، علماؤ ته پدی کار کی زیات حصه اخستل پکار دي ، دا کار په اصل کی د علماؤ دی نو ځکه پدیکی علمـاؤ ته برخه اخستل ضروري دي د علماؤ په حصه اخستو سره به پدیکی نور هم قوت او مضبوطوالی پیدا کیږي او کار به هم په صحیح طریقـه او د اصـولو مطـابق چلیـږي انشاء الله ، دومره لوی جماعت یواځی علماء سنبالولی شـي ، او کـه نـه کـه چیرتـه پدیکی څه خرابي پیدا شو نو ذمه واران به یی علماء وي ، لهذا مهتمم او د مدرسـو ذمه وارانو ته پکار دي چی استاذانو ته پدیکی هم عملي طور سره د حصـی اخسـتو موقع برابر کړي .
حضرت مولانا محمد الیاس رحمه الله لیکي : د انبیاء کرامو علـیهم السـلام د امتونـو عام حالت دا پاتی شوی چی هر څومره به د نبوت له زمانی څخه د وی لری کیدل نو دیني کارونه (عبادات وغیره) به د خپل روح او حقیقت نه خالي کیدل او هغوی سره یواځی د (رسم) او عادت شکل به یی اختیارولو او د هغه اداء کول به صرف د یو رسم په طور سره ؤ ، د دغه گمراهی او بی لاری توب د اصلاح لپاره به بل نبي او رسول مبعوث شو نو دغه رسم به یی ختم کړ او خلک به یی د دین د اصل حقیقـت او روح سره آشنا کړل .

د ټولو په آخر کی چی کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مبعوث شو نو په هغه وخت کی چی دکومو قومونو تعلق د کوم آسماني دین سره وُ د هغوی حالت هم همدا وُ چی دهغوی د پیغمبرانو علیهم السلام لخوا د راوړي شریعت کومه حصه هغوی سره باقی پاتی وه د هغو حیثیت هم د څو بی روحه رسمونو یوه مجموعه وه چی همغه رسمونه به دوی اصلي شریعت ګڼلو . رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه رسمونه ختم کړل او اصل دیني حقائق او احکام یی خلکو ته وښودل .
امت محمدي هم اوس پدی بیماری کی اخته شوی ، د دوی عباداتو ته هم دغه رسم توب رسیدلی دی تر دی چی د دین تعلیم هم کوم چی د دغه قسم خرابیو د اصلاح ذریعه کیدل پکار وُ دا هم په ډیرو ځایو کی یو رسم پشان ګرځیدلی دی ، لیکن څرنګه چی اوس د نبوت سلسله ختمه شویده او د داسی کارونو ذمه واري د امت په علماوُ باندی اچول شوی کوم چی د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم نائبان دي نو د همدوی دا فرض دی چی دغه ګمراهي او بدحالي طرف ته خاص طور سره متوجه شي او د دی ذریعه دنیت صحیح کول دي څکه چی په اعمالو کی هغه وخت رسم توب پیدا کیږي چی هغو کی اخلاص او بندګي پاتی شي او د نیت په صحیح کیدو سره اعمال هم په درست کیدو سره الله طرف ته راګرځي او د رسم توب په ځای باندی هغه کی حقیقت پیدا کیږي او هر کار په اخلاص او د خدا پرستی په جذبه سره کیږي ، غرض دا چی صحیح نیت طرف ته د خلکو متوجه کول او د دوی په اعمالو کی د اخلاص او حقیقت پیدا کولو کوشش کول د امت د علماوُ اوس وخت کی یوه خاصه فریضه ده (ملفوظات حضرت مولانا محمد الیاس رحمه الله ص ۱۳ ، ۱۴ ملفوظ نمبر ۱) (مرتب مولانا محمد منظور نعماني صاحب) .
او حضرت مولانا الیاس صاحب دا هم فرمائي : " یوه ورځ د سحر لمانځه نه وروسته کله چی پدی تحریک کی د عملي حصه اخستونکو لویه مجمع نظام الدین جومات جمع وه او دحضرت مولانا طبیعت دومره کمزوری وُ چی په بستره باندی پریوتو سره هم یو خو خبری په آواز سره نشوای کولی نو په اهتمام سره یی یو خاص خادم راوغوښت او د هغه په ذریعه یی دی ټول جماعت ته وفرمایل : ستاسو خلکو دغه ټول حرکت او کوشش به بیکاره وي که چیرته دی سره د علم دین او د ذکر الله پوره اهتمام نه وي کړی ، ګویا چی علم او ذکر د ده وزری او بازوګان دي دکوم نه بغیر چی فضاء کی پرواز او الوتل نه شي کیدی ، بلکی سخته خطره د دی ده که

چیرته پدی دوه شیانو کی غفلت وکړی شي نو خدانخواسته دغه جدوجهد او کوشش به د فتنی او ګمراهی لپاره یوه نوی دروازه وګرځي ، که چیرته د دین علم نه وي نو اسلام اوایمان تش رسم او نوم پاتی کیږي ، او که د الله تعالی د ذکر نه بغیر علم موجود هم شي نو دا سراسر ظلمت او جهالت دی نو پدی بناء که چیرته د علم دین نه بغیر د ذکر الله کثرت هم وي نو پدیکی هم لویه خطره ده ، غرض دا چی په علم کی نور په ذکر سره راځي او علم دین نه بغیر د ذکر حقیقي برکات او ثمرات نشي حاصلیدی بلکی اکثر وخت داسی جاهل صوفیان شیطان خپله آله کار ګرځوي ، لهذا په دی باره کی د علم او د ذکر اهمیت باید هیر نکړی شي او د دی باید همیشه خاص اهتمام وکړی شي او که نه ستاسو دا تبلیغي تحریک بی فائده پاتی شي او په سخت تاوان کی به پریوځي .

(د دی هدایت نه د حضرت مولانا مطلب دا دی چی پدی لاره کی د تبلیغ او د دعوت کار کونکي محنت ، مشقت ، سفر و هجرت او ایثار و قرباني اصل کار ونه ګڼي لکه څنګه چی نن صبا عام شوي ، بلکی د دین تعلیم او د ذکر الله عادت جوړول او دی سره تعلق ساتل خپل اهمه فریضه وګڼي ، به الفاظ دیګر د دوی نه یواځی سپاهي جوړول ندي بلکی د علم دین طالب د الله تعالی یادونکی بنده جوړول دي) .

(ملفوظات حضرت مولانا محمد الیاس رحمه الله ص ۳۹ ، ۴۰ ملفوظ نمبر ۳۵ مرتب حضرت مولانا محمد منظور نعماني صاحب ، اداره اشاعت دینیات نوی دهلي) .

الله تعالی دی د دین اسلام او د امت هر قسم حفاظت وکړي ، مونږ ته دی د دین په هره شعبه کی اخلاص او للهیت سره د ژوند تیرولو توفیق نصیب کړي ، او د دین فکر او د امت درد راکړی ، آمین بحرمة النبی صلی الامی صلی الله علیه وسلم ، سید عبد الرحیم لاجپوري غفر له راندیر ۱۴ ذی قعده الحرام ۱۴۱۶ھ (۳/۴/۹۶) .

د بچو د تعلیم او تربیت اهمیت او د دی طریقه :

(۶۶ سوال) د اولاد د تعلیم او تربیت څه اهمیت لري ؟ او په کومه طریقه د دوی تربیت وکړی شي چی له ماشومتوب نه د دوی په دل و دماغ کی اسلامي تعلیمات ځای ونیسي ، د قرآن او حدیث په رڼا کی پدی مسئله باندی لیکل وکړئ ، جزاکم الله خیراً

خواب : حامداً ومصلياً ومسلماً وهو الموفق : يو عربي شاعر ډيره ښه خبره کړيده :

ليس اليتيـــم الـــذی قد مات والده

ان اليـــــتيم يتيم العـــلم والادب

يعنی يتيم بواځی هغه څوک نه دی چی پلار يی وفات شوی وي بلکی يتيم هغه هم دی کوم چی د علم او ادب نه محروم وي .

زمونږه خيال خو دا دی، چی د کوم هلک ماشومتوب کی پلار مړ شوی وي هغه يتيم دی مگر شاعر دا وائي چی هغه هلک هم يتيم دی چی پلار يی ژونـدی وي مگـر د خپل بچي تعليم او تربيت طرف ته توجـه نـه وي او دعلـم و ادب څخـه يی محـروم ساتلی وي چی نه پکی د لمانځه شوق وي او نه دقرآن پاک دتلاوت ، نه مدرسی تـه ځي او نه د نورو اسلامي ادابونه واقف دی او نه د مشرانو څه قدر او عزت پيژنـي ، نو د داسی بچي لپاره دپلار موجودگي او عدم موجودگي برابـر دي او دغـه هلـک هم د شاعر په خيال يتيم دی ،پدی وجه بچو ته د د قرآن مجيد او ديني علم ور زده کول او په اسلامي اخلاقو سره ښايسته کول زيات ضروري دي او په مور پـلار بانـدی د دی غټه ذمه واري ده ، چا چی خپل اولاد د علم او ديني تربيت نه محـروم کـړی هغه په حقيقت کی خپل اولاد د دنيا او آخرت د لوی خير نه محروم کړل ، د قيامت په ورځ به د پلار نه خپل اولاد متعلق تپوس کيږي چـی : "ماذا علمتـــه ، ومـــاذا ادبته" يعنی تا خپل بچي ته د څه تعليم ورکړی ،و د څه ادب ورته وښود ؟

په قرآن مجيد کـی دي : "يايها الذين امنوا قوا انفسكم واهليكم ناراً وقودهـــا الناس والحجارة" يعنی ای مؤمنانو تاسو خپل ځان او خپل کـور والا (د دوزخ) لـه هغه اور نه وساتئ چی خاشاک ئې ايدل به يی انسانان او کاڼي وي .

حضرت مفتي محمد شفيع صاحب د دی ايت په تفسير کی ليکي : د "اهلـــيکم" په لفظ کی ټول اهل و عيال داخل دي .... نوکر چاکر هم پديکی شامل دي ، په يو روايت کی دي چی کله دغه ايت کريمه نازل شو نو عمر فـاروق رضـی الله عنـه عرض وکړ يارسول الله (صلی الله عليه وسلم) خپل ځان د جهنم نه د بـچ کولـو پـه مطلب خو پوهيږو (چی له گناهونو نه بچ شو او د احکام الهيه ؤ پابندي وکړو) مگر خپل اهل و عيال د جهنم نه څنگه بچ کړو ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل

: د دی طریقه دا ده چی د کومو کارونو نه الله تعالی منع کړي يئ له هغو نه دوی تول منع کړئ او د کومو کارونو چی د کولو حکم کړی نو تاسو خپل اهل و عیال ته هم د دی د کولو حکم وکړئ ، دغه کار دوی د جهنم له اور نه بچ کولی شي (روح المعاني) .
فقهاء کرامو فرمايلي دي چی لدی ايت کريمه نه ثابت شو چی هر سړي باندی فرض دي چی خپلی ښځی او اولادو ته شرعي فرائض د حلال او حرامو تعليم ورکړي او پدی باندی عمل کولو کوشش وکړي .... او بعضی بزرګانو فرمايلي چی د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات عذاب د هغه چا وي چی د هغه اهل و عيال له دين نه غافل وي (روح) (معارف القرآن ج ۸ ص ۵۰۲) .
لدينه معلوم شوه د اولاد دتعليم او تربيت مسئله ډيره اهمه ده اولاد مور پلار سره د الله تعالی لوی امانت دی نو مور پلار ته د دوی د تعليم او تربيت لپاره ډير اهتمام پکار دی ، دی لپاره چی اولاد نيک صالح او فرمانبردار وي په سړي باندی لازم دي چی له دينداری او پاکدامنی ښځی سره نکاح وکړي ، همدارنګه د جينی په مور پلار باندی لازم دي چی د خپلی لور نکاح د فاسق او فاجر هلک سره ونکړي بلکی د يو ديندار او پرهيزګار هلک سره وکړي .
او د نکاح نه وروسته د پاک او حلال رزق اهتمام وکړي ، لهذا سړي ته پکار دي چی د خپلی آمدنی جائزه واخلي يعنی وګوري چی حلال دي او که حرام ، او د حامله کيدو نه وروسته به هم خاص طور سره د حرام او اشتباهي رزق نه ځان وساتي خپل خيالات او اخلاق درست کړي ، د دين او د شريعت دتابعداری پوره اهتمام وکړي لدينه وروسته بهترين نتائج راښکاره کيږي ، نيک او صالح اولاد پيدا کيږي ، وګورئ خطبات حکيم الاسلام ج ۴ ص ۴۵۸ ، ۴۶۲ او تحفة الوالد والولد ص ۴۲ ، ۴۶ تصنيف د مولانا محمد ابراهيم پالنپوري صاحب .
همدارنګه په ښځه او خاوند باندی لازم دي چی د مباشرت او همبستری په وخت کی د دعاګانو اهتمام وکړي د دعاګانو په برکت سره بچی د شيطاني اثراتو نه محفوظ کيدی شي .

د همبسترۍ په وخت کې دې ښځه او خاوند دا دعا ولولي : "بسم الله اللهم جنبنا الشيطان وجنب الشيطان ما رزقنا" يعنې دالله په نوم سره شروع کوو اې الله موږه د شيطان نه وساتې او کوم اولاد چې ته موږ ته راکوې هغه هم ورنه وساتې . او کله چې د انزال وخت شي نو په زړه کې دې دا دعا ولولي : "اللـــهم لاتجعـــل للشيطان فيما رزقتني نصيبا" ياالله کوم بچي چې راته راکوې په هغه کې د شيطان برخه ونه کړې .

د بچي د پيدا کيدو نه وروسته چې ښه صفا راصفا او ولمبوي نو په ښي غوږ کـې دې ورته آذان او په چپ غوږ کې اقامت وکړي او بيا دې وروسته تحنيک او د برکت دعا وکړي ، د تحنيک مطلب دا دی چې که کيدی شي بچـې دې کـوم بـزرګ خـوا تـه بوځي چې د صلاح او فلاح دعا ورته وکړي او خرما يا نور څه خوږ څيز په جولو سره د بچي په خوله کې ورکړي او کوشش دا وشي چې د بچي په ګيډه کې د هر څه نه مخکې دا شی داخل شي ، صحابه کرامو رضی الله عنهم به خپل اولادونه د تحنيـک او د برکـت دعـا لپـاره نبـي کـريم صـلی الله عليـه وسـلم تـه وروسـتل ، رواه مسلم (مشکواة شريف ص ۳٦۲) .

د بچي د پيدا کيدو په خوشحالۍ کې د شکر پـه طـور او د آفـاتو او مرضـونو نـه د محفوظ کيدو په خاطر په اومه ورځ هلک لپاره دوه چيلۍ او د جينۍ لپاره يوه چيلۍ حلال کړې شي او د هلک سر به خريولو سره د ويښتو په وزن سپين زر صـدقه کـړې شي او دبچي سر کې زعفران پورې کړې شـي (يعنـې پـه پـوره سـر بانـدې دومـره زعفران ولګوي چې بچي ته نقصان نه وي) او بيا دې ورته يو ښکلی نوم کيدي .

په حديث کې دي : "عن سمرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليـــه وسلم الغلام مرهن بعقيقته يذبح عنه يوم السابع ويسمى ويحلق رأسه" (ترمذی شريف ج ۱ ص ۱۸۳) .

يعنې بچې د خپلې عقيقې په بدله کې ګانه شوی وي لهذا په اومـه ورځ دې د هغـه له طرفه يو حيوان ذبح کړې شي او نـوم دې ورتـه کيښـودل شـي او سـر دې ورتـه وخريیلی شي .

(تفصیل دی د فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۹۱ ، ۹۲ کی وکتلی شي ، او په جدید ترتیب کی کتاب العقیقه " د بچي د عقیقی شرعي حکم څـه دی ؟ " تـر عنـوان لانـدی ج ۱ ص ۵۹ کی وګورئ) .

بچي ته ښکلی نوم کیدئ او ورته ادب ورکړئ ، په حدیث کی راځـي : "من ولد له ولدٌ فلیحسن اسمه وادبه" (مشکواةِ شریف ص ۲۷۱) .

یعنی د چا چی بچی پیدا شي نـو ښائسـته نـوم دی ورتـه کیـدي او ادب دی ورتـه وکړي .

په حدیث کی راځي ستاسو په نومونو کی بهترین او الله ته زیات خوښ نومونـه عبد الله او عبدالرحمن دي ، او همدارنګه د حضـور صـلی الله علیـه وسـلم ارشـاد دی : "سموا باسماء الانبیاء علیهم السلام" یعنی د انبیاء کرامو علیهم السلام نومونه کیدئ

نن صبا د نوي نوي نوم کیښودو شوق کیږي ، د انبیاء کرامو علیهم السـلام ، صـحابه رضی الله عنهم او صحابیاتو رضی الله عنهن او د نیکو بندګانو پـه نومونـو کـی چـی کوم برکت وي هغه پدی نوو نومونو کی چیرته دی ؟ دنوم هم زیات اثر وي ، د ښه جذبه او نیک نیت سره د نیکانو نارینه او زنانه و نومونه کیـدئ انشـاء الله برکـت او دینداري به پیدا شي .

او کله چی ماشوم لږ لوی او هوښیار شي او په خبرو راشي نو د ټولو نه مخکـی ورتـه کلمه طیبه وښایئ او د الله پاک مبارک نوم ورته په خوله کی واچوئ .

د حضرت حلیمه سعدیه رضی الله عنها بیان دی چی کوم وخت مو رسول الله صـلی الله علیه وسلم له تي نه جدا کړ نو په ژبه مبارکه یی دغـه کلمـی جـاري شـوی "الله اکبر کبیرا والحمدلله کثیرا سبحان الله بکرة واصیلا" او د ده صلی الله علیه وسلم د ټولو نه اولنی خبرې وی (اخرجه البیهقی عن ابن عباس رضی الله عنه ، کـذا فی الخصائص ج ۱ ص ۵۵ بحواله سیرت خاتم الانبیاء ص ۱۲ از حضـرت مفتی محمد شفیع دیوبندی) .

لهذا خپلو بچو ته دغه مبارک کلمات هم ورزده کـړئ او د دوی پـه تعلـیم او تربیت باندی خاص توجه وکړئ او اسلامي اداب ورته وښایئ په یو یو ادب ورکولو بانـدی

به انشاء الله اجر و ثواب ملاویږي او د مور پلار له طرفه اولاد ته ادب ښودل دټولو نه غوره تحفه ده ، په حدیث کی راځي : "قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مانحل والد ولده من نحل افضل من ادب حسن" یعنی هیڅ یو پلار خپل اولاد ته د ښه ادب نه بهتر څه تحفه نده ورکړی (ترمذی شریف ج ۲ ص ۱۷ باب ما جاء فی ادب الولد ، ابواب البر والصلة) .

او دا هم په حدیث کی راځي : "عن جابر بن سمرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لأن یؤدب الرجل ولده خیرله من ان یتصدق بصاع" رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي دا چی سړی خپل اولاد ته ادب ښائي دا د یو صاع غله صدقه کولو نه بهتر دي (ترمذي شریف ج ۲ ص ۱۷ باب ما جاء فی ادب الولد) .

د الله تعالی د رحمت قدر وکړئ ، تاسو چی خپل اولاد ته ادب ورکوئ پدی باندی هم درته اجر و ثواب ملاویږي مثلاً مور پلار خپلی بچي ته دا ادب وښود چی د خوراک په وخت کی اول بسم الله وایه د دی یو ادب په ښودلو سره د دری نیم کیلو غله خیرات کولو ثواب ملاویږي ، او لکه مور پلار بچي ته وښائي چی په ناسته اوبه وڅکه او په دریو ساګانو څکه ، او خوراک څښکاک په ښي لاس کوه ، مخکی ورته لاسونه وینځه ، او دخپل مخی نه خوره ، او په دسترخوان چی خوراک پریوځي نو اوچتوه او خوره یی ، او کاسی پاکوه ، مشرانو ته سلام کوه او احترام یی کوه ، او زبان درازي ورسره مه کوه او کور ته ننوتو په وخت کی سلام کوه او داسی نور په هر یو ادب ورکولو باندی د دری نیمو کیلو غله خیرات کولو ثواب ملاویږي .

پدی طریقه بچو ته اسلامي ادب وښودلی شي ، څمونږه معاشره او د مسلمان د هر کور ماحول دغسی کیدل پکار دي ، ناسته ولاړه ، خوراک څښکاک ، لباس وغیره په هر یو شي کی اسلامي او سنت طریقه اختیارول پکار دي ، د بچو تربیت پدی انداز سره کول غواړي ، د دی برعکس نن صبا په مسلمانانو کی خاصکر انګریزي تعلیم یافته طبقه کی د پردیو طریقی خپلولی شي د بچو تربیت هم پداسی انداز سره کوي کوم چی د پردیو خلکو رسم و رواج دی ، خپلو کی د ملاویدو په وخت کی چی کوم الفاظ او اصطلاحات په هغو کی رواج دي لکه ګډ مورننګ ، ګډ نائټ

وغیره اوس دغه الفاظ مسلمان هم خپلو بچو ته ښائي ، کوم لباس چی پردي خپلو بچو ته اچوي هماغسی لباس مسلمان هم خپلو بچو ته اغوندوي ، خصوصاً کوم بچي چی نرسري (ابتدائي) صنفو او کلاسو کی سبق وائـي د دوی تربیـت بـالعموم غیر اسلامي طریقی سره کولی شي ، مسلمانانو ته پکار دي چی دی طرف ته خاص توجه وکړي ، ذهني رعب او دباؤ په ختمولو سره اسلامي طـرز ، معاشـره ، تمـدن او ملـي تشخص قائم ساتلو ، کلک عزم او دی لپاره پوره کوشـش کـول پکـار دي او د خپلـو بچو او د نوي نسل تربیت په همدی بنیادو کـول پکـار دي ، لکـه څنګـه چـی دا د مسلمان انفرادي مسئله ده اجتماعي مسئله هم ده ، لهذا انفـرادي طـور سـره هـم د خپل کور ماحول او طرز معاشرت په اسلامي طریقه باندی

د جوړولو ضرورت دی همدارنګه په اجتمـاعي طـور سـره هـم د دی کوشـش کـول ضروري دي .

د بچو ذهن ډیر پاک او صفا وي د دوی چی څنګه ذهني تربیت وکړی شي هماغسی یی ذهن جوړیږي ، که چیرته په اسلامي انداز سره د دوی تربیت وشي نو انشاء الله په ځوانیدو سره هم په همدی انداز باندی چلیږي ، او که چیرته د پردیو پـه طریقـه باندی د دوی تربیت وکړی شي نو هماغه طریقه پـه دوی کـی پـاتی کیـږي ، پـدی وجه د بچي د دیندار جوړولو او د ورانولو ټوله ذمه واري په مور پلار ده ، په حـدیث کی راځي : "مامن مولود الا یولد علی الفطرة فـابواه یهودانـه او نیصـرانه اویمجسانه" د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چی هر یو بچی پـه فطـرت سلیمه باندی پیدا کیږي یعنی په دین اسلام او حق قبلولو لپاره پوره پوره صـلاحیت پکی وي مګر د هغه مور پلار (د غلط تعلیم او تربیت) په وجه د هغه نـه یهـودي یـا نصراني او یا مجوسي جوړوي . (مشکواة شریف ص ۲۱) .

لهذا که چیرته مونږ خپل خان او خپل اهل و عیال د جهنم د اور نه بچ کول غـواړو نو د پردیو طور طریقی په پریښودو سره خپل ځان هم صحیح مسـلمان جـوړ کـړو او خپلو بچو ته هم د ماشومتوب نه ضروري دیني تعلیم او د اسلامي تهذیب او اخـلاق وښایو او خپل طرز معاشره د اسلام او د سنت طریقی مطابق وګرځـوو او پخپـل کـور کی هم سنت طریقی او اسلامي طرز زندګي اختیـار کـړو ، د لمونځونـو پابنـدي ، د قرآن مجید تلاوت او د درس او تدریس ماحول پیدا کړو او پاکه خبره دا چـی خپـل

کورونه د ساز و سرود ، ټي وي او وي سي آر وغیره نه پاک کړو ، څومره د افسوس خبره ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د کوم ساز او سرود ختمولو لپاره تشریف راوړی وُ نن دهماغه د ساز و سرود سامان د مسلمانانو په کوروکی دي ، صحیح او حقه خبره دا ده چې ټي وي ، وي سي آر دومره خطرناک او نقصاني دي چې ددی په موجودګی کی هیڅ قسم تعلیم او تربیت اثر نشي کولی ، د الله د پاره خپل کورونه د دغه لعنت نه لری وساتئ کوم چې د اسلامي حیاء جنازه وویسته ، څومره د بی حیایئ او دشرم خبره ده چې په کور کی پلار او لور ، مور او ځوی او ورور او خور په یوځای کیناستو سره ټي وي باندی انتهائي فحش او بی حیائي مناظر ګوري ، ماشوم چې د وړوکتوب نه دا قسم مناظر وګوري نو په هغه کی به حیاء پیدا کیږي او که بی حیائي ؟

الله تعالی دی مسلمانانو ته د صحیح خبری پیژندو او ورباندی د عمل کولو توفیق ورکړي .

حاصل دا چې د بچو تعلیم او تربیت بی حده ضروري دی او د کورونو ماحول د سنتو مطابق جوړول پکار دي ، د پردیو نقل کولو په ځای اسلامي طرز زندګي اختیار کړی شي ، مونږ چې د پردیو الفاظ او اصطلاحات استعمالوو ددی په ځای د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مختلفو وختو او حالاتو کی چې کومی دعاګانې ښودلي دي هغه دعاګانې خپلو بچو باندی زده کړو او ورباندی د عمل کولو کوشش وکړو ، پدی دعاګانو کی ډیر برکتونه دي او ډیر جامع دعاګانې دي ، له ماشومتوب نه چې ماشومان دغه دعاګانې زده کړي او د لوستلو عادت واخلي نو په ځوانیدو سره به هم انشاء الله پدی عمل کوي او تاسو لپاره به صدقه جاریه وي .

دعاګانو په باره کی علماؤ مختلف کتابونه لیکلي دي د هغو نه استناده وکړئ ، مناسب دي چې دلته یو څو دعاګانې نقل کړی شي ، که دا دعاګانې د کور مشرانو ته هم یاد نه وي نو هغوی دی پخپله هم یاد کړي او بچو ته دی هم ورزده کړي ، د دعا یادولو او نورو ته د ښودلو باندی هر یو ته به اجر و ثواب ملاویږي انشاء الله ، او پخپله به د دی برکتونه وګورئ .

د خوراک شروع کولو په وخت

بسم الله وعلی برکت الله

یعنی د الله په نوم او برکت سره خوراک شروع کوم

که په اول کی بسم الله ویل هیر شي نو چی کله یاد شي داسی به وایي

بسم الله اوله وآخره

ما په اول او آخر کی د الله نوم واخست

د خوراک نه ورسته دعا

الحمد لله الذی اطعمنا وسقانا وجعلنا من المسلمين

یعنی ټول تعریف الله لره دی چی مونږ ته یی خوراک او ښکاک راکړ او د مسلمانانوله ډلې څخه یی وګرځولو.

د دعوت د خوراک نه وروسته دعا

اللهم اطعم من اطعمنی واسق من سقانی

یعنی ای الله چا چی ماته خوراک راکړ ته هغه ته خوراک ورکړی او چا چی ماته ښکاک راکړ ته هغه ته ښناک ورکړی.

که ځوک جامی واغوندي

الحمد لله الذی کسانی ما اواری به عورتی واتجمل به فی حیاتی

یعنی ټول تعریفونه الله لره دي چی ماته یی جامی راواغوندولی چی خپل عورت پری پټوم او په ژوند کی پری ځان ښایسته کوم.

د ویده کیدو دعا

(۱) اللهم قنی عذابك يوم تبعث عبادك

یعنی ای الله ما د خپل عذاب نه وساتی په هغه ورځ چی خپل بندګان راپورته کړی

(۲) اللهم باسمك اموت واحيا

ای الله ستا په نوم اخستو سره زه مړ کیږم او ژوند کیږم .

دخوب نه پاخیدو وخت کی دعا

الحمد لله الذي احيانا بعد ما اماتنا واليه النشور

ټول تعریفونه هغه الله لره دي چی مونږ ته یی د مړ کولو نه وروسته ژوند راکړ او ده ته دوباره ورتلل دي .

بیت الخلاء ته د تللو دعا

اللهم انی اعوذبك من الخبث والخبائث

ای الله له تانه د خبیثو جناتو نر او ښځو څخه پناه غواړم (ګنده سړي او ګنده ښځې یعنی شیطانانو نه) .

د بیت الخلاء نه د وتلو دعا

غفرانك ، الحمد لله الذی اذهب عنی الاذی وعافانی

یعنی بخښنه غواړم ، ټول تعریفونه الله لره دي چی مانه یی ګندګي لری کړه او عافیت یی راته نصیب کړو .

کور ته دننوتو دعا

اللهم انی اسئالك خير المولج وخير المخرج بسم الله ولجنا وبسم الله خرجنا وعلى الله ربنا توكلنا

یا الله له تانه د ښه ننوتو او د ښه راوتو سوال کوو مونږ د الله په نوم سره داخل شولو او د الله په نوم سره راووتو او پخپل رب الله باندی توکل او اعتماد وکړ ، (کور ته په داخلیدو سره ضرور سلام کوئ او خپل بچي هم پدی عادت کړئ) .

د کور نه د وتو دعا

بسم الله توکلت علی الله لاحول ولاقوة الا بالله

یعنی دالله په نوم سره راووتم او په الله می توکل وکړ ، د ګناهونو څخه بچ کیدل او د نیکیو قوت ورکول د الله له طرفه دي .

جومات ته د ننوتو دعا

اللهم افتح لی ابواب رحمتك

ای الله ماته د خپل رحمت دروازې پرانیزی .

د جومات نه د وتو دعا

اللهم انی اسئالك من فضلك

یا الله زه له تانه ستا د فضل سوال کوم .

چې څوک درسره احسان وکړي

جزاك الله خيراً

یعنی الله تعالی دی درته بهتر عوض او بدله درکړي

کله چې پرنجی وکړی

الحمد لله

یعنی ټول تعریفونه الله لره دي .

(او بل اوریدونکی مسلمان به داسی وائي: "یرحمك الله" الله دی درباندی رحم وکړي) .

او ددی په ځواب کی دی پرنجی کونکی دا ووائي : "یهدیکم الله ویصلح بالکم" الله تعالی دی درته هدایت وکړي او ستاسو حالت دی ښه کړي .

فایده : که چیرته پرنجی کونکی ښځه وي نو ځواب ورکونکی به "یرحمك الله" یعنی د کاف زیر به وائي ، او که چیرته پرنجی کونکی الحمد لله ونه وائي نو یرحمك الله ویل واجب ندي او که الحمد لله یی ویلي وي نو بیا واجب دي ...... او کـه چیرته

پرنجی کونکی زکام او یا بل کوم تکلیف ولري او بار بار پرنجی کـوي نـو دوه ذری خلو نه وروسته خواب ورکول ضروري ندي (مشکواة شـــریف ص ٤٠٥ ، ٤٠٦ باب العاطس والتثاؤب) .

کله چی د چا بیمار تپوس کوي نو داسی به وایي

لابأس طهورٌ ان شاء الله

یعنی هیڅ پروا نشته انشاء الله دغه بیماري به تا د ګناهونو څخه پاکوي .

او اوه ځلی د بیمار جوړیدو لپاره دا دعا ولولئ

اسأل الله العظيم رب العرش العظيم ان يشفيك

یعنی زه د هغه لوی الله نه چی د لوی عرش مالک دی سوال کوم چی تا ته صحت درکړي .

(رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چی د دی دعا په اوه ځلی لوستو سره به مریض ته الله صحت ورکوي مګر دا چی دهغه مرګ وخت راغلی وي (مشـــکواة شریف ص ١٣٥ باب عیادة المریض فصل نمبر ٢) .

د سحر په وخت دا دعا کوئ

اللهم بك اصبحنا وبك امسينا وبك نحى وبك نموت واليك المصير

ای الله ستا په قدرت سره په مونږ صبا شو او ستا په قدرت سره په مونږ ماښام شو او ستا په قدرت مونږ ژوندي یو او ستا په قدرت سره به مرو او تاته واپس کیدل دي .

او د ماښام په وخت دا دعا کوئ

اللهم بك اصبحنا وبك امسينا وبك نحى وبك نموت واليك المصير

ای الله ستا په قدرت سره په مونږ صبا شو او ستا په قدرت سره په مونږ ماښام شو او ستا په قدرت مونږ ژوندي یو او ستا په قدرت سره به مرو او تاته واپس کیدل دي .

صبا او ماښام دا دعا کوئ

(۲) بسم الله الذی لایضر مع اسمه شیئ فی الارض ولا فی السماء وهو السمیع العلیم

د الله تعالی په نوم سره (په سونږ صبا شو او یا ماښام شو) چې د هغه نوم سره په آسمان او ځمکه کی هیڅ یو شی نقصان نشي ورکولی او هغه اوریدونکی او پوهه دی

دغه دعا سهار او ماښام دری دری ځلی ویلو سره د ناڅاپي بلا نه حفاظت کیږي (مشکواة شریف ص ۲۰۹)

(۳) رضیت بالله رباً وبالاسلام دینا وبمحمد صلی الله علیه وسلم نبیاً وبالقرآن اماماً و بالکعبة قبلة

یعنی راضي یم زه د الله نه په رب منلو او اسلام سره په دین منلو او محمد صلی الله علیه وسلم لره نبي منلو او قرآن پاک لره خپل امام منلو او کعبی شریفی لره په قبله منلو سره .

سحر او ماښام دغه دعا لولئ په قبر کی به هم انشاء الله پکاریږي (مجموعه کمالات عزیزي ص ۲۷) .

(٤) اللهم اجرنی من النار

یا الله ما د دوزخ د اور نه بچ کړی .

د سحر او د ماښام لمانځه نه وروسته اوه ځلی ولولئ که چیرته پدی ورځ یا شپه کی وفات شئ نو د دوزخ نه به حفاظت وشي (مشکواة شریف ص ۲۱۰) .

سحر او ماښام ایت الکرسی ، قل اعوذ برب الفلق ، قل اعوذ برب الناس او قل هو الله احد دری دری ځلی لوستل عادت جوړ کړئ او بچو ته هم وښایئ .

د سوریدو دعا

کله چی په کوم سورلي باندی سوریږي نو بسم الله دی ووائي او کله چی د حیوان په شا او یا سیټ باندی کینی نو اول الحمد لله او بیا دی دا دعا ولولي :

سبحان الذی سخرلنا هذا وماکنا له مقرنین وانا الی ربنا لمنقلبون

یعني پاک دی هغه الله چی دا یی مونږ ته تابع کړی او مونږ د ده د قدرت نه بغیر دا نشو تابع کولی او بیشکه مونږ خپل رب ته راګرځیدونکي یو .
دا یو څو دعاګاني ولیکل شوی ، بچي چی هلته او دلته فضول ګرځي او وخت ضائع کوي نو د دی په عوض چی کور کی کینول شي او په ډیره مینه او محبت سره ورته دغه دعاګاني وښودلی شي او د ښو کتابونو څخه داسی واقعات ورته واورولی شي چی پدی سره په دوی کی دینداري راشي د اسلام مینه او محبت او دی لپاره دهری قرباني ته تیار شي .
د دغو کرښو لیکلو په وخت کی د حسن اتفاق نه د حضرت مولانا محمد تقي عثماني دامت برکاتهم قابل قدر خبری له نظره تیر شوی د فایدی په طور دلته وړاندی ذکر کیږي .

ذاتي عمل نجات لپاره کافي ندی :

پدی آیت کریمه "یایها الذین امنوا قوا انفسکم واهلیکم نارا" کی الله تعالی دا فرمایلي چی خبره یواځی پدی ځای نه ختمیږي چی خپل ځان د جهنم نه بچ کړه او نور په قلاره کینه او ښه مطمئن شه چی بس زما کار وشو بلکی د خپل اهل و عیال هم د اور نه بچ کول ضروري دي ، نن صبا دا شی ډیر دی چی یو سړی پخپل ذات کی ډیر ښه دیندار وی د لمونځونو اهتمام کوي په اول صف کی حاضر وي ، روژې هم نیسي ، زکات ورکوي ، د الله په لاره کی نور مال لګوي ، او ټولو اوامرو او نواهیو باندی دعمل کولو کوشش کوي لیکن دهغه کور ته وګوره ، ښځی او اولادو ته یی وګوره نو د ده او په هغو کی د ځمکی او آسمان فرق دی دی په کوم خوا روان دی او هغوی په کوم خوا روان دي ، دی مشرق طرف ته دی او هغوی مغرب طرف ته دوی سره نه د لمانځه فکر شته او نه د دیني فرائضو په ځای کولو احساس ، ښځه او ماشومان یی د ګناهونو په سیلاب کی لاهو دي او دا جناب پدی مطمئن دی چی زه اول صف کی حاضر یم او جماعت سره لمونځ کوم ، ښه ځان پوه کړئ کله چی د خپل کور د خلکو د دوزخ داور نه د بچ کولو فکر نه وي د انسان خپل نجات هم نشي کیدی ،انسان پدی وینا سره ځان نشي خلاصولی چی زه خو د خپل عمل مالک یم که اولادونه بل طرف ته روان وو نو ما څه کولی شو ؟ ځکه

چې ددوی بچ کول هم ستا په فرائضو کی شامل ؤ کله چی دی پدی کی کوتاهي وکړ نو په آخرت کی به درسره حساب کیږي او مواخذه به وي ...... او بیا واني :

نن صبا د دین نه علاوه د هر شي فکر شته :

د حضرت نوح علیه السلام د ځوی چی کوم مثال بیانولی شي چی ځوی یی کافر ؤ نو هغه یی بچ نکړی شو ، دا خبره صحیح نده ، ځکه چی دیته خو هم وګورئ چی هغه علیه السلام دوی لره سمی لاری ته راوستو لپاره نهه سوه (۹۰۰) کاله مسلسل کوشش وکړ د دی باوجود چی کله سمی لارې ته رانغلل نو اوس په هغه باندی هیڅ مطالبه او مواخذه نشته . لیکن ځمونږ حال دا دی چی یو دوه خلی مو ورته وویل او بیا په آرام کیناستو چی مونږه خو ورته وویل ، حالانکه پکار دا دي چی هغوی له ګناهونو څخه داسی وسائل شي لکه څنګه چی د دنیا حقیقي اور نه یی بچ کوئ ، په کوم ځای کی چی اور ولګي نو مونږه د خپل ځان او د اولادونو د اور نه د بچ کولو څکه فکر او کوشش کوو همدغسی فکر او کوشش د دوزخ نه (کوم چی د دنیا د اور نه خو چنده زیات دی) د بچ کولو هم پکار دی که داسی قسم بچ کول نه وي نو د دی مطلب دا دی چی فریضه نده ادا شوی ، نن صبا خو داسی ښکاري چی اولادونو په باره کی دهرشي فکر شته مثلاً د دی فکر شته چی د بچي تعلیم ښه وشي ریکارډ یی ښه راشي د دی فکر خو شته چی په معاشره کی دی ښه مقام ولري ، د دی فکر هم شته چی د خوراک ښکاک او لباس انتظام یی ښه وي لیکن د دین فکر یی نشته .

لږ غوندی بی دینه شوی :

ځمونږ یو واقف او پیژندګلو سړی ؤ چی ډیر ښه تعلیم یافته ؤ ، دیندار او تهجد ګذار ؤ د هغه بچی جدید انګریزي تعلیم حاصل کړ چی دهغه په نتیجه کی ورته ښه ملازمت او نوکري هم ملاوه شوه او په معاشره کی یو لوی مقام حاصل کړ ، یوه ورخ ښه یه ډیره خوښئ سره دا بیان شروع کړ چی ماشاء الله ځمونږ بچي دومره تعلیم وکړ اوس ورته ملازمت ملاو شوی او په معاشره کی یو لویه مرتبه حاصل کره ، یوه ورخ ښه په ډیره خوښئ سره دا بیان شروع کړ چی ماشاء الله ځمونږ بچي دومره تعلیم وکړ اوس ورته ملازمت ملاو شوی او په معاشره کی یو لویه مرتبه حاصل کړی البته لږ غوندی بی دینه شویدی لکین په معاشره کی یی شاندار کردار جوړ شویدی

اوس اندازه ولګوئ هغه جناب دا خبره پدی طریقه بیان کړه چی ...... هغه هلک ږ غوندی بی دینه شوی خو دی ، مګر پوزیشن یی ډیر شاندار جـوړ شـوی ، معلومـه شوه چی بی دینه کیدل دومره لویه خبره نده بس معمولي غوندی فـرق راغلـی ، او حال دا چی هغه جناب پخپله نه دیندار او تهجد ګذار ؤ .

د نوي نسل حالات :

نن ځمونږ دا حال دی چی د بل هر شي فکر شته مګر دین طـرف تـه توجـه نشـته ، ورورو! که چیرته دین دومره ناقابل توجه خیز ؤ نو بیـا تـا ولی د لمـونځ او د تهجـد کولو او جوماتـ د تللو تکلیف وکړ ؟ تـا بـه هـم د خپـل بچـي پشـان خپـل پوزیشـن جوړولو ، د اول نه د دی خبری فکر نشته چی بچي ته دیني تعلیم ورکړی شي ، نـن صبا دا حال دی چی د پیدا کیدو سره بچی داسـی نرسري سـکول تـه لیـږلی شـي چیرته چی ورته سپي او پیشو خو ورته ښودلی شي لیکن د الله تعالی نوم ورتـه نشـي ښودلی او دین خبرې ورته نشي ښودلی نن وخت کی داسـی نسـل تیـار شـوی او ځمونږ مخی ته راغلی او د اقتدار واګی یی پـه لاس کـی اخسـتي د ژونـد ترقـي او خوشحالي د دوی په لاس کی ده چا چی د پیدا کیدو سره د سـکول او کـالج مخـه نیولی ده او د ناظره قرآن پاک لوستو اهلیـت پکـی نشـته ، لمـونځ کولـو بانـدی نـه پوهیږي که پدی اوس وخت کی د پوره معاشری اندازه واخستلی شي نو شاید چی اکثریت به د داسی خلکو وي چی په ناظره قرآن شریف نشي لوسـتی او پـه صـحیح طریقه لمونځ کولو باندی نه پوهیږي .... د دی وجه دا ده چـی د بچـي د پیـدا کیدو سره د مور پلار دا فکر خو یی کړیدی چی بچی مـی کـوم یـو انګلـش میـډیم اسکول کی داخل کړم خو لیکن دیني تعلیم طرف تـه یی هـیڅ فکـر او توجـه نـده کړی ، الخ (که پوره وعظ کتل غواړئ نـو اصـلاحي خطبـات ج ۴ ص ۹۶ ، ۲۹ ، ۳۰ وګورئ) .

لدینه اندازه ولګوئ چی دیني تعلیم او تربیت څومره ضروري دی پدی وجـه لـدی اهمی فریضی نه غفلت کول ندي پکار ته چی پخپله لمونځ ګـذار یی نـو بچـی دی هم له ماشومتوب نه لمونځ ګذار جوړ کړه ، په حدیث کی د دی حکم هـم راغلـی :

"عن عمر بن شعیب عن ابیه عن جده قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مروا اولادکم بالصلواة وهم ابناء سبع واضربوهم وهم ابنا عشر سنین وفرقوا

بینهم فی المضاجع" (رواه ابوداؤد) رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی : بچي چی کله اوه کالو ته ورسي نو د لمانځه حکم او تاکید ورته کوئ او چی کلـه د لسو کالو شي او په لمانځه کی سستي کوي نو سزا ورتـه ورکـوئ ، او د دوی بسـتری هم بیل بیل کړئ (مشکواة شریف ص ۵۸ کتاب الصلواة)

له ماشومتوب نه باید د بچي په دیني تعلیم باندی خاص توجه وشي ځای په ځای د قرآن مدرسې جوړ کړی شي چـی دقـرآن مجیـد صـحیح تجویـد سـره د لوسـتو ، د طهارت او لمونځ او د نورو ضروري مسائلو او د صحیح عقاندو دتعلیم انتظام وي .

او لدی سره سره د بچي دصحیح صحبت او ملګرتیـا اهتمـام او د بـد ملګرتیـا نـه د ساتلو هم خاص توجه وشي . دا ډیر ضروري ده .

صحبتِ صالح ترا صـالح کند

صحبتِ طالح ترا طـالح کند

یعنی دنیکانو په ملګرتیا به ته هم نیک او د بدبخت په ملګرتیا سره تـه هـم بـدبخت جوړیږي .

تـــاتوانی دور شواز یار بد

یـــار بد بد تر بود از مار بد

مار بد تنها همین برجان زند

یاربـد برجان و بر ایمان زند

یعنی چی خومره درنه کیدی شي دبد ملګري نه لری اوسه (او خپل اولاد هم لری ساته) ځکه چی بد او ناکاره دوست د مار نه هم خطرناک دی ځکـه چـی مـار خـو یواځی په ځان حمله کوي لیکن د ناکاره دوست ملګرتیـا ځـان او ایمـان دواړو تـه خطره او نقصان ده .

پدی غرض د بچو د غلط ملګرتیا او د غلط ماحول نه د بچ کولو فکـر هـم پکـار دی که چیرته تاسو علماؤ او نیکانو سره ټګ راتګ کوئ او پکار دي چی وکړئ نـو خپـل بچی هم ځان سره بوځئ د بزرګانو نه ورته دعا وغـواړئ ،او بچـو تـه هـم علمـاؤ او نیکانو ته د ټګ راتګ تعلیم ورکړئ ، په کور کی د غلط قسم فحش نـاول ، رسـالی او د کتابونو په ځای مستند دیني رسالی او کتابوهه ساتل پکـار دي او د دی د کتـو او مطالعه کولو ماحول جـوړول پکـار دي ، او همدغسـی دینـي کتابونـه او مضـامین د

بزرگانو ملفوظات او مکتوبات مطالعه کولو او نورو ته د اورولو نه په کور والاو بانـدی ډیر اثر او لویه فایده کیږي.،که کیدی شي نو دی لپاره یو وخت مقرر کـړئ پـه کـور کی به انشاء الله دیني ماحول پیدا کیږي او اعمالو طرف ته به مینه پیدا کیـږي . لـه بی دینی ، ذهني گمراهی او بدعملي نه به محفوظ شي او پـه کـور کـی د قـرآن و حدیث او دیني مضامینو له تعلیم څخه الله تعالی رحمتونه او برکتونه نازلوي آرام او سکون به پیدا کیږي او ډیر زر به د دی فایده ظاهریږي .

د بچو په تربیت کی دی د دوی د نفس او دطبیعت ډیر زیات لحاظ وساتلی شي نـه زیات سختي وشي او نه ډیر زیات نرمي او د محبت معامله وشي د وخت او موقع پـه اعتبار سره سختي هم مفید وي او چی د نرمی او شفقت موقع وي نو نرمي هـم نبـه نتیجه ورکوي ، علماؤ چی د بچو د تربیت کوم اصول بیان کړیدي ، پدی باید عمـل وشي ، د بهشتي زیور خلورمه حصـه کـی (۵۳) نـه تـر (۵۷) صـفحی پـوری د اولاد د پرورش طریقه او همدارنگه لسمه حصه کی د (۱۷) نه تر (۲۰) صفحی پـوری " د بچـو د احتیاط بیان " عنوان لاندی ډیر زیات قیمتي او بهترین هدایتونه بیان شویدی دغه هم باید نظر لاندی ونیسئ .

الله تعالی دی مسلمان ته پدی خبرو باندی دعمل کولو توفیق ورکـړي او تـر قیامتـه پوری د راتلونکي نسل دین او ایمان حفاظـت وکـړي،آمین بحرمة سید المرســلین،

والله اعلم

ظالِم چې د ظلم نه منع نشي نو څه تدبير پکار دی ؟

(٦٧ سوال) يو ظالِم په خلکو باندی ډير ظلم کوي د خلکو په منع کولو سره هم نه منع کيږي نو هغه لپاره شرعي حکم څه دی ؟

ځواب . د داسی کس په باره کی دقرآن تعليم دا دی چی په دواړه کـی د دښمنی ختمولو او د اتفاق او محبت پيدا کولو کوشش وکړئ که دغه کوشش کامياب نشي او يوه ډله پخپل ظلم زياتي باندی ټينګ ولاړوي او ظلم کوي نو نور مسلمانان دی پـه چپ کيناستو سره سيل بين نه جوړيږي بلکی څوک چی زيـاتي او ظلـم کـوي ټـول مسلمانان دی په اتفاق سره د هغه مقابله وکړي تر دی پوری چی ظالم د خپل ظلـم نه لاس واخلي او چی کله ظلم نه منع شو نو بيا دی عدل او انصاف سـره پـه دواړو کی صلح او اتفاق وکړي (سورت الحجرات) .

او په حديث شريف کی دي : چی رسول الله صلی الله عليه وسلم قـسم يـادولو سـره فرمايلي دي تاسو ته به تر هغی پوری نجات نه ملاويږي چـی څـو پـوری ظالمـان د ظلم نه منع نه کړئ ، او په بل روايت کی راځي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم په قسم سره فرمائي ، تاسو امر بالمعروف کوئ او ظالمان د ظلم نـه منـع کـړئ او حـق طرف ته يی تسليم کړئ او که نه ستاسو زړونه به هم داسـی مسـخ کـړی شـي لکـه د هغوی چی کړی شوي وُ او په تاسو باندی به هم داسی لعنـت وکـړی شـي لکـه پـه هغوی چی کړی شوی يعنی بني اسرائيلو باندی [1] او په يو روايـت کـی دي رسـول الله صلی الله عليه وسلم فرمـائي : "انصر اخاك ظالماً او مظلومـــاً" يعنـی د خپـل مسلمان ورور مدد وکړه ظالِم وي او که مظلوم وي . تپوس وشو يارسول الله د مظلوم مدد خو به وکړو مګر د ظالِم مدد څنګه وکړو ؟ رسـول اکـرم صلـی الله عليـه وسـلم وفرمايل د ظالِم مدد دا دی چی د ظلم نه يی منـع کـړئ (بخـاري شـريف ج ۱ ص ۳۳۱ ابواب المظالِم والقصاص باب اعن اخاک ظالماً او مظلوماً) .

---

[1] قال فجلس رسول الله صلى الله عليه وسلم وكان متكئا فقال لا والذى نفسى بيده حتى تاطروهم اطراً رواه الترمذى وابوداؤد وفى رواية قال كلا والله لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنكر ولتاخذن علـى يـدى الظـالم ولتاطرن على الحق اطراً ولتقصرنه على الحق او ليضربن الله بقلوب بعضكم على بعض ثم ليلعنكم كما لعنـهم ، (مشكوة باب الامر بالمعروف الفصل الثانى ص ٤٣٨) .

د لاری په سر مجلس کول :

(٦٨ سوال) پداسی لاره کی چی سړي او ښځې پری تګ راتګ کوي ، مجلس جوړول څنګه دي ؟ چی پدی سره ښځو ته تګ راتګ تکلیف هم وي .
خواب : د ښځو تګ او راتګ ، په لاره کی د مجلس لپاره کیناستل خلکو ته تکلیف رسول دي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چی د لارې نه د ضرري شي لري کول د ایمان جزء او د ایمان علامه ده (مشکواة شریف ص ۱۲[1]) .
د لارې نه د ضرري شیانو د لرې کولو په ځای پخپله تکلیف آور جوړیدل خومره ناکاره او قبیح حرکت دی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : "لاخیر فی جلوس الطرقات الا لمن هدی السبیل ورد التحیة وغض البصر واعان علی الحمولة" (مشکواة ص ۳۹۹ کتاب الاذان باب السلام الفصل الثانی) یعنی په لاره کی کیناستل ښه ندي مګر هغه چا لپاره چی خلکو ته لار وښائي او د سلام ځواب ورکوي او نظر ښکته وساتي او بار اوچتولو کی مدد وکړي .
د ابوسعید خدري رضی الله عنه د روایت ترجمه دا ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی په لاره کی د کیناستو احتیاط وکړئ ، لاره مجلس مه جوړوئ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ لدینه خمونږ چاره او خلاصی نشته (خمونږ حجرې او مجلس ځای نشته) نو مونږ دلته لاره کی کیناستو سره خپلی خبرې کوو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل که تاسو خامخا کینئ او چاره مو نه وي نو ستاسو فرض دي چی د لارې حق ادا کړئ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ یارسول الله د لارې حق څه دی ؟ ارشاد وشو نظر لاندی ساتل ، چاته تکلیف نه ورکول ، د سلام ځواب ورکول ، د نیکی خبرې هدایت کول او له بدی خبری نه منع کول ، "عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال ایاکم والجلوس علی الطرقات قالوا وما لنا بد انما هو مجالسنا نتحدث فیه قال فاذا ابیتم الا المجالس فاعطوا الطریق حقها قالوا وما حق

---

[1] _ الایمان بضع وسبعون شعبة فافضلها قول لا اله الا الله وادناها اماطة الاذی عن الطریق . (کتاب الایمان الفصل الاول) .

الطريق قال غض البصر وكف ا لاذى ورد السلام وامر بالمعروف ونهى عن المنكر" (بخارى شريف ج ۱ ص ۳۳۳ باب اقنية الدور والجلوس فيها والجلوس على الصعدات او ج ۲ ص ۹۲۰ كتاب الاستئذان باب يايهاالذين امنوا الخ ، صحيح مسلم شريف ج ۲ ص ۲۱۳ باب من حق الجلوس على الطريق رد السلام) .

ظاهره خبره ده چی دغه حقوق ادا کول اسان ندي او پدیکی کامیابیدل د هر سړي کار او وس ندی ، پدیکی یو حق نظر لاندی ساتل یعنی پردیو ښځو ته نه کتل پدی اوسني دور کې، د دی خبری ګارنټي څوک ورکولی شي ؟

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : (۱) "ماتركت بعدى فتنة اضر على الرجال من النساء" متفق عليه ، (مشكواة شريف ص ۲٦٧ كتاب النكاح الفصل الاول) یعنی ما د ځان وروسته سړو لپاره د ښځو نه لویه فتنه بل څه نده پریښی .

(۲) "واتقوا النساء فان اول فتنة بنى اسرائيل كانت فى النساء" (مشكواة ص ۲٦٧ ايضاً) یعنی د ښځو نه ځان وساتئ په بني اسرائیلو کی اوله فتنه د ښځو په وجه وه .

(۳) "عن جابر رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان المرأة تقبل فى صورة الشيطان وتدبر فى صورة الشيطان" (ايضاً ص ۲٦٨ باب النظر الى المخطوبة وبيان العورات الفصل الاول) .

یعنی ښځه د شیطان په صورت کی راځي او د شیطان په صورت کی واپس کیږي .

(٤) "عن ابن مسعود رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال المرأة عورة فاذا خرجت استشرفها الشيطان" (ايضاً ص ۲٦٩) .

یعنی ښځه عورت ده (یعنی د ده پرده کی ساتل ضروري دي) کله چی دی باهر ته راځي نو شیطان ورته په انتظارکی ناست وي .

(۵) " عن الحسن مرسلاً قال بلغنی ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لعن الله الناظر والمنظور الیه" (مشکواة ص ۲۷۰).

یعنی اجنبي او پردی ښځی ته کتونکي باندی هم د الله لعنت وي او چا ته چی کتی شي په هغه هم.

(٦) "العینان تزنیان وزناهم النظر" یعنی سترګی هم زنا کوي د دوی زنا کتل دي، پدی حدیثونو باندی غور وکړئ او یاد وساتئ چی څوک د کوم اشتباهي ځیز او د تهمت ځای نه ځان وساتي هغه د خپل دین او د آبرو حفاظت کولی شي او څوک چی استباهي شی کی واقع شي هغه به په حرامو کی مبتلا کیږي، د چا چی د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغو حدیثو باندی نظر وي او د چا په زړه کی چی د الله تعالی ویر وي هغه چیری هم پداسی ځای کی ناسته نه خوښوي، لدینه علاوه نور قباحتونه هم شته مثلاً په لاروي باندی خندا او مسخره کول او غیبت کول، غلط شبهات پری کول، د هغه چا راز ښکاره کول چی هغه پری خفه کیږي، او داسی نور لهذا په لاره کی د مجلس کولو شریعت اجازت نه ورکوي بلکی ممنوع او مکروه دي (بامن حق الجلوس علی الطریق رد السلام نووی شرح مسلم ج ۲ ص ۲۱۳، عینی شرح بخاری ج ۲ ص ۲۳۳ باب افنیة الدور و الجلوس فیها و الجلوس علی الصعدات) والله اعلم.

ښځه خپل خاوند همبستری ته نه پریدي:

(٦٩ سوال) که چیرته ښځه خپل خاوند بغیر وجه صرف دضد او تکبر په بناء همبستری ته نه پریدي دغسی ښځی لپاره دشریعت څه حکم دی؟

ځواب: دغسی ښځی ته نافرمانه او بدګذرانه ویل کیږي او د ناشزه ښځی لپاره د قرآن پاک تعلیم دا دی چی نصیحت ورته وکړی شي که پدی ونشي نو بستره دی ورنه جدا کړی شي او که بیا ه پوهه نشي نو ودی وهلی شي لیکن دومره نه چی هډوکي او پوښتی یی ماتی شي او په وینو لت پت شي او بل په مخ باندی وهل منع دي، که مذکوره تدبیر مفید ثابت نشي نو د ښځی او د خاوند له طرفه دی یو یو ثالث او حکم منتخب شي او د دواړو اصلاح دی وکړي (سورت نساء) الله تعالی سړي ته په ښځو باندی ډیر لوی فضیلت ورکړی لکه چی فرمائي: "الرجال قوامون

على النساء" یعنی سړي په ښځو باندی حاکمان دي (سورت نساء) او په حدیث شریف کی راځي : "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : لو کنت امرً احداً ان یسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها" (رواه الترمذی) یعنی که چیرته ما غبر الله لپاره د سجدی کولو حکم چاته ورکولای نو ښځی ته به می حکم ورکولی چی خپل خاوند ته سجده وکړي (مشکواة ص ۲۸۱ کتاب النکاح باب عشرة النساء ومالکل واحد من الحقوق) .

الله تعالی خاوند ته ډیر لوی حق ورکړی په حدیث کی راځي ام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله عنها د رسو الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس کوي چی "ای الناس اعظم حقاً على المرأة" په ښځی باندی د ټولو نه زیات حق د چا دی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ "زوجها" یعنی د الله او د رسول صلی الله علیه وسلم نه وروسته د ده د خاوند حق دی (بزاز حاکم) او دا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : ښځه تر هغی پوری دالله تعالی حق نشي ادا کولی څو پوری چی د خپل خاوند حق ادا نه کړي (ابن ماجه)[1] او په بل حدیث کی راځي : د کومی ښځی نه چی خاوند خفه وي نو دهغی ښځی نه لمونځ قبلیږي او نه کومه نیکي[2] ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : ښځه تر هغی پوری جنت نشي حاصلولی څو پوری چی د خاوند حق ادا نه کړي (طبراني) .

غرض دا چی د خاوند لوی حق او لوی فضیلت ړی ، د خاوند خوشحالول لوی عبادت دی او خفه کول یی لویه گناه ده ، ښځه چی د سړي نافرماني وکړي او

---

[1] عن عبد الله بن ابی اوفی قال لما قدم معاذ من الشام .... والذی نفس محمد بیده لاتؤدی المرأة حق ربها حتی تؤدی حق زوجها ولوسالها نفسها وهی على قتب لم تمنعه ، ابواب النکاح باب حق الزوج على المرأة ص ۱۳۳

[2] عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ثلاثة لایقبل لهم صلواة ولایصعد لهم حسنة ، العبد الابق حتی یرجع الی موالیه فیضع یده فی ایدیهم والمرأة الساخط علیها زوجها الخ باب النکاح باب عشرة النساء ومالکل واحد من الحقوق ، مشکواة ص ۲۸۳ .

تکلیف ورته ورکړي نو د الله تعالی د غضب او د ملائکو دلعنت او د جنت د حورو بددعائي مستحق ګرځي ، په حدیث شریف کی راځي کله چی خاوند خپله ښځه سملاستو لپاره راوبلي او هغه انکار وکړي او پدی وجه خاوند په غصه کی شپه تیره کړي نو تر سحره پوری هغی ښځی باندی فرشتی لعنت وائي (بخاري شریف ج ۱ ص ۴۵۹ کتاب بدء الخلق باب ذکر الملائکه الخ) .

په یو روایت کی دي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په قسم سره وفرمایل کوم خاوند چی خپله ښځه بستری ته راوبلي او هغه انکار وکړي نو څو پوری چی خاوند راضي شوی نه وي الله تعالی به هم ناراض وي (مسلم شریف ج ۱ ص ۴۶۴ باب التحریم امتناعها فراش زوجها ، عن ابی هریره رضی الله عنه) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : کله چی سړی خپله ښځه د څه کار لپاره راوغواړي نو هغی باندی لازم دي چی خاوند خوا ته ورشي اګر که په انغري باندی ناسته وي (ترمذی شریف ج ۱ ص ۱۳۸ الرضاع والطلاق باب ما جاء فی حق الزوج علی الحرة)

په یو حدیث کی دي : په ښځی باندی د خاوند یو حق دا دی چی د هغه ورته زړه وشي او دا په اوښ باندی سوره وي نو بیا به هم انکار نه کوي (مجالس الابرار ۹۸ ص ۵٦۷) مطلب دا چی ښځه باندی د مور پلار نه هم د خاوند حق زیات دی ، دزړه نه باید د خاوند قدر او احترام وکړي ، دخاوند نه نفرت کول او په جائزو کارو کی ورنه نافرماني کول ، د ضد او تکبر په وجه د همبستری نه انکار کول ناجائز او لویه ګناه ده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي که چیرته د خاوند د سر نه تر ښپو پوری پیپ او زوی بهیږي او ښځه هغه په ژبه سره وڅټي بیا هم د هغه شکریه نشي ادا کولی (مجالس الابرار ۹۸ ص ٥٦٦) که چیرته په خاوند کی څه عیب وي بدشکل وي بیا دی هم نفرت ورنه نه کوي د الله تعالی په فیصله دی راضي اوسي چی الله تعالی څه کړي ښه یی کړیدي په "شرح شرعة الاسلام" کی لیکي چی د اجمعي په نوم یو بزرګ عالِم په ځنګل کی یوه نهایت جسینه ښځه د یو ډیر بدرنګه سړي سر ولیده او ورته یی وویل زه تعجب کوم چی ستا پشان ښایسته ښځه د داسی بدشکله سړي سره ډیره په خندا او خوشحالی سره اوسیږي هغی ورته په ځواب کی وویل : زه پوهیږم چی ځما خاوند څه نیکي کړیده چی د هغی په عوض کی زما

غوندی ښایسته ښځه ملاو شویده او له مانه کومه ګناه شویده چې د هغه په سزا کې راته داسې بدشکله سړی او خاوند نصیب شوی ، په هر حال دا د الله تعالی فیصله ده او پدې باندې راضي یمه ، او په همدی کتاب کې دي چې یوې ښایسته ښځې خپل بدشکل خاوند ته ویلی زه تا ته خوشخبري درکوم چې مونږ دواړه به په جنت کې وو ، خاوند ورته وویل چې تا ته څه پته ده ؟ ښځې ورته وویل ستا په بدشکلۍ کې زما امتحان دی او پدې باندې ما صبر کړی او دصبر کونکو ځای په آخرت کې جنت وي او زما په ښایست کې ستا هم آزمائش دی او ته د الله تعالی په نعمت باندې شکر ګذار یې او د شاکر ځای هم جنت دی لهذا مونږ دواړه جنتیان شو (شرح شرعة الاسلام ص ۴۳۱) کله چې یو ښځه بد دماغه او یا سرکشه وي نو خاوند دی حپل لاسونه د ښځې په دواړو اوږو باندې کیدي او "ایها الرجس الخبیث المخبث اخرج من جب وطیب" دی ولولي .

د ښځې د نامناسب حرکت په وجه چې په غصه کې تعلق قطع کړي نو څه حکم لري ؟

(۷۰ سوال) په واده کې د ښځو په ډله کې زما ښځې ګډا کړی او د سرو د جامو په اچولو سره یې خلک خندولي ؤ چې زه ورباندې خبر شوم نو ما ورته خبرې وکړې او پدې سره هغه خفه شوه او راته وائي چې زه دی په خلکو کې وشرمولم او تعلقات یې راسره پریکړل او دا دهغې پخوانۍ عادت دی ، هر وخت به ما راضي کوله لیکن اوس ما دا فیصله کړیده چې تر څو هغه خبرې شروع ونکړي زه به خبرې ورسره نه کوم که هر څه وشي ، بچي واړه دي د هغو هم څه غم ورسره نشته ، پدې باره کې د شریعت څه حکم دی ؟ وضاحت وکړئ ، جزاکم الله .

ځواب : بیشکه ښځې ته د دې د بدکرداری په وجه خبرداری او زورنه ورکول ، مناسب کاروائي کول ، او د سزا ورکولو خاوند حق لري ، قرآن پاک کې دي : "الرجال قوامون علی النساء" یعنی سړي په ښځو باندې حاکمان او نګران دي (سورت نساء) د ښځو په منځ کې ګډا او د سرو جامو په اغوستو سره خلک خندول ګناه ده لدینه باید توبه او استغفار وکړي "من حسن اسلام المرأة ترکه ما لایعنیه" یعنی د سړي د اسلام له خوبیو څخه لویه خوبي دا ده چې لایعني او فضول کارونه

پریږدي (حدیث شریف ، رواه مالك و احمد ورواه ابن ماجه عن ابی هریره رضی الله عنه والترمذی والبیهقی فی شعب الایمان مشکواة باب حفظ اللسان والغیبة والشتم الفصل الاول ص ۴۱۳) او په حدیث شریف کی راځي : "عن النبی صلی الله علیه وسلم انه لعن المشتبهات من النساء بالرجل والمشتبهین من الرجال بالنساء" او "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم الرجل یلبس لبسة المرأة والمرأة تلبس لبسة الرجل"

(دا دواړه حدیثونه په ابوداؤد باب فی لباس الناس ج ۲ ص ٥٦٦ او ج ۲ ص ۲۱۲ کی موجود دي) یعنی په هغه سړي باندی دالله لعنت دی چی د ښځو لباس اغوندي او په هغو ښځو باندی هم چی د سړو جامی اغوندي (مشکواة شریف ص ۳۸۰ باب الترجل الفصل الاول) او په ما لا بد منه کی لیکي " مرد را تشبه به زنان و زنان راتشبه به مردان و مسلم را تشبه به کفار وفساق حرام است " (ص ۱۳۱) یعنی د سړي له ښځو سره او د ښځو سړو سره او د مسلمان له کافرانو او فاسقانو سره مشابهت کول حرام دي ، او په حدیث شریف کی دی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم تپوس وکړی شو کوم یوه ښځه بهتره ده ؟ ارشاد یی وفرمایل هغه ښځه چی خاوند ترینه خوشحال وي چی کله ورته ګوري او کله چی ورته څه حکم کوي مني او د خپل ځان او په مال کی دخاوند د مرضي خلاف نه کوي (بیهقي) پدی وجه ښځه باید په تړقو هم د سړو لباس وانه غوندي او ځان ورنه وساتي .

پدیکی د خاوند خفګان بی ځایه ندی لهذا ښځه دی پری نه خفه کیږي ، البته خاوند ته هم پکار دي چی له ښځی نه اقرار واخلي چی بیا به داسی نه کوي او معاف دی کړي د ذلیل او رسوا کولو کوشش دی نه کوي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : په تاسو کی بهتر سړی هغه دی چی د خپلی ښځی سره ښه سلوک وکړي او زه په تاسو کی خپلو ښځو سره ښه سلوک کونکی یم (عن الشعبی مرسلاً خیر کم ، خیر کم لاهله وانا خیر کم لاهلی) او د ابن عباس رضی الله عنه په روایت کی دا هم زیات شوي چی شریف سړی به د ښځی قدر و عزت کوي د دی بی عزتي او ورسره بدسلوک رذیل او کمینه سړی کوي ، "وعن ابن عباس

رضی الله عنه خیرکم ، خیرکم لاهله وانا خیرکم لاهلی‌ما اکرم النساة الا کریم وما اهاهن الا لئیمٌ" (جامع صغیر ج ۲ ص ۹ ، هکذا فی المشکواة المصابیح باب عشرة النساء ومالکل واحد من الحقوق) .

لهذا که چیرته ښځې ته د جرم نه زیات سزا ورکړې شي نو پخپله یې رضا کول پکار دي پدې کې شرم کول ندي پکار ، لیکن د ښځې د شرافت تقاضا دا ده چې د خاوند په پخلا کولو کې وړاندې والی وکړي ځکه چې خاوند ډیره لویه مرتبه لري ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی چې که چیرته ما چاته د سجدې کولو حکم کولای نو ضرور به می ښځې ته حکم کړی وُ چې خپل خاوند ته سجده وکړي .او په یو حدیث کې راځي که چیرته د خاوند سر نه تر پښو پورې پیپ او زخم روان وي او ښځه هغه تموله وڅټي بیا هم دخاوند حق نشي پوره کولی . لهذا ښځه چې د خاوند په راضي کولو سبقت او وړاندې والی وکړي نو دا لوی فضیلت لري ، فقط والله اعلم .

د قومي قانون څخه خلاف ورزي کونکي سره تعلق قطع کولو قانون جوړول څنګه دي ؟

(۷۱ سوال) پدې لاندینۍ مسئله کې د دین علماء څه فرمائي ، په یوه ځای یو قوم دی د هغوی یوه کمیټي ده د هغې صدر او غړو (ممبرانو) د یوې دنیاوي لانجې په وجه یو دیندار او د شریعت پابند سړي سره بائیکاټ وکړ او سلام کلام یې ورسره بند کړي او د هغه په غم او خوشحالی کې شریکیدل بالکل منع کړي ایا د دوی دغه فیصله صحیح ده ؟ او پدې باندې د قوم عمل کول څنګه دي ؟ او کله چې د هغه کس له کورنۍ یو کس مړ شو او د قوم یو څو کسانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تابعداری په خاطر د کمیټي د قانون او د بائیکاټ په خلاف د هغه په جنازه کې شریک شول او لدینه وروسته د کمیټي صدر یو میټنګ او اجلاس وکړ او چا چې په جنازه کې شرکت کړی وُ هغوی ته وویل تاسو د تنظیم له قانون څخه خلاف ورزي کړی تاسو به معافي نامه لیکئ ایا د دوی دغه غوښتنه او معافي نامه لیکل درست دي ؟ وضاحت وکړئ جزاکم الله .

خواب : د دغه کمیټی صدر ته لازم دي چې دغسې هیڅ قسم کومه فیصله د دستند علماؤ د تحریري فتوی نه بغیر ونه کړي ، د دنیوي معاملو په سربلندی او یا د کورینو لانجو په بناء د مسلمان ورور او خور سره بائیکاټ کول او هغوی د ډلی او قوم نه ویستل او سلام کلام ورسره بندول جائز نه دي بلکې حرام دي . په حدیث کې راځي : "حق المسلم على المسلم خمس رد السلام وعيادة المريض واتباع الجنائز واجابة الدعوة وتشميت العاطس" (بخاری ج ۱ ص ۱۶۶ کتاب الجنائز باب الامر باتباع الجنائز) یعنی یو مسلمان په بل باندی پنځه حقونه لري د سلام ځواب ورکول او د بیمار تپوس ته ورتلل . جنازه کول . د دعوت قبلول او د پرنجي کونکي په ځواب کې يرحمك الله ويل ، او يو حديث کې راځي : "لايحل لمؤمن ان يهجر اخاه فوق ثلث ليالٍ" یعنی یو مؤمن ته حلال ندي چې له درې ورځو نه زیات د خپل مسلمان ورور سره قطع تعلق وکړي . او په یو حدیث کې راځي : "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده" یعنی کامل مسلمان هغه دی چې د هغه ژبې او لاس نه بل مسلمان محفوظ وي (بخاري کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده ج ۱ ص ۶) او همدارنګه په بل حدیث کې دي : "لاتقاطعوا ولاتدابروا ولاتباغضوا ولاتحاسدوا وكونوا عباد الله اخوانا" یعنی خپل منځ کې تعلق مه قطع کوئ او يو د بل آزار پسې مه ګرځئ ، بغض مه کوئ او حسد مه کوئ ای د الله بندګانو خپلو کې سره ورونه شئ . (بخاري شريف وغيره) په یو حدیث کې راځي "لايدخل الجنة قاطع" د رشته دارانو او خپلوانو سره تعلق قطع کونکی به جنت ته داخل نشي (بخاري کتاب الاداب باب ما ينهى عن التحاسد والتدابر الخ ج ۲ ص ۸۹۶) .

د دین بزرګان فرمائي : ع

وظلم ذی القربى أشد مضارة

على المؤمن قطع الحسام المهند

یعنی د رشته دارانو او د خپلوانو ظلم په انسان باندی دتوری د زخمونو څخه هم زيات تکليف ورکونکی وي .

حافظ شیرازي فرمائي :

مباش در پۀ آزار و هرچه خواهی کــن
که در شریعت ما غیر ا زین گنا هے نیست

یعنی چاته آزار مه رسوه او نور چې څه غواړی کوه خمونږ په شریعت کې لدینه لویه ګناه بله نشته دی .

په جنازه کی شرکت کول کومه ګناه نده چې پدی باندی سزا او د معافي مطالبه ترینه وکړی شي ، معافي غوښتل خو د جرم اقرار کول دي ، په حدیث کی راځي : "لاطاعة للمخلوق فی معصیة الخالق" د الله تعالی په نافرمانی کی د هیچا تابعداری روا ندي ، فقط والله اعلم ، ۲۸ جمادی الاولی ۱۳۹۷ھ .

یوی ښځی سره پداسی حال کی همبستري کول چې بله ښځه ورته ګوري

(۷۲ سوال) د یو سړي دوه ښځي دي او دواړه په یوه کور کی ساتي او په یوه بستره باندی یې وده کوي او کله کله یو بل ویني او دی ورسره همبستري کوي دغه کار څنګه دی جائز دی او که نه ؟

خواب : د دویمی ښځی په کتو سره همبستري کول بی حیائي ده او د هغی زړه آزارول دي یوی ښځی لپاره د بلی ښځی ستر لیدل هم ګناه ده لهذا د دغه طریقی پریښودل ضروري او واجب دي ، په فتاوی عالمګیری کی لیکي : "وطئی زوجة بحضرة ضرها او امته یکره عند محمد رحمه الله" (فتاوی عالمگیری ج ۵ ص ۲۱۹ کتاب الکراهیة) (الباب الثامن فیما یحل للرجل النظر الیه) فقط والله اعلم بالصواب .

د زنا حراموالی او نقصانونه :

(۷۳ سوال) دلته د خوانانو عادت ډیر زیات خراب شوی ډیر خوانان بلکی واده شوي کسان هم په زنا کی مبتلا دي اګر که ټول پدی پوهیږي چې زنا ډیره لویه

گناه ده خو بیا هم لدینه نـه منع کیږي ، تاسـو پـه تفصیل سره ددی وعیدونه او نقصانات ولیکئ الله تعالی دی وکړي چی ستاسو فتوی د دوی د هدایت سبب جوړ شي ، جزاکم الله .

خواب : په اسلامي شریعت کی زنا بالکل قطعاً حرام شویدی او د شرک او قتل نـه وروسته دیته اکبر الکبائر ویل شوي ، پـه قرآن پـاک کـی د دی متعلق ارشاد دی : "ولاتقربوا الزنا انه کان فاحشة وساء سبیلا" او زنا ته نزدی کیږئ هم مه یقیناً دا ډیره بی حیائي او بده لاره ده (قرآن مجید سورت بنـي اسـرائیل ۳۲ آیـت) پـدي ایت کریمه کی د زنا د حراموالي دوه وجی بیان شوی اول دا چـی دا بـی حیـائي ده او په انسان کی چی کله د حیا صفت پاتی نشي نو هغه د انسانیت نه محرومیږي بیا هغه د ښه او بد فرق نشي کولی ، په حدیث کی راځـي : "اذا فاتك الحیاء فافعل ما شئت" یعنی کله چی په تاکی حیاء پاتی نشي نو بیا چی دی څه زړه غواړي کوه ، دویمه وجه معاشرتي فساد دی چی د زنا په وجه سره دومره خوریږي چی څه حـد یی نشته او د دی بد نتائج کله پوره خاندان او پوره قوم تباه او بربادوي ، نـن صبا چی په دنیا کی قتل و قتال او دجنګ جګړی خومره واقعات پیدا کیږي پدی کی د زیاترو سبب همدا زنا او یا د دی مبادی (تنګول راتنګول او کتـل وغـیره دي) پـدی وجه شریعت دغه د ټولو جرمونو څخه لوی جرم ګرځـولی دی او د دی سـزا هـم د ټولو سزاګانو نه سخته ده ، الله تعالی فرمـایي : "الزانیة والزانی فاجلدوا کل واحد منهما مائة جلدة" زنا کار سړی او ښځه هر یو سل سل دری (کوړې) ووهئ ، او که چیرته واده شوی سړی او ښځه زنا وکړي نو د هغوی سزا سنګسارول دي .

په حدیثونو کی هم د زنا ډیر سخت وعیدونه بیان شویدي په یو حدیث کی رسـول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : اوه واړه آسمانونه او ځمکـې واده شـوي زنـا کـار باندی لعنت کوي او په جهنم کی به د دغسـی خلکـو لـه شـرمګاهونو څخـه دومـره سخته بدبوئي خور شي چی جهنمیان به ورنه پریشان شي او داور د عذاب سره سره به په جهنم کی هم رسوا کولی شي (رواه البزار عن بریده ، مظهري بحواله معـارف القرآن از مفتي شفیع صاحب ج ۵ ص ۴۶۳ ، ۴۶۴) او (الترغیـب والترهیـب ج ۴ ص ۳۱۴)

او یو بل حدیث کی راځي ابو هریره رضی الله عنه روایت کوي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي "لایزانی الزانی حین یزنی وهو مؤمن ولایسرق السارق حین یسرق وهو مؤمن ولایشرب الخمر حین یشربها وهو مؤمن الخ" یعنی زنا کار د زنا په وخت کی مؤمن نه پاتی کیږي او غل د غلا په وخت کی مؤمن نه پاتی کیږي او شرابي د شراب څښکلو په وخت کی مؤمن نه پاتی کیږي الخ (مشکواة شریف ص ۱۷
کتاب الایمان)

په ابوداؤد کی دغه الفاظ دي : "اذا زنی العبد خرج منه الایمان وکان فوقه کالظلة فاذا خرج من ذلك العمل رجع الیه الایمان" یعنی بنده چی کله زنا کوي نو ایمان دهغه د زړه نه اوځي او د سوري پشان د هغه په سر باندی ولاړ وي او کله چی ئدی ناروا کار نه فارغ شي بیا ورته ایمان واپس راشي (مشکواة شریف ص ۱۸ باب الکبائر)

په یو اوږد حدیث کی راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : یو ځل زه ویده وم چی دوه کسان راته راغلل او زه یی یو ډیر لوی غر ته بوتلم او ما ته یی وویل وخیژه .... او بیا فرمایي : "ثم انطلق بی فاذا انا بقوم اشد انتفاخاً وانتنه ریحاً کان ریحهم المراحیض قلت من هؤلاء قال هؤلاء الزانون" او بیا یی زه مخکی بوتلم نو یو قوم می ولید چی بدنونه زیات پړسیدلی وو او د اودس ماتي پشان بدبوئي ورنه تله ما ورته وویل چی دا کوم خلک دي فرشتی وویل چی دا زنا کار سړي او ښځې دي (الترغیب والترهیب ج ۴ ص ۳۱۱) .

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي "اذا ظهر الزنا والربا فی قریة فقد احلوا بانفسهم عذاب الله" یعنی کله چی په کومه قریه کی زنا او سودی کاروبار شروع شي نو هغوی ځان د الله تعالی دعذاب مستحق جوړوي (الترغیب والترهیب ج ۴ ص ۳۱٦) .

د زنا یو دنیوي نقصان دا هم دی چی کله په کوم قوم کی زنا پیدا شي نو هغوی باندی، قحطي نازلیږي ، امام احمد رحمه الله د عمرو بن العاص رضی الله عنه

روایت نقل کوي او فرمائي "سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول مامن قوم یظهر فیهم الزنا الاّ اخذوا بالسنة وما من قوم یظهر فیهم الرشا الاّ اخذوا بالرعب" یعنی ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا ارشاد اوریدلی دی چی په هر یو قوم کی چی زنا شروع شي هغوی په قحطي باندی مبتلا کولی شي او په هر قوم کی چی رشوت خوري شروع شي هغوی مرعوب کولی شي یعنی د نورو ویره پری غالب کیږي (بحواله البصائر فی تذکرة العشائر ج ۱ ص ۸٤۸ عربی مع ترجمه ناشر کفلیة ضلع سورت).

او د زنا یوه بده نتیجه دا هم ده چی د زنا نه فقر او غریبي پیدا کیږي ، بزار روایت کړی دی : "اذا ظهر الزنا ظهر الفقر والمسکنة" کله چی زنا پیدا شي نو فقر او غریبي هم پری راځي (بحواله البصائر فی تذکرة العشائر ج ۱ ص ٤٤٨) .

حضرت انس رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي : "المقیم علی الزنا کعابد وثن" یعنی د زنا عادتي د بت پرست پشان دی (الترغیب والترهیب ج ۴ ص ۳۱٦) .

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چی یو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړ : "أی الذنب اکبر عندالله؟ قال ان تدعوا لله ندا وهو خلقك" یعنی د الله په نزد باندی د ټولو نه لویه ګناه کومه ده ؟ وی فرمایل چی ته د الله تعالی سره شریک ونیسی پداسی حال کی چی ته یی پیدا کړی یی ، بیا یی وویل لدینه وروسته کومه ګناه لویه ده ؟ وی فرمایل "ان تقتل ولدك خشية ان يطعم معك" ته خپل اولاد لدی ویری نه قتل کړی چی تاسره به خوراک کی شریک کیږي ، بیا یی وویل بله کومه ګناه ده ؟ وی فرمایل : "ان تزنی حلیلة جارك" یعنی چی ته د خپل ګاونډي د ښځی سره زنا وکړی . بیا الله تعالی د دی په تائید کی دا ایت کریمه نازل کړه : "والذین لایدعون مع الله الهاً اخر ولایقتلون النفس التی حرم الله الا بالحق ولایزنون"

الایة یعنی د الله تعالی خاص بندګان هغه دي چې د الله سره بل معبود نه مني او ناحق قتل نه کوي او زنا نه کوي (مشکواة شریف ص ۱٦ ، ۱۷ باب الکبائر).
د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه د زلزلې په باره کې تپوس وشو نو وی فرمایل : زنا ، شراب ، رقص او سرود چې د خلکو عادت جوړ شي نو د الله تعالی غیرت هم په جوش کې راشي که په معمولي تنبیه باندی توبه وباسي نو ښه او که نه عمارتونه ونړولی شي او عالیشان تعمیرات د خاورو سره خاوری شي ، ورنه تپوس وشو چې ایا زلزله عذاب دی ؟ وی فرمایل : د مؤمن په حق کې رحمت او کافر لپاره عذاب (اخبار زلزله بحواله فتای رحیمیه ج ۱۰ ص ۲۳۴).
د زنا یو نقصان دا هم ده چې پدی سره نسب بربادیږي او کوم بچي چې د زنا نه پیدا کیږي هغو ته حرامي ویل کیږي او د هغو صحیح تربیت نه کیږي او په معاشره کې ورته ښه مقام نه حاصلیږي لیکن د ولد الزنا په بد لقب سره یادیږي .
او همدارنګه د زنا یوه بده نتیجه دا هم ده چې لکه څنګه زنا کار سړی د بل چا د لور ، انګور عصمت پایمالوي د زناکار د اولاد ، اهل و عیال او خپلوانو سره هم همداسی سلوک کیږي لکه چې په البصائر کی یوه واقعه ذکر ده :
په مدینه منوره کې یو مشکي په دینداریٔ کی مشهور وُ هغه په یوی ښځی باندی تیر شو چې هغه ښځه هم په دینداریٔ کی مشهوره وه هغې ورنه اوبه وغوښتلی د هغې ښځی لمن په څمکه پرته وه ورته یې وویل چې لمن دی پورته کړه نو هغه ښځه د لمنی د اوچتولو لپاره ټیټه شوه نو هغه مشکي خپل لاس د هغې په کوناټي باندی کیښود ښځې ډیر زیات تعجب وکړ چې داسی دیندار سړي دغسی حرکت وکړ چې د لسو کالو نه یې کوم خیانت چا نه وُ لیدلی ، خیر هغه خاموشه شوه تر دی چې د هغې خاوند راغی ، د خاوند نه یې تپوس وکړ چې کوم کار دی نن کړی هغه راته ووایه خاوند ورته وویل چې نور هیڅ نشته سیوا د دینه چې ما جینکی کتلی نو یوه عربي ښځه مې مخی ته راغله اوما خپل لاس د هغې په کوناټي باندی کیښود ، نو ښځی لا اله الا الله سره وویل چې د لاس په بدله کی لاس دی که تا ورسره زیاتی کړی وای نو مشکي به هم زیاتی کولو (البصائر فی تذکرة العشائر ج ۱ ص ۸٤٦).

د ځوانو جینکو ډرایوري زده کول څنګه دي ؟

(۷۴ سوال) ځوانو جېنکو لپاره ډرایوري زده کول څنګه دي ؟ وضاحت وکړئ جزاکم الله

ځواب : د ځوانو جینکو ډرایوري زده کول اصل کی مباح دي مګر سخت ناخوښه کار دی او دا هم په هغه وخت کی چی بی پرده ګي او نامحرم سړو سره اختلاط او د هغوی زده، کول نه وي خو دا ناممکن معلومیږي ځکه چی لدینه بغیر لائسنس اخستل مشکل دي د لائسنس اخستو لپاره د اجنبي او بیګانه سړي نه زده کول دي او د هغه په خوا کی کیناستل او له هغه سره د خبرو موقع یقیناً راځي ، بی پردګي ګویا حتمي او لازمي ده او لدینه علاوه نور ډیر نقصانات هم شته ، لهذا لدی کار نه باید ښځې لری وساتلی شي[1] ، د قرآن هدایت خو دا دی چی "وقرن فی بیوتکن ولاتبرجن تبرج الجاهلیة الاولی" یعنی تاسو پخپلو کورو کی اوسیږئ ، او د جاهلیت د زمانی دستور مطابق ښکاره بی پردی مه ګرځئ (سورت احزاب) فقط والله اعلم

د استاذ په ځای کیناستل :

(۷۵ سوال) د استاذ عدم موجودګی په وخت د هغه په ځای باندی کیناستو کی څه عیب شته ؟ معتبر حوالی سره ځواب راکړئ ، مهرباني .

ځواب : شاګرد لپاره مناسب نه دي چی د استاذ په ځای کیني استاد موجود وي او که نه وي ، دا د ادب او احترام خلاف دي په خلاصة الفتاوی کی لیکي : "ولایجلس مکانه ان غالب عن" (ج ٤ ص ۳۲۷) .

انساني حقوق :

(۷٦ سوال) نن صبا قومي فسادات کیږي یو سړی بل ته ناحق تکلیف ورکوي او دموقع په ملاویدو ، کور ، دکان او کارخانه وغیره سوځوي او کله یې قتلوي او حال دا چی ټول انسانان دي او د یو انسان اولاد دی ، دا قسم حرکتونه کول څنګه دي

---

[1] ــ لاترکب مسلمة علی سرج للحدیث هذا لو للتلهی ولو لحاجة غزو او حج او مقصد دینی او دنیوی لا بدلها منه فلا بأس به قل فی الشامیة تحت قوله ولو لحاجة غزوا الخ ای بشرطان تکون متسرة وان تکون مع زوج او محرم . درمختار مع الشامی کتاب الحضر والاباحة فصل فی البیع ج ٦ ص ٤٢٣ .

؟ پدی باره کی د اسلام هدایات څه دي ؟ امید دی چی تفصیلي خواب ورکړئ .
مهرباني
خواب ټول انسانان د یو مور پلار یعنی د آدم او حوا علیه السلام اولادونه دي پدی لحاظ سره یو انسان په بل باندی که د هر قوم او مذهب سره تعلق لري دا حق دی چی د هغه احترام وکړئ او د هغه خیر خواهي وکړئ او هیڅ قسم تکلیف ورته ونه رسوي د هغه په خوشحالی باندی خوشحالي او په خفګان باندی یې خفه شي او د تکلیف په وخت کی ورسره مدد وکړي ، د ورورۍ معامله ورسره وکړي دا د انسانیت تقاضا ده او د انسان د ټولو نه لوی جوهر انسانیت دی . په هر حالت کی خان د دی جوهر نه محروموول او حیوانیت اختیارول انسانیت باندی یو تور داغ دی او دغسی شخص د انسان ویلو قابل ندی ، لهذا یواخی پدی اعتبار سره چی د الله تعالی مخلوق او ټول د یو مور پلار اولاد یو د هغه سره نیک سلوک او ورورولي پکار ده ، اسلام پدی باره کی ډیر واضح هدایات ورکړي په موقع باندی د انسانیت احترام او یو بل سره د خیر خواهی او د رحم او شفقت حکم ورکړیدی .
محسن انسانیت رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائي : "کلکم بنوا آدم وآدم من تراب" تاسو ټول د آدم اولاد یئ او آدم علیه السلام د خاورو نه پیدا ؤ ، (رواه الترمذی ، وابوداؤد ، مشکواة باب المفاخرة والعصبية ص ۴۱۸) .
د رحمت عالم رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی : "عن جرير بن عبد الله قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لايرحم الله من لايرحم الناس" متفق علیه ، یعنی کوم سړی چی په خلکو باندی رحم نه کوي په هغه باندی الله تعالی رحم نه کوي (مشکواة شریف ص ۴۲۱ باب الشفقة والرحمة على الخلق) دغه حدیث انسانانو ته د همدردی او حسن سلوک درس ورکوي او یو بل باندی د ظلم او زیاتي نه منع کوي ، د الله تعالی په مخلوق باندی رحم کول او دوی سره ښه سلوک کول داسی عمل دی چی الله تعالی هم ورباندی رحم کوي ، په حدیث کی راځي : "عن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الراحمون يرحمهم الرحمن ارحموا من فى الارض يرحمكم من فى السماء" (رواه

ابوداؤد والترمذی) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي ښوک چې په انسانانو باندی رحم کوي الله رحمن په هغو رحم کوي ، ای خلکو ځمکې والاو باندی رحم وکړي آسمان والا به تاسو باندی رحم وکړي (مشکواة شریف ص ٤٢٣ باب الشفقة والرحمة علی الخلق) .

په حدیث کی راځي "عن انس وعبد الله رضی الله عنهما قالا قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الخلق عیال الله فاحب الخلق الی الله من احسن الی عیاله" رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : مخلوق د الله تعالی عیال او کورنی ده نو الله ته زیات خوښ هغه ښوک دی چې د ده کورنی سره ښه سلوک کوي (مشکواة شریف ص ٤٢٥ باب الشفقة والرحمة علی الخلق) .

په حدیث کی راځي : "عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ماکرم شاب شیخاً من اجل سنه الاّ قیّض الله له عند سنه من یکرمه" (رواه الترمذی) یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی کوم ځوان چې د یو سپین ګیري سړي صرف د بوډاتوب په وجه احترام وکړي نو الله تعالی به د هغه د بوډاتوب په زمانه کی داسی یو ښوک پیدا کړي چې د ده احترام او عزت وکړي (ایضا مشکواة شریف ص ٤٢٢) .

دغه دی اسلامي تعلیمات چې انسانیت ته یې کوم مقام ورکړی د قوم او ملت فرق په ختمولو سره یواځې د انسانیت په بنیاد یو بل سره د رحم و شفقت او ښه سلوک حکم ورکړیدی .

په پورتني ذکر شوي حدیثونو کی غور وکړئ د ټولو انسانانو سره د نیکی کولو تعلیم ورکړی شوی د مسلمانیدو تخصیص پکی نشته .

په ګلستان کی شیخ سعدي رحمه الله ډیر قیمتي نصیحتونه او د حکمت خبرې بیان کړي ، فرمایي :

نبي آدم اعضاء یک دیگر ند
که در آفرنیش زیک جو هراند
چو عضوی بدرد آورد روزگار

دگــر عضـــو هــارا نماند قرار
تو کز محنت دیگـــران بی غـــمی
نشایـــد کـــه نـــا مت نهند آدمی

یعنی د آدم اولاد خپلو کی د اندامونو په مثال دي څکه چی ټول د یو جوهر (اور ، اوبه ، خاوره او هوا نه) پیدا شوي دي نو کله چی په یوه اندام کـی څـه درد پیـدا شي نورو اندامونو ته هم آرام و سکون نه پاتی کیږي ، ای مخاطبه کـه چیرتـه تـه د نورو دغم او درد نه بی غمه یی نو تاته بني آدم ویل هم نه ښائیـږي (گلستان بـاب اول حکایت ببالین تربت یحیی پیغمبر علیه السلام الخ) .

انسان خو پریده په ځناورو باندی هم رحم کولو په وجـه الله تعـالی انسـان تـه اجـر عظیم ورکوي په یو حدیث کی راځـي : "عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رســـول الله صلی الله علیه قال بینما رجل یمشی بطریق اشتد علیه العطش فوجد بئـــراً فنزل فیها فشرب ثم خرج فاذا کلب یلهث یأکل الثری من العطــش فقـــال الرجل لقد بلغ هذا الکلب من العطش مثل الذی کان بلغ بی فنـزل البئر فملأ خفه ثم امسکه بفیه فسقی الکلب فشکر لله فغفر له قالوا یارسول الله وان لنا فی البهائم اجراً فقال فی کل ذات کبد رطبة اجر" .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چی یو سړی په لاره روان ؤ چـی ډیـر زیـات تږی شو یو کوهی یی ولید او ورکوز شو اوبه یی وڅکلی چی راووت نو یـو سـپی یی ولید چی ژبه یی راوتلی وه او د تندی په وجه یی خاوری څټلـی هغـه پـه زړه کـی وویل چی د دغه سپي هم د تندی هغه حالت شویدی چی زما شـوی ؤ نـو بیـا پـه کوهي کی ورکوز شو او خپله موزه یی د اوبو نه ډکه کړه او پـه خولـه یی ونیولـه او راووت سپي ته یی اوبه ورکړی الله تعالی ته د ده دغه عمـل خـوښ شـو او هغـه یی وبښلو ، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ یارسول الله ایا ځناور باندی په رحـم کولو سره هم مونږ ته اجر ملاویږي ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : په هر ذی روح باندی رحم کولو سره اجر دی (بخاری شریف ج ۲ ص ۸۸۸ باب رحمة الناس والبهائم ، ج ۱ ص ۳۱۸ باب فضل سقی الماء) .

په ځا کې چې د انسانيت قيمتي جوهر موجود وي په دنيا کې د هغه قدر کولی شي او خلک ورته دعزت په نظر ګوري او نيک نوم يې کيږي او د مرګ نه وروسته هم په نه نوم سره يادولی شي لهذا دغسې پاکيزه ژوند تيرول پکار دي چې د ده نه چاته تکليف ونه رسي ، په ژوند کې هم نيک نامی وي او د مرګ نه وروسته هم.

ياد داری کـــه وقت زادن تـــو
همه خنـــده بودند تو ګريـــان
آنچنـــان زی که وقت مردن تو
همه ګـــريان بـــودند تو خندان

يعنی هغه وخت راياد کړه چې د پيدائش په وخت کې تا ژړلی او ټولو خلکو د خوشحالی نه خندلی نو داسې ژوند تير کړه چې د مرګ په وخت کې ټول خلک دربانډی وژاړي او ته خاندی.

د مسلمانانو حقوق او مرتبې او د صله رحمی اهميت او پدی باره کې (۴۰) حديثونه

(۷۷ سوال) يو مسلمان په بل باندی څه حق لري ؟ او پخپل منځ کې څه قسم سلوک او رويه پکار ده ؟ پدی باره کې اسلامي تعليمات څه دي ؟ په وضاحت سره وليکئ ، مهرباني.

خواب : يو مسلمان په بل باندی څه حق لري ؟ پدی سلسله کې قرآن مجيد کې هدايات بيان او په مبارکو احاديثو کې هم مختلف انداز سره دغه مضمون بيان شويدی د مثال په طور وګورئ په قرآن پاک کې ارشاد دی : "وان طائفتن من المؤمنين اقتتلوا فاصلحوا بينهما فان بغت احداهما على الاخرى فقاتلوا التى تبغى حتى تفئ الى امر الله فان فاءت فاصلحوا بينهما بالعدل واقسطوا ان الله يحب المقسطين"

ترجمه : او که چيرته د مسلمانانو دوه ډلې خپلو کې سره په جنګ شي نو تاسو د دوی ترمنځ صلح وکړئ بيا که چيرته پدوی کې يوه ډله په بلې باندی زياتی کوي نو د دغې زياتي کونکې ډلې سره وجنګيږئ تر هغې پورې چې د الله حکم ته تابع او واپس شي ، بيا که چيرته رجوع وکړي نو د دواړو تر منځ انصاف سره صلح وکړئ

او د انصاف خیال وساتئ بیشکه الله تعالی انصاف والا خوښوي ، او بل ځای ارشاد دی :

"انما المؤمنین اخوة فاصلحوا بین اخویکم واتقوا الله لعلکم ترحمون" بیشکه مؤمنان خو سره ورونه دي نو د خپلو دوه ورونو تر منځ صلح وکړئ او د الله نه ویرېږئ تر څو په تاسو رحم وشي ، او فرمائي : "یاایها الذین امنوا .... الظالمون" (سورت حجرات) ترجمه : ای مؤمنانو! نه دی نارینه په نارینو باندی خندا کوي کیدی شي چی هغوی له خندا کونکو نه (د الله په نزد) بهتر وي او نه دی ښځې په ښځو باندی خاندي ځکه چی کیدی شي هغوی له دوی نه بهتر وي او نه یو بل ته طعنی ورکوئ او نه یو بل لره په بد نوم سره یادوئ ، د ایمان راوړو نه وروسته د ګناه نوم ډیر بد دی او څوک چی لدی حرکتونه منع نشي هغه ظالمان دي ، او فرمائي :

"یاایها الذین امنوا .... رحیم" (سورت حجرات) ترجمه : ای ایمان والاؤ د ډیرو ګمانونو څخه ځان وساتئ ځکه چی بعضی ګمان ګناه دی او د چا عیبونه مه لټوئ او څوک دی د چا غیبت هم نه کوي ایا په تاسو کی څوک دا خوښوي چی د خپل مړ ورور غوښې وخوري ، دا خو تاسو بد ګڼئ ، او د الله نه وویرېږئ بیشکه الله تعالی توبه قبلونکی او مهربان دی .

او فرمائي : "یاایها الناس انا .... خبیر" (سورت حجرات ۹ ، ۱۰ ، ۱۱ آیات) ترجمه : ای خلکو مونږه تاسی له یوه نر او ښځی نه پیدا کړي یئ او تاسی مختلف قومونه او قبیلې جوړ کړئ تر څو یو بل وپیژنئ ، د الله په نزد له تاسی ټولو نه زیات عزتمند هغه دی چی د ټولو نه زیات پرهیز ګار وي ، الله تعالی پوهیدونکی او خبردار دی .

مبارک حدیثونه

(۱) "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاتحاسدوا ولاتناجشوا ولاتباغضوا ولاتدابروا .... وکونوا عباد الله اخواناً المسلم اخو المسلم لایظلمه ولایخذله ولایحقره .... بحسب امرأ من

الشر ان يحقر اخاه المسلم كل المسلم على المسلم حرام دمه وماله وعرضه" (مسلم شريف ج ۲ ص ۳۱۷ كتاب البر والصلة والادب باب تحريم ظلم المسلم).

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : يو بل سره حسد مه کوئ او بغير دنيت د اخستو نه (د بل سري دوكه كولو لپاره) نرخ مه اوچتوئ او يو بل سره بغض مه کوئ او يو بل نه مخ مه اړوئ ای دالله بندګانو خپلوکی سره ورونه شئ مسلمان د مسلمان ورور دی ندی ورباندی ظلم کوي او ندی ذليلوي او ندی سپک ګڼي او د انسان د بدی لپاره همدا بس دي چی خپل مسلمان ورور ته سپک نظر وکړي د يو مسلمان په بل باندی وينه ، مال ، او آبرو عزت ټول حرام دي .

(۲) "عن ابي هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لاتقاطعوا ولاتدابروا ولاتباغضوا ولاتحاسدوا وكونوا عباد الله اخوانا كما امركم الله" (مسلم شريف ج ۲ ص ۳۱٦ باب تحريم الظن والتجسس) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي خپل منځي تعلق مه قطع کوئ او يو بل نه مخ مه اړوئ او خپلو کی بغض مه کوئ او حسد مه کوئ د الله بندګانو ، سره ورونه شئ لکه چی الله تعالی درته حکم کړيدی .

(۳) "عن ابي هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اياكم والظن فان الظن اكذب الحديث ولاتحسسوا ولاتجسسوا ولاتنافسوا ولاتحاسدوا ولاتباغضوا ولاتدابروا وكونوا عباد الله اخوانا" (مسلم شريف ج ۲ ص ۳۱٦ باب تحريم الظن والجسس) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : له بدګمانی ځخه ځان وساتئ ځکه چی بدګماني بدترين دروغ دي ، او د بل چا عيبونو پسی مه ګرځئ ، جاسوسي مه کوئ ، او خپلو کی تنافس او حسد مه کوئ او بغض مه ساتئ ، او يو بل نه مخ مه اړوئ ، ای د الله بندګانو خپلو کی سره ورونه شئ .

(٤) "عن ابی هریرة رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : ومن ستر علی مسلم فی الدنیا ستر الله علیه فی الدنیا والاخرة والله فی عون العبد ماکان العبد فی عون اخیه" .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چا چې په دنیا کی په یو مسلمان باندی پرده واچوله الله تعالی به په دنیا او آخرت کی به د هغه پرده پوشي وکړي او الله تعالی د خپل بنده مدد کوي څو پورې چې دی د خپل ورور په مدد کی لګیا وي .

(٥) "عن ابی الدرداء رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول ما من مسلم یرد عن عرض اخیه الا کان حقاً علی الله ان یرد عنه نار جهنم یوم القیامة ثم تلا هذه الایة (وکان حقاً علینا نصر المؤمنین)" (رواه فی شرح السنة ، مشکواة ص ٤٢٤ باب الشفقة والرحمة علی الخلق) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : کوم مسلمان چې د خپل ورور د عزت حفاظت وکړي الله تعالی به د قیامت په ورځ هغه د جهنم له اور نه وساتي او بیا یې دا آیت کریمه تلاوت کړ چې په مونږ باندی د مؤمنانو امداد حتمي او ضروري دی .

(٦) "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم للمؤمن علی المؤمن ست خصال : (١) یعوده اذا مرض (٢) ویشهده اذا مات (٣) ویجیبه اذ دعاه (٤) ویسلم علیه اذا لقیه (٥) ویشمته اذا عطس (٦) وینصح له اذا غاب او شهد (مشکواة شریف ص ٣٩٧ باب السلام ، هدایت القرآن ص ١٠٥) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : یو مسلمان په بل باندی شپږ حقونه لري (١) چې بیمار شي تپوس به یې کوي (٢) چې وفات شي نو کفن دفن ته به یې حاضریږي (٣) چې کله دعوت وکړي نو قبول یې کړي (٤) چې کله ورسره یوځای شي نو سلام ورباندی واچوي (٥) چې کله پرنجي وکړي (او الحمد لله ووائي) نو یرحمک الله ورته وایي (٦) او د هغه خیر خواهي وکړي غائب وي او که حاضر وي .

(۷) "عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم والذی نفسی بیده لایؤمن عبد حتی یحب لاخیه مایحب لنفسه" (مشکواة شـــریف ص ۲۲ باب الشفقة والرحمة علی الخلق).

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : په هغه ذات می دی قسم چـی د هغـه پـه قبضه کی زما نفس دی تر هغی پوری یو بنده مؤمن نشي کیدی څو پوری چـی هـغ د بل مسلمان ورور لپاره هغه څه خوښ نه کړي چی کوم خپل ځان لپاره خوښوي.

(۸) "عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیـــه وسلم المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده" (بخاری بحواله مشکواة شریف ص ۱۲ کتاب الایمان).

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : مسلمان څو هغه دی چی د هغـه د ژبـی او لاس له ضرر نه بل مسلمان محفوظ وي.

(۹) "عن انس رضی الله عنه قال قال لی رسول الله صلی الله علیه وسلم یابُنی ان قدرت ان تصبح وتمسی ولیس فی قبلك غش لأحد کان معی فی الجنة" (رواه الترمذی ، مشکواة شریف ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنة).

انس رضی الله عنه فرمائي چی ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ځویه که چیرته دا قدرت لری چی پداسی حال کی صبا او بیګا کړی چی ستا پـه زړه کـی د چا لپاره کینه نه وي نو داسی وکړه او بیا یی وفرمایل چی دا زما سنت دي او چـا چی زما له سنت سره محبت وکړ ، هغه له ماسره محبت وکړ او چا چی ما محبت وکړ هغه به جنت کی ماسره وي.

د بغض او حسد نه د زړه صفا کیدل دومره لوی او عظیم عمـل دی چـی رسـول الله صلی الله علیه وسلم په اهتمام سره د دی تعلیم ورکړی او دیته یی خپل سنت ویلـي لهذا د دی خبری پوره پوره کوشش کول پکار دي چی د هر مؤمن په بـاره کـی زړه د حسد او کینی څخه پاک او صاف وي.

¥

د مؤمنانو مثال

(۱۰) "عن النعمان بن بشیر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم تری المؤمنین فی تراحمهم وتوادّهم وتعاطفهم کمثل الجسد اذا اشتکی عضواً تداعی له سائر الجسد بالسهر والحمی" متفق علیه (مشکواة شریف ص ۴۲۲ باب الشفقة والرحمة علی الخلق) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : مؤمنان یو بل سره په شفقت ، محبت او ترحم کولو کی د یو بدن پشان دي چی کله ورنه یو اندام بیمار شي نو ټول بدن ورسره په تبه او بی خوبی کی شریک وي .

(۱۱) "عن النعمان بن بشیر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم المؤمنون کرجل واحد ان اشتکی عینه اشتکی کله وان اشتکی رأسه اشتکی کله" (رواه مسلم ، مشکواة شریف ص ۴۲۲) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : مؤمنان ټول د یو سړي پشان دي که سترګه یی په درد شي نو ټول بدن ورسره په درد وي او که سر یی په درد شي نو بیا هم ټول بدن ورسره په درد کیږي .

شیخ سعدي رحمه الله دغه مضمون پدی الفاظو بیان کړیدی :

مثنوي :-

نبي آدم اعضاء یک دیګر ند
که در آفرنیش زیک جو هراند
چو عضوی بدرد آورد روزګار
دګر عضو هارا نماند قرار
تو کز محنت دیګران بی غمی
نشاید که نا مت نهند آدمی

یعنی د آدم اولاد خپلو کی د اندامونو پشان دي ولی چی د یو جوهر (اور ، اوبه ، خاوره او هوا نه) پیدا شوي دي نو که چیرته د زمانی د حوادثو په وجه په یو اندام کی درد پیدا شي نورو اندامونو ته هم آرام و سکون نه پاتی کیږي ، ای مخاطبه که

چیرته ته د نورو دغم او درد نه بی غمه یی نو تاته بني آدم ویل هم نه بنائیږي (ګلستان باب اول حکایت ببالین تربت یحیی پیغمبر علیه السلام الخ) .
لهذا د ایمان تقاضا دا ده چی کله کوم یو مسلمان په څه مصیبت او پریشانی کی مبتلا وي نو نور مسلمانان دی باید هغه سره امداد او د همدردی معامله وکړي دهغه تکلیف خپل تکلیف وګڼي همدغه ایماني تقاضا او ایماني غیرت ده او په احادیثو کی همدا څیز له مونږ ته غوښتل شوی .

(۱۲) "عن ابی موسی رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال المؤمن للمؤمن کالبنیان یشد بعضه بعضاً ثم شبك بین اصابعه" (متفق علیه ، مشکواة شریف ص ۴۲۲ باب الشفقة والرحمة علی الخلق) .
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : یو مسلمان بل لپاره دیو عمارت پشان دی چی یو بل سره مضبوطیږي . او بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپلی ګوتې مبارکې یو بل کی ورکړی .
د عمارت حال دا دی چی هره حصه په بله حصی سره قوي کیږي که یوه حصه کمزوری شي نو رو رو ټول عمارت کمزوری کیږي او یا یوه حصه چی راپریوځي نو ټول عمارت ورسره غورځیږي نو همدغسی مسلمانان هم د یو دیوال پشان دي چی په دوی کی کوم یو باندی تکلیف وي نو هر سړی باید دا خپل تکلیف محسوس کړي نو له هغه سره کومک وکړي څو هغه تکلیف لری شي او قوت ورته حاصل شي

(۱۳) "عن ابن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال المسلم اخوا المسلم لایظلمه ولایسلمه ومن کان فی حاجة اخیه کان الله فی حاجته" (مشکواة شریف ص ۴۲۲ باب الشفقة والرحمة علی الخلق) .
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی نه به خپله ورباندی ظلم کوي او نه به کوم ظالم ته حواله کوي او څوک چی دخپل مسلمان ورور حاجت پوره کوي الله تعالی به د هغه حاجت پوره کوي .

(۱٤) "عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایدخل الجنة من لایأمن جاره بوائقه" (رواه مسلم ، مشکواة ص ٤۲۲ باب الشفقة والرحمة علی الخلق) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : هغه سړی به جنت ته داخل نشي چې ګاونډي يې د ده د ضرر نه په امن نه وي .

(۱۵) "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم والله لایؤمن والله لایؤمن قیل من یارسول الله ؟ قال الذی لایأمن جاره بوائقه" (رواه مسلم ، مشکواة ص ٤۲۲ باب الشفقة والرحمة علی الخلق) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي په الله قسم هغه سړی مؤمن نه دی (دا خبره يې دی ځلی تکرار کړه) چا عرض وکړ څوک یارسول الله ؟ وی فرمایل هغه سړی چې ګاونډي يې له ضرر نه محفوظ نه وي .

(۱٦) "عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم سباب المسلم فسوق وقتاله کفر" متفق علیه ، مشکواة ص ٤۱۱ باب حفظ اللسان والغیبة والشتم .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : مسلمان ته کنځل کول فسق دی او قتلول يې کفر دی .

(۱۷) "عن ابی ایوب الانصاری رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایحل للرجل ان یهجر اخاه فوق ثلث لیالٍ یلتقیان فیعرض هذا ویعرض هذا خیرهما الذی یبدأ بالسلام" (متفق علیه ، مشکواة ص ٤۲۷ باب ما ینهی من التهاجر والتقاطع) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : يو کس لپاره حلال ندي چې د خپل ورور سره له دری ورځو نه زیات تعلق قطع کړي ، دا مطلقاً ندي که چیرته فاسقانو څخه د فسق په وجه احتراز وکړی شي نو څه پروا نه لري یعنی ددین لپاره دائماً هم بغض

کول جائز دي البته دنیوي معاملو په وجه چا سره خفګان کول تر درې ورځو پورې دي ، او که احتراز د عزت په وجه وي یعنی د چا سره تعلق ساتل د خپل شان خلاف ګڼي نو بیا دې کې د تکبر اړخ دی (ملفوظات معروف به " کلمة الحق " ج ٦ ص ۱۲۷) .

(۱۸) "عن ابی خراش السلمی انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول من هجر اخاه سنةً فهو کسفك دمه" (رواه ابوداؤد ، مشکواة ص ٤٢٨ باب ما ینهی عن من التهاجر) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي څوک چې د خپل ورور سره تر یو کال پورې تعلق قطع کړي دا داسې دی لکه چې هغه یې قتل کړی وي .

په تفسیر مظهری کی دابن عساکر په روایت له ابو هریره رضی الله عنه نه نقل کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي کوم سړی چې خپل ورور سره یو کال تعلق قطع کړی هغه به دالله تعالی په وړاندی دقابیل دګناه سره پیش کیږي ، غیر ددوزخ نه دننوتو نه به بل څیز دی دقابیل نه جدا نه کړي یعنې دقیامت په ورځ به هغه دقابیل ملګرې وي لیکن په دوزخ کی به دقابیل نه جداوي ځکه چې دقابیل عذاب به سخت او اوږد وي ، (تفسیر مظهري مترجم ۳/ ٤٤٦ سورت مائده ٦ پاره او (۹) رکوع)

هابیل او قابیل .دابو البشر حضرت آدم علیه السلام ځامن دي قابیل هابیل لره قتل کړی و او داپه مخ او دځمکې باندی ړومبنی قتل و ددوی دواړو واقعه دقران مجید په سورت مائده کی بیان شویده ، دقتل په وجه قیامت کی به دقابیل سخت عذاب وي لکه چې په تفسیر مظهري کی دابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي کوم سړی چې په ظلم سره قتل کړی شي دهغه دوینې یوه حصه دآدم علیه السلام داولنی زوی په غاړه وي ځکه چې دټولو نه وړاندی دقتل دستور هغه پیداکړ، (رواه البخاري وغیره)

بیهقي په شعب الایمان کی دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما قول لیکلی دی : دآدم علیه السلام قاتل زوی به دټولو دوزخیانو نیمایي عذاب په تقسیم سره واخلي یعنې دټولو دوزخیانو نیمایي عذاب به په ده وي ، (تفسیر مظهري ۳/ ٤٤٦)

فکر وکړی څومره سخت وعید دی ، نن په مونږ باندې کلونه تیریږي دچاسره مو چې اختلاف دی هغه سره دملاویدو نوم قدرې نه اخلو او که څوک دصلحې کوشش وکړي هغه هم ردوو او دیو خای کیدل شرم ګڼو، او حال داکه تعلق قطع کول دکوم شرعي وجې په بنیاد نه وي نو له دړې ورځو نه سیوا دکوم مومن ورور سره تعلق قطع کول حلال ندی لکه څنګه چې په (۱۷) نمبر حدیث کې ذکر شو او دغسې خلک له مغفرت نه هم محروم پاتې کیږي په حدیث کې راغې.

(۱۹) "عن ابي هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يفتح ابواب الجنة يوم الاثنين ويوم الخميس فيغفر لكل عبدلايشرك بالله الاّ رجلاً كانت بينه وبين اخيه شحناء فيقال انظروا هذين حتى يصطلحا" (رواه مسلم ، مشكواة ص۴۲۷) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : دپير(دوشنبه) او زيارت (پنجشنبه) په ورځ دجنت دروازې پرانستل کیږي او هر هغه سړي ته مغفرت او بخشش کولی شي چې دالله تعالی سره یې شرک نه وي کړی مګر هغه سړي ته مغفرت نه کیږي چې هغه دخپل ورور سره کینه لري ارشاد کیږي چې دغه دواړو لره اوس پریدی څو پورې چې خپلو کې سره صلح وکړي او پخلا شي .

(۲۰) "عن ابي بكر الصديق رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ملعون من ضار مؤمناً او مكربه" (رواه الترمذي، مشكواةص۴۲۸باب ماينهى عنه من التهاجر) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي څوک چې کوم مسلمان ته ضرر ورسوي اويا یې دوکه کړي هغه ملعون دی .

(۲۱)"عن واثلة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تظهر الشماتة لأخيك فيرحمه الله ويبتليك"(رواه الترمذي ، مشكواة ص۴۱۴ بابا حفظ اللسان والغيبة والشتم) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : دخپل ورور په مصيبت باندې مه خوشحاليږه کیدی شي چې الله تعالی په هغه رحم وکړي اوپه هغه مصيبت باندې تا اخته کړي.

(۲۲)"عن ابي الدرداء رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الا ا خبركم بافضل من درجة الصيام والصدقة والصلاة قال قلنا نعم ، قال

اصلاح ذات البین وفساد ذات البین هی الحالقة"(رواه ابو داود والترمذي ، مشکواة ص۴۲۸ بابماینهی عنه من التهاجر والتقاطع اتباع العورات ، الفصل الثانی) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : آیا داسی شئ درته وښایم چی دروژی ، صدقی او لمانځه نه بهتر وي ، مونږ عرض وکړ ضرور وی فرمایل دخپل منځی تعلقاتو جوړول او خپل منځي فساد دین ختموي.

(۲۳)"عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم انصر اخاك ظالماً او مظلوماً فقال رجل یارسول الله انصره مظلوما فکیف انصره ظالماً؟ قال تمنعه من الظلم فذلك نصرك ایاه"(متفق علیه، مشکواة باب الشفقة والرحمة علی الخلق ص۴۲۲) رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : دخپل ورور مدد وکړه ظالم دی او که مظلوم دی یو کس عرض وکړ یارسول الله دمظلوم مدد خوبه وکړم دظالم مدد څنګه وکړم ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هغه دظلم نه منع کړه دادهغه مدد دی.

(۲۴) "قال النبی صلی الله علیه وسلم لیس منا من لم یرحم صغیرنا ولم یؤقر کبیرنا"(ترمذي ۲/ ۱۴ باب ماجاء فی رحمة الصبیان) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : څوک چی په ماشومانو رحم اودمشرانو عزت نه کوي هغه زمونږ په طریقه ندی

(۲۵)"عن انس بن مالك رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما اکرم شاب شیخاً الا قیض الله له من یکرمه عندسنه " (ترمذي شریف۲/ ۲۳ باب ماجاء فی اجلال الکبیر) رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : کوم ځوان چی دیو بوډاد بوډاتوب په وجه عزت وکړی نو الله تعالی به دهغه دبوډاتوب په وخت ضرور داسی سړی پیداکړي چی دهغه عزت به کوي .

(۲۶)"عن علی رضی الله قال سمعت رسول الله صلی‌الله علیه وسلم یقول مامن مسلم یعود مسلماً غدوة الاصلی علیه سبعون الف ملكٍ حتی یمسی وان عاده عشیة صلی الله علیه سبعون الف ملكٍ حتی یصبح وکان له خریف فی الجنة "

(ترمذي شریف ۱/ ۱۱٦ ابواب الجنائز باب ماجاء فی عیادة المـــریض،) (ابـــو داود ۱/ ۸٦ کتاب الجنائزباب فی فضل العیادة) رسول الله صلی‌الله علیه وسـلم فرمایي : کوم مسلمان چی دسحر په وخت کی دکوم مسلمان بیمار پرستي وکړي نـو اویازره فرشتې هغه لپاره ترماښام پوری دمغفرت دعاګانی کوي او کـه ماښام وخـت کی دچا بیمارپرسي وکړي نو ترسحره پوری ورته اویازره فرشـتې دمغفـرت دعاګـانې کوي، اوهغه لپاره به په جنت کی یو باغ وي.

(۲۷)"عن ثوبان عن النبی صلی‌الله علیه وسلم قال ان المسلم اذا عـــاد اخـــاه المسلم لم یزل فی خرفة الجنة حتی یرجع"(رواه مسلم ، مشکواة ص۱۳۳ کتاب الجنائز باب عیادة المریض)

رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : کوم مسلمان چی دخپل مسـلمان ورور بیمـار پرسي وکړي نو تر واپس کیدو پوری هغه دجنت په میووکی اوسي (یعنی ددی عمل په وجه دجنت دمیوو مستحق ګرځي.)

(۲۸)"عن انس قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم من توضـــأ فاحســـن الوضوء وعاد اخاه المسلم محتسباً بُوعد من جهنم مسیرة ستین حریفاً(ای‌عاماً)" (رواه ابوداود ، مشکواة باب عیادة المریض وثواب المریض ا لفصـــل الثـــاني ص۱۳۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : خوک چـی پـه ښـه شـان اودس وکړي اوخالص دثواب په نیت دخپل مسلمان ورور بیمار پرسـي وکـړي نـو هغـه بـه ددوزخ نه دشپیتو(٦٠) کالو په مسافت کی لری کړی شي.

(۲۹)"عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم من عاد مریضا او زار اخا له فی الله ناداه مناد ان طبت وطاب ممشاك وتبوأت من الجنة فترلاً"(ترمذي۲/ ۲۲، ۲۳ باب ماجاء فی زیـــارة الاخـــوان) رسـول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : خوک چی دبیمار تپوس وکـړي اویـا خـاص دالله لپـاره دیو ورور ملاقات وکړي نو دآسمان نه یو اواز کونکی آواز کوي چـی تـاډیر ښـه کـار وکړو ستا ګرځیدل ډیر ښه دي او تاخان لپاره په جنت کی ځای جوړ کړ.

دابو څو حديثونه دمثال په توګه ذکر کړی شول کوم چې دعامو مسلمانانو دحقونو سره تعلق لري ، دخپلوي اودرشته داري معامله لدينه هم اهمه ده ، دخپلوانوسره صله رحمي کول اونيک سلوک ورسره کول او مينه محبت ورسره ساتل ډير اجر او ثواب لري، په کورنی کی مينه او محبت کول په رزق کی دبرکت سبب دی ، په قران مجيد او مبارکو حديثوکی ددی ډير زيات تاکيد راغلی ، په قران پاک کی دي

(۱) (وان ذا القربى حقه والمسكين وابن السبيل ولا تبذر تبذيرا، ان المبذرين كانوا اخوان الشياطين وكان الشيطن لربه كفورا) (سورت بني اسرائيل ۲۵، ۲٦)

ترجمه : او خپلوانو ته هم خپل حق ورکړه اومسکين او مسافر ته هم ، او مال بی ځايه مه لګوه ځکه چې بی ځايه مال لګونکی دشيطانانو ورونه دي او شيطان دخپل رب ناشکره دی .

يعني دخپلوانو مالي او اخلاقي هرقسم حقونه اداکړه او دمحتاج او مسافر هم خبر ګيري کوه او دالله تعالی ورکړی مال بی ځايه مه لګوه ، فضول خرچي داده چې په ګناهونو او عبشياتو کی مال خرچ کړی شي اويايه مباح کار کی دومره زيات بی فکر سره خرڅ کړی شي چې دحق تلفي اودحرامو دارتکاب سبب وګرځي .

(فوائد عثماني از مفسر قرآن علامه شبير احمد عثماني پ۱۵)

(۳) (واعبدوا الله ولاتشركوا به شيئاً وبالوالدين احساناً وبذى القربى واليتمى والمسكين والجار ذى القربى والجارالجنب والصاحب بالجنب وابن السبيل وماملكت ايمانكم ان الله لايحب من كان مختالاً فخوراً)(سورت نساء ۳٦)

ترجمه : او ناسو دالله تعالی عبادت وکړی او هيڅ يو شئ ورسره شريک مه جوړوئ او دمور پلار سره نيکي کوي او خپلوانوسره هم او لری ګاونډي سره هم او نزدی ګاونډي سرد هم اودخپلوغلامانو سره هم ، بيشکه الله تعالی تکبر او فخر کوونکی سره محبت نه کوي.

(۳) (فأت ذا القربى حقه والمسكين وابن السبيل ذلك خير للذين يريدون وجه الله واولئك هم المفلحون) (سورت روم ۳۸)

ترجمه : نو خپلوانو ته هم حق ورکړه او محتاج اومسافر ته هم داهغه چالپاره بهتر دی چی دالله رضا غواړي او دغسې خلک کامیابیدونکی دی.

(۴) (یسئلونك ماذا ینفقون قل ما انفقتم من خیر فللوالدین والا قربین والیتمی والمسکین وابن السبیل وماتفعلوا من خیر فان الله به علیم)(سورت بقره ۲۱۵)

ترجمه : خلک دتانه تپوس کوي چی څه شئ خرچ کړی ؟ ته ورتهووایه کوم مال چی تاسو لګوئ نو دادمور پلار حق دی او دخپلوانو، او یتیمانو او محتاجانو او دمسافرانو حق دی او کوم نیکي چی کوي الله تعالی پرې خبردار دی (یعنی هغه بدی باندی ثواب ورکوي.)

(۵)(ان الله یأمربالعدل والإحسان وایتاء ذی القربی وینهی عن الفحشاء والمنکروالبغی یعظکم لعلکم تذکرون) سورت نحل ۸۹.

ترجمه : بیشکه الله تعالی په عدل او احسان او خپلوانو ته دورکړی حکم کوي او دبی حیائي اوناروا او ظلم نه منع کوي او الله تعالی درته دی لپاره نصیحت کوي چی تاسو نصیحت قبول کړی.

په فوائد عثماني کی لیکي : د خپلوانو حق د نورو نه زیات دی ، کوم تعلقات چی قدرت په خپلوی کی مقرر کړی دي دا باید د خیال نه ونه غورځول شي بلکی د خپلوانو سره د نورو خلکو نه زیات همدردي او نیکي پکار ده ، بلکی صله رحمي یوه جدا او مستقله نیکي ده ، کوم چی خپلوانو سره درجه په درجه استعمالول پکار ده (فوائد عثماني پ ۱۴ سورت نحل) .

په احادیثو کی هم د دی زیات تاکید راغلی دی

(۱) "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم .... ان صلة الرحم محبة فی الاهل مثراة فی المال منساة فی الاثر" (رواه الترمذی ، مشکواة ص ٤٢٠ باب البر والصلة ، ترمذی ج ۲ ص ۱۹ باب ما جاء فی تعلیم النسب) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : خپلوانو سره نبه سلوک کول په کورنی کی محبت او په مال کی برکت او په مرګ کی د وروسته کیدو سبب دی .

(۲) "عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من احب ان یبسط له فی رزقه وینسأ له فی اثره فلیصل رحمه" (متفق علیه ، مشکواة ص ۴۱۹ باب البر والصلة) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : څوک چې پخپل رزق او عمر کې برکت او زیاتوالی غواړي هغه دی خپلوانو سره صله رحمي او نیک سلوک وکړي .

(۳) "عن عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول قال الله تعالی انا الله وانا الرحمن خلقت الرحم وشققت لها من اسمی فمن وصلها وصلته ومن قطع بتته" (ترمذی ج ۲ ص ۱۳ باب ما جاء فی قطیعة الرحم ، مشکواة ص ۴۲۰ باب البر والصلة) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : الله تعالی فرمائي چې زه الله یم او زه رحمن یم رشته او خپلولي ما پیدا کړی او د خپل نوم څخه می ورکړی نو څوک چې رشته وپالي نو هغه ځانته رانزدی کوم او څوک چې رشته قطع کړي زه هغه د خپل رحمت نه جدا کوم .

(۴) "عن جبیر بن مطعم رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایدخل الجنة قاطع" (متفق علیه ، مشکواة ص ۴۱۹ باب البر والصلة)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : خپلولي قطع کونکی به جنت ته نشي داخلیدی .

(۵) "عن عبد الله بن ابی اوفی قال رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لاتنزل الرحمة علی قوم قاطع رحم (ای یساعدونه ولاینکرون علیه)" (رواه البیهقی فی شعب الایمان ، مشکواة ص ۴۲۰ باب البر والصلة) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : په کوم قوم کی چې خپلولي قطع کونکی وي (او قوم د هغه مرسته کوي او نه یی منع کوي) په هغه قوم باندی د الله رحمت نه نازلیږي

(٦) "عن ابی بکرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مامن ذنب اخری ان یعجل الله لصاحبه العقوبة فی الدنیا مع ما یدخر له فی الآخرة من البغی وقطیعة الرحم" (رواه الترمذی و ابوداؤد ، مشکوٰة ص ٤٢٠ باب البر والصلة) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : د ظلم او د خپلولی قطع کولو نه علاوه بله ګناه داسی نشته چی د هغی کونکي ته په دنیا کی هم زر عذاب ورکولی شي او په آخرت کی ورته هم عذاب ذخیره کولی شي .

(۷) "روی البیهقی عن عائشة رضی الله عنها .... فقال هذه اللیلة لیلة النصف من شعبان ولله فیها عتقاء من النار بعدد شعر غنم کلب لاینظر الله فیها الی مشرك ولا الی مشاحن ولا الی قاطع رحم ولا الی مسبل ازار ولا الی عاق والدیه ولا الی مد من خمر" (بحواله ا لجواهر الزواهر مترجم ج ۱ ص ٥٨٠ ، ماثبت بالسنة ص ۲۰۲ ، فضائل الایام والشهور ص ۷۵) .

بیهقي د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت کوي چی .... رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي ماته جبریل علیه السلام راغی او راته وویل چی نن د برات شپه ده او پدی شپه کی د بنو کلب د بیزو د وړیو په مقدار الله تعالی دوزخیان له دوزخ نه آزادوي مګر مشرک ، کینه کونکی ، خپلوي قطع کونکی ، د ګیټو نه لاندی پښی ساتونکی ، د مور پلار نافرماني کونکی او عادتي شراب خور دوی ته د رحمت په نظر نه ګوري .

دلته باید دی خبری ته خیال وشي چی د صله رحمي په بدل صله رحمي کول دا کامل صله رحمي ندی دا خو بدله ده ، حقیقي او کامل خپلولي پالل دا دي چی خپلوي قطع کونکي سره هم خپلوي وپالل شي ، په حدیث کی راځي :

(۸) "عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لیس الواصل بالمکافی ولکن الواصل الذی اذا قطعت رحمها وصلها" (رواه

البخاری ، مشکواة ص ۴۱۹ ، تفسیر هدایت القرآن ص ۱۰۳ سورت رعد)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې کامل صله رحمي کونکی هغه ندی چې د احسان په بدله کی احسان کوي بلکی کامله صله رحمي دا ده چې هغه سره خپلولي قطع کړی شي هغه بیا هم صله رحمي وکړي .

(۹) "صل من قطعك واحسن الی من اساء الیك وقل الحق ولو علی نفسك" (جامع الصغیر للسیوطی ج ۲ ص ۲۷ حرف الصاد) .

یعنی څوک چې درسره خپلوي قطع کوي هغه سره صله رحمي کوه او څوک چې درسره بد کوي ته ورسره ښه کوه او رشتیا وایه اګر که ستا په خلاف وي .

(۱۰) "عن ابی هریرة رضی الله ان رجلاً قال یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) ان لی قرابة اصلهم ویقطعون واحسن الیهم ویسیئون الیّ واحلم عنهم ویجهلون علی فقال لئن کنت کما قلت فکانما تسفهم الملّ ولایزال معك من الله ظهیرا مادمت علی ذلك" رواه مسلم (مشکواة شریف ص ۴۱۹ باب البر والصلة) .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل زما خپلوان دي چې زه ورسره صله رحمي کوم او هغوی خپلولي قطع کوي او زه ورسره نیکي کوم هغوی راسره بد کوي زه هغوی سره د حلم او صبر نه کار اخلم او هغوی راسره جهالت کوي رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل که حقیقت همدغسی وي لکه چې وایی نو ګویا چې ته ورته په خوله ګرمی شګی اچوی ، او څو پوری چې ته پدی حالت باندی یی له تاسره به د الله له طرفه فرشته مددګار وي .

(۱۱) "عن سعید بن العاص رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم حق کبیر الاخوة علی صغیرهم حق الوالد علی ولده" (مشکواة شریف ص ۴۲۱ باب البر والصلة) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : د مشرانو وروڼو حق په کشرانو باندی داسی دی لکه د پلار حق په خپلو اولادونو باندی .
الحمد لله څلويښت (۴۰) حديثونه هم جمع شو ، په قرآني ايتونو او نبوي صلی الله عليه وسلم احاديثو کی بايد ښه غور او فکر وکړئ او پخپله هم د عمل کوشش وشي او نورو ته هم د عمل کولو ترغيب ورکړی شي ، الله تعالی دی ټولو ته دعمل کولو توفيق نصيب کړي آمين ، والله اعلم .

د عذاب الهي اسباب او علاج يې :

(۷۸ سوال) پدی باره کی د دين علماء څه فرمائي چی نن صبا مسلمان پريشان دی او رنګا رنګ مشکلات او مصيبتونه ورباندی راځي د فسادونو سلسله جاري ده ، د دی صحيح وجه څه کيدی شي او علاج يې څه دی ؟ څمونږه راهنمائي وکړئ ، جزاکم الله .

ځواب : د دی صحيح وجه څمونږه بدعملي ، بدعقيدګي ، د ګناهونو زيادت ، بزدلي ، د دنيا محبت ، له اسلامي قانون او سنت رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روګرداني او د خود ساخته رسوماتو او رواجونو پابندي ، او دنيوي کمزوري ، ظاهري او باطني کوتاهي ، د حقوق الله او د حقوق العبادت پايمالي کيدی شي ، د الله تعالی ارشاد دی: "وماصابکم من مصيبة فبما کسبت ايديکم ويعفوا عن کثير" (سورت شوری) ترجمه : او تاسو ته چی کوم مصيبت رسي دا ستاسو د کړي بد عملونو نتيجه ده او له ډيرو ګناهونو څخه خو الله تعالی معافي کوي ، او بل ځای پوره وضاحت سره فرمائي : "ظهر الفساد فی البر والبحر بما کسبت ايدی الناس ليذيقهم بعض الذی عملوا لعلهم يرجعون" (سورت روم) .
ترجمه : په وچه او لمده کی د خلکو د ګناهونو په وجه فساد خوريږي خو چی الله تعالی دوی ته د بعضی عملونو مزه وڅکوي تر څو چی منع شي .

د بعضې ګناهونو خاص اثرات

هسی خو عام طور سره ګناه د الله تعالی د خفګان او د مصيبتونو او مشکلاتو سبب ګرځي مګر د بعضې ګناهونو خاص اثرات او نتائج ښکاره کيږي او خاص مصيبتونه پری نازليږي ؟ په جزاء الاعمال کی دي : (۳) په ناحقه فيصله کولو او لوط ماتولو

سره دشمن غالب کولی شي (۴) په ناپ تول کی کمی کولو سره قحطي ، تنګي او د حاکمانو په ظلم سره مبتلا کولی شي (۵) په خیانت کولو سره د دشمن رعب او ویره اچول کیږي (٦) دنیا سره محبت او مرګ نه نفرت کولو سره بزدلي پیدا کیږي او د دشمن د زړه نه ویره ختمیږي .

د حضرت ثوبان رضی الله عنه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي یوه زمانه داسی راتلونکی ده چی کافران به یو بل لره په مسلمانانو حمله کولو لپاره داسی رابلي لکه چی دسترخوان باندی خوراک لپاره یو بل رابلي ، چا عرض وکړ یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) پدی وخت کی به خمونږ تعداد کم وي ؟ وی فرمایل : نه بلکی پدی وخت کی به تاسو زیات يئ خو لیکن تاسو به د اوبو په سر د خس او خاشاک پشان يئ ددشمن له زړونو څخه به ستاسو رعب ختم شي او ستاسو په زړونو کی به سستي پیدا شي یو صحابي عرض وکړ حضور (صلی الله علیه وسلم) سستي څه شی ده ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د دنیا محبت او د مرګ نه نفرت کول (مشکواة ص ٤٥٩ باب تغیر الناس ، ابوداؤد ج ۲ ص ۲٤۲)

د دشمن په زړه کی رعب او ویره پیدا کیدل د الله تعالی لوی انعام دی ، په شریعت او سنتو باندی عمل کولو . روحاني او ظاهري قوت نه دغه صفت پیدا کیږي ، په حدیث کی راځي : "من حفظ سنتی اکرمه الله باربع خصال المحبة فی قلوب البررة والهیبة فی قلوب الفجرة والسعة فی الرزق والثقة فی الدین" یعنی چا چی زما د سنتو حفاظت وکړ نو الله تعالی به په څلورو صفاتو سره د هغه اکرام وکړي (۱) د نیکانو په زړونو کی به د ده محبت پیدا شي (۲) فاجر او بدانو زړونو کی د ده هیبت او رعب واچوي (۳) رزق به ورته فراخه کړي (۴) او دین کی به ورته اعتماد او پختګي نصیب کړي (شرح شرعة الاسلام ص ۸ سید علی زاده)

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په پریښودو سره عام عذاب :

قرآن مجید کی دي : "واتقوا فتنة لاتصيبن الذين ظلموا منكم خاصةً" (سورت انفال) ترجمه : تاسو د داسی عذاب نه ځان وساتئ چی یواځی گناهگارانو ته به نه رسي .

په تفسیر معارف القرآن کی لیکي : حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي : الله تعالی مسلمانانو ته د دی حکم ورکړی چی خپل ماحول او شاوخوا کی خلک گناه لره پری نږدي ولی که چیرته داسی وکړي یعنی جرم او گناه ووینې او باوجود له قدرت نه هغه منع نه کړي نو الله تعالی به په دوی ټولو باندی عام عذاب رالیږي چی بیا به ورنه نه گنهگار بچ شي او نه بی گناه .... امام بغوي په شرح السنة او معالِم کی د عبد الله بن مسعود رضی الله عنهٗ او عائشه رضی الله عنها روایت نقل کړی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : الله تعالی تر هغی پوری دخاص خلکو عذاب په عام خلکو باندی نه لیږي څو پوری چی هغوی خپل شاوخوا کی گناه ووینې او د قدرت باوجود هم هغه منع نه کړي نو پدی وخت کی د الله تعالی عذاب په دوی ټولو باندی راځي .

اوپه ترمذي ، ابو داود وغیره کی په صحیح سند سره نقل دی [1] چی حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه په یوه خطبه کی وفرمایل : مادرسول الله دا ارشاد اوریدلې دی چی کله خلک ظلم وگوري او دظلم نه یې منع نه کړي نو نزدی ده چی پدی ټولو باندی الله تعالی خپل عام عذاب ولیږي. (معارف القران ۴/ ۲۱۲)

په مشکوات شریف کی دي : "عن حذيفة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال والذی نفسی بیده لتأمرون بالمعروف والتنهون عن المنكر اوليوشكن الله ان يبعث عليكم عذاباً من عنده ثم لتدعنه ولا يستجاب

---

[1] عن ابی بكر الصديق انه قال يايهاالناس انكم تقرؤن هذه الاية: يايهاالذين امنوا عليكم انفسكم لايضركم من ضل اذا اهتديتم ، وانی سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم فيقول : ان الناس اذا رأوا الظالم فلم يأخذوا علی يديه اوشك ان يعمهم الله بعقاب منه ، (ابواب الفتن باب ماجاء فی نزول العذاب اذا لم يغير المنكر ۲/)

لکم"(رواه الترمذي ،مشکواة ص٤٣٦ باب الأمر بالمعروف فصل۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : په هغه ذات می دی قسم وي چی دهغه په قبضه کی زما روح دی تاسو به خامخا دنیکي امر کوئ اوله بدي څخه به منع کوي او که نه نزدی ده چی الله تعالی درباندی خپل عذاب نازل کړي بیا به تاسو دعاکوئ خو ستاسو دعابه نه قبلیږي .

په فتاوی رحیمیه کی دي چی دعائشه صدیقه رضی الله عنها نه چا دزلزلی په باره کی تپوس وکړ نو وی فرمایل : زنا ، شراب، رقص او سرور چی دحلکو عادت جوړ شي نو دالله تعالی غیرت هم په جوش راځي، که چېرته معمولي خبرداري باندی توبه وکړی نو ښه او که نه عمارتونه به ونړیږي او عالي شان محلونه به دخاورو سره خاورې شي . (فتاوی رحیمیه ۱۰/ ۲۳۴)

مونږ چی پخپل ژوندی ، کور او دمسلمانانو په معاشره باندی نظر واچوو نو دغه ټول ګناهونه او بدي به راته ښکاره شي ، دلمونځو نو اهتمام نشته ، که سړی لمونځ وکړي نو ښځې عام طور لمونځ نه کوي، داسلامي شعائرو هیڅ قدراو عزت نشته ، قسما قسم ګناهونه په مونږ کی شته دي دښځوبی حیایي او بی پردګي خپل انتهاء ته رسیدلی ، داګناهونه لاخه کم و چی دپاسه پرې لا تپي وي ، وی سی آر غوندی دحیا او ایمان څخه خلاصوونکي ګناهونو ارتکاب په فخر سره کولی شي الله تعالی دی مونږ ورنه وساتي او حال داچی ګانی سندرې او سرور باندی سخت وعیدونه بیان شویدي ، په یو حدیث کې راځي : "عن عمران بن حصین ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : فی هذه الأمة خسف ومسخ وقذف فقال رجل من المسلمین یارسول الله ومتی ذلك قال : اذا اظهرت القینات والمعازف وشربت الخمور" رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایي : پدی امت کی به هم په زمکه کی ننوتل ، شکلونه مسخ کیدل او کاڼي وریدلو واقعات راځي، دمسلمانانو یو کس تپوس وکړ یارسول الله صلی الله علیه وسلم دابه کله وي ؟ رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل: کله چی سندر غاړي ښځې او دباجو رواج عام شي او په کثرت سره شراب وڅښکل شي ، (ترمذي ابواب الفتن باب ماجاء فی اشراط الساعه ۲/ ۴۴)

په مسند ابن ابی الدنیا کی روایت دی رسول الله ارشاد فرمایلې : په آخره زمانه کی به ددی امت څخه هم یو قوم شادوګان او خنزیران جوړشي ، صحابه کرامو

عرض وکړ یارسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) ایا هغوی به دلا اله الا الله محمد رسول الله ، نه مني؟ وی فرمیال ولی نه بیا صحابه کرامو عرض وکړ چی ددی سزا بیا څه وجه ده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : باجه غږول او دسندرو ویلو عادت به اختیاروي.(بحواله فتاوی رحیمیه ۲/ ۹۵)

کوم شاعر زمونږ دزمانې دحالاتو ډیره ښکلې نقشه جوړه کړیده یو څو شعرونه یې دادي:

خبـــــر حـدیثون مین جس کی آي
وهـــی زمـــانه اب آرهـــا هے
زمیـــن بهـــي تیور بدل رهي هے
فلـــک بهـــي آنکهین دکهارهاهے
پـــرائے مـــال کـو اپنا سمـجهین
حـــرام کـوبهـــي حلال سمجـــهین
گنــــاه کریـــن اور کمال سمجهین
بتـــاو دنیـــامیـــن کیـــارهاهے
بهـــائی کـــا بهـائی رهیگا رهزن
حــقیقي بیټـــي هے مان کی دشمن
پســـر نے چهوړا پـــدر کـا دامن
بهـــن کـــو بهـــائی ستارهاهے
هـــاته بـــاندهے کهړے هین صف مین
ســب اپنے اپنے خیـال میـــن هین
امـــام مـســجـــدسے کـوئی پوچهے
نمـــاز کـــس کو پـــړهـــارهاهے

ترجمه : یعني په حدیثونو کی چی دکوم شي خبر ورکړې شوی و هغه زمانه اوس راغلی ده ځمکه هم خپله څهره بدله کړیده او آسمان هم سترګې راوباسي .

پردی مال خپل ګڼي او حراموته حلال وایي : او ګناه ته کمال وایـي نـو تـه وښایه چی دنیا څه پاتی شو،دورور لاره خپل ورور وهي او سکه لور هم دمور دشمن ده او خوی دپلار په لاره نه ځي او ورور خپله خور زوروي، ټول به په یوصف کی ولاړوي

خو هرڅوک به پخپل خیال او فکر وي ، کله څوک دجومات امام نه تپوس وکړي چې دالمونځ ځاته ورکوي؟

دالله جل جلاله نافرماني اودرسول الله صلی‌الله علیه وسلم دراوړی شریعت نه اعراض او مخ اړول ډیر زیات خطرناک او دقهر الهي سبب دی ، تیر شوی امتونو ته دنافرماني په وجه الله تعالی مختلف عذابونه ورکړي دي ، دقران مجید یوځای کی ارشاد دی:

(فکلاً اخذنا بذنبه فمنهم من ارسلنا علیه حاصباً ومنهم من اخذته الصیحة و منهم من خسفنابه الارض ومنهم من اغرقنا وماکان الله لیظلمهم ولکن کانوا انفسهم یظلمون) سورت عنکبوت ٤٠.

ترجمه: نو داهریو مو پخپله ګناه سره ونیول نو په بعضو باندی مو تنده هوا ولیږله او بعضي په سخته چیغه سره هلاک کړی شول او بعضي مو په ځمکه ننویستل او بعضي موپه اوبو کی غرق کړل ، الله تعالی په دوی ظلم نه کولو بلکی دوی پخپل ځان باندی ظلم کولو.

پدی آیت کریمه کی مومنانو لپاره ډیر لوی عبرت او سبق دی : دالله تعالی په نافرماني او سرکشي باندی دغو قومونو سره دغه معامله وکړی شوه ، نو که چېرته مونږ غواړو چی دالله تعالی دعذاب نه محفوظ پاتی شو نو دی لپاره ضروري دی چی مونږ دالله تعالی کامله تابعداري وکړو او دشریعت مطابق خپله ژوندګي تیر کړو.

مسلمانان پدی حالاتو کی څه وکړي؟

(۱) دټولو مصیبتونو او پریشانیو او دهرقسم امتونو اصلي علاج او چاره داده چی الله جل شانه طرف ته رجوع وکړی شي ، په صداقت سره دمخکني ګناهونو څخه توبه او په آینده کی دنه کولو پوخ عزم او اراده وکړی شي ، اویواځی الله تعالی ته دمشکلاتو دحل کولو او مصیبتونو دلرې کولو دعاګانې وکړی شي . دپنځه وخته لمونځونو اهتمام وکړئ. او هر سړی دی داکوشش وکړي چی دده په کور کی یو کس هم بیلمازه پاتی نشي ، سړی دی په جوماتو کی دباجماعت اهتمام وکړي او ښځې په کورو کی پوره اهتمام سره لمونځونه اداکړي، او ماشومانو ته هم دلمونځونو تاکید وکړی شي ، دالله تعالی ارشاد دی :

(یا ایها الذین امنوا استعینوا بالصبر والصلواة ان الله مع الصابرین) سورت بقره .

ترجمه : ای مومنانو په صبر او لمانځه سره دالله تعالی مرسته او مدد حاصل کړئ ، یقیناً الله تعالی دصبر کوونکو ملګرې دی .

حضرت پیران پیر شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله فرمایي : (انتم فی غفلة کاملة عن الحق سبحانه وتعالی علیکم بالیقظة له علیکم بلزوم للمساجد وکثرة الصلواة علی النبی صلی الله علیه وسلم فانه قال علیه الصلاة والسلام لو نزل من السماء نار لما نجا منها الا اهل المساجد ، اذا توانیتم فی الصلاة انقطعت صلاتکم بالحق عزوجل ولهذا قال النبی صلی الله علیه وسلم اقرب مایکون العبدمن ربه اذا کان ساجداً)(الفتح الرباني ص۱۸ مجلس ۲ .)

ترجمه : تاسو دالله تعالی نه په پوره غفلت کی یې تاسو لره بیداریدل پکار دي لپاره جوماتو سره لازم شي اوپه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی په کثرت سره درود ووایئ ځکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي که چېرته دآسمان نه اور راشي نو لدینه به غیر دجومات والاو نه بل څوک بچ نشي ، کله چی تاسو په لمانځه کی سستي وکړي نو دالله تعالی سره به مو تعلقات قطع شي او پدی وجه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي ، الله تعالی سره دبنده زیات نزدیکت هغه وخت کی حاصلیږي چی کله دی په سجده باندی پروت وي ،لهذا ددی خبری باید زیات اهتمام وشي چی دخپل کور ، محله او کلي کی صدفی صد خلک دلمونځ اهتمام او پابندي وکړي.

(۲) داستغفار اودګناهونو دتوبه کولو خصوصي اهتمام وشي ، داستغفار په باره کی قران مجید کی ارشاد دی : (وماکان الله معذبهم وهم یستغفرون) سورت انفال .

ترجمه : او الله تعالی دوی ته عذاب نه ورکوي پداسې حال کی چی دوی استغفار هم کوي. په درس قران کی ددی آیت په تفسیر کی لیکي : مفسرینودلته لیکلي دي : کله چی په دنیا کی دکافر استغفار دعذاب دنزول مانع ګرځي نو دمسلمان توبه او استغفار خوپه طریقه اولی سره دعذاب نازلیدو نه مانع ګرځي . په ترمذي شریف کي

دابو موسی اشعري رضی الله عنه روايت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمايي : الله تعالی زما دامت لپاره دوه دامن شيان نازل کړي دي يو زما وجود او دويم استغفار او کله چی زه له دوی څخه لاړشم او استغفار ورته ترقيامته پورې پريدم يعنې ترقيامته پورې استغفار سره به خلک دالله دعذاب نه بچ کيږي په يوبل حديث کی راځي. رسول الله فرمايي : شيطان وويل يا الله ستا په عزت می دی قسم وي چی خوپورې ستادبندګانو په بدنو کی روحونه وي زه به دوی ګمراه کوم ، نو الله تعالی وفرمايل : زما دی پخپل عزت باندی قسم وي خوپورې چی دوی استغفار کوي زه به يې معاف کوم . د(وماکان الله معذبهم وهم يستغفرون) يو مطلب دابيان شويدی چی په مکه مکرمه کی بعضی داسې کمزوري مسلمانان هم وو چی دمکې نه يې هجرت نشو کولې پدی وجه دمجبورئ نه مکه مکرمه کی پاتې وو او هغوی به استغفار کولو دهغوپه خاطر اودهغوی داستغفار په وجه مکی والاو باندی عام عذاب نازل نکړی شو ، لدينه معلومه شوه چی په کوم کلي کی خلک استغفار کوي ا لله تعالی په هغه کلي باندی عام عذاب نه نازلوي . (درس قران ۴/ ۵۰۷، ۵۰۸ سورت انفال)

(۳) چاته چی الله تعالی مال ورکړيدی هغوی دی دخپل مال پوره پوره زکات په اهتمام سره ورکوي اولدينه علاوه صدقه او خيرات کول هم دمصيبتونو او مشکلاتو بهترين علاج دی الله جل شانه چی کوم حال درکړيدی دادالله تعالی نعمت وګڼه او په ګناهونو او فضول کارو کی دلګولو نه ډير زيات پرهيزوکړه ،دغريبانانو امداد اوپه ديني کارو کی نبه په اخلاص سره لګوه ، عام طور مسلمانان په فضول خرچي کی اخته دي او حال داچی فضول خرچي کوونکو ته دشيطان وروڼه ويل شويدي په قران مجيد کی فرمايي : (ان المبذرين کانوا خوان الشياطين) سورت بنی اسرائيل .

يعنی يقيناً بی ځايه مال لګونکی دشيطانانو وروڼه دي .

(۴) په کور کی دقران پاک تلاوت ، دالله تعالی ذکر ، ژړا او زاري سره دعاګانو اهتمام او ددرود شريف زياتوالی وکړی شي او مسنون دعاګانې ياد کړی شي ، انفرادي طور سره هم ددعاګانو اهتماد وشي او اجتماعي طور سره هم ، په کور کی

دبنځو او مانوماتو سره یو ځای دعاګانې وشي . اود(لا اله الا انت سبحانک انی کنت من الظلمین) ایت کریمه په کثریت سره وظیفه کړی شي.

(۵) دګناهونو څخه دبچ کیدو ډیر زیات اهتمام وشي ، دخپل کور نه ګډا اوسندرې (ټي وي او وي سي آر) بالکل ختم کړی شي ، دزنا او اسبابونه یې اجتناب وشي ، او ښځې بی پردګي بالکل ختم کړي. شراب او څومره چی دنشې څیزونه دي دی ټولو نه ځان وساتل شي . په خپل محله او قریه کی ددغو فسادونو دختمولو نه سترې کیدونکی کوشش وشي ، دځو نورو ګناهونو نشاندهي کولی شي چی ددینه هم پرهیز وکړی شي ، لکه د یتیمانو مال خوړل څنګه چی ډیرې ښځې دخاوند دوفات کیدونه وروسته په تمام مال او جایداد باندی قبضه کولو سره دماشومانو مال الوزوي، جینکو ته میراث نه ورکول ظلم کول ، غیبت کول ، وعده نه پوره کول ، دروغ ویل او خاصکر په دروغو قسم خوړل . په امانت کی خیانت کول ، دالله تعالی فریضه لکه لمونځ ، روژه ، زکات او حج پریښودل ، غلاکول ، سود خوړل او ورکول ، اوس ود باندی ګواه جوړیدل ، دضرورت باوجود نصیحت نه کول په چا تهمت او بهتان لګول ، تکبر او لوبي کول ، فخر کول ، قمار (جواري) کول (دلاټري ټکټ اخستل هم په جواري کی شامل دی) رشوت اخستل ، ددین پیشوایانو توهین او بی احترامي کول اوداسې نور.

(٦) دخپل اولاد باید ددیني اوتربیت اهتمام وشي ، اسلامي عقائد، دیني فرائض او اسلامي اخلاقو نه دوی خبردار کړی شي او داخپل داسې اسلامي او اخلاقي فریضه وګڼل شي لکه چی دبچو (خوراک څښاک ، لباس او دبیماري علاج خپله فریضه او ذمه واري ګڼي او انتظام یې کوي، داولادونو ددیني تعلیم او تربیې نه غفلت کول دډیرو خطرناکو نتیجو سبب ګرځي ، الله تعالی واضح ارشاد فرمایي :) (یایها الذین امنوا قوا انفسکم واهلیکم نارا) سوره تحریم .

ای ایمان والاو خپل ځان او کورنی لره ددوزخ د اورنه بچ کړئ، او په حیدث کی دي : "کلکم راع وکلکم مسئول عن رعیته"یعنی ستاسو هریو دخپل ماتحتو لپاره سرپرست او ذمه وار دی اودخپلوماتحتو په باره کی به ورنه تپوس کیږي ،لهذا په هره محله قریه او کور کی دماشومانو ددیني تعلیم انتظام پکار دی .

(۷) خپل منځي اختلافات او لانجې په ختمولو سره باید اتحاد او اتفاق پیداکړي ، ځکه چې دخپل منځي اختلافاتو څخه ډیر لوی لوی دیني او دنیوي نقصانات پیداکیږي ، دالله تعالی ارشاد دی : (واطیعوا الله ورسوله ولا تنازعوا فتفشلوا وتذهب ریحکم واصبروا ان الله مع الصابرین) سوره انفال ۴۲ آیت .

ترجمه : دالله او دده درسول الله صلی‌الله علیه وسلم تابعداري وکړئ او اختلاف مه کوئ او که نه بې همته به شئ او قوت به مو ختم شي ، او صبر کوئ بیشکه الله تعالی دصابرانو ملګرې دی ، اوبل ځای فرمایي : (واعتصموابحبل الله جمیعاً ولاتفرقوا) سورت ال عمران. ترجمه : ټول دالله تعالی رسی مضبوطه ونیسي او بې اتفاقي مه کوئ .

(۸) خپلې ټولې معاملې په علماء کرامو باندې کوئ او علماء کرام چې درته کوم هدایات وکړي دهغو مطابق عمل کوئ .

حضرت پیران پیر شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمائي : "اذا حضرتم عند العلماء ولم نقبلوا مایقولون لکم کان حضورکم عندهم حجة علیکم ، یکون علیکم اثم ذلك کما لقیتم الرسول صلی الله علیه وسلم ولم تقبلوا منه" (الفتح الربانی ص ۴۱ ، ۴۲ م ۵) .

ترجمه : یعنی کله چې تاسو علماؤ خوا ته ورشئ او بیا دهغوی په خبرو عمل ونه کړئ ستاسو ورتلل به په تاسو باندې حجت جوړیږي د دې ګناه په تاسو داسې وي لکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملاقات وکړئ او بیا یې خبره ونه منئ .

د علماؤ سره تعلق نه ساتلو او بیا د دوی په هدایاتو باندې عمل نه کولو په باره کې په حدیث کې سخت وعید ذکر شوی : "سیأتی زمان علی امتی یفرون العلماء والفقهاء فینبلیهم الله بثلاث بلیات او لها یرفع البرکة من کسبهم والثانیة یسلط الله علیهم سلطاناً ظالماً والثالث یخرجون من الدنیا بغیر ایمان" (کذا فی مکاشفة الاسرار) .

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : زما په امت باندې به ډیر زر داسې زمانه راشي چې خلک به د علماؤ او فقهاؤ نه تښتي او الله تعالی به په هغوی درې

بلاګانې راولي (۱) د دوی د مال نه به برکت ختم شي (۲) الله تعالی به پری ظالِم بادشاه مقرر کړي (۳) داسی خلک به له دنیا څخه بی ایمانه لاړ شي (درة الناصحین ج ۱ ص ۲۹ ، ۳۰).

په یو بل حدیث کی دي حضرت علي رضی الله عنه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوي او فرمائي : کله چی څما امت خپلو علماؤ سره بغض شروع کړي او د بازارونو عمارتونه اوچتول شروع کړي او مال و دولت سره نکاح کول شروع کړي (یعنی په نکاح کی د دینداری او تقوی په ځای باندی مالداري ته وګوري) نو الله تعالی به هغوی باندی څلور قسم عذاب مسلط کوي (۱) قحط سالي به کیږي (۲) د بادشاه له طرفه به ظلمونه کیږي (۳) حاکمان به خیانت کوي (۴) دشمن به پی درپی حملې کوي (حاکم) نن صبا پدیکی کوم یو عذاب دی چی په امت باندی نه دی مسلط شوی لیکن دوی پخپله خوبنه د دی اسباب اختیار کړی دي نو بیا شکایت ولی کوي ؟ (الاعتدال نمبر ۱۵۳).

لهذا مسلمانانو ته پکار دي چی د زړه نه د علماؤ عزت وکړي د دوی له صحبت او مجلس نه فیض حاصل کړي او د دوی په شان کی څوک د بی ادبي او ګستاخي کوم کلمه استعمال نه کړی او که چا وکړه نو پدی خپل ګناه باندی د الله نه معافي وغواړي او استغفار وکړي له یوی زمانی څخه پدی معامله کی ډیره کوتاهي او د علماؤ نه بی اعتنائي کیږي ، امام خطابي رحمه الله د خپلی زمانی حال بیانوي :

"وقد قال ابوسلیمان الخطابی : دع الراغبین فی صحبتك والتعلم منك فلیس لك منهم صدیق ولارفیق ، اخوان العلانیة واعداء السر ، اذا لقوك مـــدحوك واذا غبت عنهم اغتابوك ، من اتاك منهم کان علیك رقیباً ، واذا خرج من عنـــدك کان علیك خطیباً فلاتغتر باجتماعهم لدیك وتملقهم بین یدیك فما غرضهم ان یتخذوك سلماً الی اوطارهم حمارا فی حاجاتهم وان قصـــرت فی غـــرض مـــن اغراضهم یکون اشد اعدائك ویعدون ترددهم الیك .... علیك او یرونه واجباً لدیك ویعرضون علیك ان تبدل لهم غرضك و دینك وتکون لهم تابعـــاً خسیساًبعد ان کنت متبرعاً رئیساً" (مجالس الابرار ص ۵۰۸ مجلس نمبر ۸۷) .

ترجمه : ابو سلیمان خطابي فرمائي : ستا د صحبت او د شاګردی مینان پریده ځکه چی دا ستا دوستان ندي په ظاهر کی ورونه او په پټه دشمنان دي کله چی تاسره بوځای شي نو صفت دی کوي او کله چی ترینه جدا شی نو بیا دی غیبت کوي او که کوم یو د دوی تا ته درشي نو ستا نګهبان وي او چی کله ورنه لاړ شی بیا درپسی خبری کوي ،لهذا خپل خوا کی د دوی جمع کیدل او ستا د خوشامد کولو نه دوکه نشی ، ځکه چی د دوی مطلب علم ندی بلکی مطلب یی دا دی چی د خپلو حاجتونو لپاره تا زینه او پوړی او خپلو مقصدونو لپاره خر او سورلی جوړ کړي ، او که تا د دوی په مقصد کی لږ غوندی کوتاهي وکړ نو بیا به ستا سخت دشمن وي ، او دوی خپل ځان ته راتګ تا باندی احسان ګڼي او دا په تا باندی یو واجب حق ګڼي ، او دا خواهش لري چی خپل آبرو او دین په دوی باندی قربان کړي او د دوی یو ادنی غلام جوړ شي وروسته د هغه نه چی ته په حقیقت کی حاکم او سردار وي .
لهذا د علماؤ قدر وپیژنئ او د دوی صحبت غنیمت وګڼئ او د فیض حاصلولو په نیت باندی ورته حاضریږئ او داسی کومه خبره ونه کړئ چی دوی ته تکلیف ورسي او د دوی د بدناسولو او آزارلو خو په زړه کی هم خیال مه کوئ دا ډیر خطرناک دی ، په حدیث قدسي کی دي : "من اذی لی ولیاً فقد آذنته بالحرب" الله تعالی فرمائي : څوک چی زما کوم دوست آزار کړي هغه سره می د جنګ اعلان دی .
(۹) د ورورولی فضا او ماحول پیدا کولو کوشش وکړي ، د انسانیت د حقوقو داحترام په بنیاد دیته وده ورکړئ ، او نورو قومونو سره باید د اسلامي اخلاقو مظاهره وکړی شي ، او د هر داسی کار نه ځان وساتلی شي چی فتنه ورنه پیدا کیږي ، د جنګ جګړو نه باید لری ووسئ ، که څوک ورسره ناحق جنګ کوي نو اول خو یی پوهه کړي که نه کیده او خامخا یی جنګ کولو او دل نخواسته ورسره مقابله کول راشي نو بیا د بزدلی مظاهره مه کوئ بلکی جرائت او بهادرئ سره مقابله کوي نیکن د دی اصولو پابندي وکړئ :
(۱) بوډاګانو ته څه مه وایئ (کله چی هغوی مقابله نه کوي) .
(۲) ښځي مه وهئ (کله چی مقابله نه کوي) .
(۳) ماشومان مه وهئ .
(۴) د هغوی عبادت ځایونه مه ورانوئ .
(۵) مثله کوی یی مه (یعنی پوزه او غوږونه یی مه پریکوئ) .

(٦) میوه داره ونه مه پریکوئ .
(۷) کوم ذي روح په اور باندی مه خیزئ .
(۸) فصل مه خوَبادوئ .
(۹) حیوانات (غوا ، میښه او وزئ وغیره) مه تباه کوئ .
(۱۰) وطندارانو ته داسلامي تعلیماتو ښخه خبرولو کوشش وکړئ ، د توحید و رسالت حقیقت ورته واضح کړئ او د دی خبری فکر وکړئ چی هغوی هم د ایمان په دولت باندی مالامال وګرځي او د ابدي عذاب نه نجات وموومي . دوی هم مونږ باندی حق لري ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د دنیا ټولو انسانانو لپاره لیږل شویدی ، لهذا د دی فکر پکار دی .

"تلك عشرة كاملة" الله تعالی دی امت لپاره د خیر فیصلی وکړي او امت ته د ، اتحاد او اتفاق او د رجوع الی الله توفیق ورکړي او د هر قسم شر و فساد نه حفاظت نصیب کړي ، آمین .

د قرآن او حدیث په رڼا کی د صله رحمی برکت او فضیلت او د قطع رحمی مذمت او سخت وعید

(۷۹ سوال) د خپلوانو او رشته دارانو سره ښنګه تعلقات ساتل پکار دي ، په قرآن او حدیث کی د دی متعلق ښه هدایات دي ؟ په تفصیل سره ذکر کړی ، نن صبا عام طور د خپلوانو تعلقات ښه ندی ، په معمولي خبرو باندی تعلقات پریکوي په هفتو نه بلکی په کلونو سلام کلام ورسره بندوي ، ایا په شریعت کی سلام کلام بندول جائز دی ؟ د خپلوانو د بی اتفاقی په وجه نن هر کور کی فتنه ده د کورونو آرام او سکون ختم شویدی ، هر سړی د بل غلطي اوباسي او هیڅوک ځان کم او وړوکی نه ګڼي (الا ماشاء الله) امید دی چی تاسو د قرآن او حدیث په رڼا کی پدی اهمه مسئله باندی لږه رڼا واچوئ او د امت راهنمائي وکړئ ، الله تعالی دی درته د دارینو خیر او په عمر کی برکت نصیب کړي ، آمین .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً وهو المفق : په قرآن او حدیث کی د صله رحمي یعنی د خپلوانو سره د ښه سلوک او د دوی د حقونو ادا کول بی حده تاکید او د دی بی حده فضائل او د اجر و ثواب وعدی شویدي او د قطع رحمي یعنی د خپلوانو حقوق نه ادا کول او بدسلوک او بده معامله ورسره کولو باندی سخت وعیدونه بیان

شویدي ، د خپلوانو سره صله رحمي کول داسې یو مبارک عمل دی چې ددی په وجه الله تعالی په رزق کی فراخي او په عمر کی برکت فرمائي لکه چې راتلونکي حدیث کی به واضح شي انسان کله پخپل مال سره د خپلوانو سره مرسته کوي او کله خپل خه وخت د دوی په کاروبار کی لګوي نو د دی په صله رحمی او بدله کی الله تعالی له طرفه د دوی رزق او مال کی فراخي او په عمر کی برکت او زیاتوالی بالکل د قیاس موافق دی دا د صله رحمی دنیوي فائده ده د آخرت و ثواب لدینه جدا دی .

او د دی په خلاف څوک چې د خپلوانو سره قطع رحمي کوي د دوی حقوق نه ادا کوي چې د دی په وجه خانداني جنګونه او اختلافات پیدا کیږي او په نتیجه کی د زړه پریشانی سیوا کیږي او د دی اثر په کاروبار ، صحت بلکی په هر یو څیز باندی پریوځي او هر وخت سړی پریشان حاله وي او ژوند یی بی مزی شي ، نه په کاروبار کی برکت معلومیږي او نه په زړه کی آرام او سکون پاتی کیږي ، د قطع رحمي دا دنیوي نقصان دی ، او په آخرت کی چې کوم عذاب او سزا ده هغه ځانته ده الله پاک دی مونږ د قطع رحمي نه وساتي .

د کومو خپلوانو سره چې صله رحمي کولی شي په قرآن و حدیث کی دوی لپاره عام طور سره دوه لفظونه استعمال شویدي (۱) ذوی الارحام (۲) ذوی القربی ، په ذوی الارحام او ذوی القربی کی هغه ټول رشته داران داخل دي چې هغوی سره د نسب رشته وي که هغه رشته د پلار له طرفه وي او که هغه له طرفه وي او که هر څومره لری وي ، د پلار له طرفه رشته داري وي لکه نیا نیکه او یا د نیکه پلار او د نیا خور شو او یا ورور ، وراره او وریره او د دی دواړه د اولادونو سلسله ، او خور ، خوریی او خورزه او د دوی اولادونه ، تره او اولادونه یی ، او ترور او اولادونه یی ، او چې دمور له طرفه رشته داري وي لکه نیا او نیکه او یا د نیکه پلار او دنیا مور ، ترور ، ماما او د دی دواړو اولادونه وغیره او همدارنګه د ښځې رشته دار لکه د ښځې مور پلار ، ورور خور او اولادونه یی د دی ټولو سره د صله رحمي او دحسن سلوک معامله کول پکار دي ، په حسن سلوک کی مور پلار د ټولو نه وړاندی او اول دي .

حاصل دا چې خپلوان د پردیو په مقابل کی دي چاسره چې هر قسم رشته هم وي هغه خپل دي او کنه نه هغه پردي دي ، په تفسیر روح المعاني کی دي : "والمراد

بالرحم الاقارب ويقع على كل من يجمع بينك وبينه نسب وان بعد ويطلق على الاقارب من جهة النساء" (تفسير روح المعانى سورت النساء ج ٤ ص ١٥٤).

او دا هم په روح المعاني کي دي: "وقال الراغب: الرحم رحم المرأة اى بيت منبت ولدها ووعاؤه ومنه استعير الرحم للقرابة لكونهم خارجين من رحم واحدة....... وقد صرح ابن الاثير بان ذا الرحم يقع على كل من يجمع بينك وبينه نسب .... والمراد بهم مايقابل الا جانب ويدخل فيهم الاصول والفروع والحواشى من قبل الاب او من قبل الام وحرمة قطع كل لاشك فيها .... والاية ظاهرة فى حرمة قطع الرحم" (تفسير روح المعانى ص ٧٠ جـ نمبر ٢٦ سورة محمد، آيت وتقطعوا ارحامكم).

د قرآن مجيد په ګڼو ځايونو کی د صله رحمی کولو بيان دی، الله تعالی فرمائي:

"واتقوا الله تسألون به والارحام" (سورت النساء ١ ايت).

ترجمه: او د الله تعالی نه وویریږئ چی د ده په نوم سره يو بل نه غواړئ او د خپلوانو په باره کی هم د الله نه وویریږئ.

دا آيت صله رحمی په باره کی ډير زيات واضحه دی او په ډير محکم او بليغ انداز سره د صله رحمی حکم ورکړيدی .... د دی ايت په تفسير کی فوائد عثماني کی ليکي: (د الله تعالی ښخه د ویریدلو نه وروسته) .... تاسو ته دا حکم دی چی د خپلوئ نه هم ویریږئ يعنی د خپلوانو حقوق ادا کوئ او د قطع رحمی او بدسلوک نه خان بچ کړئ دټولو انساني افرادو سره ښه سلوک کول خو د ايت د اولنی جملی نه معلوم شوی ؤ دخپلوانو سره چونکی مخصوص او زيات قرب و اتحاد وي پدی وجه له دوی سره د بدسلوکي کولو نه په خاص طور سره ويره ورکړی شوه ځکه چی ددوی حقوق د نورو انسانانو ښخه زيات دي لکه ځنګه چی په حديث قدسي کی راځي:

"قال الله تبارك وتعالى انا الله وانا الرحمن خلقت الرحم وشققت لها من اسمی فمن وصلها وصلته ومن قطع بتته" (مشکواة ص ٤٢٠ باب البر والصلة الفصل الثانی) .

ترجمه : الله تعالى فرمائي : زه الله يم او زه رحمن يم او ما رحم پيدا کړی او د رحم لفظ می د خپل نوم (رحمن) څخه مشتق کړيدی (اخستی دی) نو څوک چی دا وپالي (يعنی صله رحمي وکړي) زه هغه د خپل رحمت نه جدا کوم ، او بل حديث کی راځي : "خلق الله الخلق فلما فرغ منه قامت الرحمُ فاخذت بحقوى الرحمن فقال مه قالت هذا مقام العائذ منك من القطيعة فقال الا ترضين ان اصل من وصلك واقطع من قطعك قالت بلى يارب قال فذاك" (ذکر شوی مرجع فصل اول) .

ترجمه : الله تعالى ټول مخلوقات پيدا کړل او کله چی ورنه فارغ شو نو رحم يعنی رشته ودريده او د الله تعالى ملا يی ونيوه الله تعالى ورته وفرمايل وايه څه غواړی ؟ رحم عرض وکړ دا د پريکولو له ويری نه له تانه دپناه غوښتونکو د ودريدو ځای دی، (يعنی زه ستا په ورآندی ولاړ يم او ستا د عزت او عظمت لمن طرف ته می لاسونه نيولي او لتانه ددی خبری پناه غواړم چی څوک ما پری کړي او زما لمن د يو ځای کولو په ځای ټوټې ټوټې کړي) پروردګار عالَم وفرمايل : ايا ته پدی راضي نه يی چی څوک د خپلو خپلوانو سره د حسن سلوک په ذريعه تا قائم او برقرار وساتي ، هغه لره زه هم د خپل احسان او انعام او اجر د بجشش په ذريعه قائم او برقرار وساتم او څوک چی رشته داري د حقوقو د پايمالولو په ذريعه تا پری کړي زه هم له هغه نه د خپل احسان او د انعام تعلق پری کړم ؟ رحم عرض وکړ پروردګاره بيشکه زه پدی راضي يم . الله رب العزت وفرمايل : صحيح ده دغه وعده به تاسره ثابت او برقرار وي (مظاهر حق جديد) .

او بل حديث دی : "الرحم شجنة من الرحمن فقال الله من وصلك وصلته ومن قطعك قطعته" (مخکينی مرجع) .

ترجمه : د رحم لفظ د رحمن له لفظ نه اخستل شويدی ، الله تعالى رحم ته وفرمايل څوک چی تا يو ځای کړي زه هم هغه خپل رحمت سره يوځای کوم او څوک چی

تالره پریکوي زه هم هغه د خپل رحمت نه جدا کوم ، او بل حدیث دی : "الـــرحم معلقة بالعرش تقول من وصلنی وصله الله ومن قطعنی قطعه الله" (مشکواة باب البر والصلة الفصل الاول ص ٤٢٠) .

ترجمه : رحم یعنی رشته عرش پوری ځوړند ده او وائي : څوک چې ما یوځای کړي هغه به الله تعالی ځان سره یوځای کوي او څوک چې ما پریکوي هغه لره الله تعالی د ځان نه جدا کوي ، الله تعالی پدی باندی شاهد دی او د رحم خصوصي تعلق تـه اشاره ده الخ (فوائد عثماني یعنی تفسیر عثماني اول سورت نساء) .

او په تفسیر معارف القرآن کی دي : والارحام : یعنی د خپلولی تعلقات کـه د پـلار لـه طرفه وي او که د مور له طرفه د دی په حفاظت او ادا کولو کی د کوتاهی کولو نـه ځان وساتئ .

د صله رحمی معنی او فضیلتونه یې :

د ارحام لفظ د رحِم جمع دی او رحم بچه داني ته وائي چې پـدیکی د ولادت نـه مخکی د مور په ګیده کی بچي پروت وي . چونکی د قرابت او خپلوی ذریعه همدا رحم دی لهذا پدی سلسله کی د تعلقاتو قائم ساتلو ته صله رحمي او پدی سلسله کی بی فکري او بی توجهي ته قطع رحمي ویل کیږي .

په نبوي صلی الله علیه وسلم احادیثو کی پـه صـله رحمـی بانـدی ډیـر زور ورکـړی شویدی لکه چې ارشاد دی :

"من احب ان یبسط له فی رزقه وینسأ له فی اثره فلیصل رحمه" (مشـــکواة ص ٤١٩ باب البر والصلة الفصل الاول) .

یعنی د چا چې خوښه وي په رزق کی فراخي او په عمر کی درازي پیدا شي نو هغه دی صله رحمي کوي .

لدی حدیث نه دصلحه رحمي دوه غټی فایدی معلومې شوی چې دآخرت ثواب خو شته په دنیاکی هم دصله رحمي فایده داده چې دررزق تنګي لرې کیږي او پـه عمـر کی برکت پیداکیږي .

عبدالله بن سلام رضی الله عنه فرمایي : رسول الله صلی‌الله علیه وسلم چی کله مدینی ته تشریف راوړ او زه ورته حاضرشوم نو درسول الله صلی‌الله علیه وسلم هغه مبارک کلمات چی دټولو نه مخکی زما غوږوته راغلل هغه داوو .

"یأیهاالناس افشوالسلام واطعموا الطعام وصلو الارحام صلوا باللیل والناس نیام تدخلوا الجنة بسلام"(مشکوة ص۱٦۸ باب فصل الصدقة الفصل الثانی)

ترجمه : ای خلکو له نورو باندی په کثرت سره سلام اچوی او خلکو ته خوراک ورکوئ او صله رحمي کوی او دشپې په داسې وخت کی لمونځ کوی چی عام خلک دخوب په مزکی وي پدی باندی عمل کولو سره په سلامتیا جنت ته داخل شئ.

اوپه یوبل حدیث کی دي ام المومنین حضرت میمونه رضی‌الله عنها خپه یوه وینزه آزاده کړی وه کله چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ته ددی ذکر وکړ نو وې فرمایل : "ان اعطیتها اخوالك کان اعظم اجرك"(مشکوةص۱۷۱ باب فضل الصدقة الفصل الاول) .

یعنی که چیرته دادی خپلو ماماګانو ته ورکړی وای نو زیات ثواب به دی کیده . په اسلام کی دغلام او وینزی آزادولو ډیر ترغیب راغلی دی او دیته یې دثواب بهترین عمل ویلی دی لیکن ددی باوجو دصله رحمي کار لدینه هم اوچته مرتبه لري.

دهمدی مضمون یو بل روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

"الصدقة علی المسکین صدقة وهی علی ذی الرحم ثنتان صدقة وصلة"(مشکوةص۱۷۱الفصل الثانی)

ترجمه : یعنی کوم محتاج سره مدد کول یواځی صدقه ده او دکوم خپلوان مدد کول هم صدقه ده او هم صله رحمي یواځی دمصرف او ځای په بدلولو سره دوه قسمه ثوابونه ملاویږي.

اوددی په مقابل کی دقطع رحمي کولو په باره کی چی په احادیثو کی کوم سخت وعیدونه راغلي دهغی اندازه لدی دوه حدیثو نه په ښه طریقه کیدلی شي ، رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ارشاد فرمایي :

(۱) "لایدخل الجنة قاطع"(مشکواة باب البر والصلة الفصل الاول ص۴۱۹).

یعنی کوم سړی چې درشته داري دحقوقو رعایت نه کوي هغه جنت ته نشي داخلیدلی.

(۲) "لاتنزل الرحمة علی قوم فیه قاطع"(مشکواةص ٤٢٠) .

ترجمه : په هغه قوم باندی دالله تعالی رحمت نه نازلیږي چې په هغوکی قطع رحمي کوونکی وي .

په آخر کی بیا په زړونو کی دحقوقو داداکولو جذبه پیداکیدو لپاره فرمایي:

(ان الله کان علیکم رقیباً) یعنی الله تعالی ستاسو نګران او څارونکی دی کوم چې ستا دزړونو او ارادونه خبردار دی که چېرته څوک زړه نازړه دشرم له وجی څه کار هم وکړي مګر چې په زړه کی یې دایثار او خدمت جذبه نه وي نو قابل قبول ندی

پدی سره دالله تعالی دویردو وجه هم معلومه شوه چې هغه په ټولو باندی همیشه نګران او څارونکی دی . دقرانکریم داعامه طریقه ده چې قانون یواححی ددنیا دحکومتونو دقانون پشان نه بیانوي بلکی دتربیت او دشفقت په انداز کی بیانوي. دقانون بیانولو سره سره دذهنونو او دزړونو تربیت هم کوي (معارف القران۲/ ۲۸۰_۲۸۲ مفتی محمد شفیع).

په تفسیر ماجدي کی دي : "واتقوالله الذی تسألون به والارحام" ارحام درحم جمع دی او مفهوم یې زیات وسیع دی ټول عزیز واقارب او اهل خاندان پدیکې شامل دی .

الرحم اسم لکافة الاقارب من غیر فرق بین المحرم وغیره (قرطبی) الرحم القرابة وبینهما رحم الی قرابة (تاج).

دالارحام په لفظ چې غور وشي نو په آیت کی په الله باندی عطف دی په اسلام کی دقرابت اودرشته داري دومره اهمیت دی ، په حقیقت کی دامت دنظام اجتماعي سنګ بنیاد په شریعت کی رشته داري او رحم مقرر شوی دی ، دعزیز او قریبانو او اهل خاندان والاو سره حسن سلوک کول په اسلام کی ددویمې درجې خیز ندی بلکې دا اوله درجه اهمیت لرونکی دی .

رفی عطف الارحام علی اسم الله دلالة علی عظم زنب قطع الـــرحم (بحــر)
رقدنبه سبحانه وتعالی اذا قرن الارحام باسمه الکریم علی ان وصلها بمکان منه
(بیضاوي) فیه تعظیم لحق الرجم وتاکید للمنع عن قطعها (اجصاص)"
او پدی معنی سره داحدیث هم راغلی : "الرحم معلقة بالعرش تقول من وصـــلنی
وصله الله ومن قطعني قطعه الله" یعنـی رحـیم عـرش لهـي پـورې ځوړنـده ده او
دادعاکوي څوک چی ما قائم ساتي هغه به الله تعالی ځانته نزدی کوي او څوک چی
ماپریکوي هغه لره الله تعالی هم دځانه لرې کوي.
دفقهاو پدی اتفاق دی چی دخپلولی لحاظ ساتل واجب او قطع کول يـې حـرام او
جـرم دی . "اتفقت الملة علی ان صلة الرحیم واحبة وان قطعها محرمة (قرطبی)
(ان الله کان علیکم رقیبا) .
ي بیشکه الله تعالی په تاسو باندی نګهبان او نګران دی ص۲۲٦.
(ستاسو ذاتي ، کورني او اجتماعي په ټولو معاملو کـی الله تعـالی نګـران دی) کـه
ددی رعایت وشي نو نن به دامت کورني زندګي څومره دمزی او خوشګواره شـي .
(تفسیر ماجدي ۲/ ۳، ۴ مولانا عبدالماجد دریا آبادي رحمه الله)
(۲) دويم آیت : (واعبدوا الله ولا تشرکوا به شیئاً وبالوالدین احســـاناً وبـــذی
القربی والیتمی والمسکین والجار ذی القربی والجار الجنب والصاحب بالجنـــب
وابن السبیل وما ملکت ایمانکم ان الله لایحب من کان مختالاً فخوراً) (سورت
نساء آیت ۳٦).
ترجمه : او دالله تعالی عبادت کوي او ده سره هیڅوک مه شریکوي او دمور پلار سره
نیک سلوک وکړي او خپلوانو سره هم ، یتیمانو سره هم ، غریبانو او محتاجانو سـره
هم او نزدی ګاونډي سره هم او دلرې ګاونډي سره هـم او دهـم مجلس سـره هـم
اودکافرو سره هم او دهغه چاسره سره چـی ستاسـو پـه ملیکـت او قبضـه کـی وي (
وینزی غلامان) بیشکه الله تعالی هغه چاسره محبت نه کوي چی ځان لـوی ګنـي او
دفخر خبرې کوي.

دا ایت مبارک هم د حقوقو په بیان لوی جامع آیت دی دِ تهولو نه وړاندې یې د الله تعالی خق بیان کړی او بیا د مور پلار او بیا درجه په درجه د تهولو خپلوانو او محتاجانو . د تفسیر ماجدي (۵۲) صفحه کی دي : په غور سره وګورئ چې د حسن سلوک تاکید د مور پلار نه واخله تر وینزو او غلامانو غرض د معاشرې د هرې طبقې سره ورکړې شویدی او بیا د دی حکم عطف په توحید الهي باندی ! د دنیا په بل کوم یو آسماني کتاب کی د دغه بی نظیر تعلیم نظیر پیدا کیږي ؟ او چې دی سره د محققینو دغه وضاحت هم یوځای کړی شي چې : " رشته داران که کافران هم وي بیا به هم ورسره احسان کوئ البته د مسلمان حق د اسلام په وجه لدوی نه زیات دی (تهانوي) (تفسیر ماجدي ص ۵٦)

په معارف القرآن کی دي : دحقوقو د تفصیل نه وړاندی د الله تعالی د اطاعت او عبادات او د توحید مضمون داسی ارشاد فرمائي "واعبدوالله ولاتشركوا به شيئاً" یعنی د الله عبادت وکړئ او ده سره په عبادت کی هیڅوک مه شریکوئ .... الی قوله ..... لدینه وروسته بیا د تهولو رشته دارانو او تعلق والاؤ نه وړاندی د مور پلار حقوق بیان کړیدي او الله تعالی د خپل عبادت او حقوقو سره متصل د مور پلار د حقوقو په بیانولو سره دی طرف ته اشاره کړی چې د حقیقت او د اصل په اعتباره سره خو تول احسانات او انعامات د الله له طرفه دي لیکن که د ظاهري اسبابو په اعتبار سره وګتلی شي نو په انسان باندی د الله تعالی نه وروسته زیات احسانات او انعامات د مور پلار دي ځکه چې په عالم اسباب کی همدوی د ده د وجود سبب دی د پیدائش نه واخله تر ځوانیدو پوری چې څومره مشکل مراحل دي پدی تهولو کی په ظاهره مور پلار د ده وجود او بیا د بقاء او د ترقی ذمه وار دي پدی وجه د قرآن کریم په نورو ځایو کی هم د مور پلار حقوق د الله تعالی د اطاعت او عبادت سره متصل بیان کړی شویدي ، یوځای کی ارشاد دی : "ان اشكرلی ولوالديك" یعنی خما شکر ادا کړه او د خپل مور پلار شکر ادا کړه ، او په بل ځای کی ارشاد دی : "واذ اخذنا ميثاق بنی اسرائيل لاتعبدون الا الله وبالوالدين احساناً" یعنی او کله چې مونږ د بنی اسرائیلو نه دا مضبوطه وعده واخسته چې د الله نه سیوا د چا عبادت به نه کوئ او د مور پلار سره نیکي کوئ ، پدی دواړو ایتونو کی دا ندي فرمایلي چې د مور پلار حقوق ادا کوئ او یا د دوی خدمت کوئ بلکی د احسان

کلمه یی استعمال کړی چی د دی په عام مفهوم کی دا هم داخل دي چی د ضرورت مطابق په دوی باندی خپل مال هم لګوئ او دا هم داخل دي چی د ضرورت مطابق د دوی جسماني خدمت هم کوئ او دا هم داخل دي چی د دوی سره په خبرو کی سخت آواز او یا په اوچت آواز خبري مه کوئ چی د دوی بی ادبي ورسره کیږي ، داسی کومه کلمه مه استعمالوئ چی په هغی سره د دوی دل شکني کیږي او د دوی د دوستانو او تعلق دارانو سره هم څه داسی سلوک مه کوئ چی د دوی زړه پری آزار شي ، بلکی د دوی د آرام او خوشحال ساتلو لپاره چی کوم صورتونه اختیارول پکاریږي هغه ټول اختیار کړئ تر دی پوری که چیرته مور پلار د اولادونو په حقونو کی کوتاهي هم کړی وي بیا هم اولادونو لپارد د مور پلار سره د بد سلوکی کولو هیڅ اجازت نشته

حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمائي : ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم لس وصیتونه فرمایلي یو دا چی د الله تعالی سره هیڅوک شریک مه جوړوه اګر که ته قتل کړی شی او یا په اور کی وسیزلی شی . دویم دا چی دخپل مور پلار نافرماني او دل آزاري مه کوه اګر که دا حکم درته وکړي چی ته خپل ا هل او مال پریده ، (مسند احمد) د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په احادیثو کی لکه څنګه چی د مور پلار اطاعت او دوی سره د حسن سلوک تاکیدات راغلي همدغه شان د دی کار بی انتها فضائل او درجات او ثواب هم ذکر شوی دی .

د بخاري او مسلم په یو حدیث کی دي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : څوک چی دا غواړي چی د رزق او په عمر کی دی برکت وي نو هغه لره پکار دي چی صله رحمي وکړي یعنی د رشته دارانو حقوق ادا کړي .

د ترمذي په یو روایت کی دي چی د الله تعالی رضا د پلار په رضا کی دی او د الله تعالی ناراضتیا د پلار په ناراضتیا کی دی .

بیهقي په شعب الایمان کی روایت کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : کوم هلک چی د مور پلار تابعدار وي کله چی مور پلار ته د عزت او محبت په نظر سره ګوري په هر نظر ورته د مقبول حج ثواب ملاویږي .

او د بیهقي په روایت کی دي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : الله تعالی دسړي ټول ګناهونه معاف کوي لیکن کوم سړی چی د مور پلار نافرماني او

دل آزاري وکړي هغه ته د آخرت نه وړاندی په دنیا کی هم په قسماقسم آفتونو کـی مبتلا کوي .
په ایت کریم کی د مور پلار نه وروسته د عامو خپلوانو یعنی د ټولو رشته دارانو سره د حسن سلوک تاکید راغلی دی .... الخ (معارف القرآن ج ۲ ص ۴۰۹_۴۱۱) .
(۳) دریم ایت "لیس البر ان تولوا وجوهکم .... هم المتقون" (سورت بقرة ۱۷۷ ایت) .
ترجمه : ټوله نیکي دا نده چی تاسو خپل مخ مشرق ته وګرځوئ او یا مغرب ته لیکن اصل نیکي او کمال دا ده چی څوک په الله تعالی باندی ایمـان او یقـین لـري او د قیامت په ورځ او په ملائکو باندی او په ټولو آسماني کتـابو بانـدی او پـه پیغمبرانـو علیهم السلام باندی هم یقین لري او د الله تعالی په محبت کی خپـل مـال ورکـوي خپلوانو ته ، یتیمانانو ته . مسکینانو ته او بی خرڅ مسافرو ته او سوال کونکو تـه او د غلامانو په آزادلو کی ، او د لمونځ پابندي کوي او زکات هم ورکوي او کـوم کسـان چی (د دغو عقیدو او عملونو سره سره دا اخلاق هم لري چی) خپلو وعدو لره پوره کوي کله چی یی وعده کړی وي او دا خلک په تنګدستی او بیماري او په جهاد کی ثابت قدم اوسیدونکي وي دا خلک صادقان دي او همدوی متقیـان (پرهیزګـاران) دي .
په تفسیر ماجدي کی دي : ذوی القربی الخ اسلام د خیر مصارف څـومره مناسـب او حکیمانه ترتیب کړیدی د ایت پدی جمله کـی د امـت پـوره معاشـي نظـام پـه یـو خلاصه شکل کی بیان شوی مالی امداد د ټولو نه مخکی د خپلو عزیزانو او خپلوانـو پکار دی داسی نه وي چی ورور دی په بنګلور اوسیږي او خور په جونګړه کی شـپی صبا کوي ، د تره سره ګاډی وي او وراره دی د ټانګی پیسی هم نه لري . هر مالـدار ته پکار دي چی اول دخپلو خپلوانو د خپل خاندان ، ورونو ، خوینـدو ، وریرونـو او خورزو او نورو خپلوانو خبرګیري وکړي او لدینه وروسته بیا نمبر د محلی ، د کلي او دښار د یتیمانو راځي کوم چی څوک ولي او سرپرست نه لـري او لدینـه وروسـته بیا نمبر د امت د عامو محتاجو او بیا د مسافرو راځي چی خرڅه ورسره نه وي او پـدی وخه د سفر نه پاتی وي او یا کلي ته د باهر نه راغلی وي او څوک نه وي چـی دوی ته خوراک څښکاک او یا ځای ورکړي ، او بیا آخر کی سوالګر پاتی کیږي پدی پـوره

معاشي پروګرام باندی که چیرته باقاعده عمل وشي نو په امت کی به چیرته مفلس ، تنګدست ، بی معاش او بی روزګاره پاتی نشي (تفسیر ماجدي ج ١ ص ٣٠٦ سورت بقره ١٧٧ ایت ص ١٢١) .

(٤) "یسئلونك ماذا ینفقون قل ما انفقتم من خیر فللوالدین والاقربین والیتمی والمسکین وابن السبیل وما تفعلوا من خیر فان الله به علیم" (سورت بقرة ایت ٢١٥) .

ترجمه : خلک درنه تپوس کوي چی څه شی خرج کړي ؟ ته ورته ووایه کوم شی چی تاسو خرج کوئ نو د مور پلار حق دی او دخپلوانو او د یتیمانو او دمحتاجانو او مسافرو حق دی او هر یو نیک کار چی تاسو کوئ الله تعالی ورباندی خبردار دی (پدی باندی ثواب ورکوي) .

په فوائد عثماني کی دي : بعضی صحابه کرام رضی الله عنه چی مالداره وو دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړ چی کوم مال خرج کړي او په چا باندی خرج کړي ؟ پدی باندی دا حکم راغی چی لږ وي او که ډیر کوم چی د الله لپاره خرج کوئ نو هغه د مور پلار ، خپلوانو ، یتیمانو او مسافرو لپاره دی یعنی چی د ثواب لپاره خرج کول غواړئ نو چی څومره غواړئ خرج کړئ د دی هیڅ کوم تعین او تحدید نشته البته دا ضروري دي چی کوم ځایونه درته مونږه ښایو پدیکی ولګوئ (فوائد عثماني) .

(٥) ایت : "ان الله یامر بالعدل والاحسان وایتاء ذی القربی وینهی عن الفحشاء والمنکر والبغی یعظکم لعلکم تذکرون" (سورت نحل ایت ٩٠) .

ترجمه : بیشکه الله تعالی د عدل او احسان او خپلوانو ته د ورکړی حکم کوي او دبدکاره بی حیائي او مطلق بی حیائي او ظلم کولو نه منع کوي الله تعالی دی لپاره درته نصیحت کوي چی تاسو نصیحت قبول کړئ .

فوائد عثماني کی لیکي : قرآن پاک ته یی "تبیاناً لکل شیئ" فرمایلي ؤ دا ایت د دی یوه نمونه ده ابن مسعود رضی الله عنه فرمائي : الله تعالی د هر خیر او د شر بیان پدی ایت کی جمع کړیدی ، ګویا هیڅ کومه عقیده ، نیت ، عمل ، ښه او بد معامله داسی نشته چی دکولو او یا د نه کولو پدی کی مسائل نه وي ، بعضی علماء

لیکي : که چیرته په قرآن پاک کومه بله ایت کریمه نه وای نو یواځی دغه ایت کریمه د "تبیاناً لکل شيئ" د ثبوت لپاره کافي وه ، شاید چی په همدی وجه حضرت عمر بن عبد العزیز خلیفه راشد د جمعی د خطبی په آخر کی د دی ایت په شاملولو سره امت لپاره اسوهٔ حسنه قائم کړی دی ، د دی ایت په جامعیت باندی د پوهیدلو لپاره خو د یو مستقل تصنیف ضرورت دی ، خو لږ غوندی وضاحت دلته داسی ذکر کولی شي چی په ایت کریمه کی د دریو شیانو امر کړیدی (۱) عدل (۲) احسان (۳) ایتاء ذی القربی (خپلوانو ته ورکړه کول) .

د عدل مطلب دا دی چی د بنـي آدم تمام عقائد ، اعمال ، اخلاق ، معاملات ، جذبات د عدل و انصاف په تله باندی تللی شوی وي ، په افراط او تفریط سره کومه پله درنه یا سپکه نه وي ، که د اشد دشمن سره هم څه معامله کوي نو د عدل او انصاف لمن به له لاسه نه ورکوي ، د ده ظاهر او باطن باید یو شان وي ، کومه خبره چی ځانته نه خوښوي باید چی هغه د خپل مسلمان ورور لپاره هم خوښ نه کړي .

او د احسان معنی دا ده چی انسان پخپله د نیکی او کامیابی پیکر او مجسم جوړ شي او د نورو کامیابی او خوشحالي وغواړي ، د عدل او د انصاف مرتبی نه لږ پورته شي د فضل و عفو او د لطف و مهربانی عادت اختیار کړي ، د فرائضو د ادا کوولو نه وروسته تطوع او تبرع ته قدم واخلي ، د انصاف سره مروت یوځای کړي او یقین وکړي چی څوک نیکي کوي الله تعالی يی ویني او ګوري دهغه ځای نه د نیکی ځواب ضرور په نیکي سره ورکوي "الاحسان ان تعبد الله کانك تراه فان لم تکن تراه فانه یراك" (صحیح بخاری) او "هل جزاء الاحسان الا الاحسان" (سورت رحمن) دا دواړه خصلتونه (یعنی عدل و انصاف او یا په بل تعبیر انصاف او مروت) خو خپل ځان او خپل پردی دوست او دشمن سره تعلق لري لیکن د خپلوانو حق د نورو پردو نه لږ زیات دی د خپلولی تعلقات کوم چی قدرت خپل منځ کی مقرر کړی دي دا باید نه نظره ونه غورځول شي بلکی د خپلوانو سره همدردي او احسان باید د پردو په نسبت زیاتول پکار دي ، صله رحمي یو مستقله نیکي ده کومه چی خپلوانو او ذوی الارحام لپاره درجه په درجه استعمالول پکار دي ، ګویا د احسان نه وروسته په خاص طور سره د ذوی القربی ذکر کولو کی خبرداری ورکړی چی عدل و انصاف خو د ټولو لپاره یو شان دی لیکن د مروت او احسان په وخت کی په بعضی

خابو کی د بعضی نورو نه د زیات رعایت او د اهتمام قابل وي ، د مراتبو فرق نه کول یو قسم له د قدرت د قائم کړو قوانینو هیرول دي ، اوس د دی دریو کلمو جامعیت په نظر کی نیولو سره هوښیار سړی دا فیصله کولی شي چی په دنیا کی کوم یو خوبي ، نیکي او فایده پاتی شویده چی ددی دریو فطري اصولو د احاطی نه خارج وي (فوائد عثماني) .

په تفسیر معارف القرآن ادریسي کی لیکي : " او دریم دا چی الله تعالی درته د دی حکم کوي چی خپلوانو ته ورکړه کوئ یعنی د صله رحمی حکم کوي ځکه چی د خپلوانو حق د پردو نه زیات دی عدل و انصاف خو دوست او دشمن ټولو لپاره یو شان دی او په احسان او مروت کی اکثر وخت د خصوصیت هم رعایت او لحاظ کولی شي دغه صله رحمي اګر که په عدل او یا احسان کی داخل دي لیکن صله رحمي او د خپلولی دحق لحاظ ساتل یو مستقل نیکی او عظیم احسان دی د دی خصوصیت سره ایتاء ذی القربی یی علیحده او جدا ذکر کړ ځکه چی قرآن او حدیث د صله رحمی نه ډک دی ، په حدیث کی راځي چی د رحم لفظ د قرابت په معنی د الله پاک د رحمن نوم نه اخستل شوی ځوک چی رحم (خپلولي) پالي او یوځای کوي، الله تعالی به هغه ځان سره یو ځای کوي او رحم او خپلولي قطع کوي الله تعالی هغه د خپل رحمت نه جدا کوي ، همدا وجه ده چی بعضی وخت د قریبي رشته دار حاجتمندنان نفقه واجب ګرځي او بعضی صله رحمي مستحب وي لکه رشته دار ته هدیه او تحفه ورکول تر څو خپلو کی سره محبت او الفت قائم پاتی شي .

په هر حال صله رحمي د احسان یو کامل فرد دی پدی وجه دا یی خاص طور سره جدا ذکر کړ ، ځکه چی خپلوانو سره په پیسو باندی مدد کول او ورسره احسان کول عظیم عبادت دی ، په چا کی چی دا دری صفتونه جمع شي (عدل ، انصاف او صله رحمي) د هغه عقلي او ملکي قوت مکمل او مهذب کیږي " (معارف القرآن ج ۷ ص ۷۱ سورت نحل ، از شیخ التفسیر مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله) .

(٦) "واذ اخذنا میثاق بنی اسرائیل لا تعبدون الا الله وبالوالدین احساناً وذی القربی والیتمی والمسکین وقولوا للناس حسناً واقیموا الصلواة واتوا الزکواة ثم تولیتم الا قلیلاً منکم وانتم معرضون" (سورت بقرة ایت ۸۳) .

ترجمه : او هغه زمانه یاد کړئ چې مونږ (تورات کی) د بنی اسرائیلو نه وعده واخسته چې د الله تعالی نه سیوا د چا عبادت مه کوئ او د مور پلار په ښه طریقه خدمت کوئ او د خپلوانو هم او د یتیمانو هم او د غریبانو هم او عامو خلکوته ښه وینا کوئ او د لمونځ پابندي کوئ او زکات ورکوئ او بیا تاسو لدغه وعدی نه واوړیدئ سیوا د یو څو کسانو نه او تاسو خو اعراض کونکي یئ .

په تفسیر معارف القرآن کی دي : مسئله : لدی ایت نه معلوم شو چې دغه احکام په اسلام او نورو شریعتو کی مشترک دي چې پدیکی توحید ، د والدینو ، خپلوانو ، یتیمانو او مسکینانو خدمت او ټولو خلکو سره په خبرو کی نرمي او خوش اخلاقي کول او لمونځ او زکات ټول داخل دي (معارف القرآن ج ۱ ص ۲۵۳ مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله) .

او په معارف القرآن ادریسي کی دي : فوائد :

اوله فائده : د والدینو تربیت د الله تعالی د تربیت یوه نمونه ده والدین په عالَم اسباب کی د انسان د وجود ظاهري سبب دی ، مور پلار چې دخپل اولاد سره کوم احسان کوي دا د کوم غرض او عوض لپاره نه دي ، د اولاد له تربیت نه مور پلار په هیڅ وخت کی نه ستړی کیږي د اولاد لپاره چې هر یو کمال کیدی مور پلار یی د خپل اولاد لپاره په سر سترګو غواړي د اولاد په ترقی باندی کله هم حسد نه کوي ، همیشه د خپل ځان نه زیات د خپل اولاد ترقي او خوشحالي لیدل غواړي ، پدی وجه الله تعالی د خپل عبادت نه وروسته د مور پلار د تعظیم حکم وکړ او په مدی وجوهاتو سره د والدینو تعظیم په ټولو شریعتونو کی واجب شوی او چونکی دا حق یواځی د مور پلار کیدو په وجه دی پدی بناء په وبالوالدین کی د ایمان قید ونه لګولو اشاره دیته ده چې د مور پلار تعظیم په حیثیت سره په هر حال کی واجب او لازم دي که والدین کافران او فاجران وي او یا منافقان او فاسقان وي ، او په همدی وجه ابراهیم علیه السلام د آزر په دعوت او تبلیغ کی همیشه د نرمی څخه کار اخستلو لکه څنګه چې په سورت مریم کی تفصیلي قصه ذکر شویده ، او په قرآن و حدیث کی ځای په ځای د کاف او مشرک مور پلار سره هم د احسان او دحسن سلوک حکم ورکړی شویدی .

دویمه فائده : محتاج خو یتیم او مسکین دواړه دي لیکن یتیم د کم عمرئ په وجه د ګټی وټی طاقت نه لري پدی وجه یی یتیم په مسکین باندی وړاندی کړ .

دریمه فائده : مالي سلوک او احسان زیاتره د خپلوانـو سره وي ، هـر چاسره مـالي احسان نشي کیدی پدی وجه په "وقولوا للناس حسناً" کی پردو سره د قولي احسان ذکر وکړ څکه چی نرمي او عاجزي او ښه اخلاق د هر چا سره کیدی شي .

څلورمه فائده : د دعوت او تذکیر یعنی وعظ او نصیحت په وخت کی نرمي کول مقرر دي لکه چی الله تعالی فرمایي : "وقولا له قولاً لیناً لعله یتذکر او یخشی" یعنی تاسو دی فرعون ته نرمه خبره وکړئ شاید چی نصیحت واخلي او یا وویریږي او فرمایي : "ادع الی سبیل ربك بالحکمة والموعظة الحسنة" یعنی خلک خپل رب طرف ته په حکمت او په ښکلي وعظ سره رابله ، او فرمائي : "فبما رحمة من الله لنت لهم" یعنی د الله په رحمت سره دوی ته نرم شوی یی ، او فرمائي "ادفع بالتی هی احسن" یعنی بدي په نیکی سره دفع کړه ، غرض دا چی په وعظ نصیحت او په تبلیغ او مناظره کی نرمي او مهرباني مناسب دی لکه چی د دغو ایتونو څخه صاف صاف ظاهریږي البته په جهاد او قتال کی شدت او سختی مناسب ، لکه چی الله فرمائي : "یایها النبی جاهد الکفار والمنافقین واغلظ علیهم" ای نبي صلی الله علیه وسلم د کافرانو او منافقانو سره جهاد کوه او ښه سختي ورسره وکړه ، څکه چی جهاد د اسلام او د مسلمانانو له ختمونکو سره کولی شي ، په جهاد او نصیحت کی باید فرق وپیژنئ .

پنځمه فائده : د مدارات او د مداهنت تر منځ فرق : ډیر خلک د مدارات او مداهنت تر منځ فرق نشي کولی حال دا چی په دواړو کی ډیر زیات فرق دی ، د بل چا دنیوي راحت او منفعت په خیال دنیوي او جسماني راحت او منفعت پرینښودو ته مدارات ویل کیږي ، او مداهنت دیته وایي چی د کوم دنیوي غرض لپاره خپل دین پریدي او یا پکی سستي وکړي ، مدارات (د چا خاطر او خیال ساتل) په شریعت ښه او خوښ کار دی او مداهنت قبیح او مذموم دی لکه چی الله تعالی فرمائي : "ودوا لو تدهن فیدهنون" یعنی دوی غواړي چی ته ورته نرمي او سستي وکړی نو دوی به درته هم نرمي او سستي وکړي .

خلاصه دا چې په دین کې سستي او نرمي کول مداهنت دی او په دنیوي کارو کې نرمي او سستي کول مدارات (دار و مدار) دي (معارف القرآن ج ۱ ص ۶۹ ، ۷۰ مولانا محمد ادریس کاندهلوي) .

په تفسیر ماجدي کې لیکي : "وقولوا للناس حسناً" یعنی عام طور خلکو سره ښه وینا کوه ، "قولوا للناس مقالة حسنة" (بحر) قولوا لهم القول الطیب (بحر عن ابی العالیة) یعنی خلکو سره په ښه طریقه خبری اتری کول د انسانیت ادنی ترین او اسان ترین فریضه ده پدی وجه دا حکم عام دی یعنی د ټولو خلکو سره خوش اخلاقي کول پکار دي که هغه نیک وي او که بد وي او که فاسق وي او یا صالح هر رنګه انسان چې وي فقط دومره احتیاط کول پکار ده چې چیرته پدی خوش اخلاقی او خنده روئی سره د مخاطب د بدعت او یا د بد مذهب تائید پیدا نشي .

"وهذا کله حض علی مکارم الاخلاق فینبغی للانسان ان یکون قوله للناس لینا ووجهه منبسطاً طلقاً مع البر والفاجر والسنی والمبتدع من غیر مداهنة ومن غیر ان یتکلم معه بکلام یظن انه یرضی مذهبه" (قرطبی) .

"وبالوالدین احساناً" مور پلار سره حسن سلوک دا دی چې دوی سره ښه ژوند تیر کړی شي په ادب سره ورسره ملاویدل وکړی شي د دوی د حکمونو تعمیل وشي او د دوی وفات نه وروسته د دوی په حق کې دعا خیر وشي او د دوی له دوستانو سره ښه سلوک او رویه اختیار کړی شي .

"الاحسان الی الوالدین معاشرتهما بالمعروف والتواضع لهما وامتثال امرهما والدعاء لهما بعد موتهما وصلة اهل ودّهما" (قرطبی) .

د حکم توحید نه وروسته د حسن سلوک او دمعاشرت احکام ذکر کول د دی خبری دلیل دی چې د الله تعالی په نزد حقوق العباد څومره زیات اهمیت لري (تفسیر ماجدي ج ۱ ص ۱۵۰) .

(۷) "وات ذی القربی حقه والمسکین وابن السبیل ولا تبذر تبذیرا ○ ان المبذرین کانوا اخوان الشیاطین وکان الشیطن لربه کفورا" (سورت بنی اسرائیل ۲۶ ، ۲۷ آیات) .

ترجمه : او خپلوان ته خپل حق (مال وغیره) ورکوئ او محتاج او مسافرو ته هم ورکوئ او (مال) بې ځایه مه لګوئ بیشکه بې ځایه مال لګونکي د شیطان ورونه دي او شیطان د الله تعالی لوی ناشکره دی .
په معارف القرآن کی لیکي ک پدی ایت کی دعامو رشته دارانو د حقوقو بیان دی چی د هر رشته دار حق ادا کړی شي کوم چی کم از کم هغه سره حسن معاشرت او ښه سلوک کول دي او که هغه محتاج وي نو د هغه مالي امداد هم دخپل وس مطابق پدیکی داخل دي ، لدی ایت نه دومره خبره خو ثابته شوه چی هر سړي باندی د خپل رشته دارانو هم حق شته هغه څه او څومره دی ؟ د دی تفصیل نه دی ذکر شوی مګر د عام صله رحمی او حسن معاشرت پدیکی داخلیدل واضح دي ، امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندی دی حکم لاندی کوم رشته دار چی ذی رحم محرم وي که چیرته هغه ښځه او یا ماشوم وي او د خپلی ګذاری سامان ورسره نه وي او د ګټلو قوت او قدرت هم نلري ، همدارنګه هغه خپلوان چی ذی رحم محرم وي خو فالج وي او یا وړوند وي او د هغه په ملکیت کی دومره مال هم نه وي چی د هغه ګذاره ورباندی وشي نو د ده په کومو رشته دارانو کی چی څومره وس وي چی د ده کومک وکړي ، په هغو ټولو باندی د ده نفقه او خرچه فرض ده او که چیرته په یوه درجه کی څو رشته داران صاحب وسعت وي نو پدی ټولو باندی په تقسیم سره د هغوی نفقه واجب ده ، د سورت بقره ایت "وعلی الوارث مثل ذلك" نه هم دا حکم ثابتیږي .
پدی ایت کی د خپلوانو ، مسکین او مسافر سره مالي مدد او صله رحمي کول د دوی حق ګرځولو سره دی طرف ته اشاره کړی چی د ورکونکو پدوی باندی د احسان زیادولو هیڅ ګنجائش نشته ځکه چی دا د دوی حق دی او پدوی باندی فرض دی ، ورکونکی فرض ادا کوي په چا باندی احسان نه کوي (معارف القرآن ج ۵ ص ۴۵۷ مفتي محمد شفیع رحمه الله) .
(۸) "فات ذی القربی حقه والمسکین وابن السبیل ، ذلك خیر للذین یریدون وجه الله واولئك هم المفلحون" (سورت روم ۲۸ ایت) .
ترجمه : نو خپلوانو ته خپل حق ورکوه او مسکین او مسافر ته هم ، دا هغه چا لپاره بهتر دی کوم چی د الله رضا غواړي او همدا خلك کامیاب دي .

په معارف القرآن ی دي : پدی ذکر شوي ایت کی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او دحسن بصري رحمه الله په قول هر هغه انسان ته چی الله تعالی ورته ماني فراخي ورکړی وي دا هدایت ورکړی شویدی چی کوم مال درته الله درکړیدی پدی کی بخل مه کوه بلکی دا پخپل ځای کی په خوشحالی سره ولګوه پدی سره به ستا په مال کی او رزق کی کمی نه کیږي او لدی حکم سره پدی ایت کی د مال د لګولو یو څو ځایونه ښودلي دي اول ذی القربی دویم مسکینان او دریم مسافر ، چی د الله تعالی د ورکړي مال څخه دغو خلکو ته ورکړي او دا یی ورسره هم بیان کړي چی دا د دوی حق دی چی الله ستاسو په مال کی مقرر کړیدی پدی وجه د ورکولو په وخت کی دوی باندی څه احسان هم مه باروئ ځکه چی حقدار ته خپل حق ادا کول عدل و انصاف دی کوم احسان او انعام ندی ، او ظاهره دا ده چی د ذوی القربی نه مراد عام رشته داران دي که هغه ذی رحم محرم وي او یا نور (کما هو قول الجهور من المفسرين) او د حق نه هم مراد عام حق دی که هغه حقوق واجبه وي لکه د مور پلار ، اولاد او د نورو خپلوانو حقوق او یا خالص تبرع او احسان وي چی دا هم رشته دارانو سره په نسبت په نورو ته زیات اجر و ثواب لري ، تر دی پوری چی د تفسیر امام مجاهد رحمه الله فرمائي : د چا چی ذوی الارحام رشته داران محتاج وي او دی هغوی پریدي او په نورو باندی صدقه وکړي نو دا صدقه د الله په نزد مقبوله نده ، او د ذوی القربی حق یواځی مالي امداد نه دی ، د دوی خبر ګیري ، جسماني خدمت او چی بل هیڅ نشي کولی نو کم از کم زباني همدردي او تسلي وغیره لکه څنګه چی حسن بصري رحمه الله چی فرمائي : د ذوی القربی حق هغه چا لپاره چی مالي وسعت او فراخي لري دا دی چی په مال سره د هغوی امداد وکړی شي او څوک چی دا وسعت نلري هغوی لپاره جسماني خدمت او زباني همدردي کول دي (قرطبي) (معارف القرآن ج ٦ ص ٧٣٧ ، مفتي محمد شفیع رحمه الله) .

(۹) "واذا حضرت القسمة اولى القربى واليتمى والمسكين فارزقوهم منه وقولوا لهم قولاً معروفاً" (سورت نساء ۸ ایت) .

ترجمه : او کله چې د وارثانو تر منځ د میراث تقسیمدو په وخت کې لرې خپلوان او یتیمان او غریبان حاضر شي نو دوی ته هم د (ترکه) نه لږ څه ورکړئ او دوی سره ښې خبرې وکړئ .
په فوائد عثماني کې لیکي : یعنې د میراث د تقسیم په وخت کې د خاندان خلک او عزیزان راجمع شي نو کوم رشته داران چې په میراث کې حصه نلري او یا کوم یتیمان او غریبان چې وي نو دوی ته هم خوراک ورکړئ او رخصت یې کړئ او یا د ترکې نه کوم مناسب څیز دوی ته ورکړئ ، دا سلوک کول مستحب دی او که چیرته د میراث د مال نه خوراک او یا د څه ورکولو موقع نه وي مثلاً هغه د یتیمانو مال وي او مړي وصیت نه وي کړی نو بیا دوی په نرمۍ سره رخصت کړئ یعنې په نرمۍ سره ورته عذر وکړئ چې دا د یتیمانو مال دی او مړي وصیت هم ندی کړی نو تاسو خفه نشئ ، د سورت په شروع کې بیان شوی چې ټول خپلوان درجه په درجه د ښه سلوک او د رعایت مستحق دي او یتیمان او غریبان او کوم خپلوان چې یتیم او یا مسکین هم وي نو د هغه رعایت نور هم زیات ښکار دی پدی وجه دوی ته د میراث د تقسیم په وخت کې حتی الوسع څه نا څه کول ښکار دي ، که چیرته په څه وجه سره وارث نه جوړیږي نو د حسن سلوک نه باید محروم نه شي (فوائد عثماني)

(۱۰) "فهل عسیتم ان تولیتم ان تفسدوا فی الارض وتقطعوا ارحامکم" (سورت محمد (صلی الله علیه وسلم) ۲۲ ایت) .
ترجمه : او له تاسو نه دا هم لرې نه ده چې که چیرته حکومت درته حاصل شي نو په ځمکه کې به فساد کوئ او رشته داري به پرې کوئ .
په تفسیر معارف القرآن کې دي :
د تولی د لفظ د لغت په اعتبار سره دوه معنی کیدی شي یو اعراض او مخ اړول ، او دویم په یو قوم باندې اقتدار او حکومت کول ، پدی آیت کې بعضې مفسرین حضراتو اولنې معنی غوره کړیده .... ابوحیان په بحر محیط کې دغه معنی کړیده د دغه معنی په اعتبار سره د ایت مطلب دا دی : که چیرته تاسو د شرعي احکامو څخه روګرداني وکړئ په کوم کې چې د جهاد حکم هم شامل دی نو د دې اثر به دا وي چې تاسو به د پخواني جاهلیت په طریقو باندې روان شئ چې د

دی لازمي نتیجه په ځمکه کی فساد او قطع رحمي ده لکه څنګه چې د جاهلیت په هر یو کار کی د دی مشاهده کیدله چې یوی قبیلی به په بلی قبیلي باندی حملې او قتل او لوټمار به یې کولو خپل اولاد به یې پخپله ژوندی دفن کولی ، اسلام د جاهلیت دغه ټول رسمونه ختم کړل .... الی قوله .... او روح المعانی او قرطبي وغیره کی پدی ځای کی د تولی معنی په حکومت او امارت سره کړیده لو د ایت مطلب به دا شي چې ستاسو حالات کوم چې پورته ذکر شویدي د دی تقاضا دا ده چې که چیری ستاسو مطلب پوره شو چې پدی حالت کی تاسو ته حکومت او اقتدار ملاو شو نو نتیجه به یې ددینه سیوا بله نه وي چې تاسو به په ځمکه کی فساد خوروئ او رشته داري او خپلوي به ختموئ .

د صله رحمی سخت تاکید

ارحام د رحم جمع دی او دا د مور په ګیډه کی دانسان د پیدائش مقام دی ، چونکی د تمامی رشتی او خپلوئ بنیاد همدی ځای نه شروع شوی پدی وجه محاوره کی رحم د قرابت او رشته داری په معنی استعمالیږي ، په تفسیر روح المعانی کی پدی باندی تفصیلي بحث کړی چې د ذوی الارحام او د ارحام لفظ کوم کوم خپلوئ لپاره شامل دی ، اسلام د خپلولی زور رشته داري حقوقو د پوره کولو ډیر زیات تاکید کړی په صحیح بخاري کی د ابوهریره رضی الله عنه او د دوه نورو صحابه کرامو رضی الله عنهما د دی متعلق حدیث نقل کړی چې الله تعالی فرمائي : څوک چې صله رحمي کوي الله تعالی هغه ځانته نزدی کوي او څوک چې د خپلولی رشته قطع کوي الله تعالی هم هغه له ځانه جدا کوي ، لدینه معلومیږي چې د خپلوانو رشته دارانو سره په اقوالو ، افعالو او دمال په خرچ کولو سره د احسان کولو تاکید حکم شوی دی ، په ذکر شوي حدیث کی حضرت ابوهریره رضی الله عنه د هغه ایت کریمه حواله هم ورکړه چې که چیری غواړی نو دا ایت کریمه ولولئ ، او په حدیث کی راځي چې د ظلم او قطع رحمی نه سیوا بله داسی ګناه نشته چې د هغه سزا الله تعالی دآخرت نه علاوه په دنیا کی هم ورکوي (رواه ابوداوٗد والترمذي ، ابن کثیر) او د حضرت ثوبان رضی الله عنه حدیث دی چې رسول الله

صلی الله علیه وسلم فرمائي : کوم سړی چی غواړي چی په رزق کی فراخي او په عمر کی برکت وي هغه ته پکار دي چی صله رحمي وکړي یعنی د خپلوانو سره د احسان معامله وکړي ، په صحیح احادیثو کی هم شته چی دخپلولی او رشته داری په معامله کی، دی د بل طرف سره دبرابری خیال ونکړی شي که بل ورور ورسره قطع تعلق او ناروا سلوک هم کوي بیا هم ته به ورسره د حسن سلوک معامله کوی په صحیح بخاري کی دي : "لیس الواصل بالمکافی ولکن الواصل الذی اذا قطعت رحمه وصلها" یعنی هغه سړی صله رحمي کونکی ندی چی یواځی بدله ورکوي هغه دی چی کله مقابل طرف ورته قطع تعلق وکړي نو دی ورسره بیا هم تعلقات ساتي (ابن کثیر) (معارف القرآن ج ۸ ص ۴۱ ، ۴۲ مفتي محمد شفیع) .

(۱۱) "ولایاتل اولوا الفضل منکم والسعة ان یؤتوا اولی القربی والمسکین والمهاجرین فی سبیل الله ولیعفوا والیصفحوا ، الا تحبون ان یغفر الله لکم والله غفور رحیم" (سورت نور ۲۲ ایت) .

ترجمه : او کوم خلک چی په تاسو کی مالداره دي هغه دی خپلوانو ، غریبانو او د الله په لاره کی هجرت کونکو ته د نه ورکولو قسم نه کوي ایا تاسو دا نه خوښوی چی الله تعالی درته معافي وکړي نو تاسو هم نورو ته معافي کوئ بیشکه الله تعالی بخښونکی او مهربان دی (یعنی تاسو هم باید د الله تعالی صفات په ځان کی پیدا کړئ) .

په فواند عثماني کی دي : په حضرت عائشه رضی الله عنها باندی جوړونکو والاؤ کی بعضی مسلمانان هم له نادانی نه شریک شوي وو پدوی کی یو حضرت مسطح رضی الله عنه وُ چی د یو مفلس مهاجر کیدو نه علاوه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه خوریی او یا د ترور خوی هم وُ ، د " افک " له واقعی نه وړاندی ابوبکر صدیق رضی الله عنه به د هغه مالي امداد او خبرګیري کوله او کله چی دغه قصه ختمه شوه او د عائشی صدیقی رضی الله عنها برائت او صفائي د آسمان نه نازل شو نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه قسم وخوړ چی بیا به د مسطح امداد نه کوم ، شاید نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته هم دغه صورت وړاندی شوی وي پدی باندی دغه ایت نازل شو ، یعنی په تاسو کی چی چاته الله تعالی د دین بزرګي او د دنیا فراخي ورکړیدی هغوی ته لائق ندي چی داسی قسم وخوري د دوی سینه ډیره لویه او اخلاق یی

ډیر اوچت کیدل پکار دي ، لویه خوانمردي خو دا ده چی د بدئ بدله په په نیکی سره ورکړی شي ، د محتاجو رشته دارو او الله لپاره وطن پریښودونکو سره امداد او کومک نه منع کیدل د بزرګانو او بهادرانو کار ندی ، که چیرته قسم مو کړی وي دغسی قسم مه پوره کوئ بلکی کفاره یی ادا کړئ ، ستاسو شان دا کیدل پکار دی چی د خطاکارانو له خطائی نه چشم پوشي او درګذر وکړئ چی داسی کوئ نو الله تعالی به ستاسو خطاګانې معاف کوي ایا تاسو د الله تعالی د عفو او د درګذری امید او خواهش نه لرئ ؟ که لری نو تاسو هم باید د الله د بندګانو سره همدا عادت او خوئ اختیار کړئ ، ګویا چی پدیکی تخلیق باخلاق الله تعلیم ورکړی شویدی ، په حدیثو کی دي چی کله ابوبکر صدیق رضی الله عنه "الا تحبون ان یغفر الله لکم" واوریدل یعنی ایا تاسو نه خوښوئ چی الله تعالی درته معافي وکړي ، نو فوراً یی وویل "بلی یاربنا انا نحب" بیشکه ای پروردګاره مونږه ضرور غواړو ، د دی په ویلو سره د مسطح سره چی به کوم امداد کولو هغه یی جاري وساتلو بلکی په بعضي روایاتو کی دي چی د مخکی نه یی دوچند کړ (فوائد عثماني سورت نور ایت ۲۲)

دیته مکارم اخلاق وائي چی امت ته د دی تعلیم ورکړی شویدی تر دی ځایه پوری د مثال په طور خو ایتونه ذکر کړی شول ، په مبارکو حدیثو کی هم په مختلف انداز سره د صله رحمی اهمیت او پدی باندی د اجر و ثواب او د قطع رحمی مذمت او پدی باندی سخت وعیدونه بیان شویدي .

(۱) "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم .... ان صلة الرحم محبة فی الاهل مثراة فی المال منسأة فی الاثر" (رواه الترمذی ، مشکواة ص ۴۲۰ باب البر والصلة) .

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : صله رحمي کول په خاندان کی محبت او په مال کی برکت او په مرګ کی د تاخیر سبب دی (ترمذي ج ۲ ص ۱۹ باب ماجاء فی تعلیم النسب) .

(۲) "عن انس رضی الله عنه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من احب ان یبسط له رزقه وینسأ له فی اثره فلیصل رحمه" (متفق علیه ، مشکواة ص ۴۱۹ باب البر والصلة الفصل الاول) .

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : کوم سړی چی په رزق کی وسعت او فراخي غواړي او دا خواهش لري چی په دنیا کـی د ده آثـار ډیـر زمـانی پـوری باتی شي (یعنی چی د ده عمر دراز وي او برکت پکی وي) نـو هغـه تـه پکـار دي چی خپلوانو سره صله رحمي وکړي .

رشته دارانو سره د صله رحمی په وجـه الله تعـالی ورتـه د طاعـاتو (نیکیـو) توفیـق ورکوي او د زندګی قیمتي لمحات پداسی کارو کی تیریږي چـی آخـرت کـی ورتـه فائده ورکوي او په بیکاره کارو د وخت ضائع کیـدو نـه الله تعـالی د هغـه حفاظـت کوي او کوم سړی چی صله رحمي کوي د ده د وفات کیـدو نـه وروسـته یی خلـک صفت کوي او دعا ورته کوي ، په مرقات شـرح د مشـکواة کـی دي : "احــدهما ان الزیادة بالبرکة فی العمر سبب التوفیق فی الطاعات وعمارة اوقاته بما ینفعــه فی الآخرة وصیانتها عن الضیاع وغیر ذلك ، ایضاً وثالثها ان المراد بقاء ذکــره الجمیل بعده فکانه لم یمت" (مرقاة شرح مشکواة ج ۹ ص ۱۶۵ ملتانی) .

په معارف الحدیث کی حضرت مولانـا محمـد منظـور نعمـاني صـاحب د ذکـر شـوي حدیث په تشریح کی لیکي : د الله تعالی کتاب په قرآن پاک او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کی ځای په ځای دا حقیقت بیان شـوی چـی د بعضـی نیکـو عملونو په بدله کی الله تعالی پدی دنیا کی هم برکتونه ورکوي ، پدی حـدیث کـی دا ښودل شوي چی صله رحمي یعنی د خپلوانو د حقوقو ادا کـول او هغـوی سـره حسن سلوک داسی یو مبارک عمل دی چی د دی په عوض کی د الله تعالی له طرفه په رزق کی فراخي او په عمر کی زیادت او برکت کیږي .... د صله رحمی دوه صورتونه دي یوه دا چی سړی په خپل مـال سـره د خپلوانـو مـالي امـداد وکـړي ، دویمه دا چی دخپل وخت او د ژوند څه حصه د هغوی په کارو کی ولګوي ، د دی په عوض کی په رزق او مال کی دسعت او په ژونـد کـی زیـادت او برکـت بالکـل د قیاس موافق او د الله تعالی د حکمت او رحمت مطابق دی .

د اسبابو له نقطه نظر نه هم دا خبره قابل فهم ده ، دا يو حقيقت او عامه تجربه ده چی خانداني جګړې او پريشاني کوم چی زياتره دخپلولی د حقوقو نه ادا کولو په وجه پيدا کيږي او بني آدم لپاره د اندروني پريشانی او دغم باعث ګرځي او کاروبار او صحت هر شی پری متاثر کيږي ليکن کوم خلک چی اهل خاندان او خپلوانو سره نيکي او صله رحمي او ښه سلوک کوي د هغوی ژوند په آرام او خوشحالی سره تيريږي او په هر لحاظ سره د دوی حالات ښه وي او د الله تعالی فضل و کرم وسره شامل وي (معارف الحديث ج ٦ ص ٦٤ ، ٦٥) .

(۳) "عن عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول قال الله تعالی : انا الله وانا الرحمن خلقت الرحم وشققت لها من اسمی فمن وصلها وصلته (ای الی رحمتی او محل کرامتی) ومن قطعها بتته" (ترمذی ج ۲ ص۱۳ ، مشکوٰة ص ٤٢٠ باب البر والصلة) .

ترجمه : رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي : الله تبارک وتعالی ارشاد فرمائي : زه الله يم او زه رحمن يم ما رشته پيدا کړی او دخپل نوم نه می ورته نوم ورکړی نو څوک چی دا يو ځای کوي هغه به زه خپل رحمت سره يوځای کوم او څوک چی دا پريکوي هغه زه د خپل رحمت نه پريکوم او جدا کوم .

د مشکوٰة په شرح مرقات کی ليکي : "ولا خلاف ان صلة الرحم واجبة فی الجملة وقطيعتها معصية کبيرة وللصلة درجان بعضها ارفع من بعض وادناها ترک المهاجرة وصلتها بالکلام ولو بالسلام" يعنی صله رحمي واجب ده پديکی د چا اختلاف نشته او قطع رحمي لويه ګناه ده او صله رحمي مختلف درجې لري چی بعضی په بعضو باندی اوچتي دي ، ادنی درجه يی دا ده چی خبری اتری بند نکړی شي (که په څه سره خبری اتری بندی شي) نو صله رحمي دا ده چی خبری ورسره شروع شي (اګر که يواځی په سلام اچولو سره وي) (مرقات شرح مشکوٰة ج ۹ ص ۱۹٦) .

(٤) "عن عبد الله بن ابی اوفی رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم يقول لاتنزل الرحمة علی قوم فیه قاطع رحم" (رواه البیهقی فی شعب الایمان ، مشکواة ص ٤٢٠ باب البر والصلة) .

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : په کوم قوم کی چی قطع رحمي کونکی وي په هغه باندی د الله رحمت نه نازلیږي

د مشکواة په شرح مرقات کی دي "قال التور پشتی يحتمل انه اراد بالقوم الذین یساعدونه علی قطیعة الرحم ولاینکرون علیه ویحتمل ان یراد بالرحمة المطر الی یحبس عنهم المطر بشؤم القاطع" .

علامه تور پشتي فرمائي : لدینه هغه قوم مراد دی چی د قطع رحمي کونکي مدد کوي او انکار وربادنی نه کوي او دا هم احتمال دی چی رحمت نه مراد باران وي د قطع رحمي کونکي په وجه باران بندولی شي (مرقات شرح مشکواة ج ٩ ص ٢٠٢) .

لږ فکر وکړئ څومره سخت وعید د رشته داری او خپلولی قطع کونکي چی کومه ګناه ده هغه خو ده څوک چی د هغه مدد کوي هغوی هم د الله تعالی د رحمت نه محرومیږي . (الله تعالی دی امان راکړي) .

(٥) "عن جبیر بن مطعم رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایدخل الجنة قاطع" (متفق علیه ، مشکواة ایضاً ص ٤١٩) .

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : قطع رحمي کونکی به جنت ته لاړ نشي .

(٦) "عن عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایدخل الجنة منان ولا عاق ولا مدمن خمر (ای مشاربها من غیر توبة)" (رواه النسائی والدارمی ، مشکواة ص ٤٢٠) .

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : احسان بارونکی ، د مور پلار نافرماني کونکی او شراب خور جنت ته نشي داخلیدی ، "قال التور پشتی محمل

هذا انه لایدخل مع الفائزین اولا یدخل حتی یعاقب بما اجترحه من الاثم بکل واحد من الاعمال الثلاثة قلت لابد من تقییده بالمشیئة لقوله تعالی ویغفر ما دون ذلك لمن یشاء بشفاعة او بغیرها"

علامه تور پشتي فرمائي : د دی مصداق دا دی چی دا شخص (د هغو کامیابیدونکو څخه ندی چی له ابتداء نه جنت ته داخلیږي) او یا د خپل دغه بد عمل سزا تیرولو نه بغیر جنت ته نشي داخلیدی ، او که چیرته الله تعالی پخپل فضل و کرم سره او یا د چا په شفاعت سره معاف کړي نو دا د الله تعالی خپل اختیار دی (مرقات شرح مشکواة ج ۹ ص ۲۰۲) .

(۷) "عن ابی بکرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما من ذنب اخری ان یعجل الله لصاحبه العقوبة فی الدنیا مع ما یدخر فی الاخرة من البغی وقطیعة الرحم" (رواه الترمذی ، مشکواة ص ۴۲۰ ایضاً) .

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائي : د ظلم او قطع رحمي نه زیات بله کومه ګناه داسی نشته چی هغه ته د آخرت د عذاب نه علاوه په دنیا کی هم زر سزا ورکولی شي .

شیخ الحدیث مولانا زکریا صاحب رحمه الله لیکي : ف : یعنی دا دوه ګناهونه ظلم او قطعي رحمي داسی دي چی په آخرت کی ورباندی کوم سزا ده هغه خو به وي لدینه علاوه به دنیا کی هم ورته زر سزا ملاویږي ، په یو بل حدیث کی دي : چی الله تعالی هره ګناه چی کله وغواړي معاف کوي مګر د مور پلار نافرماني کونکي ته د مرګ نه مخکی سزا ورکوي (مشکواة) .

په یو حدیث کی دي : د هری ګناه سزا الله تعالی آخرت ته وروسته کوي لیکن د مور پلار نافرماني کونکي سزا په دنیا کی ورکوي (جامع الصغیر) په ډیرو حدیثو کی دا مضمون هم راغلی چی الله تعالی د قیامت په ورځ رحم (رشته) ته زبان او ژبه ورکوي هغه به د عرش الهي په نیولو سره دا درخواست کوي چی یاالله چا چی زه یوځای کړم هغه خان سره یوځای کړی او څوک چی ما پری کړي هغه هم له خانه جدا کړه ، په ډیرو حدیثو کی راغلي چی الله تعالی فرمائي : چی د رحم لفظ د الله تعالی د پاک نوم رحمن نه جدا شوی څوک چی دا یوځای کوي الله تعالی هغه

خپل رحمت سره یوځای کوي او څوک چې دا پریکوي الله تعالی هم هغه د خپل رحمت نه جدا کوي

په یو حدیث کی دي چې په هغه قوم باندی رحمت نه نازلیږي چې قطع رحمي کونکي پکی موجود وي ، په یو حدیث کی دي : چې هره پنجشنبه (زیارت) الله تعالی ته عملونه پیش کیږي د قطع رحمي کونکي هیڅ یو عمل نه قبلیږي (درمنثور) :

فقیه ابواللیث رحمه الله فرمائي : قطع رحمي دومره بدترینه ګناه ده چې ده سره خواو شاه ناستو خلکو باندی هم رحمت نه نازلیږي پدی وجه ضروري ده چې هر سړی ترینه زر توبه وباسي او د صله رحمی اهتمام وکړي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې د صله رحمی نه علاوه بله نیکي داسی نشته چې د هغه بدله ډیر زر سلاویږي ، او د قطع رحمی او ظلم نه علاوه کومه ګناه داسی نشته چې د هغه سزا د آخرت نه علاوه په دنیا کی هم زر ملاویږي (تنبیه الغافلین) حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه یو ځل د سحر لمانځه نه وروسته په یو مجلس کی ناست ؤ او وی فرمایل : زه تاسو ته قسم درکوم چې که چیرته پدی مجلس کی څوک قطع رحمي کونکی موجود وي هغه دی لاړ شي مونږه د الله تعالی نه یوه دعا کوو او قطع کونکي ته د آسمان دروازې بندولی شي (ترغیب) یعنی د هغه دعا آسمان ته نه خیژي بلکی له وړاندی څخه ورته دروازه بندولی شي او چې له هغه سره خمونږه دعا هم وي نو د دروازی بندیدو په وجه به بند پاتی کیږي ، لدینه علاوه له ډیرو روایاتو نه دا مضمون ثابت دی او د دنیا واقعات په کثرت سره د دی ګواهي ورکوي چې قطع رحمي کونکی په دنیا کی هم په داسی مصیبتونو کی ګرفتاریږي چې په ژړا او فریاد سره ګرځي ، او د خپل حماقت او جهالت په وجه ورته دا پته هم نه لګي چې لدی ګناه نه توبه ونه کړي او ددی تلافي ونه کړي او لدی آفت او عذاب نه خلاص نشي اګر که په لکونو تدبیرونه هم وکړي ، او که چیرته په کوم دنیوي آفت کی مبتلا شي نو دا د هغه نه زیات آسان دي چې په کوم بی دینی کی (الله مه کړه) اخته شي چې پدی صورت کی به ورته د توبی کولو پته هم نه لګي ، الله جل جلاله دی پخپل فضل او کرم سره خمونږ حفاظت وفرمائي ، آمین (فضائل صدقات حصه اول دریم فصل ص ۲۱۸ ، ۲۱۹ حدیث نمبر ۱۰) .

(۸) "روی البیهق عن عائشة .... فقال هذه اللیلة لیلة النصف من شعبان ولله فیها عتقاء من النار بعدد شعر غنم کلب لاینظر الله فیها الی مشرك ولا الی مشاحن ولا الی قاطع رحم ولا الی مسبل ازار ولاالی عاق والدیه والا الی مدمن خمر" (بحواله اجواهرالزواهرمترجم۱/ ۵۸۰ (۲۰) بصیرت ، ماثیت بالسنة ص۲۰۳ ، او فضائل الامام والشهور ص۷۵)

ترجمه : دعایشه صدیقه رضی الله عنها روایت دی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلي دي (ماته جبریل علیه السلام راغی) او وی ویل نن دبرات شپه ده او نن شپه دبنو کلب دګډو چیلو دویښتو په مقدار الله تعالی دوزخیان آزادوي البته څوک چی مشرک وي اویا کینه ګروي ، او څوک چی خپلولی پریکوي، او چی پینسې دګیټو نه لاندی ساتي او څوک چی دمور پلار نافرماني کوي او څوک دشرابو عادتي وي نو الله تعالی دوی ته پدی مبارکه شپه کی هم درحمت په نظر نه ګوري.

قطع رحمي کوونکو سره صله رحمي

(۹) "عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لیس الوصل بالمکافی ولکن الواصل الذی اذاقطعت رحمه وصلها" (مشکواةص۴۱۹ باب البر والصلة الفصل الاول)

ترجمه : رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلي دي : کامل صله رحمي کوونکی هغه سړی ندی چی بدله ورکوي (یعنی داحسان په بدله کی احسان کوي) بلکی کامل صله رحمي والا هغه دی چی کله ورسره قطع رحمي وشي نو هغه بیا هم صله رحمي کوي.

(۱۰) "صل من قطعك واحسن الی من ساء الیك وقل الحق وان کان علی نفسك" (جامع الصغیرللسیوطي ۲/ ۳۷ حرف الصاد) .

ترجمه : څوک چی ستاسو سره قطع رحمي وکړي تاسو ورسره صله رحمي کوئ او چی څوک درسره بدسلوک وکړي تاسو ورسره ښه سلوک کوئ ، او رشتیا خبره کوئ اګر که ستاسو په خلاف وي.

(۱۱)"عن ابی هریره رضی الله عنه ان رجلا قال یارسول الله ان لی قرابة اصلهم ویقطعونی واحسن الیهم ویسیئون الی وأحلم عنهم ویجهلون علی فقال لئن کنت کما قلت فکانما تسفهم المل ولا یزال معك من الله ظهیر مادمت علی ذلك"(رواه مسلم ، مشکوة شریف ص۴۱۹ باب البر والصلة الفصل الاول).

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چی یو سړی درسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کی عرض وکړ یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) ! زما خپلوان دي زه ورسره صله رحمي کوم هغوی قطع رحمي راسره کوي او زه ورسره نیک سلوک کوم هغوی راسره بدسلوک کوي او زه هغوی سره د صله او صبر نه کار اخلم خو هغوی راسره جهالت کوي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل که خبره همدغسې وي لکه چی ته وایې نو ګویا چی ته په خوله کی ګرمی شګې اچوی او ځوږوری چی ستا دغه حالت وي نو دالله له طرفه به ستایوه فرشته مدد ګاره وي .

(۱۲) "وصلة الرحم واجبة ولوکانت بسلام وتحیة وهدیة ومعاونة ومجالسة ومکالمة وتلطف واحسان ویدورهم غبا لیزید حبا بل یزور اقرباءه کل جمعة او شهر ولا یرد حاجتهم لانه من القطیعة وفی الحدیث ان الله یصل وصل رحمه ویقطع من قطعهاوفی الحدیث صلة الرحم تزید فی العمر وتمامه فی الدرر"(درمختار)

ترجمه : اوصله رحمي کول واجب دي اګرکه داپه سلام کولو اویا دعا اویاهدیه پیش کولو اویا ورسره مدد او مرسته ملګرتیا او خبرو اترو او مهرباني او احسان کولو سره وي یوه ورځ وروسته دی زیارت او ملاقات هم کوي او که نه هره جمعه او یا هره میاشت کی دی ملاقات ته ورځي ترڅو محبت زیات شي ، او دهغوی حاجت دی نه منع کوي ځکه چی داپه قطع رحمي کی داخل دی ، په حدیث کی دي چی الله تعالی هغه سړی خپل خاص رحمت سره یوځای کوي کوم صله رحمي کوي ، او څوک چی قطع رحمي کوي الله تعالی هغه دخپل رحمت نه جداکوي ، او په حدیث کی راځي چی صله رحمي کول عمر زیاتوي، اوودی پوره بیان په درر کی دی ، په شامي کی لیکي : (قوله وصلة الرحم واجبة) نقل القرطبي فی تفسیره

اتفاق الامة علی وجوب صلتها وحرمة قطعها الا دلة القطعية من الكتاب والسنة علی ذلك قال فی تبيين المحارم واختلفوا فی الرحم التی يجب صلتها قال قوم هی قرابة كل ذی رحم محرم وقال آخرون كل قريب محرماكان او غيره آه والثانی ظاهر اطلاق المتن قال النووي فی شرح مسلم وهو الصواب واستدل عليه بالاحاديث نعم تفاوت درجاتها ففي الوالدين اشد من المحارم وفيهم اشد من بقيه المحارم وفی الاحادث اشارة الی ذلك كما بينه ، فی تبيين المحارم (قوله ولوكانت بسلام الخ) قال فی تبيين المحارم وانكان غائباً يصلهم بالمكتوب فان قدر علی المسير اليهم كان افضل وافكان له والدان لايكفی المكتوب ان ارادا مجيئة وكذ ان احتاجا الی خدمته (قوله ويزورهم غباً) ليكن فی شرح الشرعة هو ان تزور يوماً وتدع يوما ومماكان فيه نوع عسر عدل الی ماهو اسهل من الغب فقال بل يزور اقرباءه فی كل جمعة او شهد علی ماورد فی بعض الروايات).

ترجمه : (قوله صلة الرحم واجبة) امام قرطبي رحمه الله پخپل تفسیر کی دصلی رحمي په وجوب او دقطع رحمي په حراموالي باندی دامت اجماع نقل کړی دهغو قطعي دلائلو په بیناد باندی دقطع رحمي په حراموالي باندی دامت اجماع نقل کړی دهغو قطعي دلائلو په بیناد باندی چی دقران او سنت نه پدی باب کی ثابت دی ، په تیببن محارم کی وایي : دکومو خپلوانو چی صله رحمي واجب ده ددوی په تعین کی دعلماو اختلاف دی بعضې فرمایي : هغه رشته داران مراد دي چی دذی رحم محرم وي او نورو علماء فرمایي : نزدی خپلوان مراد دي محرم وي او که نه وي دویم قول دمتونو مطابق دی .علامه نووي رحمه الله په شرح دمسلم کی فرمایي همدا قول صحیح او حق دی او پدی باندی داحایدثو نه استدلال کړیدی ، هو داخبره پخپل ځای صحیح ده چی صله رحمي مختلف درجات لري لکه چی دصله او دحسن سلوک په نسبت دنورو تولو رشته دارانو نه دمور پلار سره زیات تاکید شوی دی اوپه احادیثوکی دی طرف ته اشاره هم ده (قوله ولو کانت بسلام)په تبیین محارم کی دي : که چیرته رشته دار غایب وي (یعنی په بل ځای کی اوسیږي

نو بیا دی دخط په لیږلو سره صله رحمي ورسره وکړي او که خواته يې تللی شي نو تلل ورته غوره دی . او کـه دچـاسور پـلار وي او دملاقـات خـواهش ولـري نـو بواخي خط لیږل ورته کافي نـدي او همدارنګـه کلـه چـی مـور پـلا رتـه دخـدمت ضروروت وي نو بیـا دی ورتـه خـان ورسـوي او خـدمت دی ورتـه وکـړي .(قولـه ریزورهم غباً) په شرح شرعه کی دي . چی یوه ورځ بعد دی ملاقات کوي او کهې دی کی تکلیف وي نو په هفته کی اویا په میاشت کی دی دخپلـو خپلوانـو ملاقات وکړي لکه چی په بعضو روایتو کـی راغلـي دي . (درمختارورد المختار المعروف به شامي ٥/ ٣٦٢ ، ٣٦٣ کتاب الخطر والاباحة فصل في البیع) .

په غاية الاوطار کی دي په صله رحمي کـی لس فضیلتونه دي : (١) دالله تعـالی خوشحالي .(٢) دخپلوانو خوشحالول . (٣) دملائکـو خوشـحالول(۴) نیـک نـامی (٥) شیطان خفه کول (٦) دعمر زیاتول (٧) په رزق کـی برکـت (٨) دمړو خوشـحالول (یعنی دمړو روحونه خوشحالیږي.) (٩) محبت زیاتیږي (١٠) ثواب زیـاتول. دمـرګ نـه وروسته چی دده دا احسان یادوي نو دخیر دعا به ورتـه کـوي ، دعمـر دزیـاتولو پـه تاویل کی احتلاف دی دبعض په نزد باندي حقیقي زیاتوالي مراد دی او بعضو ویلي دي چی دمرګ نه وروسته ددی ثواب ورته لیکل کیږي نو ګویا چی هغه ژوندی دی او بعضې وایې چی پو لوح محفوظ کی دعمر زیاتوالی په صله رحمـي پـوري معلـق دی .کذا في الطحاوي، په بخاري او مسلم کی دعائشه صـدیقه رضـی الله عنهـا نـه روایت دی چی رسول الله صلیالله علیه وسلم فرمایي : رحم عرض پـوري ځوړنـده ده او وایې خوک چی ماسره یوځای شي هغه به الله تعالی ځان سره یو ځـای کـوي او خوک چی له مانه جداشي الله تعالی به هغه له خانه جدا کړي ، اوپه بخاري کـی دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی رسـول الله صـلیالله علیـه وسـلم فرمـایي : څوک چی پخپل رزق کی فراخي اوپه مرګکی تاخیر خوښوي هغه دی خپلوانو سره صله رحمي کوي .او په ترمذي کی روایت دی چـی خپـل نسـبونه وپیژنـي ترخـو د خپلو خپلوانو سره صله رحمي وکړي پدی سـره محبـت پیـداکیږي او پـه مـال کـی برکت او په مرګکی تاخیر پیداکیږي . اوپه نسائي کی دسلیمان بن عامر روایـت دی چی رسول الله صلیالله علیه وسـلم فرمـایي : محتـاج تـه پـه خـیرات ورکولـو کـی

یواځې یو ثواب دی (یعنی صدقه) او خپلوان ته په خیرات ورکولو کی دوه ثوابونه دي یو دخیرات ثواب او دویم دصله رحمي ثواب ، کذافی تیسیر الوصول (غایةالاوطار، ترجمه درمختار ٤/ ٢٣٨ کتاب الحظر والاباحة).

غور وکړئ چی په قران او حدیث کی دصله رحمي څومره اهمیت بیان کړی شویدی اوپه کوم کوم انداز سره ددی ترغیب ورکړی شوی ، ددر مختار او دشامي جزئیات هم قابل عمل دی که چیرته مسلمان پدی تعلیماتو باندی عمل وکړي نو ددوی کورونه به دجنت مثال او نمونه وګرځي او ددوی ژوند به پرسکون او خوشګواره وګرځي، په حقیقت کی صله رحمي ډیرې فایدی لري ، که چېرته درشته دارانو خپل منځ کی تعلقات بنه وي یوبل سره صله رحمي وکوي نو په زړونو کی، به الفت او محبت اویوبل سره همدردي او غم خواري پیداشي او دضرورت په وخت کی دیوبل سره کومک او امداد کولو موقع پیداکیږي او لوی لوی مشکل کارونه به په آساني سره سرته رسي ، او دقطع رحمي په وجه چی پریشاني او نا آرامي پیدا شوی هغه ختمیږي ، مسلمانانو ته پکار دي چی دداسی پاکیزه تعلیم قدر وکړي او دالله تعالی عظیم نعمت ګڼو سره په صداقت سره ورباندی عمل وکړي دآخرت اجر وثواب هم ملاویږي او دنیوي ژوند کی هم ارام او سکون پیداکیږي اودتهولو نه اوچت دا چی دالله تعالی رضا حاصلیږي ، او که چېرته خدانخواسته خپلو کی څه مشکل پیداشي نو زړ ترزره دی هغه ختم کړي او خپل تعلقات درست کړي او خپلو کی خبرې اترې صله رحمي اوحسن سلوک شروع کول پکار دي، همدا اسلامي تعلیم دی او په همدی کی زمونږه کامیابي او نجات دی او ددی برعکس خپلو کی مشکل پیداکول او له درې ورځو نه زیات سلام کلام او خبرې اترې بندول بالکل ناجائز او حرام دی او خپل ځان درحمت الهي او مغفرت نه محرومه کول دی ، په احادیثو کی خبرې اترې بندولو باندی سخت وعیدونه راغلي دي .

(۱۲) "عن ابی ایوب الانصاري رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم لایحل للرجل ان یهجر اخاه فوق ثلث : لیال یلتقیان فیعرض هذا ویعرض هذا وخیرهما الذی یبداء بالسلام"(متفق علیه ، مشکوةص٤٢٧ باب ماینهی عنه من التهاجروالتقاطع)

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : هیچا لره حلال ندی چې خپل ورور سره درې ورځونه زیات خبرې اترې بند کړي کله چې یوبل سره یوځای کیږي نو یو خوا مخ واړوي او بل خواته مخ واړوي اوپه دواړو کې بهترین سړی هغه دی چې وړومبی سلام واچوي.

حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله فرمایي داچې کوم په حدیث کې راغلي چې درې ورځو نه زیات دی چاسره خبرې اتړې او تعلق نه قطع کوي داحکم مطلقاندی که چیرته فاسقانو سره دفسق په وجه خان وساتي نو څه پروا نه کوي یعني ددین په خاطر دائماً هم بغض فی الله جائز دی ، البته دنیوي معاملو کې چاسره دخفګان ساتلو لپاره درې ورځې حددی ، او که دخپل وقار په وجه احتراز کوي یعنې دچاسره تعلق ساتل دده دشان خلاف ګڼي نو پدیکې دتکبر بوئې دی (ملفوظات معروف به "کلمة الحق" ٦/ ١٢٧)

(۱۳) "عن ابي خراش السلمی انه سمع رسول الله صلی یقول من هجراخاه سنة فهو کسفك دمه"(رواه ابو داود . مشکواة ص٤٢٨ باب ماینهی عنه من التهاجر).

ترجمه : رسول الله فرمایي : څوک چې دخپل ورور سره یو کال پورې قطع تعلق وکړي نو ګویاچې هغه دخپل وروقتل کړ، فکر وکړئ دخپل قبر او دآخرت غم وکړئ یو کال پورې تعلق قطع کولو او خبرې اترې بندولوباندې څومره سخت وعید دی چې لدی دومره سخت وعید نه وروسته هم پدې ونه کړو نو زمونږ په کورو کې به ارام او سکون دکوم ځای نه راشي ، الله تعالی ای مونږ ته دعمل کولو توفیق راکړی ، آمین

(۱۴) "عن ابی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم یفتح ابواب الجنه یوم الاثنین ویوم الخمیس فیغفرلکل عبد لایشرك بالله شیئاً الا کانت بینه وبین اخیه شحناء فیقال انظروا هذین حتی یصطلحا"(رواه مسلم ، مشکواة ص٤٢٧، ٤٢٨ باب ماینهی عنه من التهاجر)

ترجمه : رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : په هرپیر(دوشنبه) او جمعرات (پنجشنبه)

په ورځ دجنت دروازی پرانستل کیږي اودهر هغه کس مغفرت کیږي چې دالله تعالی سره څوک نه شریکوي مګردهغه چامغفرت نه کیږي چې دهغه اودبل ورور ترمنځ کینه دی او ارشاد کیږي چې دادواړه لاپریږدی څوپوری چې دواړه سره صلح وکړی ، داسی به کوم مسلمان دی چې دخپلو ګناهونه خواهش مند نه وي یقیناً دهر مسلمان داخواهش وي چې پخپله هم دعاکوي او دنورو نه هم دعا درخواست کوي چې الله پاک زمونږه ګناهونه معاف کړی ، اوس داپورتني حدیث دعبرت په نظر ولولئ ! خبری اتری بندونکی او خپل رور سره کینه ساتونکی دالله تعالی دمغفرت نه محرومیږي بلکی پداسي مبارک او اوچتو شپو کی هم دهغه مغفرت نه کیږي دومره سخت وعید باوجود هم چې مونږ سلام کلام اوصله رحمي په کولو اماده نه شو نوله مونږ نه زیات بدنصیب او سخت دل به څوک وي ، دداسې سختو وعیدو سره زمونږه زړونه نرمیدل پکار دي او دخپل قبر او دآخرت فکر او غم پیداکیدل پکار دی ، مونږه داګڼو چې که چېرته زه اول سلام کلام شروع کړم نو زه به کم ښکارم او پوزه می پرې کیږي ، وروڼو تاسو دالله تعالی راضي کولو په نیت سره شروع وکړي نو وبه ګوي چې نه به کم ښکاري او نه به پوزه پرې کیږي بلکی الله تعالی لازیات عزت او سربلندي درکوي انشاء الله په حدیث کی دي : "من تواضع لله رفعه الله" یعنی څوک چې دالله لپاره عاجزي اختیارکړی الله تعالی هغه لره اوچتوي ، پدی باندی یقین کولو سره رضا الهي لپاره راو ړاندی شئ انشاء بهترین نتائج به مخی ته راځي ، که چېرته ګناه ستاسو وی نودحق اداکول ډیر اسان دی خود اخرت معامله ډیره سخته ده ، او که چېرته تاسو بی ګناه ئې بیاهم الله تعالی راضي کولو په خاطر خپل نفس په کنړولولو سره سلام کلام کی ابتداء وکړئ انشاء الله دنیا او آخرت دا دواړه به مو جوړشي ، چاڅه ښه ویلي دي :

مٹادے اپني هستي کواګرکچھ مرتبه چاہے _که دانه خاک مین مل کر ګل ګلزار هوتاهئے

یعنی که مرتبه غواړي نو خپل ځان خاوري کړه ، دانه چې کله خاورو کی ګډ شي نو ګل وګلزار شي ، اوبل چاڅه ښه ویلي دي :

سالهاتوسنګ باشي دل خراش آزموده یک زمانه خاک باش
دربها ران کی شود سر سبز سنګ خاک شو تاګل بروید رنګ برنګ

یعنی ته کلوبه کلونه زړه زخمي کونکی تیزه (کاڼي) جوړشوی یې کم از کم دامتحان لپاره لږ وخت لپاره خان خاورې کړه (یعنی عاجزي اختیار کړه او حنبل سنګدلي اوتکبیر پریده) دپسرلي په موسم کی به کاڼي څنګه سرسبز وشاداب جوړشي (سرسبزي او شادالي لپاره خو دخاورې ضرورت دی)لهذا ته هم خان خاورې کړه چی رنګ په رنګ ګلان وټوکیږي ،لهذا که چېرته چابانندی ظلم کړی وي اویادی دچاخه مالي حق قبضه کړی وي نو اول فرحت کی باید معافي ترینه وغواړي او حېل حق ورته وسپارلی شي اوپه دنیاکی معامله صفاکول پکار دی اودمظلوم دخیر ونه خان ساتل ضروري دی الله تعالی دمظلوم دعا او خیرې نه رد کوي په حدیث کی راځي.

(۱۵) "عن علی رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ایاك ودعوة المظلوم فانما یسأل الله تعالی حقه وان الله لایمنع نداحقه"(مشکواة ص۴۳۵ باب الظلم) .

ترجمه : رسول الله فرمایي : دمظلومه له خیرونه خان وساته هغه دالله نه خپل حق غواړي او الله تعالی دکوم حقدار حق نه منع کوي ، اوپه یوبل حدیث کی راځي.

(۱٦)"عن ابي هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ثلاثة لاترد دعوتهم الصائم حین یفطر والامام العادل ودعوة المظلوم یرفعها الله فوق الغمام ویفتح لها ابواب السماء ویقول الرب وعزتی لانصرنك ولو بعدحین"(ترمذي۲/ ۱۹۹ ابواب الدعوات ، مشکواة۱۹۵ کتاب الدعوات).

ترجمه : رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : ددریو کسانو دعا نه رد کیږي یو دروژه دار دروژه ماتي په وخت کی او دویم دعادل بادشاه اودریم دمظلوم سړي الله تعالی دادوریځونه پورته کوي او دآسمان دروازې ورته پرانستل کیږي او ارشاد فرمایي :زه به ضرورستامدد کوم اګرکه (دکوم سصلحت په وجه) څه وخت پس وي .

شیخ سعدی رحمه الله فرمایي :

تبرس از آه مظلومان که هنګام دعاکردن   اجابت ازدرحق بهراستقبال می آید

یعنی دمظلوم دفریاد نه وویریږه کله چی هغه الله ته فریاد کوي نو دحق تعالی له دربار نه ورته قبولیت استقبال لپاره راځي ، (یعنی دهغه دعا او فریاد نه رد کیږي .)

دادمظلوم دخیرومقام دی دالله تعالی په دزبار کی .لهذا دمظلوم خیرې باید معمولي ونه ګڼل شي دظلم او ستم نه په منع کیدو سره دهغه دخیرو نه ځان بچ کول پکار دي

غرض داچی خپلو کی په صله رحمي او دښو تعلقاتو په لرلو سره دنیا او آخرت کی کامیابي نصیب کیږي او دزیات اجر وثواب حقدار هم جوړیږي . اودخپل منځی فساد او قطع تعلق نه دنیا او آخرت خرابیږي او هم اجر وثواب او دین بربادیږي، په حدیث کی دي

(۱۷) "عن ابی الدرداء رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الا اخبرکم بافضل من درجة الصیام والصدقة والصلواة قال قلنابلی ، قال اصلاح ذات البین ، وفساد ذات البین هی الحالقة"(ای المزیلة للخیرات) (رواه ابو داود والترمذي.مشکواةباب ماینهی عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات الفصل الثانی ص۴۲۸) .

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي ایا تاسو ته داخیز وښایم چی دروژی ، صدقه او لمانځه نه په درجه بهتر دی ؟ مونږه عرض وکړ ضرور! ارشاد یې وفرمایل : خپل منځي تعلقاتو صحیح کول . او خپل منځي فساد دنکیو ختمونکی دی.

د ذکر شوي حدیث نه دذات البیني اصلاح درجه اوددی فضیلت معلومیږي لدینه اندازه کیدی شي چی دخپل منځي تعلقاتو سمول څومره اهم او ضروري دي ، او خپل منځي فساد څومره نقصاني دی پدیکې یواځې ددنیا بربادي نه بلکې دآخرت بربادي هم شته چی دعملونو اجر اوثواب ټول ختموي.

دذات البنی اصلاح متعلق دالله تعالی ارشاد دی:

(فاتقوا الله واصلحوا ذات بینکم واطیعوا الله ورسوله ان کنتم مؤمنین)(سورت الانفال(۱) آیت)

ترجمه : دالله نه ووېرېږئ او خپل منځي تعلقات سم او اصلاح کړئ (چی خپل منځ کی بغض او حسد پاتی نشي) اودالله تعالی او دده درسول صلی الله علیه وسلم تابعداري وکړئ که چېرته واقعي مومنان یئ.

په تفسیر الدرالمنثور کی دي واخرج ابن ابي شيبة والبخاري فى الادب المفرد
وابن مردويه والبيهقي فى شعب الايمان عن ابن عباس فى قوله تعالى فاتقوا الله
واصلحوا ذات بينكم قال هذا يخرج من الله على المؤمنين ان يتقوالله وان
يصلحواذات بينهم الخ (الدرالمنثور۳/ ۱٦۱).

ترجمه : ابن ابي شيبه او بخاري په ادب مفرد کی او ابن مردويه او بيهقي په شعب الايمان کی دالله تعالى ددی قول (فاتقوا الله واصلحوا ذات بينكم) په تفسير کی دعبدالله بن عباس رضی‌الله عنه روايت نقل کوي چی دی فرمايي : الله تعالى مؤمنان مکلف کړي چی تقوی اختيار کړي او دخپل منځي تعلقاتو اصلاح وکړي،

مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله تفسير معارف القران کی ليکي :

دخلکو دخپل منځي اتفاق او اتحاد بنياد تقوی او خو خدا دی .

ددی آيت په آخر کی ارشاد فرمايي : (فاتقوا الله واصلحوا ذات بينكم واطيعوا الله ورسوله ان كنتم مومنين).

پدی کی صحابه کرامو ته په خطاب کولو سره ارشاد فرمايي چی دالله تعالى نه وويريږئ او خپل منځي تعلقات درست کړئ . الى قوله ـ اوس ددی زړونو اصلاح اودخپل منځي تعلقاتو دخوشګوارئ تدبير وښود چی مرکزي نقطه يې تقوی او خوف خدادی . تجربه ګواه ده چی کله تقوی او خوف خدا غالب شي نو بيا لوی لوی جګړی اولانجی په منټونو کی ختميږي او دخپل منځی نفرتونه غرونه خاورې ايرې ګرځي ، الى قوله ـ پدی وجه پدی آيت کريمه دتقوی تدبير په بيانولو سره وفرمايل

(اصلحوا ذات بينكم) يعنی دتقوی په ذريعه باندی خپل منځي تلعقات اصلاح او برابر کړئ ، او ددی مزيد تشريح يې داسې وکړه چی (واطيعوا الله ورسوله ان كنتم مؤمنين) يعنی دالله اودرسول مکمل اطاعت وکړئ که چېرته تاسو مؤمنان يئ يعنی دايمان تقاضا اطاعت ده اوداطاعت نتيجه تقوی اوکله چی خلکو کی دغه شيطان پيداشي نو ددوی خپل منځي جګړی او لانجی پخپله ختميږي او ددشمني په ځای زړونو کی محبت او مينه پيداکيږي . (معارف القران ۴/ ۱۷٦، ۱۷۷)

په یو حدیث کی دذات النبی اصلاح فضیلت داسی بیان شوی دی:

(۱۸) "افضل الصدقة اصلاح ذات البین" بهتره صدقه خپل منځ کی اصلاح کول ده (کتاب الشهاب فی الحکم والامثال والآداب مع ترجمه جومع الکلم سید الامم ص ۱۴۵ حدیث نمبر ۹۷۶).

دحضرت علي کرم الله وجهه په وصیتونو کی داهم دي چی: لدینه وروسته یې خپل ټول اولادونه مخاطب کړل چی عبادتِ لپاره چست او کمر بسته اوسي، او اسلام په حالت کی وفات شئ او ټول په یوځای دالله تعالیٰ رسئ مضبوط ونیسئ او خپلو کی سره تعلقات ساتئ. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمیالي دي چی خپل منځی تعلقات ساتل دلمونځ او روژی نه هم افضل دی درشته دارو خیال ساتی. دیتیمانو او ګاونډیانو مدد کوی الخ. (بحواله (وصایا) وصیت نامی ص۲۵ مرتب افتخار افریدي)

حکیم الامت حضرت مولانان اشرف علي تهانوي رحمه الله پدی موضوع باندی یو تقریر دی چی "اصلاح ذات البین" نومیږي مکمل وعظ مطالعه کول پکار دي دهغه بعضي برخې دادي. امابعد:

"فقال النبی صلی الله علیه وسلم ایاکم وفساد ذات البین فانها هی الحالقة لا اقول انهاتحلق الشعر ولکن تحلق الدین"

دادنبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ارشاد دی چی پدیکې رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپل منځي اختلاف او دبی اتفاقي په ضرر او نقصان باندی خبرداري کړی دی. ـالی قوله ـ په حدیث کی فرمایي: "ایاکم وفساد ذات البین" یعنی دخپل منځی اختلافاتو څخه ځان وساتي. داسې اختلاف مراد دی چی فساد کی داخل دی اوبیا فرمایي: "هی الحالقة" دخپل منځي فسادنه ځان وساتي چی داخبروونکی دی (لااقول تحلق الشعر بل تحلق الدین) زه دانه وایم چی ویښته خروي او صفاکوي بلکی دین بالکل ختموي یعني پدی سره دین بربادیږي ـ الی قوله ـ لدی تقریر نه معلوم شو چی ددین ضرر داسی ضرر دی چی ددنیا راحت هم ورسره بربادیږي، نو په فساد سره ددنیا بربادیدل داسې بدیهي او ظاهر دی چی مقدماتو او

رالئلو ته ضرورت نلري بلکی مشاهده ورته کافي ده ، چونکی دفساد لومړی اثر داکیږي چی ددوه کسانو ترمنځ دشمني پیداکیږي او هریو سړی دبل نه غیر مطمئن کرځي اوبیا په دشمني کی دهرقسم ضرر احتمال کیدی شي اګرکه دشمن کمروری وي . دسعدي رحمه الله په قول :

دانی که چه ګفت زان بار ستم ګرد دشمن نتوان حقیر وبیچاره شمرد

یعنی دشمن کله هم حقیر او معمولي ګڼل ندي پکار بلکی ورنه هوښیار اوسیدل پکار دي .... ـ الی قوله ـ نوپه دښمني کی داسې کیږي چی دی دهغه په فکر کی وي او هغه دده په فکر کی بس یو بیماري غوندی پیداکیږي او هرسړی دبیمان ګرځي ددواړو زړه ته صدمه رسیږي او بیا ددشمني سلسله ډیره وړاندی ځي یودبل ذلیل کولو پسې لګیدلی وي او یوبل ته مالي او جاني نقصان رسولو په فکر کی وي او یودبل بی عزتي غواړي تردی پورې چی دجائز او ناجائز خیال هم نه پاتې کیږي او که چاته ووبل شي چی ورووه دانتقام دغه طریقه ناجائز ده نو وایې چی که چېرته مونږ جائز او ناجائز پسې وګرځوبل به راته ښه کار وکوري چی هغه یې دین پروا نه کوي نو مونږه یې خنکه وکړو، اوس له دنیا سره ددین بربادي هم شروع شوه ـ الی قوله ـ شیطان پدی وجه دهغه چانه زیات خوشحالیږي چی دښځې او دخاوند ترمنځ جګړه پیداکوي. په حدیث کی راځي چی شیطان ماښام په دریاب باندی خپل تحت کیدي او ټول واړه شیطانان راځي او هریو خپل خپل کاروایې بیانوي یو وایې چی مادفلاني ځخه لمونځ قضا کړ او بل وایې چی په فلاني باندی زنا وکړ شیطان ټولو ته وایې چی تاسو هیڅ ندي کړي (ځکه چی ددی ګناهونو کفاره په یوه توبه او استغفار سره کیدی شي) بیا یو بل ووایې چی مادښځې اودخاوند ترمنځ جنګ واچولو اوبیا پدی ځای کی خبره ختمه نه شوه تردی چی خاوند خپلې ښځې ته طلاق ورکړ، شیطان هغه خپلې سینې سره ولګوي او ډیر شاباسی ورته ورکوي او تاډیر لوی کار کړیدی ، پدی کی راز دادی چی که په نورو کی دشمني وي هغه اثر ترلرې پوې نه ځي، اودښځې او خاوند ترمنځ چې جګړه او طلاق راشي نو ددواړو خاوندانو ترمنځ جنګ جګړه پیداکیږي ددوه کسو دشمني نه (۱۰۰) سلو کسو ترمنځ دشمني جوړیږي ، شیطان ته دومره وخت چېرته ملاویږي چی د سلو کسانو ترمنځ بیل بیل عداوت پیداکړي ، بس هغه یواځی دښځې او خاوند ترمنځ عداوت پیدا

کوي لدینه پخپل تر لرې پورې خبره رسیږي .(التبلیغ وعظ نمبر ۱۱۲ مسمی به اصلاح ذات البین).

شیخ الحدیث حضرت مولانامحمد زکریا صاحب فضایل رمضان کی لیکي:

(۱۹):"عن عبادة بن الصامت قال خرج النبی صلی الله علیه وسلم لیخبرنا بلیلة القدر فتلاحی رجلان من المسلمین فقال خرجت لاخبرکم بلیلة القدر فتلاحی فلان وفلان فرفعت وعسی ان یکون خیراً لکم فالتمسو ها فی التاسعة والسابعة والخامسة"(مشکواة عن البخاري) .

ترجمه : حضرت عباده رضی الله عنه وايي چی نبي کریم صلی‌الله علیه وسلم دی لپاره راووت چی مونږ ته دقدر دشپې خبر راکړي مګر دوه مسلمانان سره په جنګ و نو رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ارشاد وفرمایلو چی زه دی لپاره راوتلې وم چی تاسو ته دقدر شپه وښایم مګر فلانی او فلانی سره په جنګ و پدی وجه ددی تعیین مانه اوچت کړی شو ، او شاید چی دغه پورته کیدل دالله تعالی په علم کی تاسو لپاره بهتر وي .لهذا اوس دغه شپه په نهمه ، اومه اوپنځه شپه کی یعنې (۲۹، ۲۷ او ۲۵) شپه کی ولټوئ.

ف:ـ پدی حدیث کی درې مضمونه قابل دغور دي اوله خبره چی دټولو نه اهمه ده هغه جنګ جګړه ده چی دومره بد شئ دی چی ددی په وجه همیشه لپاره دشب قدر تعینن پورته کړی شو او یواځې دانه بلکی همیشه لپاره جګړه دبرکاتو څخه دمحرومي سبب ګرځي ، دنبي کریم صلی‌الله علیه وسلم ارشاد چی تاسو ته دلمونځ ، روژی او صدقې غوره او بهتر څیز وښایم ؟ صحابه کرامو عرض وکړ چی ضرور وښائي ، رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل خپل منځی سلوک او تعلقات دټولو نه افضل دی او خپل منځی اختلاف ددین ختمونکی دی یعنې لکه څنګه چی په چاړه سره دسر ویښته بالکل صفا کولې شي خپل منځی فساد سره هم دین بالکل ختمیږي ، ددین څخه بی خبره دنیا دارو خلکو به څه وايي چی ډیر اوږده اوږده تسبیح اړونکی ددین دعوه داران هم هروخت خپل منځی جګړو کی اخته وي ، اول درسول الله صلی‌الله علیه وسلم ارشاد په غور سره وګورئ او بیا دخپل دین فکر او غم وکړئ چی دکوم په غرورو کی دصلح او روغی او جوړی ته دتسلیمیدو توفیق

قدرې نه کيږي ، داول فصل دروژی په ادابو کی تیر شوی چی نبي اکرم صلی الله عليه وسلم دمسلمان بی عزتي او آبرو ریزی ته بدترین او خبیث ترین سود ویل دی لیکن مونږه خلک دجګړی په نشه کی نه دمسلمان دبی عزتي خيال کوو او نه دالله اودده درشتيني رسول الله صلی الله عليه وسلم دارشاداتو فکر ، پخپله دالله جل جلاله ارشاد دی : (ولاتنازعوا فتفشلوا) او جګړه او اختلاف مه کوئ که نه بزدله کيږئ او قوت موختمیږي ، نن هغه خلک چی هروخت دنورو دعزت کمولو په فکر کی وي دوی دی ځانله کيني او بیادی فکر وکړي چی ددی خپل عزت ته څومره نقصان رسوي او پدی خپل ناپاک او کمينه حرکتونو سره دالله تعالی په نظر کی څومره ذليل ګرځي، اوبیا ددنیا ذلت خو ښکاره دی ، دنبی اکرم صلی‌الله عليه وسلم ارشاد دی کوم کس چی دخپل مسلمان ورورسره ددرې ورځو نه زیات قطع تعلق وکړي که پدی حالت کی مړشي نو سيده جهنم ته ځي ، په یو حدیث کی ارشاد دی چی دهرپیر او جمعرات په ورځ الله تعالی حضور ته دبندګانو عملونه پیش کيږي او دالله تعالی درحمت او دنیکو عملونو په وجه دمشرکانو نه علاوه دنورو مغفرت کيږي مګر دهغه دوه کسانو چی خپلو کی سره خفه وي ددوی متعلق ارشاد کيږي چی دوی لره پريدي څو پورې چی خپلو کی سره صلح نه وي کړی ، په یو حدیث کی ارشاد دی : چی دهر دوشنبی اوپنجشنبی په ورځ عملونه پیش کيږي پدوی کی دتوبه کوونکوتوبه قبليږي او داستغفار کوونکواستغفار قبليږي مګر خپلو کی جګړه کوونکی پخپل حال باندی پریښودلې شي ، یو ځای کی ارشاد دی چی ...رات په شپه کی دالله تعالی عام رحمت خلکو ته متوجه کيږي اودخلکو مغفرت کيږي مګر ددوه کسانو مغفرت نه کيږي یو کافر او دويم هغه څوک چی چاسره کينه ساتي ، بل ځای ارشاد دی چی درې کسان دي چې ددوی لمونځ د قبولیت لپاره ددوی له سرو څخه یوه لويشت هم پورته نه ځي ، پدوی کی خپلو کی جګړه کونکی هم ښودلي دي ، داځای ددغو روايتونو دذکر کولو ندی مګر یو څو روایات دی لپاره ولیکل شول چی مونږ خلک عوام نه بلکی خواص او هغه خلک چی ځانته شریفان وايي دیندار ګڼل کيږي ددوی مجلسونه او محفلونه اوپروګرامونه دداسې کمينه حرکتونو څخه ډک دي . (فإلی الله المشتکی واليه المستعان) لیکن ددی ټولو نه وروسته پدی هم پوهيدل پکار دي چی داټول ددنيوي دښمني او عداوت څخه

دی که چېرنه یو سړي سره دفسق او یادکوم دیني امر دحمایت په وجه سره تعلق قطع کړی شي نو داجائز دی ، حضرت ابن عمر رضی‌الله عنه یو ځل درسول الله صلی‌الله علیه وسلم ارشاد نقل کړ دده زوی پدی باندی داسې څه خبره وکړه چی ظاهري طور سره په حدیث باندی اعتراض معلومیدلو نو ابن عمر رضی‌الله عنه تر مرګه پورې هغه سره خبرې ونه کړی ، نور هم داسې قسم واقعات دصحابه کرامو نه ثابت دي .

لېکن الله تعالی دانا او بنیادي دزړونو په حال باندی ښه خبردار دی پدی باندی ښه واقف دی چی کوم یو قطع تعلق ددین په خاطر دی او کوم یو دځپل وجاهت او لوېي په وجه دی هسې خو هرڅوک ځپل کینه او بغض دین طرف ته منسوب کولې شي .

(فضائل رمضان ص۴۲، ۴۳ فصل ثانی دشب قدر په بیان کی (۵) نمبر حدیث).

حضرت مولانامحمد ذکر یا رحمه الله په "الاعتدال فی مراتب الرجال"معروف په اسلامي سیاست کی هم ددی متعلق ډیر مفید مضمون لیکلی دی مناسب راته ښکاري چی هغه هم دلته نقل کړی شي الله تعالی دی مونږ ټولو ته پدی باندی دعمل کولو توفیق نصیب کړي ، وګورئ درسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی چی : کوم سړی چی دمسلمان عیب پوښي کوي الله جل شانه به په قیامت کی دده عیب پوښي وکړي او څوک چی مسلمان بی پرده کوي الله جل شانه هغه بی پرده کوي تردی چی هغه به پځپل کور کی په پټه هم څه ګناه وکړي الله تعالی به یې رسوا کړي .

حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چی یو ځل رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په منبر باندی به اوچت آواز سره یې وفرمایل : ای هغو خلکو چی په ژبه مو اسلام دی اوپه زړه کی مو اسلام داسلام ندی رسیدلی مسلمانان به آزاروي او ددوی دعیبونو پسې مه کیږئ څوک چی دمسلمان عیب جویي کوي الله تعالی هغه بی پرده کوي او دچاعیب چی الله تعالی رسوا کول غواړي هغه به په کور کی دننه کړی کار باندیهم رسوا کوي ، عبدالله بن عمر رضی الله عنه یو ځل بیت الله شریف ولید او

وی فرمایل ته څومره بابرکت او باعظمت کور یې لیکن دالله په نزد دمسلمان عزت له تانه هم څوچنده زیات دی (ترغیب)
په یو حدیث کی راغلي چی دخپل رور په څه تکلیف باندی مه خوشحالیږئ څکه چی الله تعالی به په هغه رحم وکړي او تابه پدی مصیبت باندی اخته کړي (ترغیب).
په یو حدیث کی دحضرو ارشاد دی : ماته دټولو نه زیات محبوب هغه خلک دي چی خوش اخلاقه دي نرمي کوونکی وي (یعنی په معمولي خبره جګړی ته نه تیاریږي) محبت کونکی دی او له نورو سره تعلقات جوړونکی وي ، او ماته دټولو نه زیات ناخوښ او مبغوض هغه خلک دي چی چغل خوري کوي ، په دوستانو کی اختلاف او جدایي پیداکوي او دبدانو عیبونه لټوي . (ترغیب).
دحضور ارشاد دی چی که چېرته یوسړی تاپه کوم داسې عیب باندی رسوا کړی چی په تاکی موجود وي نو ته دده په جواب کی هغه پداسې عیب سره مه رسوا کوه چی په هغه کی موجود وي تاته به ددی اجر ملاویږي او هغه باندی به ددی وبال وي(ترغیب).
دحضور صلی ا لله علیه وسلم ارشاد دی چی خپل منځي تعلقات مه پریکوئ ، اویوبل نه مخ مه اړوئ ، خپلو کی بغض مه ساتئ ، یوبل باندی حسد مه کوئ ، خپلو کی سره ورونه ورونه شئ. هیڅ یو مسلمان ته جائز ندي چی بل مسلمان سره دریې ورځ نه زیات خبرې پریدي (ترغیب).
دحضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : چی هره دوشنبه اوپنجشنبه الله تعالی ته اعما پیش کیږي او هر هغه چاته مغفرت کوي چی شرک یې نه وي مګر هغه دوه کسان چی خپلو کی کینه او حسد کوي ددوی په باره ارشاد کیږي چی ددی ترهغی پورې پریدي چی څو خپلو کی سره صلح وکړي (بخاري ترغیب).
په حدیث کې راځي خوک چی چاته کافر او دالله دشمنووایي که چېرته هغه داسې نه وي نو دغه کلمه واپس ویونکې باندی راپریوځي . (بخاري ترغیب).
په حدیث کی راځي : چی مسلمان ته کنځل کول فسق دی او بل حدیث کی راځي چی مسلمان ته کنځل کونکی ځانته د هلاکت اسباب برابر وي (ترغیب).

په حدیث کی راځي : څوک چې چاته داسی خبره منسوب کړي چې په هغه کی نه دي نو الله تعالی به د قیامت په ورځ هغه سړی پدی مکلف کړی چې اوس خپله خبره ثابته کړه (ترغیب) .
په یو حدیث کی راځي : چې د الله تعالی بهترین بنده هغه دی چې د هغه په لیدو سره سړي ته الله تعالی رایاد شي او بدترین بندګان هغه دي چې چغلي کونکي وي ، په دوستانو کی جدائي راولي او داسی خلکو لپاره عیبونه لټوي چې هغوی ترینه بري او پاک وي (ترغیب) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع په خطبه کی اعلان وکړ چې ستاسو وینه ، آبرو او مال په تاسو باندی همیشه لپاره داسی حرام دی لکه چې دا محترم ښار او محترم میاشت او محترم ورځ ده .
په یو حدیث کی دي : چې یو مسلمان باندی د بل مسلمان ځان ، مال او آبرو حرام دي ، په یو حدیث کی دي چې د لوی نه لوی سود په حکم کی د مسلمان آبرو باندی یعنی بی عزتي کول دي پدی مضمون ډیر حدیثونه په مختلف الفاظو سره راغلي دي چې ددی بعضی حدیثونه مخکی هم ذکر شویدي ، مګر مونږه خلکو ته د مسلمان بی عزتي داسی آسان کار دی چې په یوه معمولي خبره بلکي ښواخی په ګمان او احتمال باندی هم دهغه بی عزتي یوه ذره هم باک نه کوي . دالله تعالی په نزد باندی د مسلمان آبرو دومره لوی څیز دی چې دیته یی بدترین سود ویلی دی او ډیر زیات په احادیثو کی دا مضمون بیان شویدی ، په یو حدیث کی راغلي چې بدترین یو مسلمان لره په بل باندی په کنځلو سره واچتول دي (جامع) یعنی د یو وقار او عزت په کنځلو سره کمول چې د بل وقار اوچت کړی شي ، نن که چیرته په انصاف او غور سره وکتل شي نو معلومه به شي چې څومره ډلّي تنظیمونه په مونږ کی موجود دي سیاسي دي او که غیر سیاسي په هر تنظیم او جمیعت کی څومره داسی کسان موجود دي چې د بل تنظیم مشرانو ته (علماء دي او یا لیډران) صرف پدی وجه بد رد پسی وائي چې وقار او عزت یی کم کړی شي او د خپل تنظیم وقار اوچت کړی شي او بیا عجیبه دا ده چې هر سړی دا بد هم ګني او ورته بد هم وائي او نورو ته د دی شکایت هم کوي چې هغه کنځلی کوي او بدرد وائي لیکن پخپل ګریوان کی نه ګوري د خپل تنظیم اقوال او افعال نه ویني ، هیڅوک د دی فکر نه کوي (این ګناهیست که درشهر شما نیز کنند) د نبي اکرم

صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : "یبصر احدکم القذی فی عین اخیه ینسی الجذع فی عینه" (جامع) یعنی په تاسو کی بعضی خلک داسی دي چی د بل په سترګه کی یو معمولي غوندی ډکی ویني خو پخپلو سترګو کی تیر هم نشي کتلی ، دا خبره بنه په غور سره واورئ ، دا خبره نهایت اهم او ضروري ده چی د مسلمان بی عزتي د الله تعالی په نزد سخت دی او ډیر سخت وعیدونه پدی باره کی راغلي دي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی د مسلمان په آبرو کي په ناحقه زبان درازی بدترین سود دی (جامع) د ناحق مطلب دا دی چی کوم ځای کی شریعت اجازت ورکړیدی هلته جائز دی او چیرته چی جائز ندی هغه ناحق دی ، په یو حدیث کی دي چی د سود کمه درجه دا ده چی لکه د خپل مور سره زنا وکړی او بدترین سود د مسلمان بی عزتي کول دي (جامع) .

په یو حدیث کی راځي چی د سود اویا دروازې دي پدی کی د ټولو نه کمه درجه داسی ده لکه چی څوک د خپل مور سره زنا وکړي او د ټولو نه لوی سود د مسلمان آبرو ریزي دی (جامع) او په بل حدیث کی دری اویا دروازې ذکر شوي او نور مضمون همدا دی ، او یو حدیث کی راځي چی دمؤمن آبرو ریزي کبیره ګناه ده او د یو کنځل په بدل کی دوه کنځلی کول کبیره ګناه ده (جامع) په یو حدیث کی راځي: کله چی زما امت خپل منځ کی یو بل ته کنځلی شروع کړی نو د الله تعالی له نظر نه وغورځیږي (رساله تبلیغ) .

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خو پدی باره کی دومره پوری اهتمام وُ چی د جماعت د مشرانو دمعمولي لغزش نه هم د نظر انداز کولو حکم کړیدی لکه چی ارشاد دی : "اقیلوا ذوی الهیئات عثراتهم الا الحدود" (جامع) یعنی د وجاهت والا خلکو ته د حدودو نه علاوه د دوی نور لغزشونه معاف کوئ یعنی که چیرته زنا یا غلا وغیره شرعي ثبوت ورباندی وشي دا خو جدا خبره ده پدی کی خو د چا هیڅ قسم رعایت نشي کیدلی خو د دینه علاوه د دوی نورو لغزشونو نه درګذر او معافي کوئ او د حدودو په باره کی هم څو پوری چی شرعي ثبوت نه وي په محض بد ګمانی یا ذاتي مخالفت باندی په چا تهمت لګول جائز ندي ، په سورت نور کی د قرآن پاک زنا په باره کی صاف حکم دی چی که چیرته دا خلک څلور عیني شاهدان پیش نه کړي نو دوی پخپله (شرعي قانون کی) دروغجن دي ، لیکن څمونږه حال

دا دی چې د چا سره مو مخالفت وي دهغه متعلق چې خومره غواړو ګنده نه ګنده کارټون چاپ کوو ، چې خومره شرمناک مضمون وي دهغه په باره کې لیکو، زانـي او شرابي ویل خو معمولي خبره ده ، دشریعت قانون دادی چې څوپورې شرعي ثبوت نه وي تهمت لګونکو باندی اتیا اتیا کوړی صد قذف (تهمت) جاري کیـږي ، لـیکن مونږ ته دالزام لګولو لپاره دکوم شرعي ګواهي ضرورت نشته او حـال داچـې دکـوم رشتیني الزام ثابتولو لپاره هم دداسې عادل ګواهانو ضرورت دی چـې عـدالت یـې ثابت دی ، داخو لرې خبره ده چې دخپـل طـرف نـه افتـراء او بهتـان وتپـل شـي، درسول الله صلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی کله کله شیطان هم دانسان په شکل کـې ښکاره کیږي او دروغ وایي او خلک هغه واوري او بیا په هـر ځـای کـې هغـه خبـره خوروي چې ما پخپله فلانی کس نه داخبره اوریدلې ده دهغه نوم خو نه پیژنم لیکن شکل یې پیژنم .(مشکوات په روایت دمسلم)

پدی بناء یواځې په مجلس او اجتماع کې دکوم نامعلوم سړي نه څه خبره اوریـدل او وربانـدی یقین کول هم زیاتې دی څو پورې چې شرعي اصولو سره نـه وي ثابـت شوی البته داسی سړي په باره کې احتیاط کول او ترینـه جدایکـدل بیلـه خبـره ده اوپه هغه باندی حکم لګول بیله خبره ده نو پدی باندی ځان پوهه کـول پکـار دي چې دیو چانه جدا کیدل اویا هغه جداکول انتظاماً ، سیاستاً او احتیاطاً هـم کیـدی شي مګر پدی باندی څـه الـزام لګـول شـرعي ثبـوت تـه محتـاج دی . اودافرضـي الزامات عام طور سره دانفرادي او اجتماعي حسد نه پیداکیږي چې بل لره په ترقي اوچتیدو کې لیدل نه غواړي . درسول الله صلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی چې کینـه او حسدنیکي داسې خوري او ختموي لکه اور چې لرګي خـوري (جـامع) او حـال داکوم خلک چې تش بدګماني په وجه په نـورو بانـدی الزامونـه لګـوي کـه چېرتـه درسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم ارشاد ته په غـور سـره کتلـی وای نـو ورتـه معلـوم شوی به و چې پدی الزامونو سره دوی خپل نقصان کوي ځکـه کومـه معاملـه چـې دوی له نورو سره کوي همدغسې معامله بهٔ دوی سره هم کولې شي دحضـور صلـی الله علیه وسلم ارشاد دی : "کماتدین تدان (مقاصدحسنه)" یعنی چـې څـه کـوی همداسې به تاسره هم کیږي.

په یو حیدث کې راځي چې نیکي او خیګره نه زړیږي او ګناه نشي هیرولـې اودیـان (بدله ورکوونکی ذات یعنې الله تعالی) لپاره مـرګ نشـته (هغـه حـی او قیـوم دی

دهرچا هر عمل او کاروینی) چی څنګه غواړي عمل وکړي چی څه کړئ هغه به ربیئ ، په یو حدیث کی دتوارت نه دامضمون نقل شویدی چی څه کوی همغسی بدله به بیاموعی او په کومه پیاله کی چی نورو لره څکوي په همغه پیاله کی به خپله هم څکئ . (مقاصدحسنه) په یو حدیث کی د انجیل نه نقل شوی چی څه کوې همغسې به درسره کیږي اوپه کوم ترازو کی چی تلل کوې په همغه ترازو کی به تاسو ته هم تللی شئ (جامع الصغیر)

درسول الله صلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی کوم سړی چی دکوم مسلمان له مدد نه پداسی وخت کی لاس واخلي چی کوم وخت کی دهغه اهانت او آبرو ریزی کولې شي نو الله جل شانه به هغه لره پداسې وخت کی بی یار ومدد ګار پریدي په کوم وخت کی چی هغه پخپله مدد ته سخت محتاج وي او څوک چی دکوم مسلمان پداسې وخت کی مدد وکړی چی دهغه اهانت او آبرو ریزی کیږي نو الله جل شانه به دهغه سړي پداسې وخت کی مدد وکړي چی کوم وخت کی دمدد سخت ضرورت ولري (مشکوات)

حضرت ابو ذر غفاري مشهور صحابي دی دحدیث په کتابونو کی دده یوه اوږده قصه ذکر ده چی په آخر کی یې دامضمون دی دوی درسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم ته درخواست وکړ چی ماته څه وصیت وکړئ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ارشاد وفرمایل چی زه تاته دتقوی وصیت کوم دادتولو شیانو لپاره زینت دی.(او په حقیقت کی کوم سړی چی په هر کار کی دالله نه ویریږي نو هغه بیا په کوم عیب او مصیبت کی له سره ګرفتاریږي نه) هغه عرض وکړ نر څه خبره هم راته وکړئ، رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل دقران کریم تلاوت او دالله تعالی ذکر ډیر ډیر کوه چی دادزته په آسمان دتذکرې او په زمکه کی دزیاتو انوارو سبب دی ، هغه نور زیاتی وغوښت رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل چی زیات وخت چپ اوسه چی دادشیطان ددفعه کولو سبب دی (څکه چی دژبی په وجه هغه په ډیرو هلاکتونو کی سړی غورځوي) او چپ پتې کیدل په دیني کارونو ګک داهتمام مدد کوونکی دی (دکوم سړي چی فضول ګوئي مرض وي دډیرو دیني کارونو نه محروم پاتې کیږي) هغه دزیاتې غوښتنه وکړه نو رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : چی دزیات خندا نه ځان ساته څکه چی پدی سره زړه مړکیږي او دمخ نور ختمیږي هغه نور زیاتې غوښتنه وکړه نو رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل دحق وینا کوه

اګرکه ترښه معلومیږي هغه نور زیاتي غوښتنه وکړه نو رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل دالله تعالی په باره کی دچا ملامت کونکی دملامتیا پروا مه کوه ، بیا یې نور زیاتي غوښتنه وکړه نو ارشاد یې وفرمایل تادی خپلو عیبونو ته نظر کولو سره دنورو عیبونو نه دنظر کولو نه منع کړی .(مشکواة)

دا آخري کلام زما پدی ځای کی مطلب دی چی مونږ خلک همیشه د نورو عیبونو په فکر کی یو که څمونږ خپلو عیبونو باندی نظر ولګي نو نه به د نورو عیبونو ته دنظر کولو فرصت پیدا کیږي او نه به د هغو د خورولو همت پیدا کیږي ولی چی هر وخت به د خپلو عیبونو فکر راسره وي ، ع

مرا پیر دانائی مرشد شهاب
دو اندر ز فرمود برروئی آب
یکی آنکه بر خویش خود بین مباش
دګر آنکه بر غیر بد بین مباش

(وصیت نامه حضرت رای پوري)

یعنی ماته خپل پیر او مرشد دوه نصیحتونه وکړل یو دا چی خودبین مه جوړیږئ چی دخپل ځان نه علاوه بل څوک نه ویني او دویم دا چی د نورو بدبین مه جوړیږه (الاعتدال فی مراتب الرجال معروف به اسلامی سیاست ص ۱۲۷ _ ۱۳۵) .

حضرت مولانا الیاس صاحب رحمه الله فرمائي : " د دغو شیانو اجر (یعنی د لوی ، وړو د حقونو د رعایت اجر چی وسیع نوم یی ذات البینی اصلاح دی) د ارکانو څخه کم نه دی بلکی زیات دی د ارکانو مطلب دا دی چی الله تعالی له مونږ نه چی کومه بندګي او زندګي غواړي هغه لدی ارکانو څخه پیدا کولی شي همدا راز د ذات البینی اصلاح تعلق حقوق العباد سره دی او الله تعالی خو د خپلو بندګانو په حق کی شفیق و کریم او رؤف و رحیم دی لیکن بندګان خو داسی دي لکه چی تاسو یئ لهذا د دوی د حقونو ادا کول نهایت اهم دی " (ملفوظات حضرت مولانا محمد الیاس رحمه الله ص ۱۲۸ ملفوظ نمبر ۱۵۱ مرتب حضرت مولانا محمد منظور نعماني) .

خلاصه دا چی پخپلو کی مینه او محبت سره ژوند تیرول او خپل زړه د حسد او کینی نه صفا او ستره ساتل ډیرضروري دي ، په حدیث کی دي :

(۲۰) "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاتقاطعوا ولاتدابروا ولاتباغضوا ولاتحاسدوا وکونوا عباد الله اخواناً کما امرکم الله" (مسلم شریف ج ۲ ص ۲۱۶ باب تحریم الظن والنجش) .
ترجمه : د ابوهریره رضی الله عنه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي خپل منځي تعلق مه پری کوئ او یو بل نه مخ مه اړوئ او خپلو کی سره بغض او حسد مه کوئ او د الله بندګانو ، لکه د ورونو پشان ووسئ لکه چی الله تعالی درته حکم کړیدی .
(۲۱) "عن انس رضی الله عنه قال قال لی رسول الله صلی الله علیه وسلم یٰابُنی ان قدرت ان تصبح وتمسی ولیس فی قبلك غش لأحد کان معی فی الجنة" (رواه الترمذی ، مشکواة شریف ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنة) .
له انس رضی الله عنه نه روایت دی چی ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ځویه که چیرته دا قدرت لری چی پداسی حال کی صبا او بیګا کړی چی ستا په زړه کی د چا لپاره کینه نه وي نو داسی وکړه او بیا یی وفرمایل چی دا زما سنت دي او چا چی زما له سنت سره محبت وکړ ، هغه له ماسره محبت وکړ او چا چی ما محبت وکړ هغه به جنت کی ماسره وي .
زړه د بغض او حسد نه صفا او ستره ساتل دومره لوی او اوچت عمل دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په اهتمام سره د دی تعلیم ورکړی دی او دیته یی خپل سنت ویلي دي د دی حدیث پاک تقاضا دا ده چی هر مؤمن په باره کی زړه پاک او صاف وساتل شي او کله چی د هر مؤمن په باره کی د زړه صفا ساتلو حکم دی نو د خپلو خپلوانو په باره کی به د زړه صفا او ستره ساتل څومره ضروري وي ؟ د دی پخپله اندازه ولګوئ ، فقط والله اعلم .
د الله تعالی په فضل و کرم سره دغه ځواب مرتب شو الله تعالی دی پخپل فضل و کرم سره قبول کړي او ټولو مسلمانانو ته دی د قرآن او حدیث پدی زرینو تعلیماتو او هدایاتو باندی د عمل کولو او جمله مؤمنانو ته پخپل منځ کی دصله رحمی او د قطع رحمی نه د بچ کیدو توفیق نصیب کړي .
آمین ثم آمین وصلی الله علی محمد واله واصحبه وسلم تسلیماً کثیراً کثیرا ..

د اولاد د تربیت په خاطر له مور پلار نه جدا اوسیدل :

(۸۰ سوال) ښځه او خاوند دینداره دي او د دوی یوه وړه ماشومه هم ده چې د څلورو میاشتو ده او پدی کور کې د خاوند مور پلار هم دي چې دینداره ندي او تي وي هم ورسره شته خاوند چې کار ته لاړ شي او ښځه چې کله تعلیم او یا اجتماع ته ځي نو خپله ماشومه په کور کې ویده کړي او بیا ځي لیکن چې د تعلیم او اجتماع نه واپس راځي نو خپله ماشومه د تي وي په خوا کې بیا مومي یعنی د ده خواهی او خسر جینی خپل خوا کې کینوي او مخامخ ورته تي وي چالان وي (د سحر نه تر بیګاه پوری تي وي چالان وي) نو د ماشومی نظر پدی تي وي باندی پریوځي نو ښځه خپل خاوند ته وائي چې مونږ باید جدا ووسو تر څو لدی تي وي نه بچ شو لیکن خاوند یې د خپل مور پلار سره اوسیدل غواړي حال دا چې خاوند یې هم دینداره دی نو اوس باید څه وکړی شي ؟

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! اولاد د مور پلار سره د الله تعالی یو امانت دی د دوی صحیح تربیت او له ماشومتوب نه علم او ادب سره بلدول د مور پلار لوی ذمه واري ده ، تفصیل لپاره د فتاوی رحیمیه څلورم جلد مطالعه کړئ (په جدید ترتیب کې دی کتاب العلم والعلماء کې وکتل شي ص ۱۴۶ نه تر ۱۵۲ پوری ، مرتب) او د اولاد په تعلیم او تربیت کې د کور ماحول ډیر لوی اثر لري یو عربي شاعر وائي : ے

اذا کان رب البیت بــالطبل ضارباً

فلا تلم الاولاد فیها عــلی الرقص

یعنی کله چې د کور لویان ډول غږوي نو پدی کــور کــی اولادو نــه پــه ساز او ګډا باندی مه ملامتوه .

تي وي او وي سي آر په خرابی کی له ډول او سرنا نه څو چنده زیات دی په تي وي کی ګانو بجانو نه علاوه د بی حیائی فحش مناظر هم مخی ته راځي او د ماشومانو په اخلاقو باندی ډیر بد اثر کوي نو د ماشومانو په پاک او صاف ذهن باندی به د دی اثر یقیني پریوځي .

د سوال شوی مسئله کی ماشومه شیر خواره او ډیر زیات وړه ده په ظاهره خو پدی باندی اثر کول په نظر نه راځي مګر د دی له غوږ نه د ګانو او سندرو آواز د ده د زړه او دماغ ته رسیږي او دا به یقیناً اثر کوي ، د بچي د پیدا کیدو نه وروسته په ښي

غوږ کی ورته آذان او په ګس غوږ کی اقامت کولی شي ، دا هدایت هسی بیکاره نشي کیدلی ، یقیناً د بچي په دل او دماغ کی به دا اثر کوي نو لدی وجی نه شریعت دا هدایت کړیدی ، لهذا ماشوم چی کله پیدا کیږي د ده په زړه کی د الله رب العزت عظمت او لوئي ، توحید ، رسالت ، لمونځ او د دائمي فلاح دعوت ورکول کیږي ، اوس د ګانو او سندرو آواز رسول په هیڅ یو حالت کی هم غوره ندي او دا هم پدی ماشوم باندی اثر کوي لهذا په سوال کی چی کوم خبره ذکر شویده که چیرته دا صحیح وي نو خاوند ته پکار دي چی د خپل کور د ماحول جوړولو پوره کوشش وکړي او له اوسه نه د دی بی حیائی نه د بچي د لری اوسیدو انتظام وکړي ، که چیرته خاوند د کوشش باوجود هم پدی کی کامیاب نشي او ښځه پدی بنیاد په جدا اوسیدو باندی اصرار او مطالبه کوي نو دده مطالبه شرعاً ناجائز نده ، خاوند ته پکار دي چی دی طرف ته توجه وکړي ، او څمونږ پدی زمانه کی په مینه او محبت سره په جدا اوسیدو کی فایده ده د کورنی جګړو نه هم محفوظ ګرځي او خپل منځ کی تعلق هم قائم پاتی کیږي .

فقط والله اعلم

له ښځو سره په تبلیغي جماعت کی تلل :

(۸۱ سوال) دیني عالمان پدی مسئله کی څه وائي چی زه د خپلی ښځی سره تبلیغي جماعت کی تللی شم ، ښځو لره پدی جماعت کی بوتلل پکار دي او که نه ؟

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! په جماعت کی د ښځو ویستل مطلوب او خوښ عمل ندی او د "واثمهما اکبر من نفعهما" مصداق دی ، ښځې بی احتیاطې وي ،

والله اعلم.

شیعه مور پلار سره سلام کلام او هغوی لپاره د مغفرت دعا :

(۸۲ سوال) زه او زما ښځه دری کاله مخکی شیعه ګان وو ، الحمد لله توبه مو ویستلی او په اسلام کی داخل شوي یو ، زما د ښځی مور پلار وغیره لپاره د مغفرت دعا کول او دوی ته د سنت طریقی مطابق سلام کول او د دوی د سلام ځواب ورکول جائز دي او که نه ؟ څنګه چی زما خسر صاحب دا عقیده ده چی پخوا زمانه کی الله تعالی و او اوس سیدنا دی او ده ته سجده کول د ثواب کار دی ، په مونږ باندی هم د دغه عقیدی د منلو اصرار کوي ، وضاحت وکړئ جزاکم الله .

ځواب : په شیعه ګانو کی مختلف فرقې دي د بعضو عقائد کفر ته رسیدلي دي ، په فتاوی رحیمیه کی دي : کوم خلک چی حضرت علي رضی الله عنه خدای ګڼي او د الله تعالی سره په قدرت وغیره کی شریک منـي ، او د چا چـی دا عقیده دی چـی حضرت جبریل علیه السلام د وحي په راوړلو کی غلطي کړی د حضـرت علـي رضـی الله عنه په ځای یی محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته ورسوله او کوم خلک چی ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها باندی (معاذ الله) د زنا تهمت لګـوي ، او کوم خلک چی د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د صحابي کیدو نه انکار کـوي ، او داسی نور کفري عقیدې ساتونکو لره فقهاء کرام د اسلام له دایری نه خارجوي "نعم لاشك فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله عنها او انکر صحبة الصدیق او اعتقد الالوهیة فی علی رضی الله عنه او ان جبریل غلط فی الوحی او نحـو ذلك من الکفر الصریح المخالف للقرآن" (شامی ص ٤٠٦ ج ٣ باب المرتـد مطلب مهم فی حکم سب الشیخین ، فتاوی عالمگیری ج ٢ ص ٢٦٤ ، احکام المرتدین موجب الکفر انواع منها ما یتعلق بانبیاء الخ) (از فتاوی رحیمیه ج ٣ ص ١٣٥) ، په نوي ترتیب کی کتاب النکاح کی وګورئ ج ٨ مرتب) .

لدینه علاوه نور هم کفري عقائد شته لکـه (١) د قـرآن د تحریـف قـول کـول (٢) د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروسـته د ځلـور اشخاصـو نـه سـیوا ټـول صحابه کرام مهاجرین او انصار (معاذ الله) مرتد شوي وو یعنی بیرته کفر ته اوړیـدلي وو او پدی ارتداد کی د ټولو نه زیات او کامله حصه د ابوبکر صدیق او د عمر فاروق رضی الله عنهما ده او پدی کفر او ارتداد حالـت کـی دوی وفـات شـوي او دتـوبی توفیق ندی نصیب شـوی (٣) امـام بالکـل معصـوم او واجـب الطاعـت وي او پـدی باندی باطني وحي راځي او دی د حـلال او د حـرام اختیـار لـري او دی پـه ټولـو کمالاتو ، شرائطو او صفاتو کی د انبیاؤ پشان وي ، په ده او پیغمبر علیـه السـلام کـی هیڅ فرق نشته بلکی د امامت مرتبه د پیغمبرې نه هم اوچـت ده (ماهنامـه الفرقـان خصوصي اشاعت " خمیني او د اثنا عشریه په باره کی د علماء کرامو متفقـه فیصلـه " اکتوبر تا دسمبر ۱۹۷۸ء)

په سوال کی چی تا د مقتدا په باره کی د دوی کوم عقیده لیکلی ده د دی د کفر او شرک کیدو کی څه شک کیدی شي ؟ لهذا د داسی قسم عقیده لرونکی شیعه ګانو نه په مسنون طریقه سلام کول او یا د سنت طریقی مطابق د دوی د سلام ځواب ورکول او دوی ته د مغفرت دعا کول جائز نه دي لیکن دوی لپاره د هدایت دعا کول بالکل جائز دي باقي د والدینو سره د حسن سلوک او صله رحمي کول جدا مسئله ده ، د حدیث پاک نه ثابت دي چی مور پلار که کافر هم وي بیا هم ورسره حسن سلوک او صله رحمي کول پکار دي ، په حدیث کی دي : "عن اسماء بنت ابی بکر قالت قدمت علیّ امی وهی مشرکة فی عهد قریش فقلت یارسول الله ان امی قدمت علیّ وهی راغبة افاصلها قال نعم صلیها" (متفق علیه) اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها وائي : څما مور چی مشرکه وه د قریش سره د صلح په زمانه کی (یعنی د صلح حدیبیه نه وروسته) ماته راغلـه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړ چی څما مور راغلی ده او ما نه د مال امید کوي ایا زه ورسره صله رحمي وکړم ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل چی ته ورسره صله رحمي وکړه (بخاری او مسلم بحواله مشکواة شریف ص ۴۱۸ ، ۴۱۹ باب البر والصلة) فقط والله اعلم .